# په کايناتو کي دقرآنکريم علمي معجزې

(دزرو څخه درکهکشانونو دالله جل جلاله مخلوقات)

ليکوال:
ډاکترمحمد راتب (نابلسي)

Ketabton.com

ژباړه اوزياتوني:
محمود (حميدزی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکتاب پیژند پاڼه

**نوم:په کايناتو کي دقرآنکريم علمي معجزې**

**ليکوال: ډاکتر محمدراتب نابلسي**

**ژباړه اوزياتونې:محمودحميدزی**

**ټايپ او ډزين:محمودحميدزی**

**دخپريد بڼه:انلاين**

**يادونه:ددې کتاب همدا پي ډي ايف بڼه بيله بدلونه هرڅوک کولی سي خپره کړې. دکتاب دچاپ حق يې يوازي دژباړن سره خوندي دئ!!!**

---

* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

**د ژباړن خپاره سوي کتابونه:**

**په (سمندرکي دملغلرولټون) ويښونکي اوټولنيزي مقالې.**

**د (الماسو پنډ) دپښتو متلونودويلوځايون اوعلتونه يې.**

**(روڼ سيند )شعري ټولګه**

**(ژور اندونه)شعري ټولګه**

**په (کايناتو کي دقرآنکريم علمي معجزې)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړليک


| سرليک | پاڼه |
|---|---|
| اصحاب کهف | ۱ |
| په خلا کي دآسماني جسمونو شمير | ۲ |
| دمځکې حجم | ۳ |
| دستورو ليروالى اودهغوى تېزوالى | ۳ |
| مځکه | ۵ |
| هرجسم دبيرته راګرځيدو په حال کي دى | ۸ |
| الله جل جلاله په خلا کي دتاريکۍ خبر راکوي | ۱۰ |
| دجاذبي قوه | ۱۲ |
| دمځکې څخه ليري کهکشانونه | ۱۶ |
| کهشانونه ستوري اودهغوې تېزوالى | ۱۹ |
| دستورو ځايونه | ۲۲ |
| په هسک کي دستورو شمېر | ۲۶ |
| لمر | ۲۸ |
| دعين القط ستوري چاود نه | ۲۹ |
| دستورو اولکۍ لرونکو ستورو څدارونه | ۳۲ |
| ړڼا تېزوالى | ۳۵ |
| دلمريز نظام دسيارو ترمنځ ليري فاصلې | ۳۹ |
| دتعدل قوه | ۴۱ |
| دمځکې داوسيدونکو لمر | ۴۵ |
| دلمر اوسپوږمۍ ترمنځ په ليروالي کي اند کول | ۴۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| سرلیک | پاڼه |
| --- | --- |
| خسوف اوکسوف | ۵۰ |
| دهوا فشار اودهغه پایلې | ۵۲ |
| دهوافشار | ۵۴ |
| دمځکې کروي توب | 57 |
| دمځکې استقرار | ۵۸ |
| هغه څوک دی چي مځکه یې ستاسو دژوندکولو ځانګو ګرځولې | ۶۱ |
| مځکې تېزوالی | ۶۵ |
| دمځکې دجاذبې قوه | ۶۸ |
| غرونه | ۶۹ |
| سپین زر | ۷۳ |
| دبادونو دلوری بدلون | ۷۵ |
| اوسپنه | ۷۶ |
| خاوره اوپه هغې کي اوسیدونکي ژوندي موجودات | ۷۹ |
| زلزله | ۸۲ |
| کعبه شریف دمځکې په مرکزکي | ۸۵ |
| سعودي عربستان به شین سي | ۸۶ |
| اوبه | ۸۸ |
| دهوا اواوبو ترمنځ اړیکه | ۹۰ |
| دسمندرونو لویوالی | ۹۲ |
| دتوکو لوړ لورته دوړلو هغه ځانګړنه چي اوبه یې لري | ۹۶ |
| دالبر او البحر کلموترمنځ | ۹۹ |
| دسمندرونو داوبو تریوالی | ۱۰۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| سرلیک | پاڼه |
|---|---|
| داوبو جریان | ۱۰۴ |
| دقرآنکریم دتلاوت اغیزه پرنباتاتو | ۱۰۸ |
| ددو سمندرونو ترمنځ خنډ | ۱۱۲ |
| دنباتوتو جذبیدنه دلمر لورته | ۱۱۶ |
| دنباتاتو دنده داوبو ساتل دي | ۱۱۸ |
| دشنې پاڼې کارخونه | ۱۱۹ |
| دنباتاتو تخمونه اودهغوئ ډولونه | ۱۲۳ |
| دنباتاتو زرغونوالی | ۱۲۵ |
| تخمونه | ۱۲۵ |
| دمورزړه | ۱۲۷ |
| اوښ | ۱۲۸ |
| دغوا شیدې | ۱۳۰ |
| زرافه | ۱۳۳ |
| دکانګرو په شان ژوی | ۱۳۵ |
| دخوګ دغوښې حرموالی | ۱۳۶ |
| سپی او د دهغه څخه رامنځنه کیدونکي ناروغۍ | ۱۳۷ |
| دسپي بویا يي حس | ۱۳۸ |
| دوینې اړیکه دمیکروبونوسره | ۱۳۹ |
| دوینې حرموالی | ۱۴۱ |
| آس | ۱۴۳ |
| لوی کبان | ۱۴۴ |
| دهلامي کب | ۱۴۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړلیک


| سرلیک | پاڼه |
|---|---|
| سمندري بریښنا لرونکي کبان | ۱۴7 |
| دسالمن کبان | ۱۴۸ |
| ډاکتر کب | ۱۵۱ |
| مرغان | ۱۵۳ |
| کوترې دتاریخ لومړئ لیک لیږدونکي | ۱۵۷ |
| دمرغان کډوالې مهاجرت | ۱۵۹ |
| ټکټکی مرغه | ۱۶۳ |
| دشاتو مچۍ | ۱۶۵ |
| شات | ۱۷۰ |
| دوریښمو چینجیان او وریښم | ۱۷۲ |
| لړم او هستوي چاودنه | ۱۷۴ |
| ملخان | ۱۷۵ |
| غوماشي | ۱۷۷ |
| دجولا ګی ځاله | ۱۷۹ |
| مچان | ۱۸۱ |
| میږیان | ۱۸۴ |
| په حشراتو کي حسي ښکرونه | ۱۹۰ |
| دهوا اوچاپیریال ککړتیا | ۱۹۱ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دژباړن خبرې

دالله جل جلاله بې شمېره حمد اوثنا وایم چې ماته یې داتوان راکړ چې دډاکټر محمد راتب نابلسي دکتاب ژباړه په خپلې خوږې ژبې پښتو باندې وکړم او در پښتو ورنو اوخویندو پورې دا ګټور کتاب وړورسوم.

دا کتاب زما په آند یوغوره کتاب دئ او په لوستلوسره یې موږ ته ددونیا اوخرت ګټې انشاءالله را رسیږې خویوه خبره دیادولو وړبولم چې هغه وخت کله چې موږ دالوستنه په پوره ارمې او غورسره وکړو.

ددې کتاب دلوستلو سره به زموږ نه اندزه کیدونکې مینه نوره هم دقرآنکریم سره ډېره سي،دډېرو ساینسي رازونو څخه به خبر سو دکایناتو په اړه به ډېر مالومات لاســـته راوړو،دغرونو،ســـمندرونو،اوبو مرغانو،حیونـــاتو،مځکې آســـمانې جسمونو،نباتاتو،حشراتو، فلزونو په اړه به په ډېرو هغو خبرو پوه سو چې نـه پـه پوهیدو. زموږ ددیني اوعصري مالوماتو ذخیره به لانوره ډېره سي،دمغرضوبحث کوونکو ملحدانو اوکفارو دپوښتونو ځوابونـه بـه وموندو اونور ډېر هغه څه به زده کړو چې موږ یې لټه کول چې زده یې کړو.

داژباړه تکې په تکې ژباړه نه ده بلکې ما ځینې زیاتونې اوځینې کموونې په یاده ژباړه کې کړې دې الله جل جلاله دې مې په دې کړنه نه ګناهکار وې زماپه نیکیو کې دې وشمېرل سي ،زیاتونې مې ځکه کړې چې مالومات نوې کیږې اوما نوې مالومات ور ډېرکړې کیداې سې تاسوته ځینې مالومات زاړه یانیمګړې مالوم سې دازما اودلیکوال ستونزه نه ده بلکې مالومات تل دبدلون منونکې او دبدلون اونوښت په حال کې و

(c) ketabton.com: The Digital Library

متن مې ځکه ځينې ځايونه لنډ اوخلص کړی چې ددې کتاب حجم لوی دئ؛دلوستونکي دلاښه پوهيدنې لپاره مې داکړنه سرته رسولي ده.
بل ديادولو وړسکالو(موضوع)داده چي ديادې ژباړې دقرآنکريم ژباړه او اياتونه (قرآنکريم په پښتو)اپليکيشن څخه را اخيستل سوي او که خدای ج مه کړه دقرآنکريم داياتونو په زورو، زيرو، پيښونوکي کومه کمي يا
ډېرښت راغلی وي نودا کمښت اوډېرښت دکمپيوټري ليکنې له کبله دئ.
په دي ژباړه کي دځينوحديثونو ژباړه دصحيح بخاري اوصحيح مسلم شريفونو دشرحو څخه سوي دي
.ستاسو درنولوستونکو دخير ددعا په هيله.
يادونه:ددې کتاب في ډي اف بڼه هرڅوک بيله بدلونه خپرولای سي که دچاپ حقوق يې دژباړن سره خوندي دي،دژباړن بې اجازې يې دچاپ حق څوک نه لري.
ددې کتاب ځينې ليکنې د2020څخه در2023کار پوري زما (محمودحميدزی)پرفيسبوک اې ډې خپرې سوي دي.
دويمه يادونه:دې کتاب ته ورته ديؤبل کتاب په ژباړې بوخت يم انشاءالله (دانسان په بدن کي دقرآنکريم علمي معجزې)نومی کتاب به هم وژباړم او تاسو درنولو ستونکو ته به يې **Pdf** بڼه خپره کړم.
ديادونې وړده چي دياد کتاب ځينې برخې به زما پر فيسبوک اي ډې:درکتاب درخپريد مخکي خپرې کړم انشاءالله.

که کوم وړانديز،لارښوونه او غوښتنه لري پرلاندي وټساپ نمبر راسره اړيکه نيولی سئ:0704056109

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اصحاب کهف

يؤلمريز کال 365،1422 ورځې دی،مګر يؤسپوږميز کال بيا 354،36780ورځې دی، چې دلمريزاوسپوږميز کال ترمنځ توپير10،875137ورځې دی.په 33سپوږميزو کلونو کې ياد عدد چې دلمريز کال دورځو شخه لږدی 358،87929 ورځې کيږي چې نژدې ديؤه کال سره سمون خوري.

که سل لمريز کلونه تير سي نو سپوږميز کال به دلمريز کال څخه دري کاله مخته وي.که 300لمريز کلونه تيرسي هغه وخت به سپوږميز کال درلمريز کال 9کاله مخکي وي ياني دسپوږميز کال نيټه به 309 کاله وي.

ياده کره شمېرنه خلا پيژندونکو چې شپږ عشاري عدده مخته تللي دي دلويو تلسکوپوپه مرسته کړي ده،يؤه ثابته اودنوي پوهې په شتون کي منونکي محاسبه ده،

مګر يادې محاسبې ته 14سوه کاله مخکي د قرآن کريم په الکهف سورت کي داصحاب کهف په کيسه کي اشاره سوې ده!الله جل جلاله دسورت الکهف په 25 نمبرايات کي فرمايي:

(وَلَبِثُوا فِى كَهْفِهِمْ ثَلَٰثَ مِائَةٍ سِنِينَ وَازْدَادُوا تِسْعًا)

ژباړه:او هغوی په خپله ځمځه کښې درې سوه (لمريز) کاله پاتي شول، او(ځينو خلکو د مودې په حسابولو کښي) نهه (سپوږميز) کاله نور زيات کړيدي.

يادونه: داصحاب کهف شمېر په شمسي کلنو باندي وو، نو په لمريز حساب نهه کاله نور ور زيات سول. ياني د لمريز او سپوږميز کلنو تر منځ په ياده موده کي نهه کاله توپير موجود دی.قرآن کريم دمعجزو څخه پريمان، دبريا سمت ته رابلونکی کتاب دی.راسئ دخپل ژوندونونو دسمون او بريا په پار قران کريم تلاوت اوپه لارښوونو يې عمل وکړو.




په اوردون کي داصحاب کهف سمڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فضأ ي ياخلاي موجودات

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په خلاء کي داسماني جسمونو شمېر

الله جل جلا له دسُوَرَةُ حٰمٓ السجدة/فُصِّلَت په 53نمبرايات کي فرمايي:
سَنُرِيهِمْ ءَايٰتِنَا فِى الْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنْفُسِهِمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ

ډېر ژر به موږ دوی ته خپلي نښاني په افاقو (هيوادونو) کښي هم وښيو او د دوی پخپلو نفسونو کښي هم؛ تر دې پوري چي دوی ته دا خبره څرګنده شي چي دغه قُرآن په رښتيا سره پر حق دی. ايا دا خبره کافي نه ده چي ستا رب پر هر څه شاهد دی؟

مګر کومي دي دالله جل جلاله نښاني؟په ريوايتونو کي راغلي دي چي په هسک کي دستوروشمېر دريګو ددانو اوشيګو په شمېردی!

په پخو وختونوکي ستور پيژاندو دستورشمېر دزرګونو په شاوخوکي ښووي،ورسته ترځينو څيړونو اوساينسي پرمختګو يې په خلأ کي دستورشمېرميليونونه يادکړ،دځه نورڅيړونو اوپرمختګو ورسته يې يادشمېر ميلياردونو ته لوړکړ،خواوس ساينس پوهانو دنويو ټيکنالوژکي وسيلو،لويو او پياوړو تلسکوپونو په مرسته يوازي په شيدو لارې کهکشان کي چي زموږ لمريزنظام هم دياد کهکشان يؤه برخه ده څه ناڅه د 200ميلياردو ستورو دشتون خبر ورکړی دی.دياد کهکشان چټکوالی په ساعت کي٠ 95000کيلومتره ښودل سوی دی.

دشيدو لارې کهکشان پراخوالی،حجم نسبت نورو کهکشانوته دمنځني کچې درلودونکی اود سل ګونو زرو ميليونو کهکشانو دډلي څخه يؤدی چي دهغوی په کره شمېرباندي يوازي الله جل جلاله ښه خبر دی.الله جل جلاله دسورت ق په 6نمبرايات کي فرمايي:أَفَلَمْ يَنْظُرُوٓا إِلَى السَّمَآءِ فَوْقَهُمْ كَيْفَ بَنَيْنٰهَا وَزَيَّنّٰهَا وَمَا لَهَا مِنْ فُرُوجٍ

ښه نو، دوی هيڅکله د ځان له پاسه اسمان ته ندي کتلي؟ - په څه ډول موږ هغه جوړ او سينګار کړ؛ او په هغه کښي هيڅ درز نشته.*الله جل جلاله دسورت الملک په 3نمبرايات کي فرمايي:الَّذِى خَلَقَ سَبْعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًاۖ مَّا تَرٰى فِى خَلْقِ الرَّحْمٰنِ مِنْ تَفٰوُتٍۖ فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ تَرٰى مِنْ فُطُورٍ هغه ذات چي لاندي باندي اوه اسمانونه يې پېدا کړل؛ (اې کتونکې) ته به د الرحمان په هستونه کښي هيڅ راز نااړوندي او توپير ونه مومې. بيا سترګي واړوه، وګوره، ايا کومه نيمګړتيا دي چيري تر سترګو کيږي؟!* دستورو شمېر دومره ؤ الله جل جلاله ښه خبر دی چي دهغوی پراخوالی به څومره وي*

(c) ketabton.com: The Digital Library








## دمځکې حجم

دمځکې حجم 1ميليو کيلومتره مکعب دی،لمر نسبت ځمکي ته 1300000ځله لوی دی، دځمکي اولمر ترمنځ ليروالی،فاصله 150000000کيلومتره دی.
ديؤه ستوري لويوالی دلړم برج دستورو دډلې څخه هومره دی چي دځمکي اولمر ترمنځ ليروالی،فاصله خپل ځانته ځانګړې کولی سي.يوبل ستوری چي نوم يې منکب الجوزأ دی ۱۰0ميليونه واري دلمرڅخه لوی دی.دياد مسايلو دپوهيدلو ورسته دالله جل جلاله سپيڅلي کلام ته نظر کوو اودهغه په لويوالي او اعجاز کي آند(فکر) کوو!الله جل جلاله دسورت ذاريات په 47نمبر ايات کي فرمايي:وَالسَّمَآءَ بَنَيْنٰهَا بِأَيْيدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ
او اسمان موږ په خپل قدرت سره جوړ کړيدی او موږ د دې وس لرو.

***

**۲دستوروليريوالی ادهغوی تيزوالی:**

دستورو ترمنځ ليري والی، فاصله دنوري کال په مټ اندازه کيږي.درڼا تيزوالی په يؤه ثانيه کي 300000کيلومتره دی چې په يؤه کال کي 10زره ميليارده کيلومتره کيږي.جالبه خولا دا چي سپوږمۍ زموږڅخه يؤه نوري ثانيه اولمر د8نوري دقيقو په شاوخوکي زموږڅخه ليري دی.دتوله لمريز نظام قطر د13نوري ساعتونو څخه ډېر نه دی،اوترټولو نيژدي نوري سياره،ستوری دمځکي څخه 4څلور نوري کاله ليري ده.که ديادې سيارې لوري ته په يؤه داسي سپرلۍ کي چي تيزوالی يې دسپوږمۍ دتيزوالي په اندازه وي سفر پيل کړو:موږ به ورسته درسلو زرو کلونو خپل منزل ته ځان ورسوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدرنگه که دمځکې په يؤه سپرلۍ کي چي د راوسه هم څومره چټکې جوړې سوې دي خپل سفر ديادې سيارې سمت ته پيل کړو: زموږسفر به 50ميليونه کالـه ورسته يادي سيارې تـه پـه رسيدو پای ته ورسيږي،ياني څلور نوري کاله ورسته.اوس نو دهغه کهکشان پـه اړه چـي نـوی کشف سوی دی،چټکوالی يې په يؤه ثانيه کي 240000کيلومتره دی اوسلګونه بيليونـه نـوري کاله زموږڅخه دکشف پـه وخت کـي ليري وو څـه ووايو؟هوسلګونه بيليونـه نـوري کالـه چـي يوبيليون دزر ميليونه سره مساوي دی.ربښتيا هم الله جل جلالـه څومره ښـه فرمايلي دي.سُوْرَةُ الواقِعَة : 75ـ 76نمبر اياتونه:فَلاَ أُقْسِمُ بِمَوٰقِعِ النُّجُومِنو داسـي نـه ده، زه د ستورو د پرېوتلو پـه ځايونو باندي قسم خورم؛وَإِنَّهُ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُونَ عَظِيمٌاو كه وپوهېږئ نو دا ډېر لوی قسم دی؛ ****څـه چي مځکي وليکل سول دکايناتو څخـه لږ شمېر عجايب وه،مګر دکهکشانونو سيارو،ســـتورو اونـــوروخلايي جســـمونو دحرکـــت،دهغوی دډېـــرې چټکتيـــا،لوی مدارونو،استحکام،دهغوی درنا خورولو دتونـايي، دهغوی ترمنځ دجاذبې دقوي او پـه حرکت کي دهغوی دتعادول په اړه مو خبرې نه دي کړي.الله جل جلاله سُوْرَةُ الزُّمَر په 67نمبر ايت کي فرمايي:

وَمَا قَدَرُوا اللهَ حَقَّ قَدْرِهٖٓ وَالْأَرْضُ جَمِيعًا قَبْضَتُهُ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَالسَّمٰوٰتُ مَطْوِيّٰتٌۢ بِيَمِينِهٖ ۚ سُبْحٰنَهُ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُونَ*

دوی هغسي د الله قدر ونه کړ لکه څنګه چي د هغه د قدر کولو حق دی (د هغه کامل قدرت خو داسي دی چي) د قيامت په ورځ به ټوله ځمکه د هغه په موټي کښـي وي او اسمانونه بـه د هغه په ښي لاس کي نغښتل شوي وي. الله د هغه شرک څخه پاك او لوړ دی چي دوی يې کوي.

 

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مځکه**

الله جل جلاله دسُوْرَةُ الطّارق 12نمبرايات کي فرمايي:[ وَالْأَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ ]
او (قسم دی) په چاودېدونکې ځمکه (چي اوبه، بوټي او داسي نور شيان څني راوځي)؛
***

موږ نه سوای کولی چي دمځکي ټول اوصاف په يؤه کلمه کي راغونډ کړي وای،مګر الله جل جلاله مځکه يوازي په يوه ويی سره موصوفه کړې ده اوفرمايي:[ وَالْأَرْضِ ذَاتِ الصَّدْعِ ]
*

دمځکي ټولي لويي وچي يوخت سره موښتي وي.خوورسته يي منځ کي درزونه پيداسول اوديؤبل څخه بيلي اوپر شپږو برخو"آسيا،افريقا،اروپا،امريکا،استرليا،اوانترکتيکا باندي وويشل سوې.په (1915)ميلادي کال کي الماني پوه (وګنر)دهغو شوهدو په رڼاکي چي لاسته يي راوړي وه وويل۰20ميليونه کاله پخو ټولي لويي وچي سريوځای اويوه لويه وچه چي (پنګيا) په نامه يادېدل جوړه کړي وه.
د1950ـــ1968 ميلادي کلونو ترمنځ جيولوجستانو دوګنر نظريه،تيوري ومنل اودځمکې چاوديدل،درز کول يي تائيد کړل."که يؤ څوک د مځکي توصيف داسي وکړې چي دپيل څخه در اوسه دمځکي ثابتي ځانګړني په برکي ونيسي په ناچارۍ سره به ووايي:مځکه درز کوونکي،چاوديدونکي ده.
ياني دهغې ځانګړني درلودونکي ده کومه چي الله جل جلاله ورته ورکړې ده او په خپل پاک کلام کي يې دمځکي يادې ځانګړني ته اشاره کړې ده.مګر دمځکي ياد چاوديدل څنګه دي،څه کيفيت لري.
څرګنده چي مځکه دبيلا بيلو طبقو،پوړونو درلودونکې ده.دچرګې هګۍ ته پام کوو چي باندنۍ پوښ يي اهک،چوني ته ورته دی او نسبتً کلک جوړښت لري،ورسته يؤه نازکه لايه،درهغې ورسته دهګۍ سپين اودرهغه هم ورسته دهګۍ ژړ شتون لري.دهګۍ کروړه،سخته طبقه دهګۍ دباندنی پوښ دی.همدرنګه څومره چي موږ دمځکي تل ته نيژدې کيږو دهغې سختې کميږي.
"مځکه دلاندي طبقو (پوړونو) درلودونکي ده.لومړی دمځکې قشر:دمځکې قشر نا متجانس ترکيب لري چي دژوروالي پر بنسټ پر دريو طبقو ويشل سوی دی:1رسوبي طبقه2ګرانيتي طبقه3بزالتي طبقه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**رسوبي طبقه**:ددې طبقې پيروالی دځوسانتي متروڅخه در10او15کيلومتروپوري رسيږي
ګرانتي طبقه:ددې طبقې پيروالی ديؤه کيلومتر څخه پيل اودر 20او40کيلومتروپوري رسيږي.ددي طبقې د لاندينی سرحد تودوخه دسانتي ګريډ در 1000درجوپوري پورته کيږي.
بزالتي طبقه ددې طبقې پيروالی د8څخه در 30کيلومترو پوري رسيږي،ديادې طبقې لاندنی سرحددمځکې دقشر دلاندينې سرحد په توګه منل سوی، يادسرحد ته دموهو يا (M)سرحدوايي.

**2دمځکې هسته.**

دهستې پوښ(مانتل) چي داته څخه در80او هتادر2900کيلومتروژوروالي پوري موقعيت لري.
مانتل غيري متجانس ځانګړتيا لري،په غالب ګمان ماده ډېروخت په مانتل کي جامد حالت لري دتودوخي درجه يې دژوروالي په ډېريدو سره بدلون مومي.دتودوخي درجه يې په 100کيلومتره ژوروالي کي د 1400څخه در 1500درجوپوري رسيږي په ياده طبقه کي دژوروالي په ډېريدو سره تودوخه هم زياتوالی مومي.

**دمځکې هسته**

دمځکې په هسته کي داتوموسفير فشار ميليونو ته رسيږي دمځکې په هسته کي دتودوخي درجه د2000سانتي ګريډ څخه زياته ده .انسان نه سي کولی نيغ په نيغه د دمځکې هستې ته لارپيداکړډهستې په اړه ټول مالومات پر اټکلونو اوفرضيو ولاړدي."ځينو جيولوجستانو دمځکې طبقه بندي داسي کړي ده :1:داوبوکلک قشر 2:کلکه برخه ياوچه
3:پوګه برخه 4:پورتنی پوښ 5:کورنی پوښ
6:باندنی هسته 7:کورنی هسته.

*دمځکې په هسته کې مايع،بهيدونکي، آتش فشاني،ايشدونکي موادشتون لري.الله جل جلاله سُوۡرَةُ المُلك په 16 نمبرايات کي فرمايي:[ ءَأَمِنْتُمْ مَّنْ فِى السَّمَآءِ أَنْ يَخْسِفَ بِكُمُ الْأَرْضَ فَإِذَا هِىَ تَمُورُ ]ايا تاسي له دې څخه بې‌غمه ياست چي هغه ذات چي په اسمانونو کښي دی، تاسي به په ځمکه کښي ښخ کړي؛ او بيا به دغه ځمکه په ناڅاپي ډول ولړزيږي، وخوځيږي؟

**د( تَمُورُ)معنا لړزيږي. لړزيدل دمځکې دهغه مايع دجوش اوايشېدو لکبله کومه چي دمځکې په تل (هسته) کي په جوش اوخروښ کي ده."دزلزلې دپيښيدو يؤلامل داورشيدونکوفعليت او دآشتفشاني موادو فعليت دی."موږبختوريو چي دمځکې پرمخ(سطحه)يو دارام والي څخه دمځکې دباندنی طبقي برخمن

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو او كولى سو دمځكې پرسطحه ودانۍ جوړې اوژوند پكښي وكړو،كه مځكه دخپل هستې د ايشيدونكو، مايع موادو پرمخ ورولوېږي،ورژيږي پايله به يې داوي چي الله جل جلالـه دسُوۡرَةُ المُلك په 16 نمبر ايات كي فرمايي:

[ ءَأَمِنْتُمْ مَّنْ فِى السَّمَآءِ أَنْ يَخْسِفَ بِكُمُ الْأَرْضَ فَإِذَا هِىَ تَمُورُ ]

ايا تاسي لـه دې څخـه بې‌غمـه ياست چي هغـه ذات چي پـه اسمانونو كښي دى، تاسي بـه پـه ځمكه كښي ښخ كړي؛ او بيا به دغه ځمكه په ناڅاپي ډول ولړزيږي، وخوځيږي؟

***

اوس نوآند(فكر)وكړې چي چا حضرت محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم دمځكې اوآسمانونو ديادو ځانګړو څخه خبر كړ!؟هغه پيغمبر چي ليک لوست يې نـه وو زده څه پوهيدى چي دمځكې په خيټه كي سوځونكي،ايشېدونكي مايع شتون لري؟آيا دقرآن دالله جل جلالـه كلام نـه دى؟"بيلـه شـكه چي داقرآن دكايناتو دخالق الله جل جلالـه كلام دى چي پر حضرت محمد مصطفى صلى الله عليه وسلم يې نازل كړى دى!."




دسپوږمى څخه مځكه دويم دمځكې طبقي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هرجسم دبيرته راګرځيدوپه حال کي دی

الله جل دسُوْرَةُ الطّارق په 11 نمبرايات کي فرمايي: [وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجْعِ ]

قسم دی په باران اوروونکي اسمان؛

*(1)د "رجع" کلمه دراګرځيدو،،بيا ليږولو،دوباره استولو،بيرته ګرځيدو په مانان ده.

*دادکايناتو خالق دی چي يوازي په يؤه ويی(کلمه) سره دهسک(آسمان) توصيف کوي!

څومره چي علم،پوهه پرمختګ کوي نوي حقيقتونه راڅرګنديږي هومره قرآني معجزې راښکاره کيږي اودقرآني معجزو څخه ملاترکيږي.سپوږمی ته پام کوو چي په خپل مدارکي دمځکې څخه راګرځي اوورسته دريؤه وار راګرځيدو دويم ځل بيرته خپل ځای ته ستنيږي.

لمرته پام کوو چي نسبت خپل محورته دګرځيدو په حال کي دئ او ورسته ترهر ځل ګرځيدو بيرته خپل لومړي ځای ته راګرځي،همدارنګه دېرشمېر آسماني جسمونه دګرځيدو اوبيرته ستنيدو په حال کي دي.

په (1910)ميلادي کال کي يؤ شمېر لکۍ لرونکي ستوري دځمکي دڅنډو څخه تېر سول چي بيا (76)کاله ورسته په (1986)ميلادي کال کي بيا هم ياده چاره سرته ورسيدل، ياني ياد لکۍ لرونکي ستوري (آسماني ډبرې) بيا راوګرځيدل اوهر (76)کاله ورسته ياد راګرځيدل دالله جل جلاله په حکم سره بيا تکراريږي.

موږته څرګنده ده چي لمر،ستوري،سيارې،سپوږمی،لکۍ لرونکي ستوري (آسماني ډبرې)اوهر هغه څه چي په دايروي يا بيضوي بڼو مدارنو کي په خلأ کي شتون لري:لېږي ځي اوبيرته خپل ځای ته راګرځي.الله جل جلاله موږته (14)سوه کاله مخکي په خپل کلام کي دآسماني جسمونو په خپل مدار کي دګرځيدو او په خلأ کي دمداروڅنو دشتون خبر راکوي! الله جل جلاله دسُوْرَةُ الأنبيَاء په (33)نمبر ايات کي فرمايي:

وَهُوَ الَّذِى خَلَقَ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسْبَحُونَ

او هماغه الله دی چي شپه او ورځ، او لمر او سپوږمی يې پيدا کړل، هر يو د دغو سيارو څخه په يو (بېل بېل) مدار حرکت کوي، ګرځي.

*داخبره چي الله جل جلاله آسمان په(ذَاتِ الرَّجْعِ) ويی سره مصوف کړی دی په بشپړډول رشتيا او موږ وربانديي ايمان لرو.دستاينې وړدی الله جل جلاله چي ښه اندازه کونکی اوجوړونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينوپوهانو دا ايات شريف : وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجْعِ ]*بل ډول تفسير اوتعبير کړی دی،هغوی وايي:په هواکي موجود ګازونه راګرځيدونکي،بدليدونکي ياتغيرکوونکي دي.دبيلګې په ډول اکسيجن که انسان يا ژوی تنفس کړې په کاربن دای اکسايډبدليږي.که دنباتاتو دګټې وړ وګرځي بيرته په طبيعت کې په اکسيجن بدليږي،همداډول په طبيعت کې نور ګازونه هم لېږري ځي اوبيرته راګرځي.

که چيرې الکترومقناطيسي امواج خلأ ته واستول سي دوهم ځلي خپل ځای ته راګرځي.

د ټول بشر دګټې وړ امواج دهمدې تغير بدلون اوبيرته راګرځيدو وړتيا درلودونکي دي.

داوبو بړاس ورسته تردې چې فضأ ته پورته سي دباران دڅاڅکو په ډول بيرته مځکې ته راګرځي .که ګازونو دځمکي داتموسفير فشارڅخه تېښته کولی سوای نو يؤ زيان به يې داوای چې دځمکي دابو بړاسونه به دځمکي څخه خلاء ته تلای خو بيرته به دباران په ډول مځکې ته نه راګرځيدلی.دا دالله جل جلاله ستره پيرزوينه ده چې دځمکې څخه خلأ ته ګازونه نه تښتي .

الله جل جلاله کايناتوته دتغير،بدلون اوبيرته راګرځيدو وړتيا ورکړې اوهغوئ يې دهمدې وړتيا درلودونکي خلق کړي دي چې هيڅ يؤ يې دالله جل جلاله دحکم څخه مخالفت نه سي کولی!

خوانسان چې الله جل جلاله اشر المخلوقات خلق کړی دی ولې دالله جل جلاله د امرونو څخه مخالفت کوي!؟

مورته دامعلومه سول چې آسمان،فضا دالله جل جلاله په اراده دمځکې بخار دباران په ډول،الکترو مقناطيسي امواج د راديويی امواجو په ډول،ګازونه در هغو تغيراتو دتېرولو ورسته چې په هغو کې شتون لري،اوهرخلأيی جسم بيرته خپل لمړي ځای ته راګرځي، دستوروپه شان چې په خلأ کې په دايروي شکله يا بيضوي شکله مدارو کې دخوځښت په حال کې دي.

ښه نوکه الله جل جلاله په خپل سپيڅلي کلام قرآن کريم کې فرمايي:(وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجْعِ)

داپه دې معناده چې دا سپيڅلی قرآن کريم دکايناتو دخالق الله جل جلاله دلوري پر حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم باندې نازل سوی دی اومونږورباندې ايمان راوړی دی.

يادونه،(1)د "رجع" کلمې دراګرځيدو،،بيا ليږولو،دوباره استولو،بيرته ګرځيدو يادې ژباړې:

دقرآن کريم اعجازقرآن اوتخنيک پښتوژباړل سوکتابونوڅخه را اخيستل سوي دي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الله جل جلاله په خلا کي دتيارې (تاريکی) خبر راکوي!**

يو خلا پيژندونکي پوه چي ديوه پرمختللي هيواد دفضايي بيړيو ديوه مرکز څخه يې ليدنه کړې وايي:څه موده مخکي زما ومخته يؤه فضايي بيړۍ خلا ته وتوغول سول: چي دياد مرکز عمليه دخلا يي بيړۍ دعمليې سره په پرلپسي ډول په اړيکه کي وه دفضايي الوتکې مشر په يوه اړيکه کي چي دبيړيو دمرکز سره يي ونيول وويل:موږ اوس هيڅ شی نه وينو:دا په داسي حال کي وه چي فضايي بيړۍ په روښانه ورځ وتوغول سول،څه موده ورسته فضايي بيړۍ دمځکې داتموسفير څخه په بشپړډول خلا ته ووتل چي په پوره ډول تاريکه او بي نوره ده،

دفضايي بيړۍ رئيس اندېښنه وښودل او وي ويل:موږ هيڅ شی نه وينو داسي انګيرو لکه ړانده سوي چي يو:څه پېښه سويه ده؟

هغه څه چي دفضايي بيړۍ عمليې ته ورپيښ سوي وه داوه:دلمر وړانګې په خلا کي پاشل کيږي،خپريږي او دهوا ګرد اوغبارپه منځ کي سرګردانه کيږي: هغه څه چي فزيک پوهان ورته دنور انتشار يا خپريدنه وايي.

په خلا کي نور دهوا په ذراتو اوګرد پا شل کيږي اوټول نوراني اوځليدلي ښکاري،هغه کار چي په مځکه کي هم پيښيږي.ځيني ځايونه دلمر په نيغو وړانګو روښانه کيږي اوځيني ځايونه دلمر په منعکسه رڼا روښانه ښکاري:دمسجد په ډول:موږ يوبل وينو مګر هلته دلمر نيغي (مستقيمي)وړانګې شتون نه لري،بلکې دلمر منعکيسي وړانګې دي چي دشيانو سره دټکر ورسته زموږ سترګو ته رارسيږي او موږ هغه وينو.

فضايي بيړۍ هم ورسته تردي چي دمځکې داتموسفيرڅخه ووتل او دنور دانتشار پيښه(پديده) له منځه ولاړل دخلاپه بشپړې تاريکی کي راګيرسول اودبيړۍ کارکوونکو هيڅ نه ليدل.

اوس که دالله جل جلاله سپيڅلي کلام پاک قرآن ته چي 14سوه کاله مخکي نازل سوی دی او هغه وخت وګړو خلا،سپوږمۍ ته دتګ او دمځکې داتموسفيرڅخه په اوسنۍ طريقه د وتلوسره آشنايي نه درلودل مراجعه وکړو يوه علمي اعجازته رسيږو.الله جل جلاله دسُوۡرَةُ الحِجر په 14او15نمبراياتوکي فرمايي [سُوۡرَةُ الحِجر : 14](وَلَوۡ فَتَحۡنَا عَلَيۡهِم بَابًا مِّنَ السَّمَآءِ فَظَلُّوا فِيهِ يَعۡرُجُونَ)که موږ پر هغو د اسمان کومه دروازه پرانستې وای او هغوی په رڼا ورځ په کښي ختلي هم وای،[سُوۡرَةُ الحِجر : 15]لَقَالُوٓا إِنَّمَا سُكِّرَتۡ أَبۡصَٰرُنَا بَلۡ نَحۡنُ قَوۡمٌ مَّسۡحُورُونَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا به يې هم همدا ويل چي زموږ سترګي غولول کيږي، بلکي پر موږ کوډې شويدي.

*دسورت سُوْرَةُ الحِجـر د15نمبرايات ژباړه يې په تفسيرديوبندى كي داسي راوړې ده:"بيشكه!هم داخبره ده چى تړلى سوى دى سترګى زموږ بلكه موږ يوقوم يوچى جادو راباندى كړى دوى دى""(سُكِّرَتْ)ژباړه:چى تړل سوى دى"هغه څه چي دفضايي الوتکې دعمليې رئيس وويل: چي موږفکرکوو چي ړانده سوي يوو،تاريکی کي راګير اوهيڅ شی نه وينو:14سوه کاله مخکي په قرآن کريم کي بيان سوي دي!آيا دايوقطعي دليل پر دې نه دی چي قران دمخلوقاتو دخالق جل جلاله کلام دی؟

داپيښه څوکاله مخکي وسول:هغه وخت کله چي انسان دمځکې پوښ اتموسفير وپيژندئ اوپه هغه کي يې نفوذ کړی وو،هغوی داسي يوځای ته ورسيدل چي دنور دانتشار پديده (پيښه)دمنځه تللي وه او په پوره تاريکی کي راګير سوي وه!په دې پيښې سره انسان وپوهيدئ،وي ليدل چي دمځکې دپوښ (اتموسفير)څخه دباندي تياره ده اوبغير دروښانو ستورو دنور څخه نوره رڼا شتون نه لرييا نور (رڼا)نه منعكس كيږي ترڅو وليدل سي.الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ الحِجر : 14](وَلَوْ فَتَحْنَا عَلَيْهِم بَابًا مِّنَ السَّمَآءِ فَظَلُّوا فِيهِ يَعْرُجُونَ)

كه موږ پر هغو د اسمان كومه دروازه پرانستې واى او هغوى په رڼا ورځ په كښې ختلي هم واى،[سُوْرَةُ الحِجر : 15]لَقَالُوٓا إِنَّمَا سُكِّرَتْ أَبۡصَٰرُنَا بَلۡ نَحۡنُ قَوۡمٞ مَّسۡحُورُونَ

بيا به يې هم همدا ويل چي زموږ سترګي غولول کيږي، بلکي پر موږ کوډې شويدي.

*دسورت سُوْرَةُ الحِجـر د15نمبرايات ژباړه يې په تفسير (ديوبندى) كي داسي راوړې ده:("بيشكه!هم داخبره ده چى تړلى سوى دى سترګى زموږ بلكه موږ يوقوم يوچى جادو راباندى كړى دوى دى")"(سُكِّرَتْ)ژباړه:چى تړل سوى دى"



(c) ketabton.com: The Digital Library



# دجاذبې قوه

هغه څه چي ډېرښکاره دي دکايناتو ناپايني ده اوچي علم هرڅومره ډېر دسلګونو زرو ميليونو ليرې کهکشانو (آسمان ټولګو)په کشف باندي برلا سی سي،خودکايناتو داپراخوالی لانور ډېر روښانه کيږي،مګر ډېر جالب ټکی دادی:دکايناتو پرناپايني پراخی باندي يو ثابت قانونوحکمراني کوي:چي دجاذبې قوې په نوم سره پيژندل کيږي!

هره ټولګه دکايناتو يوه بله ټولګه دکايناتو په خپل حد او ددوی ترمنځ اندازه کي جذب کوي (خپل ځان ته يې راکاږي):دجاذبې قوي ديوازني قانوپه مرسته.

کولی سو ووايو ټول کاينات يوه ټولګه ده که چيرې هريو ددوی څخه همدغه رکم يوبل جذب کړي (ځان ته راکش کړې)مګر څه شي ددوی ترمنځ دليروالي،پاشل کيدو اوپه زمن کي ديوځای والي اويوې ټولګي په شان دښودني لامل سوی دی؟الله جل جلاله دسُوۡرَةُ الطّارق په 11نمبرايات کي فرمايي:(وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجۡعِ )قسم دی په باران اوروونکي اسمان؛(1)د "رجع" کلمه دراګرځيدو،،بيا ليرولو،دوباره استولو،بيرته ګرځيدو په معنا هم ژباړل سوې ده.

هرڅه چي په آسمان،فضاکي دي په خپل مدارکي دګرځيدلو،راځرخيدلو،ليري تللو اوبيرته خپل ځای ته راتللو په حال کي دي.دا دوراني اوپرلپسي حرکت ديوې قوې دراپاروني سبب سوی دی:يوه قوه(ځواک)دجاذبې دقوې په مقابل کي:دامخامخ کيدل او حرکت ددې دوو قوو په منځ کي حرکتي تعادل (بربروالی) منځ ته راوړې چي بياهم دا يوه نښه دنښانو او دقدرتونو څخه دالله جل جلاله ده.الله جل جلاله د سُوۡرَةُ الرّعد په 2نمبرايات کي فرمايي:

(اللَّهُ الَّذِى رَفَعَ السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ۖ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۖ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَجْرِى لِأَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ يُفَصِّلُ الْءَايٰتِ لَعَلَّكُم بِلِقَآءِ رَبِّكُمْ تُوقِنُونَ )

الله هغه ذات دی چي اسمانونه يې له ستنو پرته همداسي درولي دي، تاسي يې په خپله وينئ. بيا يې پر عرش استوا وکړه او لمر او سپوږمۍ يې د يو قانون تابع ګرزولي دي. ددې ټول نظام هر شی تر يو ټاکلي وخت پوري چليږي. او همغه الله ددې ټول کار تدبير کوي؛ هغه نښاني په ډاګه څرګنده بيانوي، ښايي چي تاسي له خپل رب سره په يو ځای کېدو باور وکړئ.

*(عَمَد) دعمود جمعه ده ياني ستني مګر دآسمان ستني دليدلو وړنه دي(بِغَيۡرِ عَمَدٍ تَرَوۡنَهَ)***ځيني پوهان وايي چي دا ايات شريف دکهکشانونو،ستورو،سيارو اونورو فضايي جسمونو ترمنځ دجاذبې دقوې پرشتون دلالت کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجاذبې قوې ته د سُوۡرَةُ النَّمل په 61 نمبر  ايات کي اشاره سوې ده،الله جل جلاله فرمايي:

(أَمَّن جَعَلَ الْأَرْضَ قَرَارًا وَجَعَلَ خِلَٰلَهَآ أَنْهَٰرًا وَجَعَلَ لَهَا رَوَٰسِىَ وَجَعَلَ بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ )

او هغه څوك دى چي ځمكه يې ارام ځاى وګرځوله، په هغې كښي يې سيندونه وبهول او (دغرونو ميخونه) يې پكښي ټكوهل او د اوبو د دوو ذخيرو په منځ كښي يې پرده حائله كړه؟ - ايا له الله سره كوم بل خداى هم (پدغو چارو كښي شريك) دى؟ - نه، بلكي له دوى څخه زياتره خلك ناپوهان دي.***

څوک دی چي دمځکې پرمخ يې ټول شيانو ته قرار،ارام ورکړی او دهغه په خوښه مځکه ټول شيان ځان ته جذب کوي،ځان ته راکاږي؟

**دوزن حقيت څه دی؟**

هوا دريابونه اوهرڅه چي دمځکې پرمخ دي هغې ځان ته راکښلي،جذب کړي دي.

که چيرې انسان خلا ته پروازو وکړې  اودمځکې جاذبې قوې دکړښې دورستي حدڅخه دباندي ووزي:دبي وزنۍ احساس به وکړې. الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ النَّمل : 61]

(أَمَّن جَعَلَ الْأَرْضَ قَرَارًا وَجَعَلَ خِلَٰلَهَآ أَنْهَٰرًا وَجَعَلَ لَهَا رَوَٰسِىَ وَجَعَلَ بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ )

او هغه څوك دى چي ځمكه يې ارام ځاى وګرځوله، په هغې كښي يې سيندونه وبهول او (دغرونو ميخونه) يې پكښي ټكوهل او د اوبو د دوو ذخيرو په منځ كښي يې پرده حائله كړه؟ - ايا له الله سره كوم بل خداى هم (پدغو چارو كښي شريك) دى؟ - نه، بلكي له دوى څخه زياتره خلك ناپوهان دي.***نور اياتونه چي دمځکې پرجاذبې قوې باندي دلالت کوي:الله جل جلاله د سُوۡرَةُ الانشقاق په 3او4نمبراياتونو کي فرمايي[سُوۡرَةُ الانشقاق : 3](وَإِذَا الْأَرْضُ مُدَّتْ )او کله چي ځمکه وغوړوله شي،[سُوۡرَةُ الانشقاق : 4](وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ )او څه چي په هغې کښي دننه دي هغه دباندي را وغورځوي او تشه شي؛***دمځکې دجاذبې قوې په لمنځه تللو سره:مځکه  خپل ټول شته دننه شيان،اجسام دباندي غور ځوې، چي بيا بيرت خپل لومړي حالت ته نه ستنيږي!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپورت دليلونو محور دا لاندي ايات شريف دی:الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ فَاطِر : 41]
(إِنَّ اللَّهَ يُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ أَنْ تَزُولَا ۚ وَلَئِنْ زَالَتَآ إِنْ أَمْسَكَهُمَا مِنْ أَحَدٍ مِّنْ بَعْدِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا )

حقيقت دا دی، يوازي همدا الله دی چي اسمانونه او ځمكه يې د منځه تلو څخه ساتلي دي، او كه هغه بې ځايه شي، نو د الله څخه وروسته كوم بل څوك د هغو راټينګوونكى نشته. بېشكه الله ډېر زغمونكى او بښونكى دى.******

دلمروتــل دآســمان لمنځــه (دلمريزنظــام دمنځــه)دلمــر دخپلــې ســمې طبعــي لارې څخــه كږيدل،انحراف شمېرل كيږي.كه چيرې خبير الله جل جلاله وفرمايي:[سُوۡرَةُ الطّارق : 11]
(وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجْعِ )قسم دی په باران اوروونكي اسمان؛***
(1)د "رجـع" كلمـه دراګرځيـدو،،بيا ليږولو،دوبـاره استولو،بيرته ګرځيـدو پـه معنـا هـم ژبـاړل سوې ده.همدغـه دفضـايي جسمونو بيرتـه راګرځيدل يـې خپـل لومړي ځـای تـه دآسمان قـانون ګرځولی هره سياره.. چي په كايناتو شتون لري دخپل كروي يا بيضوي دوران پـه طـی كولو بشپړولو سره دوباره خپل لومړي ځای ته راګرځي:هغه هم بيله كوم كوچني انحرافه.
دادقت اونظم دچا كاردی؟
كـه لمـر دخپـل تـګ لـوري څخـه منحـرف او ووزې:ديـوې بلـې سياري..سـرټكركوي اوددوی دټكرلكبلـه دمځكـې څخـه ژونـد كـده كوي!څـوک دی چـي كهكشانونه(آسـمان ټولګې)سـتوري اوسيارې يې دخپل حركت پر مسير(تګ لوري)ثابتي اوټينګې ساتلي دي؟
كه يو اورګاډی داوسپني دپټلی څخـه ووزې سقوط كوي،غوځـاريږي، اورګـاډی در هغوپـوري خوندي دی ترڅوهغه داوسپني پر پټلی باندي روان وي.همدرنګه مځكه هم ،كـه خپـل پـر مسير دحركت په حال كـي وي:پرخپـل حـال بـه ثابتـه پاتـه وي،كـه يـې پـه درروان اومسير كـي لـږ هم توپير راغلی جوړوالی به يې دمنځه ولاړسي!خو دا دقادار ذات الله جل جلالـه دقدرت يوه نښـه ده چي مځكه دخپل تګ لوري څخه نه منحرفه كيږي!دا دالله جل جلاله جوړښت دی!داالله جل جلاله فضل دی!الله جل جلالـه فرمايي:[سُوۡرَةُ فَـاطِر : 41](إِنَّ اللَّهَ يُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ أَنْ تَزُولَا ۚ وَلَئِنْ زَالَتَآ إِنْ أَمْسَكَهُمَا مِنْ أَحَدٍ مِّنْ بَعْدِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا )
حقيقت دا دی، يوازي همدا الله دی چي اسمانونه او ځمكه يې د منځه تلو څخه ساتلي دي، او كه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه بې ځايه شي، نو د الله څخه وروسته کوم بل څوك د هغو راټينګوونکی نشته. بېشکه الله ډېر زغمونکی او بښونکی دی.******

ياني دهغوی کنټرول اونه وتل دخپل مسير څخه دالله جل جلاله په واک اوکنټرول کي دي.

هغه لکی لرونکي ستوري چي په 1910م کال کي اودويم ځل په 1986م کال کي دخواوا څخه تيرسول:او ورسته درزرګونو کلونو دتيريدويې اوس هم په دقيق اومنظم مسير کي توپير نه دی راغلی:توپير څه حتی دردې چي لږ فرق يې په سرعت کي هم نه دی راغلی!ټولو لکیلرونکوستورو،کهکشانونو،ستورو،سيارو،سپوږميانو،مځکې، لمريز نظام اوکايناتو دغه ډول دقيق اومنظم وضيعت دچا په قدرت خپل کړی دی؟الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ يٰسٓ : 38](وَالشَّمْسُ تَجْرِى لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ۚ ذٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ )او لمر د خپل ټاکلي ځای خوا ته ځي، دا د خورا ډېر ځواکمن پوه ذات، وضع کړی حساب دی.******دکايناتو ټولي برخې،اجزاوي په خپل ټاکل سوي مسير کي دحرکت په حال کي دي اودهغه څخه سرغړونه نه کوي،نه اوړي،ولي؟ولي چي قادر ذات الله جل جلاله دهغوی سمبالونکی دی!الله جل جلاله دسُوۡرَةُ فَاطِر په 41نمبرايات کي فرمايي:(إِنَّ اللَّهَ يُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ أَنْ تَزُولَا ۚ وَلَئِنْ زَالَتَآ إِنْ أَمْسَكَهُمَا مِنْ أَحَدٍ مِّنْ بَعْدِهٖٓ ۚ إِنَّهُ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا )حقيقت دا دی، يوازي همدا الله دی چي اسمانونه او ځمکه يې د منځه تلو څخه ساتلي دي، او که هغه بې ځايه شي، نو د الله څخه وروسته کوم بل څوك د هغو راټينګوونکی نشته. بېشکه الله ډېر زغمونکی او بښونکی دی.*

آيا دمځکي ټول ځواقونه داوړتيا اوتوان لري:که مځکه دخپل تګ لوري،مسير څخه واوړې چي بيرته يې خپل اصلي(اره)تګلوري ته راولې؟او آيا که لمر دخپل مسير څخه منحرف سي دمځکي اوسيدونکي يې بيرته خپل اصلي حالته دروستلو توان لري؟؟؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**دمځکې څخه ليري کهکشانونه (آسمان تېولګې)**

الله جل جلاله دسُوْرَةُ الواقِعَة په 75 او76نمبر اياتونو کي فرمايي:[سُوْرَةُ الواقِعَة : 75] (فَلَآ أُقْسِمُ بِمَوٰقِعِ النُّجُومِ )نو داسي نه ده، زه د ستورو د پرېوتلو په ځايونو باندي قسم خورم؛ [سُوْرَةُ الواقِعَة : 76](وَإِنَّهُ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُونَ عَظِيمٌ )او که وپوهېږئ نو دا ډېر لوی قسم دی؛

******

يوې نړۍ والي رسنۍ اعلان کړه: چي ديوه پرمختللي هيواد يوه فضايي بېړۍ (الوتکه)چي ديوه لـوی تلسـکوپ لېږدونکـي وه فضــاته وتوغـول سـول.دياد تلسـکوپ دعدسـي قطـر 8متـره وو،دفضايي بېړۍ تيزوالی نژدي 40زره کيلومتر پرساعت وو،چي دکايناتو درازونو دکشفولو لپاره فضا ته واستول سول.

ياده فضايي بېړۍ دتلسکوپ په ګډون کيدای سي اوس مشتري سيارې ته نژدي سوې وي .

دې فضايي بېړۍ ديوه کهکشان څخه چي تر اوسه نه وو کشف سوی عکاسي کړي:

مځکي ګمان کيداي چي ترټولو ليري کشف سوی کهکشـان بـه زموږ څخـه 000/000/24000 فاصله (ليريوالی)لري اونژدي ترين ستوری به زموږ څخه 4نوري کاله ليري وي:4نوري کاله ياني:که يوڅوک وغواړې يادستوي ستوري تـه دمځکې پـه يوه لېږدونکـي ماشين،وسـايل کـي سفر وکړې،يادسفربه يې 50ميليونه کاله ورسته منزل ته په رسيدو پای ته ورسيږي.

قطبـي سـتوری 400زره نـوري کالـه او (M33)نبيولـه (وريځـې)2،7ميليونـه نـوري کالـه زموږڅخه ليري دي.يوبل کشف سوی کهکشان (آسمان تېولګه)زموږڅخه 24ميليونه نوري کاله فاصله لري.

مګر څـه لږوخـت مخکـي هغـې فضـايي بېړۍ چي يولـوی تلسـکوپ دځـان سـرلېږدوي ديوبـل کهکشان انځور چي دمځکې څخه سلګونه بيليونه کاله ليري دی مځکي ته راستولی دی.

په دقت سره اند وکړئ!سلګونه بيليونه نوري کاله!

دايوه ډېره ليري فاصله ده:هريوبيليون دزرميليونه سره سمون خوري.

جالب ټکی خودادی:يادکهکشان پـه هره ثانيـه کـي د240زرو کيلـومترو پـه سرعت دحرکت پـه حال کي دی.زموږڅخه يې ليروالی هغه وخت چي ليروالی يې ثبت سو سلګونه بيليونـه نـوري کاله وو داچي اوس به زموږڅخه څومره ليري وي معلوم نـه دی.اوس ديـادو سـوو مـالومـاتو پـه نظرکي نيولو سره په دي ايات شريف کي ژور اند(فکر)وکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



[سُوۡرَةُ الواقِعَة : 75](فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَوٰقِعِ ٱلنُّجُومِ )نو داسي نه ده، زه د ستورو د پرېوتلو په ځايونو باندي قسم خورم؛[سُوۡرَةُ الواقِعَة : 76](وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٌ لَّوۡ تَعۡلَمُونَ عَظِيمٌ )او كه وپوهېږئ نو دا ډېر لوی قسم دی؛****

دايو لوی قسم دی که دنجوم ستور پيژندني په علم باندي وپوهيږو.آيا موږ ته ښايي چي دستر خالق جل جلاله داموروڅخه سرغړونه وکړو؟آيادابه ښه وي چي دالله جل جلاله څخه بغير دبل چا څخه وبيريږو؟آيا دابه ښه وي چي دالله جل جلاله دياد اوذکر څخه غافله سو اوذکريی ونه کړو؟آيا دابه شه وي چي داسلامي امورو څخه بي خبره اودهغوڅخه سرغړونکي واوسو؟راسئ بيا په ياد سوي ايات شريف کي ژور اند وکړودقيق ليروالی دمځکې څخه دهغه کهکشان چي تراوسه کشف سوی اودمځکي څخه ډېر ليري دی.

ياد کهکشان د( MACS–JD0647 )په نوم نومول سوی اودمځکي څخه 13،3ميليارده نوري کاله ليري دی.اوس که دنور(رڼا)تيزوالی چي په ثانيه کي 3لکه کيلومتره دی په 60کي چي ديوې دقيقې سره سون خورې بيا په 60کي چي ديوه ساعت سره سمون خوري،ساعت په 24کي چي ديوې ورځې سره برابريږي،ورځ په 365کي چي ديوه کال سره سميږي ضرب کړو څه په لاس راځي؟ديادې پايلې په ليدو بله چاره نه لرو چي په دي ايات شريف کي په غور اودقت اند وکړو اودالله جل جلاله دقدرتونو په ليدلو سره خپل سر زموږ او ټولو کايناتو پيداکوونکي ته پرسجده کښيږدو.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## کهکشانونه،ستوري.. اودهغوی تيزوالی

دکهکشان ويی(کلمه)ډېره اورو اود هغه په اړه ډېر معلومات لولو،مګر نوي کشفيات دهغوی په اړه دومره هيرانوونکي دي چي ځيني وخت انسان دشک په سترګه ورته ګورې.

کهکشانونه (آسمان ټولګې) دکايناتو اساسي واحدونه بلل کيږي چي دستورو،سيارو،سيارګيو،سياره وزمو،لکی لرونکوستورو،سپوږميانو،آسماني ډبرو او دسختو،شديدو مقناطيسي او الکتريکي ميدانونو.. څخه جوړدي،په يوه کهکشان کي يادسوي ټول فضايي جسمونه شتون لري.دپاملرنې وړتکی خودادی :

ددې سره سره چي انسان د لويو اوځواکمنو تلسکوپو په مرسته زرميليونه کهکشانونه ليدلي،مشاهده کړي دي،مګر موږ بيله تلسکوپه په طبعي ډول لاندي کهکشانونه په پاکو تاريکو شپوکي په ښکلي هسک کي ليدلی سو:

**لومړی(دشيدولارې) کهکشان**دويم :د(SMC)يادماژالاني کوچنۍ وريځ) کهکشان يادکهکشان زموږڅخه 200زره نوري کاله ليري دی.

3:د (Large Magellanic Cloud)يا (LMC)دماژالاني لويه وريځ) کهکشان چي زموږڅخه دياد کهکشان ليروالی 160زره نوري کاله دی.

4:د (آنډرومډا) يا (M31)کهکشان چي زموږڅخه 2،5ميليونه نوري کاله ليرئ دی.

ځيني تيز نظر کسانو د (M33)کهکشان چي زموږڅخه 2،7ميليونه نوري کاله فصله لري او درهغه هم ليري کهکشان (M81) چي 11ميليونه نوري کاله زموږڅخه ليري دی،دليدلو ادعا کړي ده.هرکهکشان(آسمان ټولګه)په منځني ډول ددري لکه ميليونو ستورو درلودونکی وي.

الله جل جلاله ځومره ښه فرمايي:[سُوْرَةُ الواقِعَة : 75]( فَلَآ أُقْسِمُ بِمَوٰقِعِ النُّجُومِ )نو داسي نه ده، زه د ستورو د پرېوتلو په ځايونو باندي قسم خورم؛[سُوْرَةُ الواقِعَة : 76](وَإِنَّهُ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُونَ عَظِيمٌ )او که وپوهېږئ نو دا ډېر لوی قسم دی؛*****

اوس دشيدولارې آسمان ټولګه په نظر کي نيسو چي زموږ آسمان ټولګه شمېرل کيږي:

زموږ لمريزنظام دشيدولارې کهکشان يوه کوچنۍ برخه ده.ديادکهکشان اوږدوالی 150زره نوري کاله دی.داپه داسي حال کي چي موږ دسپوږمۍ څخه يوه نوري ثانيه او دلمر څخه 8نوري دقيقې او 17ثانيې ليروالی لرو،همدارنګه دټول لمريز نظام طول،اوږدوالی در 13نوري ساعته ډېر نه دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او داسې يوه بڼه لري لکه يو لوښی چي دستورو ډک وي.يوبله جالبه خبره داده چي ټوله کهکشانونه ديوه نامالوم ټکي پر،شاوخوا چي ستورپيژندونکي ورته (تورسوری) وايي راڅرخي،هغه هم په يوداسي سرعت سره چي دباور وړنه دی ياني دنور دسرعت 10:8په نسبت کـه چيرې نورپه هره ثانيه کي دري لکه کيلومتره مزل کوي ټول کهکشانونه 10:7در10:8پرسرعت دنور دحرکت په حال کي دي.

زموږ لمريز نظام دمځکي په ګډون دخپل کهکشان دمرکز پر شاوخوا په يولوی مدارکي په ثانيه کي د220کيلومتره په تيزوالي دحرکت په حال کي دی.زموږ لمريز نظام په 250 ميليونه کاله کي يوځل دخپل کهکشان دمرکز څخه راګرځي، راچورلي،رښتيا دادي چي دآسماني جسمونو سرعت اودهغوی ترمنځ دليروالي تصور دانسان دعقل لپاره نه منونکی دی.

زموږ سياره مځکه په ساعت کي د1600کيلومترو په سرعت سره څرخي،مځکه دلمر پر شاوخوا هم په ثانيه کي د3کيلومترو په تيزوالي دحرکت په حال کي ده.لمر هم دخپل کهکشان دمرکز څخه په ثانيه کي د200کيلومترو په تيزوالي دګرځيد په حال کي دی.

دشيدولارې آسمان ټولګه هم په ثانيه کي د240زرو کيلومترو په تيزوالي دحرکت په حال کي ده، ياني دنورتيزوالي ته نژدي تيزوالي باندي .اوس که دا په نظر کي ونيسو چي لمر دشيدو لارې کهکشان دمرکز څخه دپوره دور خوړلو لپاره 250ميليونه کالو ته اړتيا لري نو دټولو کهکشانونو دحرکت نسبت موږته ښه روښانه کيږي.الله جل جلاله د سُوْرَةُ الغَاشِيَة په 17،18،19او20نمبراياتونوکي فرمايي:[سُوْرَةُ الغَاشِيَة : 17](أَفَلَا يَنْظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ )نو ايا دوی اوښ ته نه ګوري چي څنګه پيدا کړ شوی دی؛[سُوْرَةُ الغَاشِيَة : 18](وَإِلَى السَّمَآءِ كَيْفَ رُفِعَتْ )او اسمان ته نه ګوري چي څنګه اوچت کړای شوی دی؛[سُوْرَةُ الغَاشِيَة : 19](وَإِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ )او غرونو ته نه ګوري چي څنګه ښخ درول شوي دي؟[سُوْرَةُ الغَاشِيَة : 20](وَإِلَى الْأَرْضِ كَيْفَ سُطِحَتْ )او ځمکي ته نه ګوري چي څنګه غوړول شوې ده؟

***څه موده وړاندي د(M28)نومي کهکشان په مرکز کي چاودنه وسول:دياد ې چاودني داورلمبو سلګونه ميليونه کيلومتره اوږدوالی درلودی.

ددې چاودني لکبله د دوه زرو بيليونو بيليونو هيدروجني بمونو دانرژی دځواک په اندازه انرژي آزاده سول.يو هيدروجني بم څونده ځواک لري؟

يو هيدروجني بم دوندي ځواک لري چي دمځکي ترټولو لوی ښار ويران،خراب کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس که دوه زره بیلیونه بیلیونه هیدروجني بمونو ته چاودنه ورکړو څه به پیښ سي؟

په رښتیا هم داپیښه به بیخي ډېره هیرانونکي وي.الله جل جلاله فرماییدسُوۡرَةُ فَاطِر په 28 نمبرایات کي فرمایي:(إِنَّمَا يَخْشَى الله مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا ؕ إِنَّ الله عَزِيزٌ غَفُورٌ ) (حقیقت دا دی چي د الله د بندګانو څخه یوازي عالمان د هغه څخه وېرېږي. بېشکه الله برلاسی او ښښونکی دی.)*اوس نو که موږ هرڅومره ډېر دکایناتو درازونو څخه خبرېږو:زموږ وېره به دالله جل جلاله دعذابونو څخه لاډېرېږي.موږ انسانان دمځکې پرمخ دډېرو کوچنیو کوچنیو ستور په شان یو.مځکه دلمر پر شاوخوا، لمر دکهکشان دلوی ستوري پرشاوخوا، کهکشان دتورسوري پرشاوخوا په فضا کي راڅرخي او دوی ټوله د راچورلیدلو،راګرځیدلو په حال کي دي.الله جل جلاله دسُوۡرَةُ الطّارق په11نمبرایات کي فرمایي:(وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجْعِ )قسم دی په باران اوروونکي اسمان؛(1)د "رجع" کلمه دراګرځیدو،،بیا لیږولو،دوباره استولو،بیرته ګرځیدو په مانان هو ژباړل سوې ده.****هرآسماني جسم په بیضوي شکله یا کروي شکله مدارکي دراګرځیدو په حال کي دی،ښه نو اوس به دمځکې او آسمان په پیدایښت کي آند وکړو !زموږ خالق جل جلاله فرمایي:[سُوۡرَةُ آل عِمرَان : 191](الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللهَ قِيٰمًا وَقُعُودًا وَعَلٰى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِى خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بٰطِلًا سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ )چي په ولاړي، ناستي او ملاستي، هر حالت کښي خدای یادوي. او د اسمانونو او ځمکي په پیدایښت کښي غور او فکر کوي (هغوی په غیر ارادي توګه غږ کوي چي:) "آې زموږ ربه! دا ټول شیان تا بابیزه او بې مقصده نه دي پیدا کړي، ته له دې څخه پاك يې چي عبث کار وکړې؛ نو اې ربه! موږ د دوږخ له عذابه وژغوره؛***



(c) ketabton.com: The Digital Library



**دستورو ځايونه**

الله جل جلاله فرمايي[سُوۡرَةُ الواقِعَة : 75](فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَوٰقِعِ ٱلنُّجُومِ)نو داسي نه ده، زه د ستورو د پرېوتلو په ځايونو باندي قسم خورم؛[سُوۡرَةُ الواقِعَة : 76](وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٌ لَّوۡ تَعۡلَمُونَ عَظِيمٌ)او كه وپوهېږئ نو دا ډېر لوی قسم دی؛

***سوال دادی چي موخه دستورو دځايونو څخه څشي ده؟

دري ماناوي يې بيان سوي دي:

لومړی دستورو ترمنځ ناپايانه ليروالی دی ،چي دياد ليروالي درک دعقل لپاره ستونزمن چار دی،دبيلګې په ډول:دځينو آسمان تولګو اومځکې ترمنځ 18زره ميليونه نوري كاله ليروالی شتون لري،اوس كه دنور تيزوالی چي په ثانيه كي دري سوه زره كيلومتره دی،په پام كي ونيسو،ياد تيزوالی به: په دقيقه،ګړی،ورځ،مياشت اوكلونو كي څوندي مزل وكړي اوڅومره به زموږ.څخه ليري سي؟الله جل جلاله څومره ښه فرمايي:[سُوۡرَةُ الواقِعَة : 75](فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَوٰقِعِ ٱلنُّجُومِ)نو داسي نه ده، زه د ستورو د پرېوتلو په ځايونو باندي قسم خورم؛[سُوۡرَةُ الواقِعَة : 76] (وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٌ لَّوۡ تَعۡلَمُونَ عَظِيمٌ )******

مځكه اوسپوږمی يوازي يوه نوري ثانيه سرليري دي.دلمراومځکي ترمنځ ليروالی 8دقيقي او17ثانيي دچي نژدي 150ميليونه كيلومتره كيږي.دلمريز نظام طول 13نوري ساعته(ګړيه)اودشيدو لارې كهكشان طول 150زره نوري كاله دی.ايا د داسي فاصلو تصوركول چي زموږ او ستورو ترمنځ دي،ديوبل څخه دهغوی د ليري ځايونه تصور كول دعقل لپاره ممكن دي.ځای ددې دی چي بيا دا ايتونه په پوره آندكولوسره تلاوت اوبيا يې تكراروكړو. : 75](فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَوٰقِعِ ٱلنُّجُومِ)[سُوۡرَةُ الواقِعَة : 76](وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٌ لَّوۡ تَعۡلَمُونَ عَظِيمٌ)

******دويمه مانا:ستوري تل په مختليفوځايونواو حركت كي وي.

ددوی څخه هريويې دځانګړي تګ لوري او مدار درلودونكی اوهغه لوري ته ستنيدونكی دی.

الله جل جلاله دسورت يٰسٓ په 40نمبرايات كي فرمايي:[سُوۡرَةُ يٰسٓ : 40](لَا ٱلشَّمۡسُ يَنۢبَغِى لَهَآ أَن تُدۡرِكَ ٱلۡقَمَرَ وَلَا ٱلَّيۡلُ سَابِقُ ٱلنَّهَارِ ۚ وَكُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسۡبَحُونَ)نه د لمر په وس كښي دا شته چي سپوږمی ونيسي او نه شپه پر ورځي مخكي كېدلای شي. دا ټول په يو يو فلك (مدار) كښي لامبو وهي (په اسمان كي چورلېدونكي دي).*****

دسورت الواقِعَة 75نمبرايات كي د (بِمَوٰقِعِ )كلمه ددې ايات شريف د اعجاز راز دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولې چي ديو ستوري ځای په مانا سره ددې نه دی چي هغه ستوری چي چېري کشف سوی وو په هغه وخت کي هغه ستوري په هم هغه ځای کي شتون درلودی،دبيلگي په ډول موږ دمځکي څخه دلمر انځور اخلو دلمرياد انځور د8دقيقو او17ثانيو پخوانی انځور دی، نه دهم هغه شيبې!

همدرنگه که زموږ څخه يوستوری يونوري کال ليروي داپه دي مانا ده چي دهغه ستوري نور يوکال ورسته زموږ سترگوته راسيدلی دی اوداچي اوس به څومره ليري وي موږ نه يوخبر!

خدای جل جلاله دستورو ترمنځ په ليروالي سرقسم نه دی يادکړی: ولې چې ستوري پريوه ځای ثابت نه دي:دحرکت په حال کي دي.

الله جل جلاله دستورو دځايونو ترمنځ ليروالی يادکړی دی.که يوستورپيژندونکی دايات شريف ولولي:[سُوْرَةُ الواقِعَة : 75](فَلَاَ أُقْسِمُ بِمَوٰقِعِ النُّجُومِ)نو داسي نه ده، زه د ستورو د پرېوتلو په ځايونو باندي قسم خورم؛****

نوپه عاجزی سره به الله جل جلاله ته سرپرسجده کښيږدي او دقرآن کريم اعجازته به عاجزه سي.مځکه پرلمرباندي خپل راگرځيدل په 365ورځو اوڅوساعتونو کي پوره کوي،ځيني نوري سيارې په 2کاله 3کاله اوياد1يوه کال څخه کمه موده کي ياد کارسرته رسوي او هريوه ددوی څخه دبيلوځايونو، دلويو او وړو کروي شکله اوبيضوي شکله مدارو درلودونکيه ده:هغه څه چي ددې ايات شريف تصديق کوي:[سُوْرَةُ الواقِعَة : 75](فَلَاَ أُقْسِمُ بِمَوٰقِعِ النُّجُومِ)****

په واقعت کي هرستوری،سياره..په هرثانيه کي ځانگړي ځايونه لري.داپه داسي حال کي چي دبشر په لاس جوړسوی دقيق ترين وخت ښوودونکی ساعت هم ځيني وخت بي وخته، کيږي بي دقته کيږي،دلته داسول پيدا کيږي: چي څشي دهغوی دتنظيم معياردی؟په ځواب کي وايو: يادساعتونه د هغو ستورو دحرکت ددقت پراساس تنظيم کيږي چي وړه خطا او بي دقتي يې په حرکت کي شتون نه لري،همدارنگه دهغو دښکاره کيدلو لپاره هم ځانگړي ځايونه شتون نه لري،ولې؟

ځکه چي يادستوري ديوه هيرنونکي سيستم پراساس هره ثانيه په نوي ځای کي وي!هغه ستوري چي په 1910م کال کي ورسته په 1986م کال کي دمځکي دخوا څخه تيرسول او اوس موږ انتظار باسو چي په 2062م کال کي به يادستوري ووينو.ديادو ستورو گرځيدل بيرته راگرځيدل 76کال وخت نيسي،هيڅ وخت دځنډ اومخکي والي سره نه دي مخ سوي ياني هروخت پرخپل ټاکلي وخت دثانيو په دقت بيرته راگرځيدلي دي،په داسي حال کي چي هغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمځکې څخه 30ميليونه کلومتره ليري واقع دي.دريمه مانـا:دستوروترمنځ دجاذبې قوه شتون لري اولوی ټولګې کوچنی ټولګې خپل ځان تـه راکاږي،يوبل مهم عامل چي پـه دي امر کـي داخل دی،دستورو دټولګو ترمنځ ټاکل سوی مناسب ليروالی دی،که چيري پـه دي ليروالـي کـي تـوپير راځي:دکايناتوتوازون(برابروالی)بـه دمنځـه ولاړسـي آسـماني جسـمونه بـه ديوبـل سـره ټکروکړي اوکاينات به په يوې بي ترتيبې ټولګې بدل سي.

مګردستورو..ځايونـه دستور دترتيب کوونکي دلوري څومره منظم ټاکل سوي دي چي ددې مـنظم والـي پايلـه داده چـي دهغـوی دوران اوپـه زمـن کـي دهغـوی پـر خپـل ځـای ټينګوالی،محکموالی يې په وجود راوړی دی!بنه نو پـه اولـه معنـا کـي بيـان سـول چي دسـتورو دځايونه څخه موخه دهغوی ډېرې ليري فاصلي دي.په دويمـه مانـا کـي بيـان سـول:چي دسـتورو حرکت ليرد رااليرد ديوځای څخه نوي ځای تـه مګر مخکـي ټاکل سوي:ياني دهغوی پـه ټاکل سوفاصلو ،مدارو او دحرکت په ډول کي توپير نه راتلل،لکه مځکه کي چي سهاراومابنام بيلـه کوم توپيره په پرلپسي ډول راځي.

په دريمه مانا کي وويل سول: ستوري دهغوی دلوالي ،کوچنيوالي، ليروالي اونـژدي والـي سره ټولو ته په يوه ټاکل سوي دقيق ټکي کي قرار ورکول سوی او دهغـوی تـرمنځ دجـاذبې قـوې هغوی ته ټينګوالی،محکموالی وربخښلی اودا هيرانوونکی اوبې بيلګې نظام يې منځ تـه راوړی دی!خدای جل جلاله دسُوۡرَةُ فَاطِر په 41نمبرايت کي فرمـايي:(إِنَّ اللهَ يُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ أَن تَزُولَا ۚ وَلَئِنْ زَالَتَآ إِنْ أَمْسَكَهُمَا مِنْ أَحَدٍ مِّنْ بَعْدِهٖ ۚ إِنَّهُ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا )

حقيقت دا دی، يوازي همدا الله دی چي اسمانونـه او ځمکه يې د منځه تلو څخه ساتلي دي، او که هغه بې ځايه شي، نو د الله څخه وروسته کوم بل څوک د هغو راټينګوونکی نشته. بې‌شکه الله ډېر زغمونکی او بښونکی دی.

******

د (أَن تَزُولَا)معنا څښي ده هيڅکله يې مانا (انْ تَفْنى)ياني نابوديدل لمنځـه تلل نـه دي،بلکـي مانـا يې ده (اوکه هغه بې ځايه سي)يعنی دخپل مسير څخه خارج سي ده.

دبيلګې پـه ډول کـه مځکـه لمرتـه نـژدي سـي تيزوالـی يـې ډېرېږي،ترڅـو دلمـر دجـاذبې قـوې دتعدل(برابروالي)په حال کي وساتي ،دهغه لورته جذب نه سي اوپه خپل مسير کي لانوره هم پاته سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس يوار بيا دپاک قرآن ددې اياتونه تکرار کوو:[سُوۡرَةُ الواقِعَة : 75](فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَوَٰقِعِ ٱلنُّجُومِ ) نو داسي نه ده، زه د ستورو د پرېوتلو په ځايونو باندي قسم خورم؛[سُوۡرَةُ الواقِعَة : 76](وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٌ لَّوۡ تَعۡلَمُونَ عَظِيمٌ)او که وپوهېږئ نو دا ډېر لوی قسم دی؛*****

تاسواړياست په دې ايات شريف کي اند وکړئ،تحقيق اوغور وکړئ ولې چې:[سُوۡرَةُ الذّٰرِيَات : 20](وَفِى ٱلۡأَرۡضِ ءَايَٰتٌ لِّلۡمُوقِنِينَ)په ځمکه کښي د باور کوونکو لپاره (د الله (ج) د قدرت) ډېري نښاني دي؛*****اودغه رکم:[سُوۡرَةُ يُونس : 101](قُلِ ٱنظُرُواْ مَاذَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ وَمَا تُغۡنِى ٱلۡءَايَٰتُ وَٱلنُّذُرُ عَن قَوۡمٍ لَّا يُؤۡمِنُونَ)

دوی ته ووايه: "په اسمانونو او ځمکه کښي چي څه دي، هغه په غړېدلو سترګو وګورئ!"- او کوم خلك چي له سره ايمان راوړل نه غواړي، د هغو لپاره نښاني او اخطارونه مدافع او ګټور کېدای نه شي.*****په رښتيا سره چي په آسمانونو اوځمکه کي دالله جل جلاله دقدرتونو،لويوالي بې شمېره نښې نښاني شتون لري اوهيڅ وخت پای نه مومي،داداسي نښې دي چي يوازي قانع کوونکي نه بلکې دهغوی څخه هيڅ انکار نه سي کيدای او دليل دهغوی څخه دانکار نه کيدلو درقانع کولو ډېر بيانوونکی اوبليغ دی.




يادونه که غواړئ ددې برخي په مطالعه په هراړخيز ډول پوه سئ تېرې دوې برخې هم ولولئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په هسک کي دستورو شمېر**

مخکي وختونو کي ستورپيژاندو دستورو شمېر دزرگونو پورته بلئ،څه موده ورسته يې ياد شمېر ميليونونه ياوئ اوڅه لږوخت ورسته يې ميلياردونه يادكړ،خو اوس وخت كي ستورپيژندونكو يوازي دشيدو لارې په كهكشان كي چي په كايناتو كي يو متوسط(منځنى)كهكشان دى،د30 ميلياردو ستورو دشتون خبر وركړى دى،چي زموږ لمريز نظام هم دپادې آسمان ټولګې يوه برخه ده.ستورپيژندي ديوبل كهكشان دستورو په شمېرلوكي يو بل لوى عدد ته رسيدلي دي ياني:يوميليون ميليون ستوري،مګر دراوسه هم دې پوښتني ته چي: په فضا کي څومره ستوري شتون لري؟ځواب نه دى موندل سوى!دراوسه ديوميليون ميليون كهكشانونو شمېر انسانانو كړى چي هركهكشان په همدومره شمېر ستورو ته په خپل ځان كي ځاى وركړى دى،داچي په هغوى کي څومره: سيارې،سپوږمياني او آسماني ډبرې.. شتون لري؟دايوه ډېره ستونزمن بي ځوابه پوښتنه ده.دخالق جل جلاله خلقتونه دانسان دتصور څخه ډېر هسک دي!الله جل جلاله دسُوْرَةُ الذّاريَات په 47 نمبر ايات كي فرمايي:(وَالسَّمَآءَ بَنَيْنٰهَا بِأَيْيدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ)اوآسمان موجودكړى دى موږ په ايدى(دقدرت خپل)اوبيشكه موږ،خامخاپراخوونكى يو(اوهرشى موله واک (اختيار)اوقدرته پوره دى)*****ورستي اعداد چي بيان سول بيان كوونكى په آسمانونو كي دخلقت دعظمت دي :هغه خلقت په لاس سره دهغه خالق جل جلاله چي فرمايي:[سُوْرَةُ يُونس : 101](قُلِ انظُرُوا مَاذَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَمَا تُغْنِى الْءَايٰتُ وَالنُّذُرُ عَن قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ)دوى ته ووايه: "په اسمانونو او ځمکه كښي چي څه دي، هغه په غوږېدلو سترګو وګورئ!"- او كوم خلك چي له سره ايمان راوړل نه غواړي، د هغو لپاره نښانې او اخطارونه مدافع او ګټور كېداى نه شي.**************************

مودې مخكي آند كيدئ چي ځيني ستوري متحرک اوځيني نوربيا دلمرپه ګډون ثابت اوبې حركته دي،دوخت تېريدل دهغوى په ثابتوالي اوحركت باندي كومه اغېزه نه لري،دا په داسي حال كي چي دالله جل جلاله په كلام كي الله جل جلاله دلمر په اړه خبر راكوي اوحال يې راته داسي بيانوي:[سُوْرَةُ يٰسٓ : 38](وَالشَّمْسُ تَجْرِى لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ۚ ذٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ)او لمر د خپل ټاكلي ځاى خوا ته ځي، دا د خورا ډېر ځواكمن پوه ذات، وضع كړى حساب دى.*

په دې ورستيو وختونو كي كشف سول:چي لمر اولمريز نظام په ثانيه كي د200كيلومترو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تېزوالي ديوبل ستوري پرشاوخوا په فضا کي دحرکت په حال کي دی او هرځل راګرځيدل يې ميليونونه کاله وخت نيسي.همدارنګه مځکه هم په ثانيه کي د30کيلومترو په تېزوالي دلمرڅخه دراګرځيد(چورليدو)په حال کي ده.ستورپيژاندو دځينو کهکشانونو(آسمان ټولګو)تېزوالی ډېر لوی عدد لاسته راوړی، ښوولی دی:240زرکيلومتره په ثانيه کي چې دا يو ډېر تېز اوهيرانونکی سرعت دی.يادسرعت نژدي درنا دتېز والي سره سمون خوري.ددې پراخيدونکو اوهيرنونکو کايناتو پيداکوونکی،سمبالونکی اوڅښتن څوک دی؟په رښتيا سره ددې کايناتو اوټولو مخلوقاتو پيداکوونکی پالونکی اوڅښتن پاک خدای جل جلاله دی!خدای جل جلاله دسُوۡرَةُ الأنبيَاء په 33نمبرايات کي فرمايي:(وَهُوَ الَّذِى خَلَقَ الَّيۡلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمۡسَ وَالۡقَمَرَ‌ؕ كُلٌّ فِى فَلَكٍ يَّسۡبَحُوۡنَ)او هماغه الله دی چي شپه او ورځ، او لمر او سپوږمۍ يې پيدا کړل، هر يو د دغو سيارو څخه په يو (بېل بېل) مدار حرکت کوي، ګرځي.***ياني هرستوری هغه که کوچنی وي يا لوی په دورنې حالت کي دی.قرآنکريم دالله جل جلاله کتاب دی او دټوکايناتو پيداکوونکی الله جل جلاله دی،نوددې دوو ترمنځ توافق اوهم غاړيتوب اړين دی،لاندي دوړ مبارکو اياتونو کي دې موضوع(سکالو)متن ته اشاره سوې ده:[سُوۡرَةُ الأنعَام : 1](اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِىۡ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالۡاَرۡضَ وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوۡرَ ؕ ثُمَّ الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا بِرَبِّهِمۡ يَعۡدِلُوۡنَ )ثنا او ستاينه الله ته ده چي اسمانونه او ځمکه يې هست کړل، رڼا او تيارې يې پيدا کړې. بيا هم هغه کسان چي د حقي بلني له منلو څخه يې انکار کړيدی، نور شيان د خپل رب سيالان ګڼي.[سُوۡرَةُ الكهف : 1](اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِىۡۤ اَنۡزَلَ عَلٰى عَبۡدِهِ الۡكِتٰبَ وَلَمۡ يَجۡعَلْ لَّهٗ عِوَجًا ؕ ۜ )ثنا او ستاينه الله ته ده چي پر خپل بنده يې دغه کتاب نازل کړ او په هغه کښي يې کوم کوږوالی پرې نښودی.*****



(c) ketabton.com: The Digital Library



**لمر**

دا روښانه اوپيژندل سوی واقعت په پام کي نيسو:دلمر دمخ،سطحي تودوخه 6زره سانتي ګريډ درجي او دمرکز ګرمښت يې 20ميليونه سانتي ګريډ درجي دی،درنا خپريدني،غورځوني توانايي يې هومره ډېره ده چي درڼا په په ځانګړو واحدونو اندازه اومعلوميږي.مګراړين ټکی دلته دی چي په فضا کي داسي ستوري شتون لري چي دهغوی نور دلمر 26برابره دی،همدارنګه نور داسي ستوري هم شتون لري چي نور(رڼا)يي دلمر100برابره او500 زره برابره ته رسيږي.

لمر دهغوی سره په پرتله کولو بيله دي چي يو متوسط(منځنی)ستوری وګڼوبل شی نه دی.

يادې سوې ټولي بې‌لګي ددې ايات شريف تصديق کوي چي خدای جل جلاله فرمايي:

[سُوۡرَةُ حٰمٓ السجدة/فُصّلَت : 53](سَنُرِيهِمْ ءَايٰتِنَا فِى الْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ)ډېر ژر به موږ دوی ته خپلي نښاني په افاقو (هيوادونو) کښي هم وښيو او د دوی پخپلو نفسونو کښي هم؛ تر دې پوري چي دوی ته دا خبره ځرګنده شی چي دغه قُرآن په رښتيا سره پر حق دی. ايا دا خبره کافي نه ده چي ستا رب پر هر څه شاهد دی؟*******

انځوکي لمراومځکه ښکاري چي دلمربادې څپې دمځکي څوبرابره لويي ښکاري



(c) ketabton.com: The Digital Library



**د عين القط( NGC 6543)ستوري چاوديدل او دقرانکريم معجزه**

هرڅېړونکی محقيق اومتفکر په کايناتو کي په آند،تحقيق،څيړنې کولو او دکايناتو اړوند قرآني اياتونو کي په ژور آند اوغور کولو سره دې پايلې ته رسيږي چي :قرآن العظيم الشان دالله جل جلاله کلام دی چي پر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم يې نازل کړی دی.داناشونی چاردی چي يوانسان ياپيری يوازې يا په ډليز ډول وکولی سي دقرآنکريم ديوه ايات مثل راوړي!انړۍ والي جرګي چي دنړۍ په بيلا بيلو ځايونو کي دقرآنکريم اوسنت دعلمي اعجاز پر سکالو(موضوع)جوړيږي،داروښانه کوې:چي علمي دقيقي اوپربېلګو ولاړې څيړنې چي غيري مسلمانو پوهانو ددې لپاره نه چي قرآنکريم او اسلام ته خدمت وکړي کړي دي:يادو څيړونو چي لسګونه کاله وخت نيولی او ميليونونه ډالر پري لګيدلي داسي پايله تري لاسته راغلي چي بيله کوم زور،جبر اوتينګاره،بيله دې چي حقايق يې لمنځه يوړل سي په پوره ډول دسپيڅلي قرآن داياتونو او احاديثو سره مطابقي اوهم غاړې دي.يوازي دانه چي دقرآن شريف ديوايات سره بلکي دتورو سره يې هم غاړېتوب لري.يادسکالو(موضوع)تصديق کوونکي ددې ايات شريف ده:[سُوْرَةُ حٰمٓ السجدة/فُصّلَت : 53]سَنُرِيهِمْ ءَايٰتِنَا فِى الْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ*

ډېر ژر به موږ دوی ته خپلې نښانې په افاقو (هيوادونو) کښې هم وښيو او د دوی پخپلو نفسونو کښې هم؛ تر دې پورې چې دوی ته دا خبره څرګنده شي چې دغه قُرآن په رښتيا سره پر حق دی. ايا دا خبره کافي نه ده چې ستا رب پر هر څه شاهد دی؟****

د 1990ميلادي کال داکتوبر په 31نيټه يوه پيژندل سوي تشاپالي مرکز دخپل يوه لوی اوپياوړي تلسکوپ په مرسته دتشيال(فضا)داسي انځور خپورکړ:چي هرليدونکي يې په لمړي ليدو هغه په پوره ډول ديوسور ګل په شان ليدئ :داسي يوسور ګل چي دسرلويو پاڼو،ګل پاڼي يې په منځ کي ابي او کوچنيو زرغونوپاڼو درلودونکی وو.ليدونکي په يادوليدلو کي هيڅ شک نه کوئ چي ياد انځور دي دګل نه وي،مګر ياد انځور په حقيقت کي(دعين القط/NGC6543)لوی ستوري دچاودني وو چي دمځکي څخه 13زره نوري کاله ليري دی.

ديادونې وړده چي په ياد فضايي مرکز کي زرګونه رنګه انځورونه چي دلويو تلسکوپونو په مرسته لاسته راغلي اوهريو يې دتشيال عجايب ليدلو ته وړاندي کوي پيداکيږي،مګر دياد انځور يادونه موځکه وکړل چي دقرآنکريم علمي اعجاز څرګندوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ياد انځور دسورت رحمن د37نمبر ايات علمي اعجاز ځرگند کړ الله جل جلاله فرمايي:
[سُوۡرَةُ الرَّحۡمٰن : 37](فَإِذَا انْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ )بيا كله چې وچوی ځيری شی آسمان نو وبه گرځی گل سورنگ لکه سری ځرمنی (يازيتون تيل).*په تفسير کابلی کي يې ددې ايات شريف تفسير داسي کړی دی:"يعني دقيامت په ورځ کښی به آسمان وچوی اورنگ به يی لکه سره ځرمن غوندی بريښی يا به په شان دتيلو دزيتون ځليدونکی پرکيدونکی وی نودابه څه لوی هيبت وی"والله اعلم!ځيني پوهان وايي:ياد انځور دقيامت په ورځ "دچاوديدونکي آسمان سرشباهت(ورتوالی لري)لري."والله اعلم!که چيرې مونږ تول هغه تفسيرونه چي مخکي درياد انځور درخپريدو ليکل سوي وگورو:داسي مطلب به ونه لولو چي انسان ته قنا عت ورنه کړې.حقيقت دادی چي دياد ستوري دچاوديدلو په پايله کي دچاودني څخه لاسته راغلي خپرو سو دودونو اوگازونو ځان ته ديوځليدونکي گل بڼه خپله کړي وه.په هرحال که چيرې ديادستوري چاودنې ځانته هرډول ښکلي ځيره غوره کړي وای:بيابه هم يومناسب تفسر دياد ايات شريف لپاره شمېرل کيدای،يادې چاودني دقرآنکريم د اعجاز دداوم داره لرئ دنورکړيو لپاره دمځکي اوسيدونکي د دې ته ورته هيرانونکوپيښو دپيښيدلو انتظار ته منتظر کړل.په همدي خاطر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم په خپل اجتهاد او يا دالله جل جلاله دخواڅخه په ورته سوي الهام دډېرو هغواياتونو څخه چي ورته بيان پکښي سوی دتفسير څخه پرهيز کړی دی:ولې چي که ديادو اياتونو شرحه او تفسير سوی وای راتلونکو وگړو به تري انکار کوای او دهغه وخت اوسيدونکو به له دې کبله چي داياتونو دتفسير اوشرحي به يې پوره درک نه سوای کولی دنبي کريم صلی الله عليه وسلم دنبوت څخه به يې انکار کولی.ديادو اياتونو شرحه اوتفسير دعلم اوژوند دچارو دپرمختگ اوپوروالي سره بشپړې سوې.دابني کثير(رح)په تفسير کي (فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ ) تفسير داسي سوی:څنگه چي غوړي اوطلا ويلي کيږي.حسن بصري (رح)وايي:آسمان رنگا رنگ کيږي.مجاهد(رح)دغوړو اوروغني رنگو په شان کيږي،دانظر يي دابن کثير(رح)په تفسير کي راغلی.په تفسيري قرطبي کي:آسمان دغوړو په شان صاف اوپاک کيږي.سعيد بن جبير(رح) اوقتاده (رح)هم ويلي: چي خپل ځان ته سوررنگ غوره کوي.څنگه چي مو وويل هغه څه چي په دي مبارک ايات زموږ پام ځان ته جلبوي دادي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعين القط ستوري دچاودني انځور چي په پوره ډول ديوه سره ګل سره ورته دی دناسا تشيالي (فضايي) اداري دهابل تلسکوپ په مټ اخيستی اوپه نړيوال جال(انترنيټ)کي يې خپور کړی ددې ايات شريف دتفسير تصديق کونکی دی:[سُوۡرَةُ الرَّحمٰن : 37](فَإِذَا انْشَقَّتِ السَّمَآءُ فَكَانَتْ وَرْدَةً كَالدِّهَانِ )بيا کله چي وچوی ځيری شي آسمان نو وبه ګرځی ګل سورنګ لکه سری ځرمنی (يازيتون تيل).***بنه نو په ياده پيښه سره بياهم.. ځرګند سول چي قرآنکريم دالله جل جلاله کلام دی اوداسي معجزه ده چي دکايناتو درپای پوري به دوام کوي!چا ګومان کوئ چي ستوری په آسمان کي چاوديږي او ديوه داسي سور ګل بڼه به ځانته غوره کوي چي پاڼې يې ګلابي،ګل پاڼې يې په منځ کي ابي او کوچنی پاڼې به يې زرغون رنګ لري.ياد انځور دهابل لوی تلسکوپ په مرسته دعين القط ستوري ځخه په داسي حال کي اخيستل سوی چي دچادني انځور يې وو.ياد ستوری دمځکي ځخه 13زره نوري کاله ليري دی،داپيښه يوبرخه دورځو دپيښيدونکو پيښو ځخه ده،له بله اړخه ياده قضيه زموږ په ژوند کي دالله جل جلاله دهغه کتاب ده چي زموږ دژوند قانون ،نيغه او روښانه لار راته ټاکي،هرڅوک چي په هغه عمل وکړي:خوشبخته اوبرياله به وي اوکه څوک عمل نه په وکړي نو بدبخته اوهلاک به سي!ياده پيښه دالله جل جلاله دقدرت دنښو ځخه يوه نښه ده،الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ حٰمٓ السجدة/فُصّلَت : 53](سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى الْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ)ډېر ژر به موږ دوی ته خپلي نښاني په افاقو (هيوادونو) کښي هم وښيو او د دوی پخپلو نفسونو کښي هم؛ تر دې پوري چي دوی ته دا خبره ځرګنده شي چي دغه قُرآن په رښتيا سره پر حق دی. ايا دا خبره کافي نه ده چي ستا رب پر هر څه شاهد دی؟*



(c) ketabton.com: The Digital Library



**دستورو.. اولکۍ لرونکو ستورو مدارونه**

الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ يٰسٓ : 40](لَا الشَّمۡسُ يَنۢبَغِى لَهَآ أَن تُدۡرِكَ الۡقَمَرَ وَلَا الَّيۡلُ سَابِقُ النَّهَارِ ۚ وَكُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسۡبَحُونَ)نه د لمر په وس کښي دا شته چي سپوږمۍ ونيسي او نه شپه پر ورځي مخکي کېدلای شي. دا ټول په يو يو فلك (مدار) کښي لامبو وهي (په اسمان کي چورلېدونکي دي). *****دياد ايات شريف څخه خو په ښکاره داسي معلوميږي :چي سپوږمۍ اولمر هر يو دبيلو مدارونو درلودونکی دئ او يو دبل څخه ليريوالی لري.ددې ايات شريف دې برخي ته په پام سره لمر دسپوږمۍ سره نه مخامخ کيږي ياني ټکر نه کوي:(وَكُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسۡبَحُونَ) ښه نو داښکاره سول چي هرشی چي په آسمانونو او ځمکه کي دئ:ديادو مدارونو درلودونکی دئ،چي داخبردا ايات شريف تايدوي [سُوۡرَةُ فَاطِر : 41]إِنَّ اللهَ يُمۡسِكُ السَّمٰوٰتِ وَالۡأَرۡضَ أَن تَزُولَا ۚ وَلَئِنۡ زَالَتَآ إِنۡ أَمۡسَكَهُمَا مِنۡ أَحَدٍ مِّنۢ بَعۡدِهٖٓ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا)

بيشکه الله ساتي (دغه)آسمانونه او ځمکه له دې نه چي زائل سي (اوله خپل محوره بيځايه سي)او (قسم دئ)که (بالفرض)مخ په زوال سي دادواړه نو وبه نه ساتي (له زواله )دغه دواړه هيڅوک ماسواء له دغه(الله)نه،*****مخکي ليکنو کي هم بيان سول چي (أَن تَزُولَا)ياني داچي الله جل جلاله هغوئ دخپلو مدارونو څخه وتلو ته نه پريږدي؛منعه کوونکی يې دئ!

يا ده کلمه (ويی)دزوال دلمر سره چي دماپښين په وخت کي دآسمان دمنځه څخه انحراف کوي،اوړي توپير لري.دسُوۡرَةُ يٰسٓ د40نمبرايات څخه هم معلوميږي چي ټول ستوري دځانګړو مدارونو،تګ لورو درلودونکي دي اوهمدارنګه سُوۡرَةُ الطّارق د 11نمبرايات(وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الرَّجۡعِ)قسم دئ په آسمان خاوند دبيرته ګرځيدلو (چورليدلو)*هم ددې مطلب وړاندي کوونکی دئ؛حتی ترديې چي ځينو پوهانو بيان سوی مطلب دآسماني جسمونو ځانګړی صفت ياد کړی،هغوئ داسي عقيده لري چي هيڅ ستوری.. په تشيال کي بيله مداره نه دئ،دتشيال پرمخ دحرکت اوټاکلي ځای ته درسيدو ورسته بيرته هرستوری..خپل لومړي ځای ته راګرځي.لکه هغه لکۍ لرونکي ستوري چي 1986ميلادي کال کي دمځکې دځنډو څخه تېرسول.هغه لکۍ لرونکي ستوري چي موږ يې په 2062ميلادي کال کي دليدلو انتظار کوو او دمځکي او آسمانو نو دپيداينت دوخته دحرکت په حال کي دي:دګوتي دبند په اندازه هم دخپل مسير،تګ لوري څخه بل لوري ته نه دي اوښتي.ديادوستورو دمدار ځيني برخې دمځکې څخه 300ميليونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کيلومتره ليروالی لري،ځيني وخت خلګ بيره لري:چي ياد ستوري به خپل تګ لوري ته دمځکي دمخ خواته دوام ورکړي او دخپل 93کيلومتره لکی سره به دمځکي سره ټکروکړي؛مګر الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ فَاطِر : 41](إِنَّ اللهَ يُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ أَن تَزُولَا ۚ وَلَئِنْ زَالَتَآ إِنْ أَمْسَكَهُمَا مِنْ أَحَدٍ مِّنْ بَعْدِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا )حقيقت دا دی، يوازي همدا الله دی چي اسمانونه او ځمکه يې د منځه تلو څخه ساتلي دي، او که هغه بې ځايه شي، نو د الله څخه وروسته کوم بل څوك د هغو راټينګوونکی نشته. بېشکه الله ډېر زغمونکی او ښونکی دی.*ديادولکې لرونکو ستورو ميليونونه کاله کيږي چي په خپل مدار کي ټينګ دي او دخپل مسيرڅخه نه اوړي.مځکه اولمر هم دميليونو کالو راپه دې خوا په خپل مدارکي دحرکت په حال کي دي!ښه نو خپله دغه دآسماني جسمونو ټينګوالی،مستحکموالی په خپل مدار کي دالله جل جلاله دقدرتونو دښو څخه يوه ښه ده چي دقرآن کريم په دې مبارک ايات کي ورته اشاره سوې ده:[سُوۡرَةُ يٰسٓ : 40](لَا الشَّمْسُ يَنبَغِى لَهَآ أَن تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا الَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ ۚ وَكُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسْبَحُونَ)نه د لمر په وس کښي دا شته چي سپوږمۍ ونيسي او نه شپه پر ورځي مخکي کېدلای شي. دا ټول په يو يو فلك (مدار) کښي لامبو وهي (په اسمان کي چورلېدونکي دي).

***دهيڅ ستوري مدار نه اوړديږي اونه لنډيږي!دستورو په تېزوالي کي ډېرښت او کمښت نه راځي!لمر دسپوږمۍ سره نه ټکريږي؛دمځکي پر خپل ځان راګرځيدل ثابت او دهرې شپې اوږدوالی پر خپل حال توپير نه کوي!ټول تاريخونه دزرګونو کلونو دتېريدو ورسته خپل تاکلي اعداد بيانوي،دبېلګې په ډول:کولی سو ووايو چي سل کاله ورسته يا که ووايو په 3000ميلادي کال کي به لمر دمارچ مياشتې پر 21نيټه ( ) پر 6:10دقيقې راخيږي.

داسي ويل په څه مانا دي؟آيا الله جل جلاله په قرآن کريم کي نه دي فرمايلي:(وَلَا الَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ ۚ وَكُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسْبَحُونَ)*جالبه ده چي وپوهيږو چي د(كُلٌّ)کلمه په دې ايات کي راغلې ده ټولو هغو پيداسو شيانو ته چي موږ يې وينو اشاره کوي: څښي ته اشاره کوي.زما په آند

يوه لرګينه وسيله چي داټومونو څخه جوړه سوې ده او هرآټوم دنيوټرون درلودنکی دئ او هرنيوټرون په ځانګړي مدارکي دحرکت په حال کي دئ،په واقعيت کي داټوم سيستم دکهکشان په شان دئ.هرهغه څه چي انسان ويني دحجرو،ذراتو درلودونکی دئ.ذرات داټوم،هغه دهستې او هغه دالکټرونو څخه چي دښلوونکي مقناطيس درلودنکي دي جوړسوي دي،چي همدغه الکټرونونه دهستې پر شاوخوا په ثابت تېزوالي راچورلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه نو هرڅه چي په کايناتو کي موږ وينو په خپل مدارکي ګرځيدونکي؛لامبووهونکي دي ( فِى فَلَكٍ يَسْبَحُونَ)******هرهغه څه چي ستاسو دسترګو مخته دي:غرونه،دېرې؛سمندرونه،انسانان،حيوانات..دحجرو،ذراتو څخه جوړدي هغه داتوم،اتوم دهستي.. او الکترونو څخه جوړسوی دئ.





انځورلکی لرووونکي ستوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## درڼا تېزوالی (سرعت)

الله جل جلاله د سُوْرَةُ السَّجدَة په 5نمبرايت کي فرمايي:يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مِنَ السَّمَآءِ إِلَى الْأَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ إِلَيْهِ فِى يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ أَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ «هغه له اسمانه تر ځمکي پوري د نړۍ چاري اداره کوي او د دې اداري راپور پاس د هغه حضور ته په يوه داسي ورځ ورځي، چي د هغې اندازه ستاسي د شمېر له مخي يو زر (۱۰۰۰) کاله ده.*****ددې ايات شريف خطاب د(تَعُدُّونَ)په کلمي کي هغه وګړي دي :چي هغوئ نېټې په سپوږميز کال سره په نښه کوي.سپوږمۍ دمځکې څخه په 29ورځو اوشپږو ساعتونو کي راچورلي(راګرځي)،اوس که که دسپوږمۍ دمرکز څخه دمځکي درمرکز پوري ليروالی په لاس راړو ياني که موږ دمځکي څخه دسپوږمۍ دراګرځيدلو ددېرې نيم قطر يا دېادې دايرې ديوې وړانګي ليروالی په لاس راوړ:کولی سو دمځکې څخه دسپوږمي دراګرځيدلو؛دطی سوو کيلومترونو اندزه مالومه کړو.درڼا تېزوالی (سرعت)الله جل جلاله د سُوْرَةُ السَّجدَة په 5نمبرايت کي فرمايي:يُدَبِّرُ الْأَمْرَ مِنَ السَّمَآءِ إِلَى الْأَرْضِ ثُمَّ يَعْرُجُ إِلَيْهِ فِى يَوْمٍ كَانَ مِقْدَارُهُ أَلْفَ سَنَةٍ مِّمَّا تَعُدُّونَ *هغه له اسمانه تر ځمکي پوري د نړۍ چاري اداره کوي او د دې اداري راپور پاس د هغه حضور ته په يوه داسي ورځ ورځي، چي د هغې اندازه ستاسي د شمېر له مخي يو زر(۱۰۰۰) کاله ده.*****که چيرې دهغې دايرې طول چي سپوږمۍ ور باندي راګرځي په 12کي چي ديوه سپوږميز کال دمياشتو سره سمون خوري ضرب کړو او همدغه لاسته راغلی عدد په زرکي ضرب کړو:هغه مساحت چي سپوږمۍ دمځکې څخه په راچورليدلو په 1000کاله کي طی کړی دئ لاسته راوړ،هغه مساحت چي دسورت سجده په 5نمبر ايات کي بيان سوی دئ.والله اعلم!اوس که چيرې هغه ليروالی چي سپوږمۍ يې په زرکاله کي طی کوي ديوې پوره ورځي پر (86400)ثانيو وويشو په يوه ورځ کي دنور لخوا طی کيدونکو کيلومترونو اندازه لاسته راوړو.که چيرې دسپوږمۍ په زرو کالو کي وهل سوی مساحت درڼا ديوې ورځي پر طی کيدونکي مساحت باندي وويشو؛داعداد لاسته راځي:5/299792چي ياد عدد دنور(رڼا)دتېزوالي هغه دقيق عدد دئ چي دپاريس دنړۍ وال کنفرانس دلوري اعلان سو.په حقيقت کي هغه ځای ته چي سپوږمۍ په زرکالو کي رسيږي هغه ته نورپه يوه ورځ کي رسيدلی سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا کشفول چي رڼا په يوه ثانيه کي 5/299792کيلومترتېزوالى لري:په 20مه پيړى کي دانسان دلاسته راوړونوڅخه يوه وه.ياد سرعت په نړى کي ترټولو ګړندى تېزوالى دئ؛که چيرې کوم بل شى درڼا په تېزوالي حرکت وکړې:درڼا په شان به په ذراتو واوړې،ناپاينه حجم به پيداکړې،ځانګړي بڼه به نه لري، وخت به دهغه لپاره ودريږي اوکه چيرې بيا کوم شى درڼا څخه هم ګړندى سي وخت به دهغه لپاره شاته وګرځي يابه وخت دهغه لپاره لنډسي.ټول پوهيږو چي سپوږمى ديوه سپوږميز کال په يوه مياشت کي دمځکي څخه اوپه همدومره موده کي دخپل ځان څخه هم راګرځي،په همدي خاطر موږ تل دسپوږمى يوأړخ وينو اوبل اړخ يې په سترګو نه سو ليدلئ ولې چي دسپوږمى پرخپل ځان دراګرځيدلو تېزوالى دهغه تيزوالي سره برابر دئ چي دمځکي څخه په هغه تېزوالي راچورلي،ياد ګرځيدل دسپوږمى دځان او مځکي څخه 29ورځې او شپږساعته وخت نيسي.دپام وړتکى دادئ چي سپوږمى هرورځ 13درجې دخپل مدارڅخه دمځکي پر شاواخوا طى کوي او هرورځ درمخکينى ورځې 49دقيقې ورسته ښکاره کيږي يا راخيږي.که چيرې دسپوږمى په راختلو کي هرورځ همدغه 49دقيقې ځنډنه واى:تل به موږ سپوږمى دڅورلسم يا بدر سپوږمى په شان ليداى، مګر دا ورستوالى ددې سبب سوى دئ چي موږ سپوږمى دمياشتې په ورځوشپوکي په بيلا بيلو بڼو سره وينو؛ياني سپوږمى بيلا بيل پړاونه طى کوي:هلال(نوې مياشت)اوله ربع؛دڅورلسم سپوږمى؛اخيردمياشتي اوټوله پټه سپوږمى،په همدي دليل الله جل جلاله فرمايي: [سُوْرَةُ يُونس : 5]هُوَ الَّذِى جَعَلَ الشَّمْسَ ضِيَآءً وَالْقَمَرَ نُورًا وَقَدَّرَهُ مَنَازِلَ لِتَعْلَمُوا عَدَدَ السِّنِينَ وَالْحِسَابَ ۚ مَا خَلَقَ اللهُ ذَٰلِكَ إِلَّا بِالْحَقِّ ۚ يُفَصِّلُ الْءَايَٰتِ لِقَوْمٍ يَعْلَمُونَ *هماغه ذات دى چي لمر يې روڼ او سپوږمى يې روښانه پېدا کړېده. او د سپوږمى د نړي کېدو او غټېدو پړاوونه يې په منظم ډول ټاکلي دي، چي تاسي په هغو سره د کلونو او نېټو حساب معلوم کړى. الله دا هر څه (د لوبې په ډول نه، بلکي) له يو مقصد سره پېدا کړيدي. هغه خپلي نښاني د هغو خلکو لپاره چي علم لري په روښانه څرګنده توګه وړاندي کوي.***دازموږ دپيداکوونکي دخوا پرموږ،يوبل لوى نعمت دئ او دکايناتو يوه بله جالبه پيښنه ده:چي سپوږمى ته يې داسي فرمان کړى:چي هرورځ درمخکينى ورځې 49دقيقې ورسته راوخيږي،ترڅو بيلابيل منزلونه اوپړاونه طى کړې ترڅو دوختونو شمېرل او کليزه دهسک په منځ کي شتون ولري او دمځکي اوسيدونکي په حساب،کتاب،ورځو،مياشتواوکلونو باندي وپوهيږي.حقيقت دادئ چي خداى جل جلاله دنړيوداوسيدونکو پالوونکى دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جالبه داده:سپوږمی دلويوالي داړخه دمځکې د80مې برخې سره برابريږي،همدرنګه دسپوږمی دجاذبې قوه دمځکې6:1پرنسبت ده،ياني دسپوږمی دجاذبې قوه در مځکې کمه ده:که چيرې يۆ60کيلويې وګړی دسپوږمی پرمخ وتلل سي دهغه وزن به لس کيلو کم وي ياني 50کيلو وزن به لري.ددې سربيره ورته نوري سپوږمۍ هم په کايناتوکي شتون لري چي دهغوئ پرخپل ځان راګرځيدل کلونه وخت نيسي چي ځيني يې ډېرليري اوځيني يې ډېر نژدي دي؛مګرد الله جل جلاله تدبير داسي وو چي دمځکې دسپوږمی خلقت داسي سوی دئ: چي په ځومره وخت کي دمځکې څخه راګرځي په همدومره وخت کي دخپل ځان څخه هم راګرځي.که چيرې داسي نه وای اوپه هرځل دمځکې څخه په راګرځيدو کي يې 13درجې دخپل مدارڅخه نه طی کولی او همدرنګه يې هرورځ درمځکينی ورځې 49دقيقې په راختلو کي ځنډ نه راتلای موږ نه سوای کولی چي دسپوږمی څخه مو دمياشتو او کلونو دشمېرلو کي کاراخيستی وای او دنيټو معلومونکي موټاکلي وای.يوبل سوال چي دسپوږمی په اړه مطرح دئ:که چيرې دسپوږمۍ ليروالی دراوسني ليروالي لږوای څه کيدل؟خدای جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ الرَّحۡمٰن : 5]الشَّمۡسُ وَالۡقَمَرُ بِحُسۡبَانٍ**لمر او سپوږمی د يو حساب پابند دي؛
*********

ښه نو دسپوږمی څخه درمځکې پوري ليروالی دخالق جل جلاله دلوري داسي دقيق ټاکل سوی:که چيرې دراوسنی اندازې يې ليروالی کم وای ياکم سي دسمندرونو اوبه به لوړې راسي،ټوله وچه به ونيسي (غوټه کړي)او دمځکې پر مخ به ژوند ناشونی سي.که چيرې ډېرې مځکې ته نژدي سي مځکه به يې ځان ته رواکړي سپوږمی به دمځکې سره ټکروکړې اوکه چيرې يې ليروالی ډېرښت پيداکړي دجزر اومد پيښه چي پرسمندرونو مهمه اغيزه کوي دمينځه تلای او پرژوند باندي به يې ربړونکي اوځورونکي اغيزي پريښي وای،او که چيرې بيا نور هم ليروالی راسي :نوري سيارې به سپوږمی خپل ځان ته جذب کړي؛ياده پيښه به ددې لامل سي چي مځکه به خپل انتقالي حرکت په 4ساعته کي بشپړوي؛ورځ اوشپه به دوه ساعته سي.د سُوۡرَةُ الرَّحۡمٰن 5نمبرايات شريف ياده ټوله محاسبه په خپل ځان کي رانغاړلي ده:الشَّمۡسُ وَالۡقَمَرُ بِحُسۡبَانٍ*لمر او سپوږمی د يو حساب پابند دي؛****الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ يٰسٓ : 39]وَالۡقَمَرَ قَدَّرۡنٰهُ مَنَازِلَ حَتّٰى عَادَ كَالۡعُرۡجُوۡنِ الۡقَدِيۡمِ *او سپوږمی ته موږ پړاوونه ټاکلي دي، تر دې پوري چي د هغو پړاوونو څخه په تېرېدو بيا هغه د خُرما وچه څانګه غوندي شي.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ يٰسٓ : 40]لَا الشَّمۡسُ يَنۡۢبَغِىۡ لَهَاۤ اَنۡ تُدۡرِكَ الۡقَمَرَ وَلَا الَّيۡلُ سَابِقُ النَّهَارِ‌ ؕ وَكُلٌّ فِىۡ فَلَكٍ يَّسۡبَحُوۡنَ)نه د لمر په وس کښي دا شته چي سپوږمۍ ونيسي او نه شپه پر ورځي مخکي کېدلای شي. دا ټول په يو يو فلك (مدار) کښي لامبو وهي (په اسمان کي چورلېدونکي دي).*دسُوۡرَةُ إبراهيم په 33نمبرايات کي الله جل جلاله فرمايي:وَسَخَّرَ لَـكُمُ الشَّمۡسَ وَالۡقَمَرَ دَآٮِٕبَيۡنِ‌ۚ وَسَخَّرَ لَـكُمُ الَّيۡلَ وَالنَّهَارَ**او هغه لمر او سپوږمۍ ستاسي لپاره په کار واچول چي د قانون تابع چليږي. او شپه او ورځ يې ستاسي لپاره په کار واچول.*الله جل جلاله دلمر او سپوږمۍ ځانګړونوپه اړه فرمايي.[سُوۡرَةُ الفُرقان : 61]تَبٰرَكَ الَّذِىۡ جَعَلَ فِى السَّمَآءِ بُرُوۡجًا وَّجَعَلَ فِيۡهَا سِرٰجًا وَّقَمَرًا مُّنِيۡرًا**هغه ذات ډېر مبارك دی چي په اسمان کښي يې برجونه پېداکړل او په هغه کښي يې يوه ډيوه (لمر) او يوه ځلانده سپوږمۍ روڼه کړه.*الله جل جلاله دسُوۡرَةُ نُوح په 15 او16نمبراياتو کي فرمايي:[سُوۡرَةُ نُوح : 15]اَلَمۡ تَرَوۡا كَيۡفَ خَلَقَ اللّٰهُ سَبۡعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا)ايا نه وينئ چي په څه ډول الله لاندي باندي اووه اسمانونه پيدا کړل؟[سُوۡرَةُ نُوح : 16]وَّجَعَلَ الۡقَمَرَ فِيۡهِنَّ نُوۡرًا وَّجَعَلَ الشَّمۡسَ سِرَاجًا**او په هغو کښي يې سپوږمۍ رڼا او لمر ډېوه وګرځوله؛*جالبه ده چي ويوهيږو دسپوږمۍ خاوره درڼا راغبرګوونکي،منعکس کوونکي ده.او دا دالله جل جلا له دحکمتونو څخه يؤحکمت دئ.دسپوږمۍ رڼا دلمر داتلسمې برخې رڼاسره برابره ده.دسپوږمۍ څخه دلمر راغبرګيدونکي رڼا موږ ته دسپوږمۍ دليدلو وړتيا راکړي ده او موږ کولی سو ديؤې داسي کليزې څخه ګټه واخلو چي دښکلي هسک په منځ کي ده .الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ يُونس : 5]هُوَ الَّذِىۡ جَعَلَ الشَّمۡسَ ضِيَآءً وَّالۡقَمَرَ نُوۡرًا وَّقَدَّرَهٗ مَنَازِلَ لِتَعۡلَمُوۡا عَدَدَ السِّنِيۡنَ وَالۡحِسَابَ‌ ؕ مَا خَلَقَ اللّٰهُ ذٰ لِكَ اِلَّا بِالۡحَـقِّ‌ ۚ يُفَصِّلُ الۡاٰيٰتِ لِقَوۡمٍ يَّعۡلَمُوۡنَ**هماغه ذات دی چي لمر يې روڼ او سپوږمۍ يې روښانه پېدا کړېده. او د سپوږمۍ د نري کېدو او غټېدو پړاوونه يې په منظم ډول ټاکلي دي، چي تاسي په هغو سره د کلونو او نېټو حساب معلوم کړئ. الله دا هر څه (د لوبې په ډول نه، بلکي) له يو مقصد سره پېدا کړيدي. هغه خپلي نښاني د هغو خلکو لپاره چي علم لري په روښانه ډرګنده توګه وړاندي کوي.***داالله جل جلاله دکلام داياتونو يؤه کوچنۍ برخه وه چي دالله جل جلاله پرلويو قدرتونو شاهدي اداکوي.داهغه پيښې وي چي داوسني وخت ډېرمختللو وسيلو په مټ دننۍ زماني انسانانو کشف کړي دي،مګر د الله جل جلاله په پاک کلام قرآن کريم کي 14سوه کاله مخکي هغوته اشاره سوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه نو څنګه عاجزه او دخاورو څخه جوړسوی انسان دالله جل جلاله دپاک کلام دایاتونو څخه سرغړونه کوي؟
دالله جل جلاله اودهغه درسول حضرت محمدمصطفی صلی الله علیه وسلم دامور څخه سرغړونه کوي؟په رښتياسره چي ياد کړن کوونکي وګړي ستر زيان کوونکي وګړي دي.

**دلمريزنظام دسيارو ترمنځ ليري فاصلې**

يؤ داسي رښتيا چي دهغه څخه انکارنه کيږي دادئ:تراوسه سل ميليونه زره آسمان ټولګي په تشيال کي پيژندل سوي ياکشف سوي دي،دشيدو لارې آسمان ټولګه د100زره ميليونوستورو،150زره نوري کالو په اوږدوالي او د25زرو نوري کالو د بره؛په درلودلو سره دمنځنيو حجم درلودونکو آسمان ټولګو دډلي څخه ده.دمځکي او سپوږمی ترمنځ ليروالی يؤازي يوه نوري ثانيه دئ .همدارنګه دلمر او مځکې ترمنځ ليروالی 8نوري دقيقې او 17ثانيي دئ.دمځکې او لمريز نظام ترمنځ ليروالی 13نوري ساعته دئ.اوس نوکه پوه سو چي نور(رڼا)په يؤه کال کي لس ميليونه ميليونه کيلومتره ليروالی طی کوي، هغه وخت موږ ديادو فاصلو ښه درک کولی سو.لمريز نظام چي موږ په هغه کي يوو او13نوري ساعته اوږدوالی لري په نظر کي نيسو:دالماني ستريپيژدونکي:(جوهان بوټ) څيړونو ته پام کوو هغه وايي:دلمريز نظام دسيارو ترمنځ ليروالی ديوې دقيقي رياضکي يا هندسي قاعدې څخه پيروي کوي.هغه يؤه پاڼه خپره کړي وه چي دغه عددونه پکښي ليکل سوي وه:0- 3- 6- 12- 24- 48- 96- 192په دې عددونو کښي هرعدد دمخکيني عدد دوه برابره دئ.د0صفر عدد يې دعطارد لپاره،د3عدديې دزهرې لپاره،دمځکې لپاره يې د6عدد او د12عدد يې دمريخ لپاره په نظر کي ونيوئ او پرهمدغو عددونو يې بسنه وکړل.ورسته يې هريؤ ديادو عددونو څخه د4سره جمع کړ او دهغه حاصل يې د9ميليونه مايله سره ضرب کړ:هغه عدد چي ديادو عمليو دجمعي اوضرب څخه لاسته راغلی، دټاکلي عدد دسيارې ليروالی يې درلمر پوري بيانوئ.داقاعده په 19ميلادي پيړۍ کي بيان سول او ډېر جنجالونه يې پيداکړل:په هغه وخت کي په دوه ځايه کي ياده قاعده سمه نه وه:که د24او 192عدد په ياده قاعده کي جمعه او ضرب سوی وای په پايله کي يې داسي ځای په نښه کوئ چي هلته هيڅ سيارې شتون نه درلودئ؛مګر دځه مودې ورسته کشف سول چي د24عدد په ځای کي کوچنۍ سيارې او د192عدد په ځای کي داورانوس سياره شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که هره سياره په يادو عددونو سره په نښه کړو ورسته يې د4سره جمعه کړو اوبيايې په 9ميليونه مايله کي ضرب کړو:ددې اعدادو حاصل به دهرې سيارې ليروالى دلمرڅخه بيان کړي.ثنا اوستاينه ده هغه ذات ته چي ټول مخلوقات يې په داسي او ددې څخه هم جالب نظم او ترتيب سره جوړکړي او پيداکړي دي.په رښتيا چي دقايناتو هره ذره دالله جل جلاله دقدرتونو،نښو اونښانو ښکارندويه ده.ځای ددې دئ چي دهغه جل جلاله ستاينه اودخدای جل جلاله په کلام پاک قرآن کي ژورآندوکړو الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ يُونس : 101]قُلِ انظُرُوا مَاذَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالۡأَرۡضِ ۚوَمَا تُغۡنِي الۡءَايٰتُ وَالنُّذُرُ عَنۡ قَوۡمٍ لَّا يُؤۡمِنُونَ

دوی ته ووایه: "په اسمانونو او ځمکه کښې چې څه دي، هغه په غږېدلو سترګو وګورئ!"- او کوم خلك چي له سره ايمان راوړل نه غواړي، د هغو لپاره نښانې او اخطارونه مدافع او ګټور کېدای نه شي.*****



زمورږدلمريزنظام سیارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دجاذبي قوه

دحديثو څخه څرګنديږي چي:دالله جل جلاله ذکر اوياد دومن انسان په ژوند کي ډېرې مهمي اغيزې لري او ولې به يې نه لري ولي چي په قرآنکريم کي ددرو سوو څخه په زياتو اياتونو کي تکرار سوي او بيان سوي دي:چي انسان بايد په هر حال کي دالله جل جلاله په ذکر اوياد بوخت وي،ولي چي عبادت دزړه،فکراوژبې دئ.يؤ دالله جل جلاله د ذکر اوياد کولو د ډلي څخه دالله جل جلاله په قدرتونو،ښو او نښانو کي په کايناتو کي آند،فکر کول اوپه دې اړه دقرآنکريم اياتونه لوستل دي.دالله جل جلاله دښکار اوپټو نعمتونو شکر اوياد،دالله جل جلاله په امورو عمل کول او دنواهيو پريښودل،دهغه جل جلاله ذکر په زړه اوژبه کول،دتسبيح او حمد ويل،دتو حيد او تکبيرويل،په هر حال کي دهغه جل جلاله شکر اداکول،دعا کول،الله جل جلاله ته دخپلو ګناهونو دبخښي په پار بغاري، وهل:دالله جل جلاله ذکرونه دي.الله جل جلاله ډېر ياد کړې ترڅو زړه مو ارام سي،غمونه موليري سي،سينه مو پراخه سي او پر دښمن بريالي سي.دالله جل جلاله په اياتونو کي آند،فکرکول ذکر دئ.ياد فکر کول دالله جل جلاله دپيژندني لپاره دومره اړين دئ چي الله جل جلاله دسُوۡرَةُ آل عِمرَان په 190او191نمبراياتونو کي فرمايي:[سُوۡرَةُ آل عِمرَان : 190](إِنَّ فِى خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلٰفِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَءَايٰتٍ لِّأُولِى الْأَلْبٰبِ)د اسمانونو او ځمکي په پيداينت او د شپې او ورځي په تګ راتګ کښي د هغو پوهانو لپاره ډيري نښاني دي:[سُوۡرَةُ آل عِمرَان : 191](الَّذِينَ يَذْكُرُونَ اللهَ قِيٰمًا وَقُعُودًا وَعَلٰى جُنُوبِهِمْ وَيَتَفَكَّرُونَ فِى خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ رَبَّنَا مَا خَلَقْتَ هٰذَا بٰطِلًا سُبْحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ) چي په ولاړي، ناستي او ملاستي، هر حالت کښي خداى يادوي. او د اسمانونو او ځمکي په پيداينت کښي غور او فکر کوي (هغوى په غير ارادي توګه غږ کوي چي:) "آې زموږ ربه! دا ټول شيان تا بابيزه او بې مقصده نه دي پيدا کړي، ته له دې څخه پاك يې چي عبث کار وکړې؛ نو اې ربه! موږ د دوږخ له عذابه وژغوره؛*****

دهغو اياتود ډلي څخه چي په هغوئ کي آسماني جسمونو او دهغوئ ځانګړونو ته پکښي اشاره سوې يؤه ديادو اياتونو د اشارو څخه دستورو ترمنځ دجاذبي قوه ده،الله جل جلاله فرمايي:

[سُوۡرَةُ الرّعد : 2](اللَّهُ الَّذِى رَفَعَ السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ۖ ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ ۖ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ يَجْرِى لِأَجَلٍ مُّسَمًّى ۚ يُدَبِّرُ الْأَمْرَ يُفَصِّلُ الْءَايٰتِ لَعَلَّكُم بِلِقَآءِ رَبِّكُمْ تُوقِنُونَ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله هغـه ذات دی چـي اسـمانونه يـې لـه سـتنو پرتـه همداسـي درولـي دي، تاسـي يـې پـه خپلـه وينئ. بيا يې پر عرش استوا وکړه او لمر او سپوږمی يې د يو قانون تـابع ګرزولـي دي. ددې ټول نظام هر شی تر يو ټاکلي وخت پوري چليږي. او همغه الله ددې ټول کار تدبير کوي؛ هغـه نښانې په ډاګه څرګنده بيانوي، ښايي چي تاسي له خپل رب سره په يو ځای کېدو باور وکړئ.
*ددې ايات شريف څخه څرګنديږي چي الله جل جلالـه آسمانونه پـه داسـي ستنو،ميلونو درولـي دي چي موږ يې نـه سو ليدلی او دا نـاليدلی شـی همـدا دجاذبې قوه ده چـي دټولـو کاينـاتو دذرې څخه درآسمان ټولګو(کهکشانونو)پوري سمبالوونکي اوټينګوونکي ده.والله اعلم!
دبيلګې په ډول لمرځمکه په خپل لوی قوت،پياوړتيا سره خپل ځان تـه کشوې:په همـدي خـاطر مځکه پـه ترلـي ديرې کـي دلمـر څخـه راچورلي(راګرځي)،کـه چيرې دمځکـې او لمـر تـرمنځ دجاذبې قوه لمنځه ولاړه سي:مځکه به دخپل مسير څخـه ووزې پـه تشيال او دتـاريکيو پـه منـځ کي به لالهانده، يخی سي او دمنفي 270درجې چي مطلق(بيخي)دصـفر درجـه ده او ذارات پـه ياده يخه هوا کي دحرکت وړتيا نه لري،دمځکې څخه به ژوند کډه وکړي.الله جل جلاله فرمايي:
[سُوۡرَةُ فَاطِر : 41](إِنَّ اللَّهَ يُمْسِكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ أَنْ تَزُولَا ۚ وَلَئِن زَالَتَآ إِنْ أَمْسَكَهُمَا مِنْ أَحَدٍ مِّنْ بَعْدِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا)حقيقت دا دی، يوازي همدا الله دی چي اسمانونه او ځمکه يې د منځه تلو څخه ساتلي دي، او که هغه بې ځايه شي، نو د الله څخه وروسته کوم بـل څـوك د هغـو راټينګوونکی نشته. بې‌شکه الله ډېر زغمونکی او ښنونکی دی.
***ددې لپاره چي لمر دجذب قوه ښه درک کړو:که په هر دليل دلمر دجاذبې قوه دمنځـه ولاړه سي،ددې دپاره چي مځکه پراوسني ځای پاتـه سـي اړيـوو چـي دفولادي تنـابونو،مزو پـه وسيله چي دفلزاتو دډلـي څخـه کـروړ اوټينګ فلزدئ، مځکـه دلمرسره پـه يـادو مـزو وتړو.هرفولادي مـزی ديـؤه ميلـي متـر قطـر پـه درلودلـو سـره دسلـو کيلـو وزن دپورتـه کولـو او ټينګولـو زغـم لري.موږ ددې لپاره چي مځکه خوندي وساتو او دلمر سره يې وتړو يؤ ميليون ميليـون فـولادي مزوتـه چـي هريـؤ يـې 156 ميليونـه کيلـومتره اوږدوالـی، 5مترقطـر ولـري او وکـولی سـي چـي هريؤ ددوئ څخه ددوه ميليونه ټنه وزن دټينګولو يا پورتـه کولو زغم ولري اړتيا لرو.په واقعـت کي دلمر دجاذبې قوه داسـي ده: 1ميليـون ×1ميليـون×2ميليونـه ټنـه.اوس نـو کـه وغـواړو ديـادو مزو يؤ اړخ پرمځکه ټينګ يا خښ کړو ددې لپاره چي مزي،مځکه او لمر سره وصل سي:موږ به په مځکه کي دفولادي مزو دځنګل سره مخ سو،داسي چي ديادو مزو ترمنځ به په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوله مځکه کي ليروالی در5 متره کم وي او دومره حجم به ولري لکه يؤ لوی غر،ياد مزي به زموږ څخه دلمر وړانګي پټي کړې او دمځکي خوځښتونه او فعاليت به دمنځه ولاړسي.داټول لوی ځواکونه ددې لپاره دي چي مځکه په هره ثانيه کي د30کيلومترو په تيزوالي دلمر پر شاوخوا په خپل مدار کي حرکت وکړي.الله جل جلاله فرمايي: [سُوْرَةُ الرّعد : 2](اللّٰهُ الَّذِی رَفَعَ السَّمٰوٰتِ بِغَيْرِ عَمَدٍ تَرَوْنَهَا ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ كُلٌّ يَجْرِی لِأَجَلٍ مُّسَمًّی يُدَبِّرُ الْأَمْرَ يُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّكُم بِلِقَآءِ رَبِّكُمْ تُوقِنُونَ)

الله هغه ذات دی چي اسمانونه يې له ستنو پرته همداسي درولي دي، تاسي يې په خپله وينئ. بيا يې پر عرش استوا وکړه او لمر او سپوږمی يې د يو قانون تابع ګرزولي دي. ددې ټول نظام هر شی تر يو ټاکلي وخت پوري چليږي. او همغه الله ددې ټول کار تدبير کوي؛ هغه نښاني په ډاګه څرګنده بيانوي، ښايي چي تاسي له خپل رب سره په يو ځای کېدو باور وکړئ.*يؤ دثابتو سوو حقيقتونو ددلې څخه دادئ :مځکه په بيضوي بڼې مدار کي دلمر پر شاوخوا ګرځي،دا مدار دکوچني او لوی قطر لرونکی دئ.دمځکي اولمر ترمنځ دجاذبې قوه هم پردې اساس ده چي لوی جسم کوچنی جسم خپل ځان ته راکاږي او هرڅومره چي يؤ شی لوی وي دجاذبې قوه يې هم زياته وي.دليروالي په ډېريدو سره دجاذبې قوه کميږي.

دمځکي تيزوالی دلمر پرشاوخوا 30کيلومتره پر ثانيه دئ؛کله چي مځکه دخپل مدار کوچني قطر درلودونکي برخي ته رسيږي او ليروالی يې دلمر سره لږيږي په دې حالت کي داشوني وي چي لمر يې خپل ځان ته جذب کړې او دلمر دمخ په 6000درجې تودوخه کي دمنځه ولاړه او تبخير سي.ځکه مځکه لمر ته نژدې وي او دانژدې والی ددې سبب سوی وي چي دلمر دجاذبې قوه پر مځکه ډېره سي.مځکه ديادې سوي پيښي دنه پيښيدلو په پار په دې کوچني قطر درلودونکي برخه کي دخپل مدار، دمځکي سرعت ډېريږي او دلمر دراکښوونکي قوې زياته اغيزه په خپل تيز حرکت سره لمنځه وړي.کله چي مځکه دخپل مدار لوی قطر لرونکي ساحې ته رسيږي دمځکې سرعت هم کميږي ددې لپاره چي دلمر دراکښوونکي قوې اغيزه پري ډېره سي، دخپل مدار څخه ونه وزي او دتشيال په تاريکه او يخ کي يخی نه سي.ښه نو دمځکې تيزوالی(سرعت)دخپل مدار په بيلا بيلو برخو کي ديادو عواملو لکبله توپير کوي،داسي چي دخپل مدار په کوچني قطر درلودونکي برخه کي يې تيزوالی ډېريږي او په لوی قطر درلودونکي برخه کي يې تيزوالی کميږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یاد توپیرونه دمځکې په تېزوالي کي په ډېره ارمه سره پیښیږي ترڅو دمځکي پرمخ ژوند بـې ترتیبه نه سي او دمځکې دمخ دویجاړې سبب ونه ګرځي.الله جل جلاله فرمایي: [سُوۡرَةُ فَاطِر : 41](إِنَّ اللہ یُمۡسِكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ أَن تَزُولَاۚ وَلَئِن زَالَتَآ إِنۡ أَمۡسَكَهُمَا مِنۡ أَحَدٍ مِّنۢ بَعۡدِهِۦٓۚ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا)حقیقت دا دی، یوازي همدا الله دی چي اسمانونه او ځمکه یې د منځـه تلو څخه ساتلي دي، او که هغه بې ځایه شي، نو د الله څخه وروسته کوم بل څوك د هغو راټینګوونکی نشته. بېشکه الله ډېر زغمونکی او بښونکی دی.

***



زموږکهکشان*دشېدولارې آسمان ټولګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دمځکې د اوسيدونکو لمر**

خداى جل جلاله د سُوْرَةُ عَبَسَ د 17نمبرايات څخه در 32نمبرايات پوري فرمايي:[17](قُتِلَ الْإِنْسٰنُ مَآ أَكْفَرَهُ)لعنت (هلاکت) دي پر (کافر) انسان وي، څومره کلك د حق منکر دى.[18](مِنْ أَيِّ شَيْءٍ خَلَقَهُ)الله له څه شي څخه دى پيدا کړى دى؟! [19](مِن نُّطْفَةٍ خَلَقَهُ فَقَدَّرَهُ)

د نطفي له يو څاڅکي څخه الله پيدا کړ، بيا يي د ده تقدير وټاکه؛[20](ثُمَّ السَّبِيلَ يَسَّرَهُ)بيا يې د ده لپاره د ژوند لاره اسانه کړه؛[21](ثُمَّ أَمَاتَهُ فَأَقْبَرَهُ)بيا يې دى مړ کړ او قبر ته يې ورساوه؛[22](ثُمَّ إِذَا شَآءَ أَنشَرَهُ)بيا کله چي يې خوښه شي، هغه به دوهم ځل راپاڅوي.

[23](كَلَّا لَمَّا يَقْضِ مَآ أَمَرَهُ)هيڅکله نه، ده هغه فرض نه دى اداء کړى، چې الله ورته حُکم کړى ؤ.[24](فَلْيَنظُرِ الْإِنسٰنُ إِلٰى طَعَامِهِۦٓ)بيا دي انسان خپلو خوړو ته وګوري.[25](أَنَّا صَبَبْنَا الْمَآءَ صَبًّا)موږ ښې اوبه راتوى کړي دي؛[26](ثُمَّ شَقَقْنَا الْأَرْضَ شَقًّا)بيا ځمکه مو په عجيبه شان شلولې (څيرلې) ده؛[27](فَأَنۢبَتْنَا فِيهَا حَبًّا)بيا په هغې کي مو غلې، دانې را زرغونې کړي دي،[28](وَعِنَبًا وَقَضْبًا)او انګور او سابه،[29](وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا)او ښوون (زيتون)، او کجوري (خُرما)،[30](وَحَدَآئِقَ غُلْبًا)او ګڼ باغونه،[31](وَفٰكِهَةً وَأَبًّا)او ډول ډول مېوې او شينلي (واښه)؛[32](مَّتٰعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعٰمِكُمْ)د ژوند د وسايلو په توګه، ستاسي او ستاسي د څارويو لپاره.

*****بيا الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ يُونس : 101](قُلِ انْظُرُوا مَاذَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَمَا تُغْنِى الْءَايٰتُ وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ)دوى ته ووايه: "په اسمانونو او ځمکه کښې چې څه دي، هغه په غږېدلو سترګو وګورئ!"- او کوم خلك چې له سره ايمان راوړل نه غواړي، د هغو لپاره نښانې او اخطارونه مدافع او ګټور کېداى نه شي.***لمر دروښانو ښو نښانو څخه دالله جل جلاله دقدرتونو يؤ دئ،چې دخپل ځلا په خوړولو سره موږ دالله جل جلاله لوري ته هدايت کوي!لمر دمنځني حجم درلودونکى ستورى دئ،چې دمځکې څخه يؤ ميليون او دري سوه زره برابره لوى دئ،لمر دمځکې څخه 156ميليونه کيلومتره چې د اتو نوري دقيقواو 17ثانيو سره سمون خوري ليري دئ.داسي ستوري هم شتون لري چې دلمر اومځکې او ددوئ ترمنځ ليروالي څخه يې هم حجم غټ دئ.دلمر دمرکز تودوخه 20ميليونه درجې ده،که چيرې مځکه دلمر په غيږکې وغورځول سي په ډېر لږوخت کي به په تبخير(توښ)بدله سي.دلمر داور دڅپو اوږدوالى يؤ ميليون کيلومتره ته رسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلمر توخه دومره ده چي په هره ثانيه کي ددوو زرومیلیاردو ټنو دډبرسکرو دتودوخې په اندازه تودوخه توليدوي.دا روښانه اوځليدونکی جسم هرورځ دري لکه شپيته زره ميليونه ټنه وزن دخپل حجم څخه دلاسه ورکوي.دستورپيژاندو داټکل پر اساس دلمر د ژوند پنځه زره ميليونه کاله تېر سوي دي او وګړو ته وايي چي مخکي درپنځه ميليادو نورو کالو پوري به داډيوه مړه نه سي.والله اعلم*که دلمر روښنايي دمنځه ولاړه سي:مځکه به په سختې تاريکۍ کي راګيرسي،دتودوخې درجه به يې منفي 270درجې ته راټيټه سي او ديخي په هديره به بدله سي.دتودخې او رڼا په لمنځه تللو بسنه کوي چي دژوند ټولې نښې نښانې په مځکه کي دمنځه ولاړې سي.لمر دبيلابيلو حرکتونو درلودونکی دی:دلمر وضعي حرکت چي په هرو 5/25ورځو کي خپل پرځان ګرځي.دلمر انتقالي حرکت دآسمان دجنوب څخه دشمال لورته دلمريزنظام په ګډون په هرثانيه کي 5/19کيلومترو په تېزوالي دحرکت په حال کي دئ.همدارنګه لمر دټول لمريز نظام په ګډون په ثانيه کي د225کيلومترو په تېزوالي دشيدولارې دآسمان ټولګې پر شاوخوا راګرځي.دلمر دننه ټول عمر هستوي چاودني کيږي ترڅو رڼا،انرژي اوتودخه توليد کړي.لمر ته وګورئ او وپوښتئ:چا دا اور لګولی او پارولی دئ؟چا داروښانه اوځلانده نښه ځړولې ده؟چا داسور رنګې سکه دهسک په منځ کي وهلې ده؟چا داساعت په تشيال کي ځوړند کړی دئ داسي يوساعت چي دهغه ستني دقيامت در ورځې پوري دګرځيدو په حال کي دي؟چا هغه ته دا پورته والی ورکړی دئ چي په بيلابيلوځايونو کي په دقيق مدار کي دچورليدلو په حال کي دئ؟اوڅوک دئ چي دهغه روښنايي يې ددونيا آسمان ته راوړي ده؟دلمر ګټې دژونديو موجوداتو لپاره بلها ډېرې دي.دموسمونو بدلون دمځکې او لمر دبدلون پايله ده.که چيرې لمر نه وای کلونه،مياشتې او ورځې نه ترتيبدلي يا په شمار کي نه سوای راتلای.درڼا او تاريکۍ توپير نه سو کيدلی.دلمر دلويدلو په وخت کي ژړزګي او دشپې دپيل سوروالی چي دلمر دوړانګو دخپريدو لکبله منځ ته راځي:نه به وای.زموږ،لمر،کايناتو اوپه هغوکي دټولو شته مخلوقاتو خالق جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ حٰمٓ السجدة/فُصّلَت : 37])وَمِنْ ءَايٰتِهِ الَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ۚ لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلّٰهِ الَّذِى خَلَقَهُنَّ إِنْ كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ)دغه شپه او ورځ، لمر او سپوږمی د الله له نښانو څخه دي. لمر او سپوږمی ته سجده مه کوئ، بلکي هغه خدای ته سجده وکړئ چي دا يې پيدا کړي دي که په رښتيا سره تاسي د هغه عبادت کوونکي ياست.*

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا الله جل جلاله فرمایي:[سُوۡرَةُ إبراهيم : 33](وَسَخَّرَ لَكُمُ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ دَآئِبَيْنِ ۖ وَسَخَّرَ لَكُمُ الَّيْلَ وَالنَّهَارَ)او هغه لمر او سپوږمۍ ستاسي لپاره په کار واچول چي د قانون تابع چلیږي. او شپه او ورځ یي ستاسي لپاره په کار واچول.*

همدرنګه بیا الله جل جلاله فرمایي:[سُوۡرَةُ يٰسٓ : 38](وَالشَّمْسُ تَجْرِى لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ۚ ذٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ) او لمر د خپل ټاکلي ځای خوا ته ځي، دا د خورا ډېر ځواکمن پوه ذات، وضع کړی حساب دی.***



(c) ketabton.com: The Digital Library



**دلمر او سپوږمۍ ترمنځ په ليروالي کي آند(فکر)کول**

الله جل جلاله دسُوۡرَةُ يُونس په 101نمبر ايات کي فرمايي:(قُلِ انْظُرُوا مَاذَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَمَا تُغْنِى الْءَايٰتُ وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ)دوی ته ووايه: "په اسمانونو او ځمکه کښي چي څه دي، هغه په غږېدلو سترګو وګورئ!"- او کوم خلك چي له سره ايمان راوړل نه غواړي، د هغو لپاره نښاني او اخطارونه مدافع او ګټور کېدای نه شي.****بيا الله جل جلاله فرمايي [سُوۡرَةُ يُوسُف : 105]په اسمانونو او ځمکه کښي څومره نښاني دي چي پر هغو دوی تېرېږي او يوه ذره پاملرنه ورته نه کوي.****

لمر دمځکي څخه يۇ ميليون او دري لکه واري لوی دئ،کومې داورڅپې چي دلمر څخه دباندي خورېږي يۇميليو کيلومتره اوږدوالی لري او که چيرې مځکه دلمر پرمخ ولوېږي په يۇ ثانيه کي به په توبش بدله سي.ستورپيژاندو دلمر دژوند موده درپنځه زره ميليونوکالو ډېره ياده کړي او وايي:چي لمر دمځکي څخه 8نوري دقيقې او 17ثانيې چي د156ميلونو کيلومترو سره سمون خوري ليري دئ.ياد پوهان زياتوي:دعقرب برج په منځ کي يۇ نوراني ستوری شتون لري ياد ستوري ته (قطب العقر)وايي او دومره لوی دئ چي لمر او مځکه او ددوئ ترمنځ ليروالی په برکي نيولی سي.الله جل جلاله دسُوۡرَةُ يُونس په 101نمبر ايات کي فرمايي:(قُلِ انْظُرُوا مَاذَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَمَا تُغْنِى الْءَايٰتُ وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ) دوی ته ووايه: "په اسمانونو او ځمکه کښي چي څه دي، هغه په غږېدلو سترګو وګورئ!"- او کوم خلك چي له سره ايمان راوړل نه غواړي، د هغو لپاره نښاني او اخطارونه مدافع او ګټور کېدای نه شي.****بيا الله جل جلاله فرمايي [سُوۡرَةُ يُوسُف : 105](وَكَأَيِّنْ مِنْ ءَايَةٍ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ)*په اسمانونو او ځمکه کښي څومره نښاني دي چي پر هغو دوی تېرېږي او يوه ذره پاملرنه ورته نه کوي.****همدرنګه بيا الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ الواقِعَة : 75](فَلَآ أُقْسِمُ بِمَوٰقِعِ النُّجُومِ)نو داسي نه ده، زه د ستورو د پرېوتلو په ځايونو باندي قسم خورم؛[سُوۡرَةُ الواقِعَة : 76](وَإِنَّهُ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُونَ عَظِيمٌ)او که وپوهېږئ نو دا ډېر لوی قسم دی؛*دسپوږمۍ اومځکي ترمنځ ليروالی يوه نوري ثانيه، دلمر او مځکي ترمنځ ليروالی 8نوري دقيقې او 17ثانيې او د لمريز نظام دترټولو ليري سيارې سره مځکه 13نوري ساعته ليروالی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ ته تر ټولو نژدي هغه ستوری چي زمونږ دلمريز نظام(غونډال) څخه نه دئ قطبي ستوری دئ،ياد ستوری زمونږ څخه څلور زره نوري کاله ليري دئ،داليروالی دسپوږمی دليروالي سره چي يؤازي يوه نوري ثانيه زمونږ څخه ليري ده؛پرتله کړئ. انسان تراوسه دتشيال په نيولو کي يؤازي يوه نوري ثانيه مخته تللی دئ.دتشيال لټوونکو پوهانو يؤ وخت په غرور وويل:کولی سو د شالنجر په فضايي الوتکې آسمان فتحه کړو،مګر څه وسول:ياده فضايي الوتکه په تشيال کي در70ثانيو تګ ورسته داور په ټوټو بدله سول.دشيدولاري آسمان ټولګي دترټولو ليري ستوري اومځکي ترمنځ ليروالی 150زره نوري کاله دئ او دځيني نورو هغو بيا زمونږ سره ليروالی 18زره نوري کاله دئ.سُوۡرَةُ الواقِعَة : 75](فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَوَٰقِعِ ٱلنُّجُومِ) نو داسي نه ده، زه د ستورو د پرېوتلو په ځايونو باندي قسم خورم؛***

په دي ايات شريف کي دستور دپرېوتلو دځايونوڅخه يادونه سوي ده،چي بيا الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ الواقِعَة : 76](وَإِنَّهُۥ لَقَسَمٌ لَّوۡ تَعۡلَمُونَ عَظِيمٌ) او که وپوهېږئ نو دا ډېر لوی قسم دی؛****که چيرې دليروالي څخه يادونه سوي وای څه کيدل؟اسلامي پوهان مسلمانان دتفکر کولو عبادت ته هڅوي؛دالله جل جلاله دمخلوقاتو په پيدايښت او جوړښت کي آند (فکر)کولو ته يې رابولي.الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ آل عِمرَان : 190](إِنَّ فِى خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱخۡتِلَٰفِ ٱلَّيۡلِ وَٱلنَّهَارِ لَءَايَٰتٍ لِّأُولِى ٱلۡأَلۡبَٰبِ) د اسمانونو او ځمکي په پيدايښت او د شپې او ورځي په تګ راتګ کښي د هغو پوهانو لپاره ډېري نښاني دي:[سُوۡرَةُ آل عِمرَان : 191](ٱلَّذِينَ يَذۡكُرُونَ ٱللَّهَ قِيَٰمًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِهِمۡ وَيَتَفَكَّرُونَ فِى خَلۡقِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ رَبَّنَا مَا خَلَقۡتَ هَٰذَا بَٰطِلًا سُبۡحَٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ) چي په ولاړي، ناستي او ملاستي، هر حالت کښي خدای يادوي. او د اسمانونو او ځمکي په پيدايښت کښي غور او فکر کوي (هغوی په غير ارادي توګه غږ کوي چي:) "آې زمونږ ربه! دا ټول شيان تا بابيزه او بې مقصده نه دي پيدا کړي، ته له دې څخه پاك يې چي عبث کار وکړې؛ نو اې ربه! مونږ د دوږخ له عذابه وژغوره؛*بيا الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ الزُّمَر : 67] وَمَا قَدَرُوا۟ ٱللَّهَ حَقَّ قَدۡرِهِۦ وَٱلۡأَرۡضُ جَمِيعًا قَبۡضَتُهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَٱلسَّمَٰوَٰتُ مَطۡوِيَّٰتُۢ بِيَمِينِهِۦۚ سُبۡحَٰنَهُۥ وَتَعَٰلَىٰ عَمَّا يُشۡرِكُونَ

دوی هغسي د الله قدر ونه کړ لکه څنګه چي د هغه د قدر کولو حق دی (د هغه کامل قدرت خو داسي دی چي) د قيامت په ورځ به ټوله ځمکه د هغه په موټي کښي وي او اسمانونه به د هغه په ښي لاس کي نغښتل شوي وي. الله د هغه شرک څخه پاك او لوړ دی چي دوی يې کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خسوف او کسوف

حديث شريف ژباړه: د رسول الله صلی الله عليه وسلم زوی ابراهيم وفات سو په همدغه ورځ لمر ترنځې ونيوئ خلکو داسي ګمان کاوه چي دغه کسوف د اسلام د پېغمبر د زوی د مړيني له کبله دی ، کله چي رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر سو د خلکو دا خبره يې رد کړه او وې فرمايل:يو شمېر خلک په دې اند دي چي د لمر او سپوږمۍ ترنځه نيول د سترو شخصيتونو په مړينه د غم له امله وي، دغه خبري درواغ دي، دا خو د الله تعالی دلايل او نښاني دي چي بنده ګان پند ورڅخه واخلي.په بل حديث کي راځي :ژباړه: د ابو موسی اشعري رضی الله عنه څخه روايت دی چي لمر ترنځې ونيوئ رسول الله صلی الله عليه وسلم چي د بيرې اثر ورباندي وو چي قيامت نسي ولاړ سو او مسجد ته راغئ يو اوږد لمونځ يې وکئ چي رکوع او سجده يې هم اوږده وه او دومرې اوږد لمونځ يې وکئ چي ما مخکي دده دومري اوږد لمونځ نه وو ليدلی، او بيا يې وفرمايل چي دغه کسوف د خدای د قدرت يوه علامه ده تر څو بندګان وبېريږي ، دا نه د چا د مرګ له کبله ده نه د ژوند، کله چي داسي کسوف راسي تاسي د خدای ذکر کوئ، دعاوي کوئ او استغفار واياست .***خسوف دټولي سپوږمۍ يا دسپوږمۍ ديؤې برخې پټيدلو،نه ښکاريدلو، ته وايي.ياده پيښه هله رامنځته کيږي کله چي مځکه دلمر اوسپوږمۍ دمنځ څخه تېريږي.همدارنګه کسوف هغه پيښې ته وايي:کله چي سپوږمۍ دمځکې اولمر ترمنځ تېريږي،داسي چي کله دهمدې تېريدو لکبله لمر په پوره ډول يا دلمر يؤه برخه پټه سي همدغه حالت ته دلمر ترنځه نيول يا کسوف وايي. دادوې پيښې دالله جل جلاله هغه عظمت او رحمت ته اشاره کوي،چي فرمايي:[سُوۡرَةُ حٰمٓ السجدة/فُصّلَت : 37] وَمِنْ ءَايَٰتِهِ الَّيْلُ وَالنَّهَارُ وَالشَّمْسُ وَالْقَمَرُ ۚ لَا تَسْجُدُوا لِلشَّمْسِ وَلَا لِلْقَمَرِ وَاسْجُدُوا لِلَّهِ الَّذِى خَلَقَهُنَّ إِن كُنتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ)دغه شپه او ورځ، لمر او سپوږمۍ د الله له نښانو څخه دي. لمر او سپوږمۍ ته سجده مه کوئ، بلکي هغه خدای ته سجده وکړئ چي دا يې پيدا کړي دي که په رښتيا سره تاسي د هغه عبادت کوونکي ياست.***همدارنګه بيا الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ القَصَص : 71]قُلْ أَرَءَيْتُمْ إِن جَعَلَ اللهُ عَلَيْكُمُ الَّيْلَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَٰمَةِ مَنْ إِلَٰهٌ غَيْرُ اللهِ يَأْتِيكُم بِضِيَآءٍ ۖ أَفَلَا تَسْمَعُونَ[اې پېغمبره (ص)!] دوی ته ووايه: "تاسي کله غور وکړ چي که الله تر قيامته پوري پر تاسي د تل لپاره شپه خوره کړي، نو د الله څخه پرته هغه کوم معبود دی چي تاسي ته رڼا راولي؟ - ايا تاسي نه اورئ؟"*

(c) ketabton.com: The Digital Library



کيداى سي يؤ څوک سوال وکړي:څنګه کيداى سي چي سپوږمۍ دلمر ټکۍ وپوښي په داسي حال کي چي سپوږمۍ دلمر څخه څلور سوه ځله کوچنۍ ده؟ځواب دادئ چي لمر دمځکي څخه درسپوږمۍ څلور سوه واري ليري دئ او دا ليروالى ددې سبب سوى دئ چي لمر اوسپوږمۍ دمځکې څخه په يؤه اندازه مالوميږي،په همدې خاطر سپوږمۍ کولى سي چي دلمر دهغو وړانګو مخه ونيسي کومې وړانګې چي مځکه رڼا کوي او نه پريږدي چي دمځکي د اوسيدونکو سترګو ته دې دلمر نيغي وړانګي ورسيږي.
بايد په ياد ولرو چي دلمر دترنځې ښکلا موږ دې ته راونه بولې چي بيله داسي عينکو لمرته ونه ګورچي هغه عينکي دلمر دوړانګو مخنيوى کولى سي.ولې چي دلمر دترنځې په وخت کي لمر ته کتل زموږ سترګو ته سخت زيان رسوي. دلمر دترنځې په وخت بيله عينکو لمر ته کتل زموږ دسترګو شبکيې ته ډېر زيان رسوې؛په تېره بيا دماشومانو دسترګو شبکيه ديادو وړانګو پروړاندې ډيره حساسه ده.په همدې.. خاطر پيغمبرصلى الله عليه وسلم دکسوف لمونځ سنت کړى دئ!داسي لمونځ چي د اوږده قرائت اوسجدې درلودونکى دئ،کله چي موږ ياد لمونځ کي بوخت يوو ديادې پيښې سره نه مخ کيږو،ياني موږ به په لمانځه بوخت يوو او دې ته به وخت ونه موندو ترڅو دلمر دترنځې په وخت کي دلمر ټکۍ ته وګورو.والله اعلم!
څه موده وړاندې داګست پر يؤلسمه نيټه ټول عربي هيوادونه دکسوف په ليدو قادره وه،خو يؤازي ديادو هيوادونو په شمال ختيځو پولو کي لمر په پوره ډول ترنځې نيولى وو.ديادو هيودونو ددې څخه دسوريې په شمال ختيځ کي ديؤه ساعت لپاره دلمر يؤه برخه ترنځې نيولې وه چي ورسته د دوو دقيقو لپاره لمر په پوره ډول په ياده سيمه کي ترنځې ونيوئ؛په همدغه وخت کي دلمر داور دڅپو چي اوږدوالى يې يؤميليون کيلومترو ته رسيږي دليدلو مناسب فرصت پيداسو،همدارنګه دلمريزغونډال دېنځو سيارو:عطارد ،زهرې،مريخ،مشتري،او زحل ليدل هم ممکن سول، او هغه خبره چي وايي: په غرمه کي مي ستوري وليدل رښتيا سول.ښه نو ويلى سو کله چي لمر په پوره ډول ترنځه ونيسي موږ کولى سو په ستر ګو باندې بيله کومې وسيلې په غرمه يا دورځې په يؤه بله برخه کي سيارې او نورستوري ووينو.

(c) ketabton.com: The Digital Library





کسوف دلمردترنځي نیولوانځور




خسوف دسپوږمی دترنځي نیولوانځور

**دهوا فشار اود هغه پایلي**

الله جل جلاله د سُوْرَةُ الأنعَام په 125نمبرايات کي فرمايي:فَمَن يُرِدِ اللهُ أَن يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَٰمِ ۖ وَمَنْ يُرِدْ أَنْ يُضِلَّهُ يَجْعَلْ صَدْرَهُ ضَيِّقًا حَرَجًا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِى السَّمَآءِ ۚ كَذَٰلِكَ يَجْعَلُ اللهُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ ***

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو (دا حقيقت دی) چا ته چي الله د لارښووني اراده وکړي، د هغه سينه د اسلام لپاره پرانيزي. او چا ته چي په ګمراهۍ کښي د غورځولو اراده وکړي، د هغه سينه تنګوي او داسي فشار پرې راولي چي (څنګه د اسلام تصور په ذهن کښي راګرځوي نو) داسي ورته معلوميږي، چي ته به وايې ساه يې د اسمان لوري ته پورته کيږي. په دې توګه الله (له حق څخه د تېښتي او کرکي) ناپاکي پر هغو کسانو مسلطوي چي ايمان نه راوړي؛***

ياد ايات شريف يو دهغو اياتونو دډلي څخه دئ چي دقرآنکريم علمي اعجاز څرګندوي.په روغتيا پوهني؛طبي علم کي بيان سوي دي: کله چي انسان جګو يالوړو برخو ته دالوتکي يا بلې کومې وسيلې په مټ وخيږي، بدن يې دروغتيايي ستونزو سره مخ کيږي.ددې ستونزو دډلي څخه نفستنګي،دسا بندښت يا خپه کيدل دي چي په ياد ايات شريف کي ورته اشاره سويه ده:(يَجْعَلْ صَدْرَهُ ضَيِّقًا حَرَجًا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَآءِ )***خومره چي موږ لوړ خيژو دهوا فشار کميږي او داکسيجن اندازه لږيږي.که موږ دسمندر دمخ(سطحې) څخه لس زره فوټه لوړ ولاړسو:دفشار دلږيدو او اکسيجن دکمښت احساس نه کوو،مګر دلس زرو څخه درشپاړس زرو فوټو پوري دسمندر دسطحي څخه لوړ داکسيجن دکمښت احساس دهغو سيستمونو،جوړښتونو په وسيله چي الله جل جلاله دانسان په بدن کي ځای پرځای کړي دي درک کوو.ياد سيستمونه په داسي هسکو برخو کي چي لوړوالی يې 16زرو فوټو ته رسيږي خپل ځان دياد چاپيريال دهوا دفشار او اکسيجن داندازې سرسم جوړوې او دانسان دبدن اړتيا وي پوره يا تأ مينوي،مګر دا جوړښتونه هله دکاره لويږي او دانسان دژوند حياتي اړتياوي نه سي پوره کولی کله چي انسان د16زرو څخه در25زرو فوټو پوري دسمندر دسطحي(مخ) څخه لوړ ولاړسي.په ياد لوړوالي کي دانسان بدن دبيلابيلو ستونزو سره مخ کيږي چي لومړۍ هغه يې سابندي او خپه کيدل دي.(يَجْعَلْ صَدْرَهُ ضَيِّقًا حَرَجًا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَآءِ )***د25زرو فوټو څخه لوړ انسان په پوره ډول بې هوښه کيږي،ځکه خو هغه الوتکي چي دمځکې دمخ څخه 40زره فوټه لوړ الوزي،دننه هوا يې دمځکي دمخ دهوا څخه اته ځله د متراکمې هوا درلودونکي وي،ترڅو دمځکي دهوا دفشار سرمتناسب فشار دخپلو سفرليو يا هغې کي ناستو وګړو لپاره برابرکړي،بيله ياد جوړښته به دالوتکې ټول سپاره دپوره بې هوښۍ سره مخ سي.په حقيقت کي ياد ايات شريف دقرآنکريم علمي اعجازبيانوي.والله اعلم*تراوسه مو داکسيجن دکمښت داغيزو په اړه وويل خوکه دهوا فشار کم سي څه به وسي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فشار او دهغه پايلې

پوهان وايي:دهوا دفشار په غورځيدو يا کښته کيدو سره دانسان په بدن کي شته ګازونه دانبساط او پاشل کيدو سره مخ کيږي ياده پېښه دانسان دبدن دانساجو،دبدن دجوړښتونو،هوايي لارو،لويو کلمو اومنځني غوږ دشليدلو يا ځيري کيدلو لامل کيږي.

دهوا دفشار ډارونکي پايلې پر همدې ځای نه ختميږي بلکې:نه زغمونکي دنس دردونه په ځانګړې ډول دلويو کلمو په برخه کي،دهويي لارو سره تړلي دردونه،همدارنګه دغوږونو او بندونو دردونه يې يؤه برخه وي.اوس نوځای ددې پوښتنې دئ چي ووايو آيا حضرت محمد صلى الله عليه وسلم بيله هغه چي اسلام او مسلمانان وايي هسک ته ختلی وو چي وي کولی سوای داسي دقيق علمي مطالب په خوږو اشارو سره بيان کړي؟

آيا په هغه وخت کي کوم بل کس تشيال يا دمځکې داتموسفير څخه دباندي وتلی او پورته سوی وو؟آيا الوتکو شتون درلودئ چي دهغو په وسيله يؤخوک تشيال ته ولاړسي او داسي خبرونه دپيغمبرصلى الله عليه وسلم لپاره راوړي؟ښه نو راسئ چي دياد ايات شريف تلاوت يؤ واربيا ښه په غور او پوره پاملرنې سره وکړو: [سُوْرَةُ الأنعَام : 125](فَمَن يُرِدِ اللهُ أَن يَهْدِيَهُ يَشْرَحْ صَدْرَهُ لِلْإِسْلَٰمِ ۖ وَمَنْ يُرِدْ أَنْ يُضِلَّهُ يَجْعَلْ صَدْرَهُ ضَيِّقًا حَرَجًا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِى السَّمَآءِ ۚ كَذَٰلِكَ يَجْعَلُ اللهُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ) نو (دا حقيقت دی) چا ته چي الله د لارښووني اراده وکړي، د هغه سينه د اسلام لپاره پرانيزي. او چا ته چي په ګمراهۍ کښي د غورځولو اراده وکړي، د هغه سينه تنګوي او داسي فشار پرې راولي چي (څنګه د اسلام تصور په ذهن کښي راګرځوي نو) داسي ورته معلوميږي، چي ته به وايې ساه يې د اسمان لوري ته پورته کيږي. په دې توګه الله (له حق څخه د تېښتي او کرکي) ناپاکي پر هغو کسانو مسلطوي چي ايمان نه راوړي؛***

بيان سوي علمي حقيقتونه ورسته در علمي پرمختګونو او دردې چي انسان دالوتکې او ستور مزلو په مټ دمځکې د اتموسفير څخه دباندي ولاړ سي،کشف سوي ثابت سوي دي.موږ چي نن ورځ په الوتکه کي دسپريدو او تشيال يا دهسک لور ته دپرواز په وخت کي دستونزو سره نه مخ کيږو علت يې دادئ چي الوتکې او ستور مزلي بيړۍ داسي ترحه او جوړې سوې دي چي هغوئ دهوا دفشار په موزينه او دانسان لپاره يې مناسبوالي باندي برلاسي وي.که دهر علت لکبله دالوتکې دهوا دفشار دتوزون ساتلوجوړښتونه دکاروليږي بيله ځنډه به الوتکه خپل لوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرواز ته دپای ټکی ږدې او الوتکه سمبالوونکي به دلوړې ارتفاع څخه کښته لورته دالوتکې په راوستلو دالوتکې سپاره دمرګه ژغوري.ځای ددې دئ چي ددې ايات شريف علمي اعجاز ته په غور پام وکړو:(يَجْعَلْ صَدْرَهُ ضَيِّقًا حَرَجًا كَأَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِى السَّمَآءِ ۚ)

*******************************

پوهيږو چي هر انسان دخپل بدن په يوه يادوو مترو مساحت باندي د10څخه درشلو ټنو پوري دهوا فشار زغملی سي،مګر ياد فشار نه احساسوي په واقعت کي موږ ټوله ديوه داسي سمندر په تل کي چي دهوا څخه ډک دئ ژوند کوو چي دلسو څخه درشلو ټنو پوري دهوا فشار خپل پرتن ليږدوو.پوهان وايي:هغه فشار چي دمځکې دننه شتون لري داتموسفير دفشار څخه دري لکه اوشپږسوه ميلونه ځلي ډيردئ.

همدارنګه يو نيوټروني ستوری چي مخکي دلمر هومره وو او د ډير فشار دراغيزې لاندي دومره کوچنی سوی چي قطر يې يوازي 14کيلومتره ته رسيدلی فشار يې داتموسفير دفشار يوميليو ميليون بيليون برابره دئ.

درمځکې درفشار لاندي درټولو کروړ(کلک)عنصر الماس دي ياد فلز داتموسفير دفشار دڅلور ميليونه فشار دپياوړتيا هومره فشار باندي تخته سوی دئ، دالماسو فشار په وار وار دمځکې د دننه فشار څخه ډيردئ.په دې ورستيو کي پوهانو وکولی سول چي د2000درجې حرارت او داتموسفير دپنځه زره برابره فشار هومره فشار باندي عادي سکروته تراکم ورکړي:ياده ماده په صنعتي الماسو مشهوره ده.يو بل اړين ټکی چي دفشار سره اړه لري دادئ: روغتيا پوهان درمتراکمو او جامدو درملو مايع درمل ډير خوښوې او وايي چي کيدای سي جامدو درملو دفشار دراغيزې لاندي خپلې ځيني ځانګړني دلاسه ورکړي وي.اوس به خپل بيان رالنډکړو اوددې بيان ښکلي معنوي پايله به راوسپړو.الماس دطبعت کروړه ماده ده چي يوسلوڅولښت ميلونه ډالره قيمت لري،اوس که همدومره اندازه عادي سکاره دډير لوړ فشار لاندي راولو په الماسو اوړي او ارزښت يې هم نژدي دالماسو سره برابريږي .

که چيرې يوڅوک پر خدای جل جلاله او دهغه پر پيغمبر صلی الله عليه وسلم ايمان ولري،دالله جل جلاله دلوري پر ښوول سويه لاره ولاړسي،اسلامي امورو ته په رښتيني ډول غاړه کښيږدي پرهيز ګاري وکړي،دالله جل جلاله په لار کي جسماني،مادي او معنوی تکليفونه وګالي او صبر پر وکړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسلام ددين لپاره کار وکړي،هغه ديؤه عادي انسان څخه دلوړې مرتبې درلودونکي انسان باندي بدليږي،داسي لکه يؤ عادي تور رنګ درلودونکي سکاره چي در ډېر فشار دتېرولو اوزغملو ورسته په ارزښتمندو الماس باندي بدل سي.

ټنبلــي اوکسالت،دستړيا څخه تېښته،شـهوت خوښوونه،فسـق او بـې لارې،غلا،قتل،مسلمان زورونه: هيڅ وخت انسان ميراني،پرمختګ،او برياته نه سي رسولی،بلکي داسلام په لاره کي داسلامي قوانينو په رڼا کي سختی،تکليفونه او زحمتونه ګالل او پرلپسي کوښښونه دي چي انسان ته لويه بريا ورپه برخه کوي.حضرت محمد صلی الله عليه وسلم داسلام دپاک دين دخپرولو اونيغې لارې ته دبشر درابللو لپاره سختی او تکليفونه ګاللي دي.

تل داسي کيږي چي در تکليفونو،زحمتونو او کړاونو ورسته هوساينه،بريا او پراخي راځي.



(c) ketabton.com: The Digital Library

محکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دمځکې کُروي توب او دهغې اړيکه دعميق دويي(لغات) سره!**

**په قرآنکريم کي دې موضوع (سکالو)ته اشاره سوې ده! الله جل جلالـه دسُوْرَةُ الحَجّ پـه 27 نمبرايات کي فرمايي:(وَأَذْ ِنْ فِى النَّاسِ بِالْحَجْ ِ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلٰى كُلْ ِ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِنْ كُلْ ِ فَجْ ٍ عَمِيقٍ )او خلکو ته د حج لپاره عمومي اعلان وکړه چي هغوی تا تـه لـه هر ليري مزل څخه پلي او پر اوښانو سپاره راشي؛**

***ښايي داسوال وسي چي ولې (مِن كُلْ ِ فَجْ ٍ عَمِيقٍ )کلمي د(عَمِيقٍ )ويي پرځای د(بَعيدٍ)ويي ونـه فرمايل سو؟علماپه دې اړه وايي:دعميق دويي کارول دبعيد پرځـای دمځکې کُرويتوب تـه اشاره کوي،ولې چي دمځکي دمخ کرښې نيغي(مستقيمي)نه دي بلکي منحني دي او دهغوئ په څرګندولو کي دريم ُبعد ياني عمق ته اړتيا ده،نوپه همدې خاطر پاک الله جل جلالـه پـه دې کلمه سره دمځکې کرويتوب ته اشاره کړي ده.**

**والله اعلم.**



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مځکې استقرار،ارام والی

**دمځکې دارام والي په اړه الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ النَّمل : 61]**
**(أَمَّن جَعَلَ الْأَرْضَ قَرَارًا وَجَعَلَ خِلَٰلَهَآ أَنْهَٰرًا وَجَعَلَ لَهَا رَوَٰسِىَ وَجَعَلَ بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ۗ أَءِلَٰهٌ مَّعَ اللهِ ۚ بَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ)**

**او هغه څوك دی چي ځمكه يې ارام ځای وګرځوله، په هغې کښي يې سيندونه وبهول او (دغرونو ميخونه) يې پکښي ټکوهل او د اوبو د دوو ذخيرو په منځ کښي يې پرده حائله کړه؟ - ايا له الله سره کوم بل خدای هم (پدغو چارو کښي شريك) دی؟ - نه، بلکي له دوی څخه زياتره خلك ناپوهان دي.** *********************

**څوک دئ چي مځکه يې دقرار او ارام ځای ګرځولې ده؟**

**دمځکې پرمخ دنګې ودانۍ او مانۍ بيله دې چي راپريوځي ولاړې دي:چا هغوئ ته دنه پرځيدلو اونه ورانيدلو وړتيا دداسي يوجسم پرمخ ورکړي ده چي:په هرثانيه کي دخپل مدار څخه 30کيلومتره طی کوي!مګر سره ددې خوځښته هم دمځکې پرمخ هسکې مانۍ ودانۍ دي. که چيري مځکه په لړزيدا سي هيڅ يؤه مانۍ به روغ پاته نه سي بلکي دمنځه به ولاړې سي! الله جل جلاله موږ ته بې شمېره نعمتونه راکړي اوهغه جل جلاله دهغو اخيستونکی هم دئ!الله جل جلاله دمځکې په اړه فرمايي:[سُوْرَةُ النَّمل : 88](وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِىَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ۚ صُنْعَ اللهِ الَّذِىٓ أَتْقَنَ كُلَّ شَىْءٍ ۚ إِنَّهُۥ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ)**

**نن ته غرونه وينې او ګومان کوې چي ښه کلك ښخ شويدي. خو په هغه وخت کښي به دا د وريځو په څېر الوتونکي وي، دا به د الله د قدرت نښانه وي چي هر شی يې په حکمت سره بر قرار کړيدی. هغه ښه خبر دی چي تاسي څه کوئ.**
***************

**مځکي تردي ګومان کيدئ چي غرونه پر خپل ځای ثابت دي:مګر غرونه دوريځو په شان دحرکت په حال کي دي ولې چي دمځکې سره يؤ ځای دراګرځيدو راچورليدو په حال کي دي. يؤجنګ چي ددوو هيوادونو ترمنځ ونښتئ او شپږمياشتې يې دوام پيداکړ ډول ډول وسلې په ياد جنګ کي وکاريدلې:هغوئ دپرمختللو وسلو،د رادار ضد الوتکو،ليزري وسلو کمپيوټرونو،سپوږمکيانو اودشپې دبمبارونو څخه دريغ نه کوئ،هرورځ څلورسوه الوتکې په**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**هسک کي ښکاره کيدلې او په سختۍ سره يې بمبارکوئ،دې پيښې شپږمياشتې دوام وکړ او دري سوه زره ميلونه ډېره لګښت پري راغلی مګر بسنه کوي چي يؤه سياره 45ثانيې ولړزيږي او دياد اونورو لويو جنګونو څخه ستر زيانونه او ورنی منځ ته راولي الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ البُرُوج : 12](إِنَّ بَطْشَ رَبِّكَ لَشَدِيدٌ)په حقيقت کښې ستا د رب نيونه ډېره سخته ده.**‏**************

**دمځکي ملکيت دالله جل جلاله په اختيار کي دئ اوموږ هيڅ شی په اختيارکي نه لرو،که چيري مځکه دريکتر دمقياس پراساس اته درجې ولړزيږي اوټولې ودانی ړنګې کړې څوک کولی سي دياد کار مخه ونيسي؟**

**په حقيقت کي په داسي حال کي انسان هيڅ نه سي کولی،بيله دي چي فرياد وکړي!**

**الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ الأنعَام : 65] (قُلْ هُوَ الْقَادِرُ عَلَىٰ أَن يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّنْ فَوْقِكُمْ أَوْ مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا وَيُذِيقَ بَعْضَكُم بَأْسَ بَعْضٍ ۗ انظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْآيَاتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُونَ)ووايه: هغه پر دې قادر دی چي پر تاسي کوم عذاب له پاسه نازل کړي يا ستاسي تر قدمونو لاندي يې را پورته کړي، يا تاسي پر ډلو وويشي، پر يوې ډلې باندي د بلې ډلې د زور خوند وڅکي. وګوره! موږ په څه شان په مکرره توګه له بېلا بېلو لارو څخه خپلې نښانې دوی ته وړاندي کوو، ښايي چي دوی په دې حقيقت وپوهيږي.**

*************

**بيا الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ النّحل : 112] (وَضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا قَرْيَةً كَانَتْ آمِنَةً مُّطْمَئِنَّةً يَأْتِيهَا رِزْقُهَا رَغَدًا مِّن كُلِّ مَكَانٍ فَكَفَرَتْ بِأَنْعُمِ اللَّهِ فَأَذَاقَهَا اللَّهُ لِبَاسَ الْجُوعِ وَالْخَوْفِ بِمَا كَانُوا يَصْنَعُونَ)الله د يوه کلي (د وګړو) مثال راوړی دی: هغه (د کلي اوسېدونکو) د ډاډيني او بيغمۍ ژوند تيراوه او له هر لوري ورته پريمانه روزي رسېدله. نو هغه (د کلي اوسېدونکو) د الله د پېرزوينو پر ناشکرۍ لاس پوري کړ، نو بيا الله د هغه پر اوسېدونکو د هغو د کړو وړو دا خوند وڅکه چي د لوږي او ويري غمونه پرې خواره شول؛**

***********

**دسورت نمل د61نمبرايات شريف څخه دويمه مانا دجاذبې دقوې اخيستلی سو،هغه دجاذبې قوه چي دمځکې پرمخ هرڅه دي خپل ځانه ته يې راکشوي،هغه چي دشيانو وزنونه ورڅخه سرچينه اخلي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستورپيژاندي دخوب په حال کي وه چي ناڅاپه دخوبه راپاڅيږي ولي چي دبي وزنی منطقې ته رسيدلي وه،خپل ځانونه په هوا کيويني چي دخلايې بيړی پرچت باندي موښتي دي او دبي وزنی احساس کوي.ياد حالت دڅه لږوخت لپاره زغمل کيدای سي مګر کلونه په ياد حالت کي ژوند کول ډېر ستونزمن دئ.بايد دځانه وپوښتو هغه څه چي زموږ دلاسونو څخه لويږي دچا په امر دمځکې پرمخ ارام نيسي او څوک دئ چي دجاذبې قوه يې پيداکړي ده؟طبعاً ځواب دادئ چي خدای جل جلاله يې پيداکونکی دئ.چا ای انسانه ستا دارتيا وړتول شيان په مځکه کي پيدا کړي دي؟ ايا داسي ځای چي هلته اوبه نه وي کولی سي ژوند وکړي؟

آيا بيله الله جل جلاله داسي څوک سته چي دپوهانو په وينا285زره ډوله غذا يې مادې يې دانسان دتغذيي لپاره پيداکړي دي.په رښتياسره چي دالله جل جلاله دسترو قدرتونو نښې زموږ په منځ اوزموږ دسترګو وړاندي دي،نيکبخته هغه دئ چي دهغو څخه پند واخلي اوبدبخته هغه دئ چي بابيزي يې وګڼي اوسرغړونکی ،سرکښي کوونکی سي،کفر اختيار کړي.الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ السَّجدَة : 21] (وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَىٰ دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ) له هغه لوی عذاب څخه مخکي به موږ په همدې دُنيا کښې (د يو نه، يو واړه) عذاب خوند په دوی باندي وڅکو، ښايي چي دوی (د خپلې سرکښی له کړنلاري څخه) راواوړي.**************بيا الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ الرُّوم : 41](ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ)

په وچه او لمده کښي د خلکو (د لاسونو) په عملونو سره فساد ښکاره شويدی؛ نو (الله) په دوی باندي د هغو عملونو (د سزا) خوند څکي چي دوی کړي دي، ښايي چي دوی راوګرځي.

***



(c) ketabton.com: The Digital Library



## هغه څوک دئ چي مځکه يې ستاسو دژوند کولو ځانګو وګرځول؟

موږ ديؤې سيارې پرمخ چي مځکه نوميږي دژوند کولو په حال کي يوو،مګر ولې دلمريز غونډال دټولو سيارو سره سره يؤازي مځکه دژوند کولو لپاره مناسبه او د هوسا ژوند تېرولو وړده؟ عطارد په پام کي نيسو،ديادې سيارې يؤ کال 88ورځې دئ چي څلور څلويښت ورځې يې پرلپسي شپه او 44 ورځې يې ورځ ده.آيا داسي يؤ ځاى چي 44ورځې يې پرلپسي شپه او 44وزځې يې ورځ وي دژوند کولو لپاره مناسب دئ؟

که موږ په عطارد سياره کي يوو او شپه وي نو چي هرڅومره بيديږو او راويښيږو ياده اوږده شپه به پاى ته نه رسيږي!دکال څلور موسمه دعطارد سيارې په همدې 88ورځوکي دي.ياده سياره په 88ورځو کي يؤځل دلمر دشاوخوا څخه راچورلي (راګرځي)ياني پوره دور پري وهي.پر همدې سربيره  عطارد بې هوا ده.ددې ځانګړونو په درلودلو سره عطارد سياره دژوند کولو وړنه ده.دزهرې دسيارې يؤ کال 225ورځې دئ چي لږ ترلږه نيم کال يې شپه او دکال پاته برخه يې په پرلپسي ډول ورځ ده.ديادې سيارې تودوخه دورځې دخوا د20درجې څخه پورته او شپې در منفي شل درجې کښته کيږي.آياداسي ځانګړني درلودونکي سياره چيري چي هوا او اوبه هم شتون نه پکښي لري دانسان دژوند کولو لپاره مناسبه ده؟

دمريخ سياره چي هره ورځ يې 24ساعته ده مګر يؤکال يې دمځکي د687کالو سره سمون خوري،ياني که چيري يؤ انسان هلته ژوند کوي دهغه دژوند په تېريدو دهغه داولادونو او لمسيانو دژوند په ختميدو سره هم نه سي کولی هغوئ نوى موسم ووينې،ياني ددوئ ټول ژوند به په ژمي کي هلته تېريږي او پسرلی به دعمر درپايه پوري ونه وينې،دوئ به ونه سي کولی چي دموسمونو دښکلا څخه خوند واخلې.

مريخ سياره دلمر دشاوخوا څخه په 687کلونو کي راګرځي،تودوخه يې درمنفي 70درجو پوري کښته کيږي،مريخ کي  داوبو او هوا دشتون هم څرک نه ليدل کيږي آياد داسي ځانګړني درلودونکي سياره کي يؤبنه ژوند کيداى سي؟دمشتري سياره چي ورځ يې دپنځو ساعتونو په تېريدوسره پاى ته رسيږي او  هرکال يې دمځکي د12کالو برابر دئ،تودوخه يې منفي 30درجي ده،ضخامت يې دمځکي دضخامت 4/1بابره دئ،په واقعت کي مشتري دغازونو څخه متشکله سياره ده، ښه نو آيا انسان په داسي سياره کي ښه ژوند کولی سي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنګه زحل سياره چي هر کال يې دمځکي د29کالو سره سمون خوري او دلمر څخه يؤمليارد اوڅلورسوه زرکيلومتره ليري ده، اورانوس سياره چي هر کال يې دمځکي 48کاله کيږي،نپتون چي هر کال يې دمځکي د169کالو هومره دئ،پلوتو چي هر کال يې دمځکي 247کالو سره برابردئ:آياداسي سيارې دژوند کولو لپاره مناسبې او ښه دي؟

بلکي يا!مځکه دانسان دژوند کولو لپاره ښه او وړځای ده. الله جل جلاله فرمايي: [سُوْرَةُ الزّخرُف : 10](الَّذِى جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ مَهْدًا وَجَعَلَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ)

هماغه ذات دی چي ستاسي لپاره يې دغه ځمکه زانګو وګرځوله او په دې کښې يې ستاسي لپاره لاري جوړي کړې، تر څو چي تاسي سمه لاره وموندلای شئ.******

څنګه کيدای سي چي موږ انسانان دخپلو ماشومانو لپاره هوسا اونرمه ځانګو چي دمعتدل حرارت (تودوخې) درلودونکي وي تياره کړو داسي چي دهغوئ لپاره دهراړخه ښه وي؟

مګر خدای جل جلاله دخپلو بندګانو: انسانانو سره داسي نه کوي بلکي الله جل جلاله په خپلې مهربانۍ سره مځکه دانسان لپاره دژوندکولو ځانګو:يؤ داسي ځای چيري چي انسان په رحت او هوساينې سره ژوند کولی سي پيداکړی دئ! خدای جل جلاله دمځکي ليروالی دلمر څخه په متوسطه ډول ټاکلی دئ يانې نه ډېر ليري چي مځکه ديخې په ټوټه بدله سي او نه ډېر نژدې چي مځکه داور په کندې بدله سي! دمځکي تودوخه يې درمنځي څلويښت درجې پوري ټاکلي ده،ضخامت يې ماينه،لمر،دجاذبې قوه،ورځنی تيزوالی،دموسمونو اوږدوالی يې متوسط او هرڅه يې دانسان دبدن دزغم سره وړ اوښه جوړ کړي دي اوخپل نعمت يې پرموږ پوره کړی دئ...الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ الزّخرُف : 10](الَّذِى جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ مَهْدًا وَجَعَلَ لَكُمْ فِيهَا سُبُلًا لَّعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ)هماغه ذات دی چي ستاسي لپاره يې دغه ځمکه زانګو وګرځوله او په دې کښې يې ستاسي لپاره لاري جوړي کړې، تر څو چي تاسي سمه لاره وموندلای شئ.

*****************************************

خدای جل جلاله په دې بيان او همدرنګه په دې ايات شريف سره :[سُوْرَةُ النّبَإِ : 6] أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهٰدًا)ايا داسي نه ده چي موږ ځمکه فرش غوړولې ده؛

*******يادونه:په تفسيرکابلی کي يې ديا د ايات شريف تفسير داسي کړی دئ:"چي خلګ په سکون او اطمنان پري ولګوې او هستوګنه پري وکړي او په ارامۍ او هوسائي (رحت)سره ناسته ملاسته پکښي وکړې"************

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ افکار بيدار،عقلونه هوښيار او زمونږ نظر يې خپل لورته متوجي کړی دئ. دامځکه زمونږ لپاره پيداسوې ده:آيا په دې کي مو آند کړی دئ؟ آيا په مځکه کي چي الله جل جلاله زمونږ دارام اوثبات ځای ګرځولی آند او غور کړی دئ؟هغه مځکه چي په ثانيه کي دخپل مدار څخه دېرش کيلومتره طی کوي آيا دهغې پرمخ دهغې دتګ له امله کوم شی تکان خوري،لړزيږي؟آيا يوه مانۍ ياودانۍ دمځکې دحرکت لکبله ورنه سوې ده؟ :[سُوْرَةُ النَّبَإِ : 6](أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهٰدًا) ايا داسي نه ده چي مونږ ځمکه فرش غوړولې ده؛
*********

دمځکې دشاوخوا هوا دمځکې سره دحرکت په حال کي ده:چي ښکلي،نرم او دهوا پا کوونکي بادونه منځ ته راولې چي انسان ته يې لا نوره هوساينه او ارامي وربخښلي ده!
که چيري داسي نه وای هوا ولاړه او مځکه دحرکت په حال کي وای:د1600کيلومترو په تيزوالي به سخت توپانونه پيښ سوي وای:ياد توپانونه به دومره خطرناک اونه زغمونکي وای چي دژونديو موجوداتو ژوندي پاتي کيدل به يې دمځکې پر مخ پای ته رسولي وای.
په لوړه کچه دتوپانونو تيزوالی په ساعت کي 600کيلومترو ته رسيږي:کله چي دتوپان سرعت 200کيلومترو ته په ساعت کي ورسيږي سترزيانونه درشا پريږدي که ديادو توپانونو تيزوالی 1600کيلومترو ته ورسيږي څه به پيښ سي؟[سُوْرَةُ النَّبَإِ : 6]
(أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهٰدًا)ايا داسي نه ده چي مونږ ځمکه فرش غوړولې ده؛******څنګه کيدای سي چي مځکه دي داوسيدلو ارام ځای وواوسي سرددې چي مځکه په زيات سرعت سره دحرکت او خوځښت په حال کي ده؟څنګه کيدای سي لويې مانۍ او ودانۍ دمځکې پرمخ پاته سي په داسي حال کي که مځکه لږ هم ولړزيږي هرڅه ورانيږي:مانياني،کورونه،پولونه او داوبو وياله؟ اې انسانه!ستا دبيداری او دغفلت دخوب څخه دراکښينستلولپاره ځيني وخت الله جل جلاله دمځکې لړزيدل:زلزلې تاته ښکاره کوي چي چي په يو څو ثانيو کي لوی ښارونه دخاور سره سم کړي. [سُوْرَةُ النَّبَإِ : 6] (أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهٰدًا )ايا داسي نه ده چي مونږ ځمکه فرش غوړولې ده؛*********** چا مځکه پر خپل تګ لوري تينګه ساتلي ده؟څوک دمځکې سرعت په کوچني قطر کي ډېر اوپه لوی قطر کي کموې؟څوک دمځکې ياد توپيرونه په ارامۍ اوبيله دې چي مونږ په وپوهيږو پيښوي؟آيا بيله الله جل جلاله بل کوم څوک ديادو کارونو دکولو قدرت لري ياي په توان کي سته چي يادکارونه دي وکړي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



[سُوْرَةُ النّبَإِ : 6](أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهٰدًا )ايا داسي نه ده چي موږ ځمکه فرش غوړولې ده؛
*************

ځوک دئ چي مځکي ته يې مناسب حرارت بخښلى دئ:که مځکه ودريږي دمځکي حرارت به دورځې در 350درجو پورته اودشپې منفي 270درجوته ورسيږي.
ښه نو ځوک دئ چي شپه اورځ يې زموږ دخوب اوبيدارى لپاره پيداکړي دي؟
شريف سره :[سُوْرَةُ النّبَإِ : 6](أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهٰدًا)ايا داسي نه ده چي موږ ځمکه فرش غوړولې ده؛ ***********کله چي دقرانکريم تلاوت کوئ په اياتونو کي يې ژورآند کوئ.کله چي الله جل جلاله فرمايي :[سُوْرَةُ النّبَإِ : 6](أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهٰدًا)ايا داسي نه ده چي موږ ځمکه فرش غوړولې ده؛ ********غور وکړئ چي څنګه مځکه زموږ لپاره په داسي ډول جوړه سوي چي هرڅه پکښي زموږ لپاره مناسب او وړدي.غور وکړئ چي څنګه مځکه الله جل جلاله په مناسبه اندازه او سرعت سره پيداکړي ده او هغه يې په اوبو،هوا،لمر،نباتاتو،حيواناتو،شپه او ورځ حرکت او دجاذبې قوې په شتون کي زموږ داړتياوو پوره کوونکي پيداکړي ده.
آندو کړي چي څنګه يې تاسوته دوې ښې،دوه لاسونه،دوې سترګې،دوه ښنتورګې،دوه سږي،پوزه،ميلياردونه عصابي حجرات او دبدن نور پيچلي جوړښتونه،پياوړى عقل او مغز خبرې کوونکي ژبه اوريدونکي غوږونه اونورډېر زيات نعمتونه بخښلي دي.

ښه نو دالله جل جلاله په مخلوقاتو کي آند اوغوروکړئ ترڅو دخپل خالق جل جلاله پر سترو سترو نعمتونو شکر وکاږئ او دهغه جل جلاله او دهغه درسول صلى الله عليه وسلم امور ته غاړکښيږدئ.الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ فَاطِر : 28](وَمِنَ النَّاسِ وَالدَّوَآبِّ وَالْأَنْعٰمِ مُخْتَلِفٌ أَلْوٰنُهُ كَذٰلِكَ ۗ إِنَّمَا يَخْشَى اللَّهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَٰٓؤُا ۗ إِنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ) او په همدې ډول د انسانانو، څناورو او څارويو رنګونه هم مختلف دي. حقيقت دا دى چي د الله د بندګانو څخه يوازي عالمان د هغه څخه ويريږي. بېشکه الله برلاسى او ښنونکى دى.
************

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دمځکې تېزوالی(سرعت)

دوه اياتونه په قران کريم کي شتون لري چي دمځکې تېزوالي ته په کښي اشاره سوي ده.
لومړی ايات شريف دغه دئ:[سُوْرَةُ النَّمل : 61] [أَمَّنْ جَعَلَ الْأَرْضَ قَرَارًا وَجَعَلَ خِلٰلَهَآ أَنْهٰرًا وَجَعَلَ لَهَا رَوٰسِىَ وَجَعَلَ بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ۗأَءِلٰهٌ مَّعَ اللهِ ۚبَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ]
او هغه څوك دی چي ځمکه يې ارام ځای وګرځوله، په هغې کښي يې سيندونه وبهول او (دغرونو ميخونه) يې پکښې ټکوهل او د اوبو د دوو ذخيرو په منځ کښي يې پرده حائله کړه؟ - ايا له الله سره کوم بل خدای هم (پدغو چارو کښي شريك) دی؟ - نه، بلکي له دوی څخه زياتره خلك ناپوهان دي.********* په دويم ايات شريف کي الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ المؤمن/غَافر : 64] [اللهُ الَّذِى جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ قَرَارًا وَالسَّمَآءَ بِنَآءً وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ وَرَزَقَكُمْ مِّنَ الطَّيِّبٰتِ ۚذٰلِكُمُ اللهُ رَبُّكُمْ ۖفَتَبَارَكَ اللهُ رَبُّ الْعٰلَمِينَ]
هغه خو همدا الله دی چي ستاسي لپاره يې ځمکه ارام ځای وګرځوله او پاس يې د اسمان ګمبته جوړه کړه. هغه ستاسي صورت جوړ کړ او ډېر ښکلی يې جوړ کړ، هغه تاسي ته د پاکو شيانو روزي درکړه. هماغه الله (چي دغه يې کارونه دي) ستاسي رب دی. الله د بې حسابه برکتونو څښتن دی، هغه د مخلوقاتو رب دی.
*********

دمځکې سرعت دخدای جل جلابه دلويو نښو څخه يوه نښه ده چي ډېر وګړي ورته نسبتً ډېر غور اوپام نه کوي.مځکه داستوا په ليکه کي د1600کيلومترو په تېزوالي خپل پرځان سره راڅرخي،همدارنګه مځکه دلمر دشاوخواڅخه په ثانيه کي د30کيلومتروپه تېزوالي څرخي،ياني مځکه ددوه ډوله حرکت درلودونکي ده:وضعي اوانتقالي،مګر دمځکې ديادو او نورو حرکتوپه شتون کي هم مځکه دپوره ارام او اسقرار خاونده ده او دګوتې ديوه بند په اندازه هم تکان او لړزه نه لري.که مځکه لړزيدای:دمځکې پرمخ به ټولې ودانۍ نړيدلي وای. خدای جل جلاله پوښتي چي[سُوْرَةُ النَّمل : 61][أَمَّن جَعَلَ الْأَرْضَ قَرَارًا ](او هغه څوك دی چي ځمکه يې ارام ځای وګرځوله،)******څوک دئ چي مځکه يې دارام او قرار په حال کي ساتلي ده؟اې موږ اوتاسو ناتونه بندګانو هغه ساتلي ده او آيا داکار مو په توان کي سته،ښه نو بيا ولې هغه وخت چي يو ښار زلزله خرابوي دهغه دورانيدلو او خرابيدلو مخه نه سو نيولی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



که داسي وسي چي الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ الحِجر : 74] [فَجَعَلْنَا عَلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّنْ سِجِّيلٍ ] او موږ هغه سيمه پر بل مخ نسکوره کړه او پر هغو مو د پخې شوي ختې د تيږو باران ووروه.*****

څه کوئ آيا کولی سئ دمځکې دلړزيدو او ورانيدو څخه مخنيوی وکړئ؟آيا کولی سئ ورسته دمځکې درلړزيدو مځکه بيرته خپل لومړي حالت ته ستنه کړئ؟ انسانان داکارنه سي کولی بلکي خدای جل جلاله کولی سي داسي کار وکړي چي فرمايي:[سُوْرَةُ النَّمل : 61][أَمَّن جَعَلَ الْأَرْضَ قَرَارًا ](او هغه څوك دی چي ځمکه يې ارام ځای وګرځوله،)*****

دځان څخه پوښتنه وکړئ هغه کورچي دنړی په يوه پرمختللي ښار کي مو په لسګونو ميليونو ډالرو رانيولی،ورسته دردې چي مځکه لړ ولړزيږي او ياد کور وران سي:څه کولی سئ؟ ښه نو په دې ايات شريف کي ژور آند وکړئ:[سُوْرَةُ النَّمل : 61][أَمَّن جَعَلَ الْأَرْضَ قَرَارًا ](او هغه څوك دی چي ځمکه يې ارام ځای وګرځوله،)****

په يوې پرمختللي الوتکي کي سپاره سئ او يوار دهغې وزرونو ته پام وکړئ:وبه وينئ چي دالوتکه راسته اوچپه سمت ته تکان خوري:آيا کولی سئ په داسي الوتکه کي سفر وکړئ چي هيڅ ډول تکان نه خوري؟ مګر مځکه دخپلو ټولو حرکتوسره دارام استقرار په حالت کي ده ، دسلګونو زرو کلونو په تېريدو بيا هم په خپل لومړي حال پاته ده اوهيڅ ډول توپير،تحول په هغې کي نه سی پيداکولی دا دمځکې دارام والي او استقرار نښه ده.:[سُوْرَةُ النَّمل : 61][أَمَّن جَعَلَ الْأَرْضَ قَرَارًا ] (او هغه څوك دی چي ځمکه يې ارام ځای وګرځوله،)
*************

الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ النَّمل : 88][وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ۚ صُنْعَ اللهِ الَّذِىَ أَتْقَنَ كُلَّ شَىْءٍ ۚ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ] نن ته غرونه وينې او ګومان کوې چي ښه کلك ښخ شويدي. خو په هغه وخت کښي به دا د وريځو په څېر الوتونکي وي، دا به د الله د قدرت نښانه وي چي هر شی يې په حکمت سره بر قرار کړيدی. هغه ښه خبر دی چي تاسي څه کوئ.*******

په دې ايات شريف کي دغرونو حرکت ته دوريځو په سرعت اشاره سوې ده او داد مځکې دوضعي حرکت دليل دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مځکه په هره ثانيه کي نيم کيلومتر پر خپل مر کز باندي راڅرخي ځکه چي دمځکي محيط 40000زره کيلومتره دئ ياني ورسته در24ساعتونو درتېريدلو خپل دحرکت لومړي ټکي ته راګرځي. دمځکي دتېزوالي دمالومولو لپاره بايد دمځکي دمدار دکيلومترو اندازه چي څلويښت زره کيلومتره ده پر څلرويشت ساعته وويشو چي په ساعت کي 6/1666کيلومتره کيږي،همدا دمځکي دوضعي حرکت سرعت په يوه ساعت کي ښيي. څوک دئ چي مځکي ته يې په پوره ډول ارام او قرار وربخښلى دئ،سره ددې چي مځکه پر خپل مرکز سره راڅرخي،مځکه دلمر دشاوخوا څخه راچورلي،مځکه دلمر په ګډون ديوبل ټکي څخه راګرځي،همدارنګه مځکه،لمريز غونډال او کهکشان چي دڅرخيدو په حال کي دي هيڅ کومه اغيزه دمځکي پر ارام او استقرار نه لري. په واقعت کي دټولو کايناتو څرخيدل چي الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ يٰسٓ : 40] ]لَا الشَّمۡسُ يَنۢبَغِى لَهَآ أَن تُدۡرِكَ الۡقَمَرَ وَلَا الَّيۡلُ سَابِقُ النَّهَارِ ۚ وَكُلٌّ فِى فَلَكٍ يَسۡبَحُونَ] نه د لمر په وس کښي دا شته چي سپوږمی ونيسي او نه شپه پر ورځي مخکي کېدلای شي. دا ټول په يو يو فلك (مدار) کښي لامبو وهي (په اسمان کي چورلېدونکي دي).******دمځکې پر استقرارکومه اغيزه نه لري!



(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مځکې دجاذبې قوه او دشيانو ثابتوالی،ټينګولی

اند وکړئ يؤ وګړی په تشيالي (فضايي)بيړئ کي سپور سو،دمځکي دجاذبي قوې دميدان څخه په وتلو:هغه ځای چي هلته وزن مانا نه لري، که هلته کوم شی پرېښنو دل سي په تشيالي بيړی کي الوزي او پر چت يې موښلي ښه نو اوس چي موږ دارام او قرار دنعمت څخه برخمن يو دخپل ځان څخه به وپوښتو چي چا دمځکي پر مخ ټولو شيانو ته ارام او قرار ورکړی او هغه يې ثابت ساتلي دي؟الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ الأنعَام : 102]

[ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمۡ‌ۚ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ‌ۚ خَالِقُ كُلِّ شَىۡءٍ فَاعۡبُدُوۡهُ‌ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَىۡءٍ وَّكِيۡلٌ]

هم دغه الله ستاسي رب دی، هيڅ کوم بل خدای له هغه پرته نشته، د هر څه خالق دی. نو له دې امله تاسي د هماغه بندګي وکړئ؛ او هغه د هر شي ساتونکی څارونکی دی؛*****

که چيري دمځکي تېزوالی ډېر يادوه چنده سي:ټول شيان به دهسک لورته وغورځيږي او هيڅ شی به پرمځکه پاته نه سي. که موږ په يؤه لوښي کي اوبه واچوو او هغه په مناسبه اندازه وڅرخوو دياد لوښي څخه به اوبه دباندي ونه تښتي:ځکه دجاذبې قوه دياد کار مخنيوی کوي. پوښتو چا دجنوبي نيمې کرې اوبه په مځکې پوري موښتي په مځکه کي خوندي ساتلي دي؟ په يادو اياتونو کي الله جل جلاله زموږ پام دمځکي دجاذبې قوې ته اړوې. ښه نو بريا او مبارکي دي وي هغه چاته چي دقرانکريم په اياتونو کي ژور اند او غور کوي:ځکه چي په اسلام کي اند او فکر کول لوی ځای لري. الله جل جلاله فرمايي:

[سُوۡرَةُ يُونس : 101](قُلِ انْظُرُوا مَاذَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَمَا تُغْنِي الْاٰيٰتُ وَالنُّذُرُ عَنْ قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُوْنَ) دوی ته ووايه: "په اسمانونو او ځمکه کښي چي څه دي، هغه په غړېدلو سترګو وګورئ!"- او کوم خلك چي له سره ايمان راوړل نه غواړي، د هغو لپاره نښاني او اخطارونه مدافع او ګټور کېدای نه شي.

***********************



(c) ketabton.com: The Digital Library



# غرونه

**پاک الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ المُرسَلات : 27] وَجَعَلْنَا فِيهَا رَوَاسِيَ شَامِخَاتٍ وَأَسْقَيْنَاكُمْ مَّاءً فُرَاتًا) او په هغې کښې مو دنگ او لوړ غرونه ښخ ودرول؛ او پر تاسي مو خوږې اوبه وڅښلې. ***************

**بيا الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ الغَاشِيَة : 17]أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ)نو ايا دوی اوښ ته نه گوري چي څنگه پيدا کړ شوی دی؛[سُوۡرَةُ الغَاشِيَة : 18]وَإِلَى السَّمَاءِ كَيْفَ رُفِعَتْ او اسمان ته نه گوري چي څنگه اوچت کړای شوی دی؛[سُوۡرَةُ الغَاشِيَة : 19]**

**وَإِلَى الْجِبَالِ كَيْفَ نُصِبَتْ)او غرونو ته نه گوري چي څنگه ښخ درول شوي دي؟**

*********************

**په دې ايات شريف کي په غور کولو موندو چي الله جل جلاله موږ ته صرحتً په غرونو کي آند کولو اودهغوئ په داسي ډول ښخ درولو ته غور کولو ته رابولي.**

**غرونه دميخونو په شان دي چي 2:3برخه دهغوئ دمځکې په زړه کې ښخه يا شتون لري چي ياده برخه يې دمځکې دبيلا بيلو پوښوونو څخه تيرېږي:ترڅو دمځکې دغه لايې (پوښونه)دمځکي دڅرخيدو په وخت کي ديوبل څخه ليري نه سي او ديو بل سره موښتي و اوسي.**

**يوبله خبره چي دغرونو دهيرانوونکي جوړښت په اړه ده هغه داده چي:کومه برخه دغرونو چي موږ په خپلو سترگو وينو هغه يوازي دغره 1:3برخه ده،پاتي دوې برخې دغره دمځکې په زړه کي دي. دهيماليا دغره لوړه څوکه (ايورسټ)د8000څخه زيات لوړوالی لري چي ياد لوړوالی دټول غره لوړوالی نه دئ بلکي دا 8000متره لوړوالی دغره دريمه برخه لوړوالی دئ. د ياد او پاتي ټولو غرونو دوې برخې لوړوالی دمځکې په زړه کي ځای لري چي موږ يې نه سوليدای،همدا وجه ده چي الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ النَّازعَات : 32]وَالْجِبَالَ أَرْسَاهَا او غرونه يې په کښې ښخ درولي دي؛[سُوۡرَةُ النَّازعَات : 33]مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَامِكُمْ**

**د ژوندانه د وسائلو د برابرولو په غرض، ستاسي او ستاسي د څارويو لپاره (يې دا کړني تر سره کړي دي).***په دې ايات کي په آند کولو:[سُوۡرَةُ النّحل : 81] وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُم مِّمَّا خَلَقَ ظِلَالًا وَجَعَلَ لَكُم مِّنَ الْجِبَالِ أَكْنَانًا وَجَعَلَ لَكُمْ سَرَابِيلَ تَقِيكُمُ الْحَرَّ وَسَرَابِيلَ تَقِيكُم بَأْسَكُمْ ۚ كَذَٰلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُونَ)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د خپلو پيدا کړو، زياتره شيانو څخه ستاسي له پاره سيوري برابر کړل. په غرونو کښي يې ستاسي لپاره پناه ځايونه جوړ کړل، او تاسي ته يې داسي پوښاکونه در په برخه کړيدي چي د ګرمۍ څخه مو ساتي او ځيني نور پوښاکونه چي په خپل منځي جګړو کښي ستاسي ساتنه کوي. په دغه ډول هغه پر تاسي باندي خپل نعمتونه بشپړ وي، ښايي چي امر منوونکي شئ. ******************

دغرونو دريمه ځانګړنه هم روښانه کيږي اوهغه داده چي دسمندر دغاړې ياساحل دغرونو دشا لورى په پوره ډول وچ اوبې اوبو سوى وي ،تونـد اوسرکښه بادونـه پـه يادځای يانې ساحل کي نه ښکاره کيږي، دبيلګې په ډول که چيري تاسو دحمص دښار دلارې دحلب ښارته سفر وکړئ: وبه وينئ چي ټولې ونې له دې کبله چي هلته دغرددو برخو ترمنځ يو درز دئ کږې يا په ما يل شکل دي.

ښه نو يو دصفتونو څخه دغرونو پېتنځای دئ ؛يانې غرونه دبادونو منعه کوونکي دي غرونه دبادونو مخ ته خنډ ګرځي او دروې يې.

## دغرونو څلورمه ځانګړنه :

الله جل جلا لـه فرمايي:[سُوۡرَةُ الرّعد : 3] وَهُوَ الَّذِى مَدَّ الۡأَرۡضَ وَجَعَلَ فِيهَا رَوَٰسِىَ وَأَنۡهَٰرًا‌ۖ وَمِنۡ كُلِّ الثَّمَرَٰتِ جَعَلَ فِيهَا زَوۡجَيۡنِ اثۡنَيۡنِ‌ۖ يُغۡشِى الَّيۡلَ النَّهَارَ‌ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّقَوۡمٍ يَتَفَكَّرُونَ)او همغه دى چي دا ځمکه يې غوړولې ده، په دې کښي يې د غرونو ميخونه ټکوهلي دي او سيندونه يې بهولي دي. همغه د هر راز مېوو جوړې دوه پيدا کړي دي او پر ورځي باندي شپه خوروي. په دې ټولو شيانو کښي د هغو خلکو لپاره ستري نښانې دي چي لـه غور او فکر کولو څخه کار اخلي. *********

هغه څه چي زيات ددې ايات شريف څخه څرګنديږي دغرونو اوسيندونو ترمنځ اړيکه ده،په حقيقت کي غرونـه دسيندونو سرچيني دي،يانې سيندونو دغرونـو څخـه رابهيږي. پنځمـه ځانګړنه دغرونو الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ النّحل : 15]وَأَلۡقَىٰ فِى الۡأَرۡضِ رَوَٰسِىَ أَن تَمِيدَ بِكُمۡ وَأَنۡهَٰرًا وَسُبُلًا لَّعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ)

هغه په ځمکه کښي د غرونو ميخونه ټکوهل، چي ځمکه پر تاسو ونه څرخيږي. هغه سيندونه وبهېول او لاري يې جوړي کړې، چي تاسي لاره ومومئ.

*****************

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ لپاره خاورينه مځکه دخپل تېز سرعت په درلودلو بايد دلړزيد اوښوريدو سره مخ سوي واى،مګر دغرونو په مناسيبو او ورځايونو کي دالله جل جلاله دلوري په پيداکيدو يا ميخيدو سره داخاورينه سياره دلړزيدو څخه ساتل سوي ده اوپه غرونو سره پاک الله جل جلاله مځکه په پوره ډول دپوره ارامولي اوثبات خاونده کړي ده چي ددې ايات شريف ددې برخې (وَأَلْقَىٰ فِي الْأَرْضِ رَوَاسِيَ أَن تَمِيدَ بِكُمْ) هغه په ځمکه کښي د غرونو ميخونه ټکوهل، چي ځمکه پر تاسو ونه څرخيږي.*******

مانا همداده ياني دغرونو شتون ددې سبب سوى دئ چي مځکه دخپل تېز سرعت په شتوم کي دلړزيدو،ښوريدو څخه خوندي وي.دغرونو شپږمه ځانګړنه:الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ النَّمل : 61]أَمَّن جَعَلَ الْأَرْضَ قَرَارًا وَجَعَلَ خِلَالَهَآ أَنْهٰرًا وَجَعَلَ لَهَا رَوَاسِيَ وَجَعَلَ بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ۗأَءِلَٰهٌ مَّعَ اللهِ ۚبَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ)

او هغه څوك دى چي ځمكه يې ارام ځاى وګرځوله، په هغې كښې يې سيندونه وبهول او (دغرونو ميخونه) يې پكښې ټكوهل او د اوبو د دوو ذخيرو په منځ كښې يې پرده حائله كړه؟ - ايا له الله سره كوم بل خداى هم (پدغو چارو كښـې شريك) دى؟ - نـه، بلكي لـه دوى څخه زياتره خلك ناپوهان دي.

****** څوک دئ چي مځکي ته يې پوره ارام اوسکون وربخښلى دئ ؛په داسي حال کي چي مځکه په ثانيه کي د30کيلومترو په تېزوالي دحرکت په حال کي ده او ديؤزر شپږسو کيلومترو په تېزوالي په ساعت کي پرخپل ځان دراڅرخيدو په حال کي ده،مګر ددې ټوله سرعت سره سره هم يؤه ودانى لا نه ورانيږي. که چيرې الله جل جلاله مځکي ته دا استقرار نه واى وربخښلى نو په يؤه کوچني تکان به دمځکي پرمخ ټولي ودانى او آبادئ لمنځه تللي واى! ښه نو راځئ چي ښه غور وکړو چي الله جل جلاله څه فرمايي:[سُوْرَةُ النَّمل : 61]

أَمَّن جَعَلَ الْأَرْضَ قَرَارًا وَجَعَلَ خِلَالَهَآ أَنْهٰرًا وَجَعَلَ لَهَا رَوَاسِيَ وَجَعَلَ بَيْنَ الْبَحْرَيْنِ حَاجِزًا ۗأَءِلَٰهٌ مَّعَ اللهِ ۚبَلْ أَكْثَرُهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ) او هغه څوك دى چي ځمكه يې ارام ځاى وګرځوله، په هغې كښې يې سيندونه وبهول او (دغرونو ميخونه) يې پكښې ټكوهل او د اوبو د دوو ذخيرو په منځ كښې يې پرده حائله كړه؟ - ايا له الله سره كوم بل خداى هم (پدغو چارو كښـې شريك) دى؟ - نه، بلكي له دوى څخه زياتره خلك ناپوهان دي.

***********

(c) ketabton.com: The Digital Library



**همدارنګـه يؤبـل شـی چـي پـه لانـدي ايـات شـريف کـي روښـانه سـوی دئ ؛الله جـل جلالـه فرمايي:[سُوۡرَةُ المُرسَلات : 27] وَجَعَلۡنَا فِيهَا رَوَٰسِيَ شَٰمِخَٰتٍ وَأَسۡقَيۡنَٰكُم مَّآءً فُرَاتًا)**

**او په هغې کښې مو دنګ او لوړ غرونه ښخ ودرول؛ او پر تاسي مو خوږې اوبه وڅښلې.**

**************

**پوهان وايي :دغرونو دمساحت په نظر کي نيولو سره دمځکې مساحت دخپل اوسني مساحت څلور برابره کيږي ياني که دغره دخوا نيول سوی مساحت خپل دغره سره مقايسه کړو وبه وينو چي پنځه واحده کم درهغه دئ.**

**ښـه نـو دې غرونـو مسـاحت تـه پراخـوالی ورکـړی دئ،هـوا يـې ښـه،پاکه اوخونـدوره کـړې ده،نورې دندې هم کيداسي ولري چي په هغوبانـدي يؤازي الله جل جلالـه علـم لـري پـه همـدې خاطر الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ الغَاشِيَة : 17]أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى ٱلۡإِبِلِ كَيۡفَ خُلِقَتۡ) نـو ايـا دوی اوښ ته نه ګوري چي څنګه پيدا کړ شوی دی؛[سُوۡرَةُ الغَاشِيَة : 18]وَإِلَى ٱلسَّمَآءِ كَيۡفَ رُفِعَتۡ)او اسمان ته نه ګوري چي څنګه اوچت کړای شوی دی؛[سُوۡرَةُ الغَاشِيَة : 19] وَإِلَى ٱلۡجِبَالِ كَيۡفَ نُصِبَتۡ )او غرونو ته نه ګوري چي څنګه ښخ درول شوي دي؟**

****************



(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپين زر

په يوځای کي ليکل سوي وه چي "دګازي ښيښنو دجوړولو په کارخايونو کي کله چي هغوئ خپل داړتيا وړ اوبه په ورستي پړاو کي دسپينو زرو دميلو څخه تيره وي ترڅو په اوبو کي سته ميکروبونه دمنځه ولاړسي. څه موده ورسته مي په يوکتاب کي چي دفلزاتو په اړه ليکل سوی وو دسپينو زرو درعنوان لاندي مي دا متن ولوستی،ماته جالبه داوه چي دياد متن ليکوال مسلمان هم نه وو!"سپين زر ديوې موهيمې (اړينې) ځانګړنې درلودونکي دي چي کولی سي ټول د اوبو په دننه کي ميکربونه دمنځه يوسي. ياده ځانګړنه د سپينو زرو،دهغوئ دځانګړو تشعشاتو لکبله ده.

که موږ وغواړو اوبه دميکروبو څخه پاکي کړو کولی سو اوبه دسپينو زرو دميلو يا دسپينو زرو ټوټې په اوبو کي کښيږدو ترڅو اوبه دمايکرو اورګانيزمونو څخه پاکي سي.

په يو بل ځای کي ليکل سوي وه چي" دا فلز(سپين زر)دباکتريـاوو قاتل دئ" اوبيايې ليکلي وه "که غواړو يوليټر اوبه پاکي کړو نو ديوه ګرام سپينو زرو ميلياردمه برخه بايد په اوبو کي حل کړو،بسنه کوي چي يو ليټر اوبه دي دميکروبونو څخه پاکي سي. يوه بله ځانګړنه دسپينو زرو داده چي کولی سو دهغوئ په مرسته دهوا پاکي او نا پاکي مالومه کړو ولې چي :سپين زر په ناپاکه هوا کي خپل رنګ ته بدلون ورکوي او دا ښکاره کوي چي په هوا کي زهري ګازونه شتون لري.

ديادو ځانګړو نو سربيره سپين زر نورې ځانګړنې هم لري چي بشر ورڅخه په صنعت کي ګټه اخلي او په بيلا بيلو بربښنايي او نورو وسأيلو کي کاريږي. دټولو فلزاتو دنرخ معيار هم دسپينو زرو پـه مټ ټاکل کيږي؛پردې ټولو سربيره الله جل جلالـه فرمايي: [سُوْرَةُ ٱلدَّهْر/الإنسَان : 15](وَيُطَافُ عَلَيْهِمْ بِآنِيَةٍ مِّنْ فِضَّةٍ وَأَكْوَابٍ كَانَتْ قَوَارِيرَا)د هغو مخي ته به د سپينو زرو لوښي او د ښيښنو ګيلاسونه ګرځول کيږي؛[سُوْرَةُ ٱلدَّهْر/الإنسَان : 16]قَوَارِيرَا مِنْ فِضَّةٍ قَدَّرُوهَا تَقْدِيرًا )ښيښې، هم هغه چي د سپينو زرو په ډول به وي او هغه به (د جنت خدمتکارانو) په سمه اندازه برابر ډك کړي وي.*****

ډېر دغور ځای دئ چي ولې الله جل جلاله په دې ځای کي دسرو زرو ذکر ونه کړ په داسي حال کي چي دسپينو زرو څخه ګران بيه هم دي او يو دهغو فلزاتو دډلې څخه دي چي دجنت بختور اوسيدونکي به يې کاروي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**روښانه ده: په دې دليل چې دسپينو زر ارزښتمنې ځانګړنې موږ ته لانورې څرګندې سي والله اعلم. بايد دا هم پر زياته کړو :ځکه چې په قرآن کريم کې دبشر دعلومو اساسي اصول شتون لري؛**

***********************************************



**سپين زر**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دبادونو د لوري بدلون

**ېؤدهغو اياتونودډلې چي د الله جل جلا لـه لويې نوره هم موږ تـه ښـه ښـكاره كوي دبقري سورت 164نمبر ايات شريف دئ الله جل جلالـه فرمـايي: [سُوْرَةُ البَقَرَة : 164]إِنَّ فِى خَلْقِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلٰفِ الَّيْلِ وَالنَّهَارِ وَالْفُلْكِ الَّتِى تَجْرِى فِى الْبَحْرِ بِمَا يَنفَعُ النَّاسَ وَمَآ أَنزَلَ اللّٰهُ مِنَ السَّمَآءِ مِنْ مَّآءٍ فَأَحْيَا بِهِ الْأَرْضَ بَعْدَ مَوْتِهَا وَبَثَّ فِيهَا مِن كُلِّ دَآبَّةٍ وَتَصْرِيفِ الرِّيٰحِ وَالسَّحَابِ الْمُسَخَّرِ بَيْنَ السَّمَآءِ وَالْأَرْضِ لَءَايٰتٍ لِّقَوْمٍ يَعْقِلُونَ)**

**(ددې حقيقت پېژندني لپاره كه كومـه نښـه نښـانه پـه كـار ده، نـو) د اسمانونو او ځمكي پـه جوړښت كي، يوه په بلې پسې د شپې او ورځي پـه پرلـه پسې راتګ كښې، پـه هغو بېړېو كښي چي د انسانانو د ګټي وړ شيانو د وړلـو راوړلـو لپاره پـه سيندونو او سمندرونو كښـي ګرځي راګرځي، د باران په هغو اوبو كښي چي الله يې له پاسه را اوروي او د هغو پـه وسيله ځمكه ژوندۍ كوي او په خپل دغه انتظام سره يې پـه ځمكـه كښـي هر راز ساه كښـان خـواره كړيدي، د بادونو په لګېدو كښي او په هغو وريځو كښي چي د اسمان او ځمكي په منځ كښي د امر ښكيل دي؛ د هغو خلكو لپاره بې شمېره نښاني دي  چي د پوهي څخه كار اخلي.**

*********

**بادونه دانسانانو اونـورو ژونـديو موجوداتـو دژونـد اړتيـا او اسباب دي.اوس بـه پـه دې خبره ځان وپوهو چي الله جل جلاله بادونو ته څنګه بدلون وركوي:پوهـان وايي،كـه يوجامدياسخت جسم او اوبـه يؤځـاى ديوې اندازې تـودوخي لانـدي كښـېږدو،داوبو تودوخـه بـه دمـالوم وخـت دتيريدلو ورسته دجامد جسم درتودوخي كمه وي.**

**په يؤې بلې ازموينې كي دا قضيه لاښه ثابتيداى سي، كـه يؤجامـد جسم او اوبـه ديـؤه سـاعت لپـاره دلمر تـودوخي تـه كښـېږدو وبـه وينـو چي دابـو دتـودوخي درجـه تـر 6او دجامـد جسم دتـودوخي درجـه بـه در10درجـو پـوري پورتـه تللـي وي، ښـه نـو اوبـه دحرارت پـه اخيسـتلو اومخه نيولو كي درنورو اجسامو ښه عمل كوي.په همدې خـاطر پـه سـاحلي سيمو كـي دوچې حرارت داوبـو در تـودوخي زيـات وي،همدعلت دى چي دوچې هوا منبسطه سي لـوړ لورتـه حركت وكړي اوبيا رقيقه سي په پايله كي يې دهو فشـار هم كميږي دبلـي خـوا پـه همـدې حـال كي دسمندر هوا غلظه، يخـه اودهـوا فشـار يـې ډېـر سي او دوچې لورتـه حركت وكړي ترڅـو دهغې هوا ځاى ونېسي كومه چي پورتـه تللـې ده،همدا علت دى چي دسمندر غاړه دماپښين**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ورسته دهغه شمال خاونده وي کوم باد چي خونک او د وچې لورته دحرکت په حال کي وي.**

**ښه نودالله جل جلاله ددې ايات شريف منظور (وَتَصْرِيفِ الرِّيٰحِ )څخه همدادی،والله اعلم***

**امام طبري په خپل تفسير کي دهمدې ايات شريف په اړه وايي:راجح اند د(وَتَصْرِيفِ الرِّيٰحِ )څخه،دالله جل جلاله دطرفه دمختليفو ماموريتونو ورکړه وه باد ته ده:ځيني وخت دنباتاتو القاح اودهغوی دنسل دېرښت، ځيني وخت دعذاب په بڼه ؛چي باد هرڅه نابودوي،،،**

**ځيني عرب لغات پيژندونکي وايي:(وَتَصْرِيفِ الرِّيٰحِ ) ياني بادونه يؤار دجنوب يوار دشمال لويديځ اوختيځ دلوري وي.والله اعلم**



# اوسپنه

**الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ الحَدِيد : 25](لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنٰتِ وَأَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتٰبَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِۖ وَأَنْزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنٰفِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللهُ مَنْ يَنصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَيْبِ ۚ إِنَّ اللهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ )موږ خپل پېغمبران له روښانو څرګندو نښانو اوهداياتو سره ولېږل؛ او له هغو سره مو کتاب او تله نازل کړل، تر څو چي خلک پرعدل ولاړ وي. او اوسپنه مو راکوزه کړه چي په هغې کښې ډېر زور دی او د خلکو لپاره ګټي دي. دا د دې لپاره شويدي چي الله معلومه کړي چي څوك د هغه له ليدلو پرته د هغه او د هغه د پېغمبرانو مرسته کوي. بېشکه الله ډېر قوی او برلاسی دی.**

*************

(c) ketabton.com: The Digital Library



فضا پوهان ستور پيژاندي پردې باور دي چي آسماني ډبرې چي دهسک لوی او کوچني جسمونه دي. ديادو ډبرو ډېره برخه اوسپنه جوړوي. دا چي دانسان دخوا لومړی موندل سوی،کشف سوی فلز اوسپنه ده. ښه نو دا خبره په اثبات رسيږي چي اوسپنه په خپله ښه يا دآسماني ډبرو په ښه ځمکې ته را لويدلي،راغورځول سوي يا را استول سوي ده. دکاله په زرګونو آسماني ډبرې پر ځمکه را لويدلي يا موښتي،چي دځينو هغو وزن يې سلګونو ټنو ته رسيږي. دبيلګې په ډول په امريکا کي يوه آسماني ډبره وموندل سول چي وزن يې 62ټنو څخه ډېر وو او د دوو عنصرونو اوسپنې او نيکل څخه (تشکيل) سويه جوړه سويه وه.

په آيزونا ايالت کي يوبله آسماني ډبره چي د دوو سوو مترو په ژور والي او دزرو مترو په پراخوالي يې يوه کنده جوړه کړي وه وموندل سول. ديادې آسماني ډبرې دپارچو څخه لسګونه ټنه اوسپنه چي دنيکل سره ګډه وه راووتل.

دقرآنکريم ددې ايات شريف دابرخه چي الله جل جلاله فرمايي (وَأَنزَلْنَا الْحَدِيدَ)موخه خورا روښانه سوه مګر ددې ايات په دې برخه کي چي الله جل جلاله فرمايي

(فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ ) دلته داوسپنې دډبرې پياوړتيا اوډېرو ګټو څخه کومه پياوړتيا اوګټې مطلب دي چي ورته اشاره سوې ده. په ځواب کي بايد وويل سي:پوهان داوسپنې په اړه دې پايلې ته رسيدلي دي چي اوسپنه دډېرې مودې لپاره پاته کيدای سي ياني ډېر دوام درلودای سي زورلري او دفشار په وړاندې ډېر مقامت کولی سي، دضخامت داړخه ضخيم ترين فلز دئ چي دمځکې دبرابروالي سبب هم سوې ده. ديادولو وړده چي دژونديو موجوداتو دجوړښت اساسي او اړين عنصر هم اوسپنه جوړوي: نباتات دخاورو څخه اوسپنه اخلي، نور ژوندي موجودات بيا خپل ځان دنباتاتو څخه تغذيه کوي،دهمدې لارې داوسپنې ذرات ويني ته لاره پيداکوي او دژونديو موجوداتو په رګونو کي شتون لري. په 1910ميلادي کال کي يوکنفرانس چي دفلزنو په اړه جوړسوی وو،دې اندېښنې شتون درلودئ چي در 1970ميلادي کال پوري به دمځکې داوسپنې ټولې ذخيرې پای ته ورسيږي،مګر ورسته داسي خبرونه خپاره سول چي ياد فلز په مځکه کي په پراخه پيمانه شتون لري.

په دې ورستيو کي چي کومې څيړنې په دې اړه سوې دي په هغوکي دا روښانه سويه ده چي دمځکې دقيشر پنځه په سلوکي وزن اوسپنه جوړه وي، پوهان دا اندازه اوسپنه اوه سوه پنځوس زره ميليون ميليون ټنه اټکل کړي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**مګر هغه څه چي دیادولو وړدي هغه دادې چي :زموږ اوټولو ژوندیو موجوداتو ژوند داوسپني دشتون سره تړلی دئ؛ که څه هم دیادې خبرې منل به موږته ستونزمن وي مګر اوسپنه دويني په جوړښت کي جوړښتيز رول لري.**

**که چیري هر انسان دخپل بدن دري ګرامه اوسپنه دلاسه ورکړي:ژوند به يې دمرګ سره مخ سي دا په داسي حال کي چي دانسان په بدن کي اوسپنه دپنځو ګراموڅخه ډېره نه ده،مګر همدا اندازه اوسپنه دويني په هيمو ګلوبين کي ده چي ويني ته يې سور رنګ ورکړی دئ.**

**والله اعلم**********






(c) ketabton.com: The Digital Library



## خاوره اوپه هغې کي اوسيدونکي ژوندي موجودات

**ښايي دباور کولو وړنه وي چي ووايو :په هر متر مکعب زرعتي مځکه کي ددوو لکو څخه ډېر چينجيان،سل زره حشرې،دري سوه عادي چنجيان؛په زرګونو ميليونه ميکروبونه اوډېر نور کوچني موجودات شتون لري.**

**ديادې خاورې هر ګرام دڅوميلياردو باکترياوو ،ډېرو کوچنيو موجوداتو او ميکربونو درلودونکی دئ چي ځيني دهغوئ څخه اکسيجن ته اړتيالري اوځيني نوريې بيا اکسيجن ته اړتيا نه لري؛ځيني يې بې له غږو حرکت کوي اوځيني نور يې دپرو په مرسته حرکت کوي.**

**په ربښتيا چي دا مخلوقات دپرليسي حرکت اوډېرې اړيني دندې دسرته رسولو په حال کي دي؛دا هغه مسله ده چي درنن ورځې همداسي پيچلي اوبې ځوابه پاتي ده. داسوال اوس هم پرځای پاته دئ چي ددې مخلوقاتو اصلي (اره)دنده څشی ده.که څه هم پوهانو ځيني آندو نه په دې اړه وړاندي کړي مګر اصلي موضوع(اره سکالو)ته اوديادو مخلوقاتو دپيدايښت اصلي موخې ته نه دي رسيدلي. مګر هغه څه چي روښانه دي هغه دادي چي دياد مخلوقات فعليت دانسانانو لپاره ډېر ارزښتمن دئ. دبيلګې په ډول که ووايو :که چيري دانسان نسل دمنځه ولاړسي ژوند به بيا هم ادامه پيداکړي مګر که داکوچني موجودات دمنځه ولاړسي ژوند به هم دمځکې پر مخ پای ته ورسيږي،که ووايو چي دهغوئ ژوند دانسان لپاره ډېراړين دئ ښه به مو ويلي وي راځي چي ياده خبره ښه روښانه کړو:زموږ ټول خواړه په مستقيم(نيغ)يا غيري مستقيم ډول دشنو نباتو څخه لاسته راځي، دبيلګې په ډول که موږ دپسه غوښي يادې کړو:پسه دنباتو څخه دتغذيې ورسته وده کړي ده او موږ هغه غوښي خورو چي دنباتاتو په مرسته يې نمو کړي ده. ښه نو ټول غذايي مواد په مستقيم يا غيري مستقيم ډول دنباتاتو سره اړيکه لري،الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ يٰسٓ : 80](الَّذِى جَعَلَ لَكُم مِنَ الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ نَارًا فَإِذَآ أَنتُم مِّنْهُ تُوقِدُونَ) هماغه ذات چي ستاسي لپاره يې له شني سمسوري وني څخه اور پيدا کړ او تاسي د دې څخه خپل نغري بلوئ؛**

****

**پوهان د (الْأَخْضَرِ )په ويي کي په تعجب کي ولويدل چي څنګه امکان لري چي شنه ونه وسوځيږي په داسي حال کي چي دوچو لرګو څخه ياده ګټه اخيستل کيږي مګرولي دلته( مِّنَ الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ )**

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرمايل سوي دي،ځينو پوهانو په ځواب کي ويلي دي چي د(الْأَخْضَرِ )ويي يوه علمي ټکی ته اشاره کوي دهري ونې ژوند دهغې دشنو پاڼوسره تړلی دئ او دهرنبات وده ديوې عملی سره تړلي ده چي په فتوسنتز سره شهرت لري؛په ياده عمليه کي دلمروړانګي دنبات دشنو پاڼو په مرسته اخيستل کيږي اوخپلی اړتياوي دهمدې لارې پوره کوي. په واقعت کي که دلمر وړانګي اوبه او کاربن ډاي اوکسيډ نه وي دنباتاتو لپاره ژوند هم امکان نه لري. دنباتاتو پاڼې دنباتاتو هغه کار خوني دي چي نباتاتو ته اساسي او داړتيا وړ توکي برابره وي،پاڼې رژيږي اودباد په مرسته په چاپيريال کي پاشل کيږي،ورسته يادې پاڼې دميلياردونو ذربيني موجوداتو په مرسته تجزيه کيږي او دهغوئ څخه دغټو موجوداتو دخوړو لپاره تياريږي.
داټول کارونه په دوو مرحلو کي سرته رسيږي مګر ديادو کارونو دسرته رسيدو لپاره هواته اړتياده چي دهغه دپيداکيدو دنده بيا چينجيان سرته رسوي:داسي چي په مځکه کي درزونه جوړوي اوپرېږدي چي هوا يادو چاکونو اودرزونوته ننوزي.ښه نو چينجيان ،حشرات ،ماران اونور دخاورو لاندي ژوند کوونکي موجودات دا دنده هم پر غاړه لري چي مځکي ته دهوا دننوتلو لاره خلاصه کړي،که چيري ياده کړنه سرته ونه رسيږي نباتات به لوی نه سي ياني وده اونمو ونه کړي،چينجيان خاوره تجزيه کوي اويوازي خدای جل جلاله پوهيږي چي په هر هکتار مځکه کي به څومره ټنه مواد تجزيه کوي او دهغوئ دکود يا امبار اندازه په هر کيلو متر مربع کي به څومره وي. اوس به ښه وي چي وپوښتو موږ چي دالوی کاينات ستر خالق جل جلاله او حکيم شريعت لرو چيري ځو او کوم شيان موو دکايناتو دپيدا کوونکي داوامرو دمنلو څخه غافله کوي. کوم څه چي وويل سول دکايناتو ديوې کوچنی برخي يوه بيخي لږ برخه رښتياوه ولی چي دکايناتو دپيداکوونکی الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ بنىٓ اسرآئيل/الإسرَاء : 85](وَيَسۡـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلرُّوحِ‌ۖ قُلِ ٱلرُّوحُ مِنۡ أَمۡرِ رَبِّى وَمَآ أُوتِيتُم مِّنَ ٱلۡعِلۡمِ إِلَّا قَلِيلًا) دوی ستا څخه د روح په باب پوښتنه کوي، ورته ووايه: "روح زما د رب په حکم راځي، خو تاسي له علم څخه لږه برخه موندلې ده."********
اوبيا الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ البَقَرَة : 255] ٱللَّهُ لَآ إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَىُّ ٱلۡقَيُّومُ‌ۚ لَا تَأۡخُذُهُ ۥ سِنَةٌ۬ وَلَا نَوۡمٌ۬‌ۚ لَّهُ ۥ مَا فِى ٱلسَّمَـٰوَٲتِ وَمَا فِى ٱلۡأَرۡضِ‌ۗ مَن ذَا ٱلَّذِى يَشۡفَعُ عِندَهُ ۥۤ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦ‌ۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡ‌ۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَىۡءٍ۬ مِّنۡ عِلۡمِهِۦۤ إِلَّا بِمَا شَآءَ‌ۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَـٰوَٲتِ وَٱلۡأَرۡضَ‌ۖ وَلَا يَـُٔودُهُ ۥ حِفۡظُهُمَا‌ۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِىُّ ٱلۡعَظِيمُ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الله، هغه ژوندي ابدي ذات څخه پرته چي ټول کائنات يې تنظيم کړيدي بل هيڅ خداى نشته؛ هغه نه ويديږي او نه پرېشاني پرې راځي. په اسمانونو او ځمکه کي چي هر څه دي، د هغه دي. څوك د هغه په وړاندي د هغه له اجازې پرته سپارښت کولاى شي؟ - څه چي د بندګانو په وړاندي دي په هغو هم خبر دى او څه چي د بندګانو څخه پټ دي په هغو هم؛ او د هغه له معلوماتو څخه هيڅ شى د هغوى په ادراك کښي نشي ايساربداى؛ مګر دا چي الله پخپله د کوم شي علم ورکول وغواړي. د هغه حکومت پر اسمانونو او ځمکه خور شويدى او د هغو ساتنه د هغه لپاره کوم ستومانوونکى کار نه دى. يوازي هماغه (الله) يو لوى او لوړ ذات دى.

***

په هر ګرام خاوره کي ميلياردونه باکترياوي شتون لري؛داموجودات دخاورو لاندي په څه اخته وي يوازي الله جل جلاله ښه پوهيږي داپټ کارکوونکي کوچني موجودات په حقيقت کي دالله جل جلاله ورکړه ده اوموږ دياد مسائيلو دحقيقت څخه بي خبره يوو. نباتات ريبو،ټولوو اودهغوئ څخه ګټه اخلو داټول الهي کارونه دي.ښه اوس بايد ددې ايات شريف سره موږ هم ووايو [سُوۡرَةُ إبراهيم : 34] (وَءَاتَٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلۡتُمُوهُۚ وَإِن تَعُدُّوا نِعۡمَتَ ٱللَّهِ لَا تُحۡصُوهَآۗ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَظَلُومٞ كَفَّارٞ) او هغه ټول هغه څه چي تاسي وغوښتل درکړل. که تاسي وغواړئ چي د الله نعمتونه وشمېرئ؛ نو شمېرلاى يې نه شئ. حقيقت دا دى چي انسان ډېر بې انصافه او ناشکره دى.

*************

الله جل جلاله دمځکې باندني،منځ او دمځکې لاندې محصولات زموږ دګټې اخيستو لپاره پيداکړي دي ترڅوموږ دخپل خالق جل جلاله ډېر شکر کوونکي او امر منوونکي بندګان ووسو[سُوۡرَةُ الزُّمَر : 56]

(أَن تَقُولَ نَفۡسٞ يَٰحَسۡرَتَىٰ عَلَىٰ مَا فَرَّطتُ فِي جَنۢبِ ٱللَّهِ وَإِن كُنتُ لَمِنَ ٱلسَّٰخِرِينَ )

داسي نه چي وروسته څوك ووايي: "افسوس زما پر هغه خطا چي ما د الله په شان کښي وکړه؛ بلکي زه خو په ملنډو وهونکو کښي شامل وم."

*********والله اعلم

(c) ketabton.com: The Digital Library






# زلزله

**ډېر وخت په بیلا بیلو ښارونو کي دزلزلي دکیدو خبرونه اورو چي هریوه یې دبلې څخه ځپونکي اوسخته وي او دډېرو وګړو ژوند یې اخیستی وي.**

**دا دزلزلو ډېرې پیښې اوسختي یې هرڅه دپیغمبر صلی الله علیه وسلم دحدیثو ریښتیاکوونکي دي چي دځانه خبرې نه کوي بلکي هرڅه چي ده مبارک ویلي دي دالله جل جلاله وحي دي.**

**ددې زلزلو پایله به داوي چي مونږته دقیامت دزلزلي څرنګوالی دریوې اندازې پوري روښانه سي، هغه قیامت چي الله جل جلاله دکافرانو دشکنجه کولو وعده په هغه کښي کړي ده اوفرمایي:[سُوْرَةُ الحَجّ : 1](يَاأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ ۚ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ )**

(c) ketabton.com: The Digital Library



اې خلکو! د خپل رب له غضب څخه ځان وژغورئ، حقيقت دا دی چي د قيامت زلزله لوی (هولناک) شی دی.*************

دمځکي وچه دلمريز نظام (لمريز غونډال)په سيارو کي ډېر ضخامت لري. پوهان دزلزلې په اړه وايي :يو حرکت دئ چي دمځکي د دننه څخه پيل سي اوډېر لوی فشار دهغه څخه منځ ته راسي  چي دمځکي پوست دهغه دراګرځولو ورتيا دلاسه ورکړي او په پايله کي وچوي يا په بله مانا مات سي چي همدا چول يا پريکيدل دمځکي دپوښ دزلزلې درعنوان لاندي په خبرونو کي اورو؛ ديادولو وړده چي ياد لوی فشار دمځکي په دننه کي داتش فشاني يا  بهيدونکو سوځوونکو موادو څخه منځ ته راځي.

ښه ده چي وپوهيږو چي دمځکي دپوست ضخامت در99کيلومترو ډېريږي.ياد پوست دتور مرمر دډبرو څخه جوړ سوی چي يادې ډبرې دډبرو هغه تينګې ډبرې دي.

داپيښه موږته دالله جل جلاله دقدرتونو يوه وړه نښه راښکاره کوي چي فرمايي [سُوْرَةُ الـذّاريَات : 58] إِنَّ اللَّهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِينُ) بېشکه، الله خو پخپله ښه روزي ورکوونکی دی، د ډېر قوت خاوند او زورور دی.

*************

زلزله څېرونکي موږته دنړی دزلزلو دخرابيو او مرګ ژبلو اندازه وړاندې کوي،چي دهغوئ څخه ځيني يې په لاندي ډول سره دي:په 1556ميلادي کال کي په چين کي زلزله وسول چي په هغې کي 859زره نفروژوند دلاسه ورکړ. په 1737ميلادی کال کي په هند کي 180زرو وګړو په 1923م کال کي په جاپان کي 100زره کسانو او په 1976م کال کي بيا په چين کي يوې زلزلې په څو ثانيو کي د35زرو وګړو ژوند ته دپای ټکی کېښيښوئ. اوس نو دالله جل جلاله دي کلام ته غوږ ږدو چي فرمايي:[سُوْرَةُ الحَجّ : 1]يَأَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ ۚ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ )اې خلکو! د خپل رب له غضب څخه ځان وژغورئ، حقيقت دا دی چي د قيامت زلزله لوی (هولناک) شی دی.*************

ديوه زلزه څېرونکي پوه څخه وپوښتل سول:آيا کيدای سي دزلزلې دپيښيدلوڅخه څو دقيقي مخکي خبرسو؟ يا دپوه يې په ځواب کي وويل:نه مګر ډېرئ حيوانات مخکي دزلزلې درکيدو هغه درک کوي چي دهغوئ په سرکي يې هغه حيوان دئ چي پر بي عقلی باندي يې وګړي بيلګې ورکوي ياني خر.خر دزلزلې درپيښيدلو 15دقيقې مخکي خبريږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په آند داچي حيوانات دزلزلې درمخه خبرېږي علت يې دادئ چي دانسان په څير مکلف نه دي اودزلزلې دپيښېدلو موخه دوئ نه دي په دې دليل چي الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ الأحزَاب : 72]إِنَّا عَرَضْنَا الْأَمَانَةَ عَلَى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَالْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا الْإِنسٰنُ ۖ إِنَّهُ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا ) موږ چي دغه امانت اسمانونو، ځمکي او غرونو ته وړاندي کړ، نو هغوی يې پورته کولو ته تيار نشول او ورڅخه ووېرېدل، خو انسان هغه پورته کړ؛ بېشکه دغه (انسان) غټ ظالم او جاهل دی.*****الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ الزّلزَلة : ۸،1] إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا) کله چي ځمکه په خپل ټول قوت سره وخوځوله شي (ډېره قوي او سخته زلزله وشي)؛وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا) او ځمکه خپل دننه ټول پيټي راوباسي، دباندي يې وغورځوي؛(وَقَالَ الْإِنسٰنُ مَا لَهَا) او (منکر) انسان به ووايي چي په دې (ځمکه) څه شوي دي؛(يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا) په هغه ورځ به ځمکه خپل (پر مخ باندي تېر شوي) حالات بيان کړي؛(بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحٰى لَهَا)ځکه چي ستا رب به هغې ته (د داسي کولو) امر کړی وي.(يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِّيُرَوْا أَعْمٰلَهُمْ )په هغه ورځ به خلك په تيت پرك حالت کښې ور وګرځي، تر څو چي خپل عملونه يې ورته وښودل شي.(فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ )بيا چا چي يوه ذره قدري نېکي کړې وي، وبه يې ګوري؛(وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ)او چا چي يوه ذره قدري بدي کړې وي، وبه يې ګوري.******والله اعلم



(c) ketabton.com: The Digital Library



# کعبه شریفه دمځکې مرکز کي ځای لري

**دمځکې لویي وچې دکعبې شریفي پر شاوخوا پاشل سوي دي دا هغه حقیقت دئ چې یؤه ستورپیژندونکي مرکز چي خپلې اخري څیرنې یې په دې باره کي سرته رسولي دمنلو وړ؛ګرځیدلی.یاد مرکز دپیچلو اوپرمختللو محاسبو په مرسته دمکې مکرمې او دهغې دشاوخوا ښارونوترمنځ لیري والی محاسبه کړ:په پایله کي داپه ډاګه سول چي په دریو لویو وچو افریقا،اروپا او آسیا کي دهغوئ ترټولو لیري پرتې سیمې 8زره کیلومتر دمکې مکرمې څخه لیروالی لري. مګر په اوسنئ مځکه کي چي شمالي او جنوبي امریکا استرلیا اوجنوبي منجمداقیانوس دي،دیادو هرې لویي وچې پای دمکې مکرمې څخه 13زره کیلومتره لیروالی لري او دالله جل جلاله کور مکه مکرمه ددې هندسي شکل مرکز جوړوې،مګر دبل لوري مکه مکرمه په آرام اقیانوس کي قرار لري اوپه دې محاسبه کي په نظر کي نه ده نیول سوې.ښه نو په یاده محاسبه کي روښانه سول چي دمځکې دلویو وچو مرکز مکه مکرمه ده الله جل جلاله فرمایي:[سُوۡرَةُ آل عِمـرَان : 96](إِنَّ أَوَّلَ بَيۡتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِى بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِّلۡعَٰلَمِينَ) بېشکه تر ټولو لومړی عبادتځی چي د انسانانو لپاره ودان شو، هغه هماغه دی چي په مکه کښي دی، هغه ته خیر او برکت ورکړ شوی او د ټولـو نړیوالو لپاره د هدایت مرکز ګرځول شویدی؛**********************



(c) ketabton.com: The Digital Library



# سعودي عربستان به بيا شين،زرغون سي

يؤ مسلمان پوه ديؤه مځکه پيژندونکي( جيولوجيست)ښځه چي په ياده برخه کي متخصص دئ وپوښتل. آيا کوم دليل شتون لري چي عربستان په پخوا زمانو کي دبنونو اوباغچو درلودونکی وو،ياني زرغون اوشين وو؟ هغه په ځواب کي وويل دامسئله دمتخصصينو دتائيد وړده! مسلمان عالم وپوښتل:په کوم دليل؟ هغه وويل دسيندونو رسوبات په جزيرة العرب کي په پراخه کچه ليدل سوي دي؛همدارنګه په الربع الخالی سيمه کي چي يؤ بې اوبوسيمه ده اودعربستان په جنوب علف کي داسي کلي پيداسوي چي درشکولاندي سوي وه او همدارنګه په نورو سيمو کي ډبريني سيمې کشف سوي دي چي ورسته درڅيرنو په ډاګه سول چي هلته دلويو ونو ريښې هم شتون لري.

دا ټول اړخونه داپه ډاګه کوي چي دعربستان سيمه زرغونه اويؤداسي سيمه وه چي سيندونه اوبنونه يې درلودل تردي چي دالربع الخالي سيمه په بنونو پوښلي سيمه وه اوهلته سيندونه بهيدل،دامسئله دجغرفيه پوهانو دتائيد وړمسئله ده.

مسلمان بيا دياد مځکه پيژندونکي ښځه وپوښتل :آيا کوم داسي دليل شتون لري چي دعربستان وچه سيمه بيا دپخوا په شان زرغونه سي؟په ځواب کي يې وويل دامسئله هم زموږ په آند يؤه مشهوره اودمنلو وړمسئله ده. پوښتونکي وپوښتل په کوم دليل؟په ځواب کي يې يادپوه وويل :دمځکې دپوست ضخيم ترينې ټوټې دجنوب لوري ته ميلا پيداکړی دئ؛همدا دليل دئ چي څوکاله مخکي دامريکا او اروپا ژمی ډېر سخت اوسوړ وو،دمځکې دپوست ديادوټوټو دحرکت دوام به په راتلونکي وخت کي دمځکې شکل ته بدلون ورکړي چي په پايله کي به يې بارني کرښې او دهوا دتراکم لوری هم بدلون وکړي او همدا دليل دئ چي دعربستان هيواد به په راتلونکي وخت کي بيا دپخوا په شان زرغون سي. مسلمان کس ياد جغرفيه پوه ته وويل :ستا آند دهغه چا په اړه چي 1400کاله مخکي يې دانظر ورکړی وو:(عن ابي هريره ان رسول الله صلی الله عليه وسلم قال لا تقومُ السّاعةُ حتّی يكْثُرَ الْمالُ ويفِيض حتّی يخْرُج الرّجلُ بِزكاةِ مالِهِ فلا يجِدُ أ حدًا يقْبلُها مِنْهُ وحتّی تعُود أرْضُ الْعربِ مرُ وجًا وأنْهارًا)مسلم:2339

قيامت به رانسي ترڅو چي مال زيات نسي او ونه بهيږي تردې چي سړی به دخپل زکوة سره را ووځي اوهيڅوک به پيدانه کړي چي هغه قبول کړي تردې چي دعربو مځکه به څرځايونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ويالې وګرځي.**د(تعُود)ويى پردې خبره دلالت کوي چي عربستان په پخوا کي زرغون وو اوبيا به هم هغسى سي.داصحيح حديث شريف دئ ددې حديث په اوريدلو کافر مځکه پيژندونکى په تعجب کي سو:ولې؟ ولي چي هغه پوهيدئ چي پوهانو داحقيقت په دې ورستيو کي موندلى دئ؛بنه نو بيا څنګه هغه نبي چي ليک لوست يې نه سواى کولى داسي علمي حقيقت چي پرخو څيرنو، ډېرې مطالعي اوږدو سفرونو ته اړتيا لري او داسي يؤ کس ته اړتياده چي په مځکه پيژندنه کي ماهره وي،بنه نو دالله جل جلاله داکلام تلاوت کوو چي فرمايي:[سُوۡرَةُ النّجۡم : 3]وَمَا يَنطِقُ عَنِ الۡهَوٰىٓ )دغه (محمد ص) له خپل نفسي خواهش څخه خبري نه کوي؛[سُوۡرَةُ النّجۡم : 4]إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡىٌ يُوحٰى )دا (قُرآن) خو يوه وحيي ده چي پر هغه نازليږي.

************** داسلام دستريپيشوا بلاغت ددې حديث شريف څخه روښانه کيږي چي(تعُود) دويي په کارولو دپخوا اوراتلونکي څخه ديادې سيمي خبرورکوي :که چيرې هغه د(حتى يصبح )دويي څخه چي مانايي ده (ترڅو چي بدله سي)کاراخيستى واى يوازي به ددې سيمي دراتلونکي خبرواى اوکه چيرې يې د(کانت) دويي (لغات)څخه کار اخيستى واى يوازي به يې دپخو خبرورکړى واى،مګر پاک نبي تيرسوي اوراتلوونکي خبر ورکړى دئ بنه نو راځي چي بيا دا ايات شريف تلاوت کړو :[سُوۡرَةُ النّجۡم : 3]وَمَا يَنطِقُ عَنِ الۡهَوٰىٓ )دغه (محمد ص) له خپل نفسي خواهش څخه خبري نه کوي؛[سُوۡرَةُ النّجۡم : 4]إِنۡ هُوَ إِلَّا وَحۡىٌ يُوحٰى )دا (قُرآن) خو يوه وحيي ده چي پر هغه نازليږي.************



(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوبه

الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ الأنبیَاء : 30]أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا أَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَیْءٍ حَیٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ )
ايا کافران په دې نه پوهيږي، چي دغه ټول اسمانونه او ځمکه يو له بله سره نښتي ول، بيا موږ دوی دواړه بېل کړل. او له اوبو نه مو هر ژوندی شی پيدا کړ. ايا هغوی (زموږ دغه خلاقيت) نه مني؟***

دمځکې پرمخ دژونديوموجودات ژوند دانسانانو،حيوناتواونباتاتو په ګډون په اوبوپوري تړلی دئ،اوبه يوازنی هغه ماده ده چي کولی سي مالګه اونورغذايي مواد دمحلول په بڼه دژونديو موجوداتو بدن ته واستوي.ځرګنده ده که اوبه نه وای دمځکې پرمخ به ژوند نه وای!زموږ ځخه ځوک باور کوي چي دهرې ثانيې په تېرېدو،يوازي ديوې ثانيې په تېرېدلو دهسک(آسمان)ځخه دمځکې پرمخ باندي 16ميليونه ټنه اوبه را اوريږي،ياني باران پري کيږي.الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ عَبَسَ : 25] أَنَّا صَبَبْنَا الْمَآءَ صَبًّا ) موږ ښې اوبه راتوی کړي دي؛**********هو! دژوند دپايښت لپاره په هره ثانيه کي 16ميليونه ټنه اوبه دباران په ډول پرمځکه اوريږي.که چيري دغه اوبه په يو وار په (جمعي )ډول دمځکې پر مخ اوريدلای:هرڅه به يې دمنځه وړاي وای او ژوند ته به يې دپای ټکی ايښی وای،مګريادې اوبه دکوچنيوڅاڅکو په بڼه چي دخپل ځان سره لطافت،حکمت اورحمت لري اورې. ديوې علمي ځيرني پايلې مي ولوستلې؛هلته يې ليکلي وه:په سوريه کي چي په کال 1988م کي بارانونه اوريدلي وه هلته دحيواناتوغذايي موادو ښه وده اونمو کړي وه دبيلګې په ډول داسي چي که موږ غوښتلی ياد واښه او دحيواناتو نورمغذي مواد په همدې اندازه دبهر(دباندي)ځخه راوارد(راوړي)وای نولس ميلياردہ ليرې لګښت به پري راغلی وای،مګر يادو اورښتونو انسانان ددې ډېر لګښت ځخه وژغورل،الله جل جلاله په خپل فضل اوکرم سره پرياده اونورو سيمو هروخت همداسي بارانونه اوروې چي دانسانانو ،حيواناتو اونباتاتو دژوند تېرولو لپاره خورا ډېر اړين دي او دخپل ځان سره خورا ډېرې ګټې لري.الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ الذّارِيَات : 22]وَفِى السَّمَآءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ )په همدې اسمان کښې ستاسي روزي هم ده او هغه شی هم دی چي ستاسي سره يې وعده کيږي.******

(c) ketabton.com: The Digital Library



داپه دې مانا ده که بارانونه نه وای هغه غذایي توکي چي موږ یې خورو شتون به یې نه درلودای!مګردالله جل جلاله په مهربانۍ سره په یاد اونوروبارانی کلونو کي دمیوو اونورو نباتاتو اندازه دتصوروړ نه وه.

پاکي ده پاک الله جل جلاله ته چي موږ ته عطاء کوي! هغه چي خپله یې تاکي دتوکوقیمتونه (نرخونه)دي،هغه په باران اوهوا سره دتوکوپه کمیت اوکیفیت کي ډېروالی راولي غذایي توکي ډېروي ترڅوقیمتونه یې راکښته سي الله جل جلاله فرمایي::[سُوْرَةُ الذّاريَات : 22]وَفِى السَّمَآءِ رِزْقُكُمْ وَمَا تُوعَدُونَ )په همدې اسمان کښي ستاسي روزي هم ده او هغه شی هم دی چي ستاسي سره یې وعده کیږي.******

الله جل جلاله ستر روزي رسوونکي ،پیاوړی اولوی دئ هغه په ثانیه کي پرمځکه 16میلیونه ټنه اوبه دباران په ډول اوروې چي موږ د لس میلیاردو لیروپه اندازه دغذايي موادو درانیولوڅخه خلاص کړي.

دیادولو وړده دغذايي موادو یاده اندازه دیؤې کوچنۍ سیمې ده نه دټولې نړۍ ! داعددونه دمؤمنانوپه آند دالله جل جلاله د رحمت او ورکړې نښانه ده.الله جل جلاله فرمایي:[سُوْرَةُ بنىٓ اسرآئيل/الإسرَاء : 20] كُلًّا نُّمِدُّ هَٰٓؤُلَآءِ وَهَٰٓؤُلَآءِ مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ ۚ وَمَا كَانَ عَطَآءُ رَبِّكَ مَحْظُورًا )

هم دغو او هم هغو، دواړو ډلو ته موږ (په دنیا کښي) د ژوند وسایل ورکوو، دا ستا د رب بخشش دی. او ستا د رب ورکړه د چا څخه منع نه ده.*******بیا الله جل جلاله فرمایي:[سُوْرَةُ عَبَسَ : 24:۳۲]فَلْيَنظُرِ الْإِنسَٰنُ إِلَىٰ طَعَامِهِۦٓ)بیا دي انسان خپلو خوړو ته وګوري.أَنَّا صَبَبْنَا الْمَآءَ صَبًّا )موږ ښې اوبه راتوی کړي دي؛

ثُمَّ شَقَقْنَا الْأَرْضَ شَقًّا)بیا ځمکه مو په عجیبه شان شلولې (څیرلې) ده؛(فَأَنۢبَتْنَا فِيهَا حَبًّا) بیا په هغې کي مو غلې، دانې را زرغونې کړي دي،(وَعِنَبًا وَقَضْبًا) او انګور او سابه،(وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا)او ښوون (زیتون)، او کجوري (خُرما)،

(وَحَدَآئِقَ غُلْبًا)او ګڼ باغونه،(وَفَٰكِهَةً وَأَبًّا)او ډول ډول مېوې او شینلي (واښه)؛

(مَّتَٰعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعَٰمِكُمْ )د ژوند د وسایلو په توګه، ستاسي او ستاسي د څارویو لپاره.

*************

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دهوا او اوبو ترمنځ اړيکه

**راسئ ددولويونعمتونو: اوبو اوهوا يادونه وکړو او ددوئ دوو ترمنځ پراړيکه وړغيږو!**

**داخبره ډېره اړينه ده:که چيري داوبو اوهوا ترمنځ اړيکه نه وای دنړئ پرمخ به هيڅ ژوندي مخلوق شتون نه درلودای!**

**داوبو اوهوا ترمنځ اړيکه عبارت ده: هوا داوبو بړاس (بخار)ته په خپل ځان کي ځای ورکوي او دتودوخې ددرجې په تناسب يؤه اندازه اوبه دخپل ځان سره وړي.**

**دبيلګي په ډول:هرمترمکعب هوا په صفر درجه سانتيګراډ تودوخه کي 5ګرامه داوبو بړاس ته په خپل ځان کي ځای ورکوي.**

**که چيري ديادې اندازې هوا تودوخه 20يا30درجې لوړه ولاړه سي هغه وخت بيا 130ګرامه داوبو بړاس دځان سرووړای سي. همدا بدلون دتودوخې او دهوا په مرسته داوبو دبړاسونو وړل دتراکم دعمليې لاندې دباران داوريدو لامل کيږي.**

**ښه نو که باران نه وای:نباتاتو به شتون نه درلودای اوکه چيري نباتات نه وای:ژونديو موجوداتو نه سوای کولی چي ژوندوکړي،که نور ژوندي موجودات نه وای انسانانوبه هم ژوند نه سوای کولی،ولي چي:اوبه دژوند بنسټ اوسرمايه ده خدای جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ الأنبيَاء : 30]أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا أَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ)**

**ايا کافران په دې نه پوهيږي، چي دغه ټول اسمانونه او ځمکه يو له بله سره نښتي ول، بيا موږ دوی دواړه بېل کړل. او له اوبو نه مو هر ژوندی شی پيدا کړ. ايا هغوی (زموږ دغه خلاقيت) نه مني؟***

**ځنګه الله جل جلاله دسمندرونو اوبه ټولو دښتو اولويو وچوته رسوي؟**

**داکار په هوا کي داوبو دبړاسونو په واسطه دتودوخې په متاسيبه درجه کي سرته رسيږي.**

**کله چي دتبخير دعمليې په مرسته 130ګرامه داوبو بړاس يؤمترمکعب هوا ته ننباسو هغه وخت ياده خړوبه (مشبوع)سويه هوا داوبو دبړاس په مرسته؛يؤيخ ځای ته يوسو داوبو بړاس به ژر خپله تودوخه دلاسه ورکړي.يخه هوا دخپل ظرفيت څخه په کټې اخيستلو اودتودوخې دکښته والي په مرسته داوبوبړاس دخپل ځان څخه ليري کوي اوهغه داوبودڅاڅکوپه بڼه اوريږي،دباران داوريدو بنسټ اوعمليه همدا ده چي پروږغيدلو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلمر وړانګې دمځکې پرپرخوبرخوياني سمندرونو لويږي پرخه برخې موځکه وويلې چې سمندرونه دمځکې4/5برخه جوړوې،دهغه ورسته دسمندريؤه اندازه اوبه په بړاس بدليږي اوهوا يادبړاس دځان سره وړي.دتودوخې سخت اختلاف دساحلي سيمو تودوخه دبيابانونو تودوخه دباد درامنځته کيدلولامل کيږي او باددخپل ځان سره داوبو بړاسونه وړي،کله چې ياده خړوبه سويه هوا دابودبړاسونو په مرسته ديخو سيموسره ټکريږي(جنګيږي)هوا دځان څخه داوبوبړاسونه ليري کوي اوپه همدې ترتيب باران اوري.چا داقانونونه:دبړاس اوتراکم قانونونه رامنځته کړي؟ چا اوبه ته په بړاس دبدليدلوتوانايي ورکړې ده؟چا هوا ته داوبودبړاسونو دوړلو توان ورکړى دئ؟چا دهرې درجې تودوخې لپاره هوا ته دمالومې اندازې داوبودبړاسونو دوړلو اندازه ټاکلي ده:دصفردرجي تودوخې لپاره 5ګرامه د20درجې تودوخې درلودونکي هوا لپاره 130ګرامه،اوکه چيري بيا صفر درجې ته دتودوخې درجه راکښته سي هوا داوبو بړاس دځانه شړي اوپه څاڅکو بدليږي!چا دا قانون داسي په ترتيب جوړکړى دئ؟ داواقيعتونه په لومړيو کي خوراساده مالوميږي! مګر دباران داوريدلو دا اوږده پړاونه خورا ډېر پيچلي دي! زموږ موخه په ساده ژبه دحقيقت بيانول وه!دغه ځانګړني داوبو چې دمادې په دريو حالتونو کي پيداکيږي اودهوا ځانګړني چې يؤه يې دبړاسونوليږد ده،او ددوئ دوو هوا او اوبو ترمنځ اړيکه.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## دسمندرنولويوالى.

دلمرووړانګې چي مايع اوبه په غاز بدلوي. بادچي دتودوخې دبدلون لکبله رامنځته کيږي او وربځې تېرو او وچو دښتو ته دځان سره وړي اوهغوئ ورسته ترديږ چي مړې سوې وي بېرته ژوندوئ کوي .تولي دنښانو څخه دالله جل جلاله دلويي اونعمتونو دي!الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ إبراهيم : 34]وَءَاتَىٰكُم مِّن كُلِّ مَا سَأَلْتُمُوهُ ۚ وَإِن تَعُدُّوا نِعْمَتَ اللَّهِ لَا تُحْصُوهَآ ۗ إِنَّ الْإِنسَٰنَ لَظَلُومٌ كَفَّارٌ)او هغه ټول هغه څه چي تاسي وغوښتل درکړل. که تاسي وغواړئ چي د الله نعمتونه وشمېرئ؛ نو شمېرلاى يې نه شئ. حقيقت دا دى چي انسان ډېر بې انصافه او ناشکره دى.*************

## اوبه او دانبساط(پراخيدني)انقباض(غونجيدني)ځانګړني يي

الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ الأنبياء : 30]أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا أَنَّ السَّمَٰوَٰتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَٰهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ )

ايا کافران په دې نه پوهيږي، چي دغه ټول اسمانونه او ځمکه يو له بله سره نښتي ول، بيا موږ دوى دواړه بېل کړل. او له اوبو نه مو هر ژوندى شى پيدا کړ. ايا هغوى (زموږ دغه خلاقيت) نه مني؟***********

که چيري پردي مبارک ايات شريف باندي دتفسير څوکتابونه وليکل سي:بيابه هم دياد ايات شريف پوره تفسير نه وي سوى،مګر دلته يې موږ دتفسير يوه کوچنۍ برخه وړاندې کوو.

يو دپوهانو څخه دابوپه اړه چي الله جل جلاله دژوند بنسټ اوسرمايه ګرځولي ده وايي:

که چيري اوبه خپله يوه کوچنۍ ځانګړنه دلاسه ورکړي بيله شکه به دخاوريني ځمکې پرمخ ژوند پاى وموم‌ي.دا اړينه ځانګړنه څشى ده ؟کله چي موږ اوبه سړي کړو دمځکې پرمخ دبلې هري مادې په شان لکه:جامدات،مايعات اوغازاتوپه ډول دهغوئ حجم کميږي اومنقبضي(غونجيږي)ولې چي هرڅوکى دتودوخي په ډېريدوسره منبسط(پراخيږي)اودتودوخي په کمولو سره منقبض (راټوليږي)اوبه هم همدا ځانګړنه لري که چيري دابو تودوخه دهغوئ دايشيدو په حال کي راکښته کړو اودهغوئ حجم دحجم مالوموونکي وسيلې په مرسته اندازه کړو،وبه وينو چي دهغوئ حجم کم سوى دئ.

که چيري موږ يې دتودوخي درجه د100درجي څخه 60 -30-20-10او 5درجي ته راکښته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو بيا به دهغوئ حجم ډېر سي اومنبسطې به سي،داهغه کړنه ده چي تاسو يې هم کولی سی ووينئ. په يؤه لوښي کي اوبه واچوئ اوهغه په يخچال کي کښېږدئ،داوبو دريخی کيدلو ورسته به ووينئ چي دهغوئ حجم ډېرسوی دئ که چيرې اوبه په منګي کي وي اويخی سي منګی به وچوي،ياده کړنه هغه ده چي په لويو ډبرو کي په همدې بڼه درزونه پيداکيږي او دغرونو څخه رالويږي.

مګر ددې عمليي اړيکه دمځکې پرمخ دژوند سره څه ده؟که چيري په يخي کيدلو سره داوبو حجم کم سي ياني منقبضي سي دهغوی غلظت به لوړ ولاړسي اودکثافت اندازه به يې درمايع اوبو لوړه سي او دخپل درونـدوالي لکبلـه بـه دسمندر تل تـه ولويږي،ياني دسمندرونو دابو سطحه به کښته ولاړه سي.

کـه چيري ټول سمندرونه يخی سي ياده کړنـه بـه دتبخير(پراس)عمليه ودروي بڼـه نـو چـي دسمندرونو پراس شتون ونه لري بيابه باران نه اوريږي پايه بـه يې دنباتاتو دمنځه تلل وي او دنباتاتو دمنځه تلل دحيواناتو اوانسانانو دژوند دختميدا په مانا دي.

که چيري دابو انبساط او انقباض دنورو مادو په شان وای ميليو نونه کال مخکي بـه دمځکې پرمخ ژونـد پـای تـه رسيدلی وای،مګر دايوځانګړی خاصيت دئ چي الله جل جلالـه اوبوتـه ورکړی دئ .کلـه چي اقيانوسونه منجمدسي دهغوئ منجمدوالی ددې لامل کيږي چي داوبو حجم ډېرسي او ورسره په خوا کي يې غلظت کميږي ديخي دغلظت کميدل داوبو څخه ياپه بلـه مانا دابو ديخي دکثافت اندازه داوبو څخه کميدل ددې لامل کيږي چي ټول سمندر دهغه در پايه پوري يخی نسي!

داوبو همدا ځانګړنه چي په يخی کيدوسره يې دغلظت اندازه کښته کيږي دنړی پرمخ دژونـد کولو لامل ګرځي.که موږ شمالي اوجنوبي منجمد سمندرونو تـه ولاړسو وبـه وينـو چـي هلتـه داوبو مخ يخي پوښلی دئ خو دټول سمندر اوبه نه وي يخی.ديخي ديادپوښ لانـدي اوبـه وي او ژوندي موجودات په هغه کي ژوندکوي.آيا داوبو ياده ځانګړنه خپله رامنځته سوي ده؟

که چيري داوبوياده ځانګړنه نه وای هيڅ ژوندی موجوج بـه دمځکې پرمخ نـه وای. پـه دي ايات شريف او دالله جل جلالـه دنورو نعمتونـو، قدرتونو پـه نښو نښـانو کي مونـدو چي:ټول کاينـات ستږپيداکوونکی،حکيم اداره کوونکی،اوريدونکی،ليدونکی،مهربانـه خـالق جـل جلالـه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول کاینات دا شا هیدي ورکوي چې دا هرڅه الله جل جلاله پیداکړي دي! الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ الحِجر : 21] وَإِن مِّنۡ شَىۡءٍ إِلَّا عِندَنَا خَزَآئِنُهُ ۥ وَمَا نُنَزِّلُهُ ۥۤ إِلَّا بِقَدَرٍ مَّعۡلُومٍ ) هیڅ شی داسي نشته چي د هغه زیرمي (خزانې) زموږ سره نه وي. او موږ چي هر شی نازلوو په یوه ټاکلې اندازه یې نازلوو.

**********

په صحیح البخاري شریف کي د زید بن خالد(ض)څخه روایت دئ.ژباړه: "رسوالله صلی الله علیه وسلم دسهار ترلمانځه ورسته مخ راواړه ويي ويل: پوهیږئ ستاسو رب څه وویل ؟موږ وویل الله اورسول يې ښه خبردي.ده وویل:الله وویل چي زما په بندګانو کي ځینو پرما ایمان راووړاوځیني راباندي کافرن سول چاچي وویل:پرموږ دالله په رحمت،دالله په رزق او الله په فضل باران وسو نو هغه پرما ایمان راوړی او په ستوري کافران دی اوچاچي وویل :پرموږ فلاني ستوري باران وکړ نوهغه پرستوري ایمان راوړي اوپه ما کافردی".بخاري 4147

*****دالله جل جلاله دلوري دباران..کمښت دانسانانو دتربیې اوتادیب په پاروي.

داروپا فضايي ادارې یوخبر خپورکړی،په دې خبرکي راغلي دي چي دیادې ادارې یوپیاوړی تلسکوپ دمځکې داتموسفیر څخه دباندي داوبو دبخارونو یوه وریځه لیدلي ده چي په هغې وریځې کي دومره اوبه دي چي کولی سي په یوه ورځ کي ټول اقیانوسونه 60واري دخوړو اوبوڅخه ډک کړي.یوه ستورپیژاندي په دې اړه ویلي دي :یادتلسکوپ دکایناتوپه څو برخوکي داوبو دبخارونو وریځې کشف کړي دي ،مګر اخیري وریځه چي کشف سوي ده هغه دابو دبخارونو لویه تولیدوونکي وریځ ده. داخبر دالله جل جلاله دکلام ددې ایات شریف علمي اعجاز ښه څرګند اوروښانه کوي!مګر دالله جل جلاله دنعمتونو څخه محروم کیدل:دانسانانو دتربیې اوتادیب لپاره دي! په لاندي ایاتونو کي راغلي دي:[سُوۡرَةُ الشّورىٰ : 27]

وَلَوۡ بَسَطَ ٱللَّهُ ٱلرِّزۡقَ لِعِبَادِهِۦ لَبَغَوۡاْ فِى ٱلۡأَرۡضِ وَلَٰكِن يُنَزِّلُ بِقَدَرٍ مَّا يَشَآءُ ۚ إِنَّهُ ۥ بِعِبَادِهِۦ خَبِيرُۢ بَصِيرٌ)

که الله خپلو ټولو بندګانو ته پراخه روزي ورکړې وای، نو هغوی به په ځمکه کښي د سرکښۍ طوفان برپا کړی وای، خو هغه په یو حساب سره چي څومره غواړي نازلوي يې. په باوري ډول هغه له خپلو بندګانو څخه باخبر دی او هغوی ویني.

********

(c) ketabton.com: The Digital Library



[سُوْرَةُ الجنّ : 16]وَأَلَّوِ اسْتَقَمُوا عَلَى الطَّرِيقَةِ لَأَسْقَيْنَٰهُم مَّآءً غَدَقًا )او (اې پېغمبره (ص)! ووايه، ما ته دا وحيي شوې ده چي) "که خلك په ثبات سره پر سمه لاره تللي واى، نو موږ به هغوى ښه خړوبه کړي واى؛[سُوْرَةُ الجنّ : 17] لِّنَفْتِنَهُمْ فِيهِ ۚ وَمَن يُعْرِضْ عَن ذِكْرِ رَبِّهِۦ يَسْلُكْهُ عَذَابًا صَعَدًا )تر څو چي په دې نعمت سره هغوى وازمايو؛ او څوك چي د خپل رب د ذِکر څخه مخ واړوي، نو د هغه رب به يې په سخت عذاب کښي اخته کړي.***[سُوْرَةُ المَائدة : 66]وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا التَّوْرَىٰةَ وَالْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْهِم مِّن رَّبِّهِمْ لَأَكَلُوا مِن فَوْقِهِمْ وَمِن تَحْتِ أَرْجُلِهِم ۚ مِّنْهُمْ أُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُونَ ) کاشکي دوی تورات او انجيل او هغه نور کتابونه نافذ کړي واى، چي د دوی د رب لـه لوري ورتـه لېږل شـوي ول. که داسي يې کړي واى؛ نو د دوی لپاره به له پاسه روزي ورېدله او له لاندي به راخوټېدلـه. که څه هم چي په دوی کښي ځيني خلك په سمه لاره تلوونکي هم شته، خو زياتره يې ډېر بد عمله دي.*****ناپوه،نادان اوړانده وګړي ځيني وخت نورانسانان دخوړو دکمبود څخه بيروي ځيني وخت يې داوبودکمښت؛ځيني وخت يې بيا دنفتو اونورو کانونو دذخيرو دخلاصيدو څخه بيروي اوغواړي انسانان داوبو،غنمو اونفتوپر سر سره وجنګوي،هغوئ ددې ټکي څخه بي خبره دي چي د الله جل جلاله حکمت دمځکې پرمخ ديؤې مادې دکمښت څخه انسانانو ته ادب ورکول دي!والله اعلم



(c) ketabton.com: The Digital Library



## دتوکو لوړ لورته دوړلو هغه ځانګړنه چي اوبه يې لري

دبارانونو او بريښناو سرچينې چي پرموږ يې ارزانې راوستلي ده څښې ده؟دايوه هيرانوونکي پوښتنه ده.موږ الله جل جلاله په مځکه اوآسمانونو کي آند کولوته رابللي يوو!

[سُوْرَةُ يُونس : 101]قُلِ انظُرُوا مَاذَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۚ وَمَا تُغْنِى الْءَايٰتُ وَالنُّذُرُ عَن قَوْمٍ لَّا يُؤْمِنُونَ )دوی ته ووايه: "په اسمانونو او ځمکه کښې چي څه دي، هغه په غږېدلو سترګو وګورئ!"- او کوم خلك چي له سره ايمان راوړل نه غواړي، د هغو لپاره نښانې او اخطارونه مدافع او ګټور کېدای نه شي.

***

دباران آره سرچينې سمندرونه دي.تاسوښه پوهيږئ دسمندرونو مساحت نسبت دمځکې دلويو وچو دمساحت 71سلنه دئ. يانې 71سلنه دمځکې مخ سمندرونو اوپاتي 29سلنه وچه ده .داځواب داسي سوال پيداکوي چي دا ډېرې اوبه دکومه راغلي دي.دآرام سمندر ځينې برخې 12زره متره يانې 12کيلومتره ژوروالی لري. که چيري دمځکې ټولې هوارې مځکي،دښتونه،غرونه، بيابانونه سره جمعه(يوځای)کړو دمځکې دمخ 29سلنه جوړوې دمځکې نورټول مساحت سمندرونه جوړوي چي ځينې ځايونه دسمندرونو ژوروالی در 12کيلومترو څخه ډېرېږي.ښه نو دا دوندي اوبه دکومه سوي؟داپوښتنه اوس هم بې ځوابه پاته ده اوکوم منوونکی ځواب ورته نه دی پيداسوی. دلته يوبله پوښتنه پيداکيږي:په دې سمندرونو کي په زرګونو ډوله کبان دکومه سول؟

چا دالوي سمندرونه دکبانو ډک کړل؟ کبان دلومړيو وختونوڅخه دراوسه پوري دانسانانو دخوړو لويه سرچينه ده،در يوميليون ډوله ډېر کبان په سمندرونو کي شتون لري چي دانسانانو دخوړو يوه سرچينه ده او شمېر يې يوازي الله جل جلاله ته ښه مالوم دئ.يوه بله مسله داده چي سمندرونه دلويو وچو ديوبل سره دمښلولو وسيله ده او دهغوئ سطحي پرلويو وچو ويشل سوي دي.داټولې هغه پوښتنې اومسئلې دي چي ډېرو زياتو څېړونوته اړتيالري.مګردلته غواړو داوبو،سمندرونوپر يوه اړين قانون باندي وړغيږو.

داقانون وايي:اوبه ته هر لويدونکی جسم يو داسي قوت(پياوړتيا)موندي چي هغه دکښته څخه لوړ لورته تيل وهي يا وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ياد زور داوبو دهغه وزن سره برابر دئ کومې چي دهغه جسم په مرسته بي ځايه سوي وي(F=W=Mg=pug)يؤدروند توکی واخلئ اوهغه سره اوبو ته ولوېږئ:تاسوبه داسي احساس کړئ لکه هغه توکي چي خپل نيم وزن دلاسه ورکړی وي، داهغه څه دي چي ياد توکی اوبه لوړ لورته کشوي.داپياوړتيا ديؤه ځانګړي قانون منونکي ده:داقوت برابردئ داوبو وزن مساوي دهغه جسم دحجم سره.که چيري ياد قانون نه وای انسان داوبو پرمخ حرکت نسوای کولی.ددې قانون په مرسته کبان په اوبو کي لامبو وهي اوژوندکوي:بيله دې قانونه به په اوبو کي يؤ کب هم نه وای پيداسوی.کبان ځکه په اوبو کي لامبووهي يا په بله مانا ژوند کوي ولې چي دهغوئ وزن دهغه اوبو څخه کم دئ کومې چي دوئ په خپل جسم سره بي ځايه کوي.که چيري ياد قانون نه وای بيړيو نسوای کولی چي دسمند څپې پري کړي اوپه هغه کي حرکت وکړي.په همدې خاطر الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ الجَاثِيَة : 12]
(اللَّهُ الَّذِى سَخَّرَ لَكُمُ الْبَحْرَ لِتَجْرِىَ الْفُلْكُ فِيهِ بِأَمْرِهِۦ وَلِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ )
همدا د الله ذات دی چي ستاسي لپاره يي سمندر اېل (تابع) کړ، تر څو په امر يي په هغه کښي بېړۍ وچليږي او تاسي د الله د فضل لټون وکړئ او شکر کوونکي اوسئ.
***************

داسي خبرونه مې اوريدلي دي چي وايي داسي دتيلو وړلو بيړۍ سته چي دريؤميليون ټنو ډېر تيل وړي،يادې بيړۍ ښارګوټو ته ورته دي چي دسمندر څپې پري کوي.
دالويي کښتی دڅا په فضل،مرسته اومهربانی دسمندر پياوړي څپې پري کوي؟
دالله جل جلاله لوی نعمت اومهرباني ده چي اوبوته يي داځانګړنه ورکړي چي اجسام لوړ لورته کشوي.ياد قانويؤه غربي پوه کشف کړی دئ. الله جل جلاله په ډېرو اياتونوکي دې مسئلې ته اشاره کړي ده.لومړی ايات شريف::[سُوْرَةُ الجَاثِيَة : 12](اللَّهُ الَّذِى سَخَّرَ لَكُمُ الْبَحْرَ لِتَجْرِىَ الْفُلْكُ فِيهِ بِأَمْرِهِۦ وَلِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ )
همدا د الله ذات دی چي ستاسي لپاره يي سمندر اېل (تابع) کړ، تر څو په امر يي په هغه کښي بېړۍ وچليږي او تاسي د الله د فضل لټون وکړئ او شکر کوونکي اوسئ.
***دويم ايات شريف:[سُوْرَةُ لقمَان : 31]
أَلَمْ تَرَ أَنَّ الْفُلْكَ تَجْرِى فِى الْبَحْرِ بِنِعْمَتِ اللهِ لِيُرِيَكُم مِّنْ ءَايٰتِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى ذٰلِكَ لَءَايٰتٍ لِّكُلِّ صَبَّارٍ شَكُورٍ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ايا ته نه وينې چي په سمندر کي کښتۍ د الله په فضل سره چليږي، تر څو چي هغه تاسي ته خپلي ځيني نښاني در وښيي. په باوري توګه، په دې کي د هر هغه چا لپاره ډيري نښاني دي چي صبر او شکر کوونکی وي.****دريم ايات شريف:[سُوۡرَةُ الشّوریٰ : 32](وَمِنۡ ءَايٰتِهِ الۡجَوَارِ فِى الۡبَحۡرِ كَالۡأَعۡلٰمِ )د هغه له نښانو څخه دغه بېړۍ دي چي په سمندرونو کښي د غرونو په شان ښکاريږي*****څلورم ايات شريف:[سُوۡرَةُ الرَّحمٰن : 24]وَلَهُ الۡجَوَارِ الۡمُنشَـَٔاتُ فِى الۡبَحۡرِ كَالۡأَعۡلٰمِ)او دا بېړۍ د همغه دي، چي په سمندر کښي د دنګوغرونو په څېر لوړي پورته شويدي.***پنځم ايات شريف[سُوۡرَةُ فَاطِر : 12]وَمَا يَسۡتَوِى الۡبَحۡرَانِ هٰذَا عَذۡبٌ فُرَاتٌ سَآئِغٌ شَرَابُهُۥ وَهٰذَا مِلۡحٌ أُجَاجٌ‌ۖ وَمِن كُلٍّ تَأۡكُلُونَ لَحۡمًا طَرِيًّا وَتَسۡتَخۡرِجُونَ حِلۡيَةً تَلۡبَسُونَهَا‌ۖ وَتَرَى الۡفُلۡكَ فِيهِ مَوَاخِرَ لِتَبۡتَغُوا مِن فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ )او د دواړو سيندونو اوبه يو شانته ندي: يو ډول يې خوږې او تنده ماتوونکي دي، ښې څښل کيږي؛ او بل ډول يې سختي ترخې مالګيني دي، چي نه شي څښل کېدای. خو د دواړو څخه تاسي تازه غوښه په لاس راوړئ، د اغوستلو لپاره د ګاڼې وسايل ترېنه راباسئ او په همدې اوبو کي تاسي ګورئ چي بېړۍ د هغو سينه څيروي وړاندي ځي، تر څو چي تاسي د الله فضل ولټوئ او د هغه شکر ايستونکي شئ.***دا دالله جل جلاله دمهربانۍ دنښو څخه يوه نښه ده. هروخت چي مو ديولاسي توکي څخه ګټه اخيستل چي د يوه ليري ځايه راوړل سوی وو لوړايات شريف دريادوئ.ښه نو دا دالله جل جلاله دمهربانۍ ،نعمتونو ،لطف اولويي نښه ده.[سُوۡرَةُ الرَّحمٰن : 25]فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ )نو (اې پيريانو او انسانانو) تاسي به د خپل رب کومي کومي لورېنې درواغ کړئ؟!***والله اعلم



(c) ketabton.com: The Digital Library



**د(البر)او(البحر)کلمو،وینو تکرار،تناسب دمځکې پرمخ دوچې اوسمندرونو ترمنځ نسبت:**

**دقرآنکریم دبیلابیلوعلمي اعجازو څخه یو ریاضیکي اعجازدئ.په قرآنکریم کي 13ځلي د(اَلْبَر)وچه،وچي ویي،کلمه تکرارسوي ده؛همدارنګه د(البحر)سمندر،سمندرونو ویي,کلمه په یوازي ډول 33واري راغلي ده.موږته ددې خبرې پوهه سته چي پیغمبر(ص)ټول سمندرونه نه وه لیدلي اودهغوی سره یې هومره اړیکه هم نه درلوده،که چیري هغه ایاتونه چي دالبر او البحر کلمي په هغه کي راغلي دي دیوبل سره جمعه کړو:**

**یوعدد په لاس راځي چي هغه د46عدد دئ،که چیري اوس هغه کلمي چي په هغه کي البر شتون لري :13پرهغه ویونوچي په هغه کي البحر یادسوی وي :46وویشو دمځکې دسطحي دوچي نسبت،اندازه دسمندر ونوسره په لاس راځي دانسبت 71سلنه دئ چي دوچي په نسبت دسمندرونو اندازه راته ښيي یاني دمځکې دمخ اوبه دوچي په نسبت 71سلنه دي .**

**که چیري بیا 41عدد پر 13وویشو 29سلنه عدد په لاس راځي چي دوچي اندزه دمځکې دسمندرونو په نسبت راته ښیي.یاني دمځکي دمخ هغه اندزه چي سمندرونه پکښي شتون نه لري 29سلنه ده نسبت سمندرونو ته.**

**ښه نو آیا دا دپاک کلام داپه زړه پوري محاسبه انسان کړي ده؟**

**څنګه هغه ایاتونه چي په هغه کي دمځکې وچه برخه ذکرسوي یاده سوي ده اوهغه ویونه چي په هغه کي سمندرونه یادسوي دي متناسیبي دي دنسبت سره دټولي مځکي دوچي اوسمندرونوسره .ښه نو دایوه دقیقه او حاکیمانه کوچنۍ نمونه ده دقرآنکریم داعجاز څخه چي دحسابي احکامو په نامه شهرت لري.همدرنګه په قرآنکریم کي دشهر ویي چي مانایي میاشت ده 12واري تکرارسوی دئ،آیادا کلمه اتفاقً راغلي ده؟هرڅومره چي علم پرمختګ وکړي اوعلمي تحقیقات نورهم پراخ سي هومره به دقرآنکریم علمي اعجازونه راښکاره کیږي،هغه چي مخکي نه وه پیژندل سوي.ښه نو:بختورهغه وګړی دئ چي قرآنکریم یادوي. خوشبخته هغه کس دئ چي قرآنکریم تلاوت کوي.بختورهغه وګړی دئ چي قرآنکریم نورو ته وربښیي ؛عمل ورباندي کوي اودحکمونوپه رڼا کي یې دخپل ژوند محال وپش جوړوي.**

**قرآنکریم شفاعت کوونکی اوخلاصوونکی دهغه وګړي دئ چي په هغه باندي عمل کوي؛حکمونه یې عملي کوي.ښه نو راسئ چي قرآنکریم ته رجوع وکړو چي داسلام آره سرچینه ده.الله جل جلاله فرمایي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



[سُوۡرَةُ بنیٓ اسرآئيل/الإسرَاء : 9]إِنَّ هٰذَا الْقُرْءَانَ يَهْدِى لِلَّتِى هِىَ أَقْوَمُ وَيُبَشِّرُ الْمُؤْمِنِينَ الَّذِينَ يَعْمَلُونَ الصّٰلِحٰتِ أَنَّ لَهُمْ أَجْرًا كَبِيرًا )حقيقت دا دی چي دغه قُرآن هغه لاره ښيي چي بيخي سمه سيخه ده. کوم کسان چي هغه ومني ښې چاري سرته ورسوي، هغو ته د ستر اجر زېری ورکوي،***قرآنکريم وګړي هغولاروته سيخ کوي چي سيده ترينې لارې دنيکبختی ددونيا او اخرت دي.الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ طٰه : 123] قَالَ اهْبِطَا مِنْهَا جَمِيعًاۖ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّۖ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّى هُدًى فَمَنِ اتَّبَعَ هُدَاىَ فَلَا يَضِلُّ وَلَا يَشْقٰى )او ويې فرمايل: "تاسي دواړه (دلي، يعني انسان او شيطان يا ادم او هوا) له دې ځايه کوز شئ. تاسي به يو د بل دښمنان ياست. اوس که زما له لوري تاسي ته کوم هدايت ورسيږي، نو څوك چي د هغه هدايت پيروي وکړي، هغه به نه ګمراه شي او نه به په بد بختی کښي اخته شي.***بيا الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ البَقَرَة : 38]قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًاۖ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّى هُدًى فَمَن تَبِعَ هُدَاىَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ )موږ وويل: "تاسي ټول له دې ځايه کوز شئ، بيا چي تاسي ته زما له خوا کوم هدايت ورسيږي، نو څوك چي زما د هدايت پېروي وکړي؛ نو پر هغو به څه وېره او غم نه وي؛***دقرآنکريم اعجازونه بيخې ډېردي هغه چي يادونه ورڅخه وسول يؤکوچنۍ بيلګه دهغوڅخه وه! والله اعلم



(c) ketabton.com: The Digital Library



# دسمندرونوداوبوتريوالی دئ

يـوه دنښنونښـانوڅخه دالله جـل جلالـه دعظمـت،لويي دسـمندرونوداوبوتريوالی دئ. پوهـان وايي:دسمندر په هرليټراوبوکي 27ګرامه مالګه شتون لري اودکالـه پـه نـړۍ کـي 50ميليونـه ټنــه مالګـــه دســـمندرونوڅخه دانســـانودخوا پـــه مصـــرف رســـيږي.دســـمندرونومالګه دټولوسمندرونوداوبو5/3برخه جوړوي اودسمندرداوبوپه هرکيلومترمکعب ساحه کي 34ټنـه مالګـه شـتون لري.کـه چيري دسـمندرونومالګه دسـمندرونوڅخه را وويسـتل سـي اودمځکې دشـېږولويو وچـوپرمخ وپاشـل سـي دمځکـي پـرمخ بـه دمـالګي لـوړوالی 153متروتــه ورسيږي!چي داخوراډېره مالګـه ده! دلتـه چي کـوم سـوال زموږپـام خپل ځانتـه را اړوي هغه دادئ چي دادومره ډېره مالګـه دسـمندرونوپه اوبوکي دکومـه سـول؟يو دپوهانوڅخـه وايي:پـه سمندرونوکي 5ميليونـه مکعبـه مالګـه شتون لـري،دا دځانـه ليکل سوي خبري نـه دي بلکـي دادقيقي شمېرې دعلمي کتابونوڅخه را اخيستل سوي دي.ښه نو دا مالګه دکومه راغلي اوپه سمندرونوکي ويشل سوي ده؟په دې اړه بيل بيل آندونـه شـتون لري.يوه نظريـه داده چي :پـه سمندرکي دمالګي لويې تېږې شتون لري چي دا ډبرې دسمندر پـه اوبـوکي ويلـې کيږي.يوه بله نظريه بياداده چي دسمندرونودغه مالګه دسيندونو اوبو دځان سره راوړې ده،دغه نظريه په ښکاره ځکه ناسمه مالوميږي چي :دمځکې پرمخ داسي جهلونه،سمندرګي شتون لري چي دسيندونو اوبه په هغوئ کي تويږي ولې دهغوئ اوبـه دميليونونـو کـالو راپـه دې خوادراوسـه خوږې دي؟دسمندرونود اوبو دتريوالي علت دراوسه هم نـامعلوم دئ اوکومـه منـونکي نظريـه بيله دې مبارک ايات څخه شتون نه لري؛الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ الفُرقان : 53]

وَهُوَ الَّذِى مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَّحْجُورًا )

او دا هماغه ذات دی چي دوه سمندرونـه يې سره يو ځـای کـړي دي. يـو خـوږ او خونـدور، بل تـريخ او تريـو. او د دواړو پـه منځ کښـي يـوه پـرده حائلـه ده، يـو خنـډ دی چي هغـوی يـې لـه ګډېدلو څخه ساتلي، منع کړي دي.***

سره ددې چي دسيندونواوبه سمندرونوته داخلې سي او سره ددې چي دمالګينوډبروڅخـه هم تېري سي دسيندونودغه اوبـه هيڅکلـه نـه تـروې کيږي بلکـي خوږې بـه وي،الله جل جلالـه فرمايي:[سُوْرَةُ الفُرقان : 53]وَهُوَ الَّذِى مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَّحْجُورًا )

(c) ketabton.com: The Digital Library



او دا هماغه ذات دی چي دوه سمندرونه يې سره يو ځای کړي دي. يو خوږ او خوندور، بل تریخ او تریو. او د دواړو په منځ کښي يوه پرده حائله ده، يو خنډ دی چي هغوی يې له ګډېدلو څخه ساتلي، منع کړي دي.***

هوکه چيرې دسيندونواوبه سمندرنوته ننوځي اوسلګونوکيلومتره مساحت ووهي تروې به نه سي اوهمداسي خوږې به پاته سي ولي چي دسمندرونو ددوه ډوله ځانګړونولرونکواوبوترمنځ يوخنډ پرده ده چي هغوئ يې ديوبل سره دګډيدوڅخه ساتلي دي،

[سُوْرَةُ الفُرقان : 53]وَهُوَ الَّذِى مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَّحْجُورًا )

او دا هماغه ذات دی چي دوه سمندرونه يې سره يو ځای کړي دي. يو خوږ او خوندور، بل تریخ او تریو. او د دواړو په منځ کښي يوه پرده حائله ده، يو خنډ دی چي هغوی يې له ګډېدلو څخه ساتلي، منع کړي دي.دغه پرده نه پريږدي چي دخوږواوبوکبان تروو اوبوته اودتروواوبوکبان خوږواوبوته داخل سي،الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ الواقِعَة : 68]أَفَرَءَيْتُمُ الْمَآءَ الَّذِى تَشْرَبُونَ )تاسي کله په غړېدلو سترګو کتلي دي، دغه اوبه چي تاسي يې څښئ؛

بيا الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ الواقِعَة : 70]لَوْ نَشَآءُ جَعَلْنٰهُ أُجَاجًا فَلَوْلَا تَشْكُرُونَ )

که موږ وغواړو نو دا به سختي تروې کړو؛ نو ولي شکر نه باسئ؟

***

يعني کـه الله جل جلالـه غوښتلی دغه اوبـه بـه يې هم دسمندرونوداوبوپه شان تروې کړی وای،بښه نـو ولـي ددې لـوی نعمـت ددرلږدلودخـاطره دخدای جـل جلالـه شـکرکوونکي ونـه اوسو؟!الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ فَاطِر : 12]وَمَا يَسْتَوِى الْبَحْرَانِ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ سَآئِغٌ شَرَابُهُ وَهٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ ۖ وَمِن كُلٍّ تَأْكُلُونَ لَحْمًا طَرِيًّا وَتَسْتَخْرِجُونَ حِلْيَةً تَلْبَسُونَهَا ۖ وَتَرَى الْفُلْكَ فِيهِ مَوَاخِرَ لِتَبْتَغُوا مِن فَضْلِهِۦ وَلَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ) او د دواړو سيندونو اوبـه يو شانته ندي: يو ډول يې خوږې او تنده ماتوونکي دي، بښې څښل کيږي؛ او بل ډول يې سختي ترخې مـالګيني دي، چـي نـه شـي څښـل کېـدای. خـو د دواړو څخـه تاسـي تـازه غوښـه پـه لاس راوړئ، د اغوستلو لپاره د ګاڼې وسايل تربنه راباسئ او په همدې اوبو کي تاسي ګورئ چي بېړۍ د هغو سينه څيروي وړاندي ځي، تر څو چي تاسي د الله فضل ولټوئ او د هغه شکر ايستونکي شئ.***

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سمندرکي دتندې لکبله دډېرو وګړو دمړينې ډېرکيسې شتون لري؛ځينې وخت کښتۍ ډوبيږي اودکښتۍ ځيني سپاره ژغورل کيږي مګردتندې لکبله داوبوڅخه په ډک سمندرکي خپل ژوند دلاسه ورکوي.ښه نوالله جل جلاله څومره ښه فرمايي:[سُوۡرَةُ فَاطِر : 12]

وَمَا يَسۡتَوِى ٱلۡبَحۡرَانِ هَٰذَا عَذۡبٌ فُرَاتٌ سَآئِغٌ شَرَابُهُ ۥ وَهَٰذَا مِلۡحٌ أُجَاجٌ‌ۖ وَمِن كُلٍّ تَأۡكُلُونَ لَحۡمًا طَرِيًّا وَتَسۡتَخۡرِجُونَ حِلۡيَةً تَلۡبَسُونَهَا‌ۖ وَتَرَى ٱلۡفُلۡكَ فِيهِ مَوَاخِرَ لِتَبۡتَغُواْ مِن فَضۡلِهِۦ وَلَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ )

او د دواړو سيندونو اوبه يو شانته ندي: يو ډول يې خوږې او تنده ماتوونکي دي، ښې څښل کيږي؛ او بل ډول يې سختې ترخې مالګيني دي، چي نه شي څښل کېداى. خو د دواړو څخه تاسي تازه غوښه په لاس راوړئ، د اغوستلو لپاره د ګاڼې وسايل ترېنه راباسئ او په همدې اوبو کي تاسي ګورئ چي بېړۍ د هغو سينه څيروي وړاندي ځي، تر څو چي تاسي د الله فضل ولټوئ او د هغه شکر ايستونکي شئ.*************سربيره پرتريوالي داوبوبله دالله جل جلاله دعظمت لويه نښه خپله سمندرونه دي!که دمځکې پرمخ دغه لوی حوضونه نه وای چا دغه حوضونه جوړول،ځيني سمندرونه د10زرومترډېرژوروالی لري! چا دغه لوی حوضونه پيدا کړي دي،حوضونه،اوبه،تريوالی،کبان،صدفونه،اوپه کايناتوکي دالله جل جلاله دعظمت درشمېرډېرې نورې نښې نښانې شتون لري.[سُوۡرَةُ الذّارِيَات : 20] وَفِى ٱلۡأَرۡضِ ءَايَٰتٌ لِّلۡمُوقِنِينَ)په ځمکه کښې د باور کوونکو لپاره (د الله (ج) د قدرت) ډېرې نښانې دي؛

****



(c) ketabton.com: The Digital Library



# داوبوجريان

**که چيري انسان سمندرته داخل سي:داوبوهغه ځاځکي چي انسان يې پرخپل بدن حس کوي ښايي دڅوکلونوسفر ورسته دغه ځای ته رارسيدلي وي.**

**ولې چي دسمندرونواوبه داستوا څخه دشمالي قطب اوجنوبي قطب لورته حرکت کوي اوځيني وخت داوبوداسفر در15زره کيلومتر وپوري فاصله وهي. کومې اوبه چي په سمندرکي موندل کيږي دنورو اوبو ځای نيوونکي اوبه دي چي اوږده لاره يې دشمال،جنوب،ختيځ اولويديځ لورته وهلې ده.**

**داوبودغه حرکتونه په سمندرونو،اقيانوسونو کي دپيچلو قوانينو پراساس سرته رسيږي، مگرهغه څه چي ديادولو وړدي هغه دادي چي داوبو ددغو حرکتونو علت داستوا په کرښه کي دلمر په مرسته داوبو دتودوخي لکبله دي.**

**داوبو داگرميدل داوبو سطحه،مخ شل سانتي متره پورته کوي دا لوړراپورته کيدل: دشمال سمت ته داوبو دخوځښت لامل کيږي،ښه نو اوبه په دواړو قطبونو کي سړيږي داوبو دغه يخيدل داوبو وزن ډېروي په همدې خاطر دسمند تل ته ځي او داستوا لورته حرکت کوي ترڅو دگرمو اوبو تشه ډکه کړي.څرگنده سول چي دوه حرکتونه رامنځته سول چي يو لوړلورته اوبل دسمندر دتل خواته دئ،موږ دي پايلې ته رسيږو چي الله جل جلاله دډېرښو نښانو څخه يوه يې همدا دسمندرونو داوبو خوځښت دئ. که چيرې يوه بيړۍ همدغو اوبو ته داخله سي او خپل ماشينونه بندکړي بيړۍ به په ساعت کي د8کيلومترو په چټکۍ روانه وي.**

**دسمندر داوبو ددې حرکت پراخولی لږ او ډېر 80کيلومتره او ژوروالی يې 450مترو ته رسيږي،همدارنگه داوبو ددې خوځښت حجم په هره دقيقه کي څلورميليونه ټنه وي.**

**دغه حرکتونه په هرو لسو ورځوکي 130زره ټنه ديخي ټوټې وړلی کوي.**

**دسمندرونو ددې حرکت گټې څشي دي؟دا حرکتونه بې شمېره گټې لري: داروپا ديخې سيمې هوا يې معتدله کړي ده... داوبو يوبل حرکت هم دسمندر دتل په 3زره مترۍ کي شتون لري ،که يو اوبتل خپل ماشينونه بندکړي:ددې حرکت په مرسته به ديوه ځای څخه بل ځای ته حرکت وکړي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالله جل جلاله دعظمت يؤه بله نښه چي غوارو پري خبرې وکړو داده: دسږو اوبو يؤ حرکت دجنوبي امريکا دسواحلو لورته حرکت کوي ترڅو دپيرو اوشيلي هيوادونو ته ورسيږي،

داوبودغه جريان دسمندري نباتاتو ډېره اندازه دخپل ځان سره ليږدوي دغوسمندري نباتاتو کي يؤ زيات شمېر ساردين کبان دخپل ګيډې دمړولو په نيت راغونډ سوي وي او دنباتاتو دليږد سره همدغه کبان هم ليږدول کيږي،کله چي سواحلوته دغه نباتات داوبوسره انتقال سي کبان هم پکښي شتون لري چي دميليونونو هغه الوتونکو خواړه جوړوي چي ديادو سمندرونو په ساحلونو کي ژوندکوي.

دغه مرغان په همدې ساحلونو کي فاضله مواد پرځاى پريږدي چي ديادو سيمو داوسيدونکو وګړو داقتصاد لپاره خورا اړين دي.
ولي چي ددې مرغانو دفاضله موادوڅخه غوره سره لاسته راځي،د50مليونو مرغانو فاضله مواد راټوليږي او دنړۍ بيلا بيلو برخو ته استول کيږي. دجنوبي امريکا دساحلونو داوسيدونکو وګړو داقتصاد ډېره برخه ددې مرغانو پرفاضله موادو پوري تړلي ده چي دساردين کبانوڅخه خپله خواړه برابروي.

پوهان اټکل کوي چي دغه سمندري کارغان دکاله 3ميلونه ټنه ديادوکبانو څخه خوري.
دا کبان په هغو سمندري نباتاتو کي چي داوبو جريانونو دځان سره را وړې رانقل سوي دي.
که الله جل جلاله په خپل حکمت سره دا اراده وکړي چي داوبو ددې جريان مخ بل لور ته واړوي:ساردين کبان به دسمندري نباتاتوڅخه تغذيه نه سي اومړه به سي په همدې ډول به سمندري مرغانو ته خواړه ونه رسيږي او مړه به سي،وګړي به ددې مرغانو دفاضله موادوڅخه بې برخي سي او دسختو اقتصادي ستونزو سره به لاس او ګريوان سي؛داستونزې به دهغو وګړو د دردونکي لوږي لامل سي. آيا داخبره دانه ثابتوي چي الله جل جلاله ستر روزي رسوونکى دئ!
الله جل جلاله اوبه په حرکت راولي اوبه دځان سره دکبانو غذا انتقالوي،کبان دمرغانو خواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دي اودمرغانو دفاضله موادو دپيسوڅخه انسانانوته خواړه په لاس ورځي داټول دسړو اوبو دحرکت برکت دئ چي دجنوبي امريکا دسواحلو لورته درومي. دادخليج ګرم خوځښت اوسوړخوځښت وو همدارنګه دادسمندر دسطحي اوتل حرکت وو.**

**دسمندرونو داوبوجريان يوه پيچلي او اوږده موضوعه ده چي يوې برخې باندي مويې خبرې وکړي!الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ الجَاثِيَة : 3]إِنَّ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ لَءَايٰتٍ لِّلْمُؤْمِنِينَ ) حقيقت دا دى چي په اسمانونو او ځمکه کښي بې شمېره نښاني د ايمان راوړونکو لپاره دي.**

****************

**بيا الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ الذّارِيَات : 20]وَفِى الْأَرْضِ ءَايٰتٌ لِّلْمُوقِنِينَ)په ځمکه کښي د باور کوونکو لپاره (د الله (ج) د قدرت) ډيري نښاني دي؛**

*****************

**هرکلـــه چـــي وغـــواړو دالله جـــل جلالــــه پـــه لــــويي کـــي آندوکړو:آسمان،مځکه،سمندرونه،کبان،اوبه،هوا،مرغان،غرونه ،نباتات،حيونات اوانسانان زموږ په مخ کي دي موږ ته ترټولوښه همدغه زموږپه وړاندې مخلوقات دالله په قدرتوتوکي دژورآندکولو وخت درکوي.الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ حٰمٓ السجدة/فُصِّلَت : 53]سَنُرِيهِمْ ءَايٰتِنَا فِى الْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتّٰى يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ الْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ)**

**ډېر ژر به موږ دوی ته خپلي نښاني په افاقو (هيوادونو) کښي هم وښيو او د دوی پخپلو نفسونو کښي هم؛ تر دې پوري چي دوی ته دا خبره څرګنده شي چي دغه قُرآن په رښتيا سره پر حق دی. ايا دا خبره کافي نه ده چي ستا رب پر هر څه شاهد دی؟**

---

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نباتات

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دقرآنکريم دتلاوت اغيزه دنباتاتو پرلوېوالي اوکيفيت باندي.**

په يوه عربي هيواد کي يو څيرونکی ژوندکوي چي په خپلو علمي او عملي څيړونو په عربو اونړی کي پيژندل سوی دئ،هغه په ژنيتيک کي تخصص کړی؛ هغه دپوهنتون استاد او دډېرې پوهي خاوند دئ چي په خپلو پراخو علمي څيرونو سره شهرت لري.

دي يوه يو دا سي تجربه سرته ورسول چي کيدای سي تاسو پري باور ونه کړئ،مګر دا رښتيا دي او په قرآنکريم کي دغه سکالو(موضوع) يادسوی دئ.الله جل جلاله فرمايي:
[سُوۡرَةُ بنىَ اسرآئيل/الإسراء : 44] تُسَبِّحُ لَهُ السَّمٰوٰتُ السَّبۡعُ وَالۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّ ۚ وَإِن مِّن شَىۡءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمۡدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفۡقَهُونَ تَسۡبِيحَهُمۡ ۗ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا
د هغه پاکي خو اوه اسمانونه او ځمکه او هغه ټول شيان بيانوي چي په اسمانونو او ځمکه کښي دي، هيڅ شی داسي نه شته چي د هغه له ستايني سره د هغه پاکي نه بيانوي؛ خو تاسي د هغو په پاکي بيانولو نه پوهېږئ. حقيقت دا دی چي هغه ډېر زغمونکی او ښښونکی دی.
[سُوۡرَةُ النُّور : 41] أَلَمۡ تَرَ أَنَّ ٱللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَن فِى ٱلسَّمٰوٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَٱلطَّيۡرُ صَٰٓفَّٰتٍ ۖ كُلٌّ قَدۡ عَلِمَ صَلَاتَهُۥ وَتَسۡبِيحَهُۥ ۗ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِمَا يَفۡعَلُونَ )
ايا ته نه ويني! هغه ټول مغلوقات چي په اسمانونو او ځمکه کښي دي، او هغه الوتونکي چي په وزرونو غوړولو سره الوزي الله په پاکی سره ستايي؛ هر يو د خپل لمانځه او ثنا ستايني کړنلاره پيژني. او دوی ټول چي څه کوي، الله پري پوهيږي.[سُوۡرَةُ الحَشر : 24]هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡخَٰلِقُ ٱلۡبَارِئُ ٱلۡمُصَوِّرُ ۖ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰ ۚ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمٰوٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ ۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ)الله هغه ذات دی چي د هستوني پلان جوړوونکی او د هغه نافذوونکی او د هغه سره سم صورت جوړوونکی دی. د هغه ډېر غوره نومونه دی. هر څه چي په اسمانونو او ځمکه کښي دي، د هغه په پاکی سره ستاينه کوي او هغه برلاسی او د حکمت څښتن دی.[سُوۡرَةُ الرَّحمٰن : 6]وَٱلنَّجۡمُ وَٱلشَّجَرُ يَسۡجُدَانِ )او ستوری او ونه دواړه (ټول) سجده کوونکي دي؛***************دغه څيرونکی وايي:نباتات هم دنورو مخلوقاتو په شان احساس کوي،اوري او پردوئ باندي اغيزه کوونکو کړنو ته په مثبت يا منفي ډول ځواب ورکوي،دا دياد څيرونکي دڅيړني لنديز وو،په تفصلي ډول بايدووايوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه څيرونکي په 1997ميلادي کال کي دخپل پوهنځي په بڼ کي څيرنه پيل کړل:هغه څلور پلاستيکي کوټې په يؤه اندازه جوړي کړې،هغه يې په يؤه اندازه دخاور څخه ډکي کړې،په هغوئ کي يې په يؤه اندازه غنم وکرل ،ټولوته يې په يؤه اندازه مالومه سره(امبار)ورکوئ او ټولو ته يې په يؤه اندازه او وخت اوبه ورکولې.

ورسته در يادو کارونو يې د خپل يؤ محصل څخه وغوښتل چي په اونۍ کي دوه ځله سورة ياسين،فاتحه،اخلاص او ايات کرسي دکرل سو غنمو په لومړۍ کوټه کي تلاوت کړي.
دبل زده کوونکي څخه يې وغوښتل چي ځيني نباتات دې راوړې او دکرل سوو غنمو په دويمه کوټه کي دې يې پري پري کړې او په هغه کوټه کي دې بې رحمانه اوسختي خبرې ورته کوي او داکړنه دې هم په اونۍ کي دوه ځله تکراروي.
دېؤه بل زده کوونکي څخه يې وغوښتل چي په دريمه کوټه کي دې ددويمي کوټې دريمه اندازه بې رحمانه او سختي خبرې کوي او په غچي سره دې دهغوئ دپري کولو اراده کوي.

لنډه داچي په لومړۍ کوټه کي کرل سوو غنمو ته قرآنکريم تلاوت کيږي په دويمه کوټه کي نور نباتات دغنموپه مخ کي غوځيدل په دريمي کوټي کي غنمو ته ازار ورکول کيدئ او دڅلورمي کوټې غنم پرخپل حال پريښودل سول چي په طبيعي ډول غټ سي.

ددې څيرنې پايله چي هغه په يؤه علمي غونډه کي څرګنده کړل داسي وه:
دهغې کوټې غنم چي په هغې کي قرآنکريم تلاوت کيدئ دنورو کوټو دغنمو څخه يې 44سلنه ښه وده کړي وه او دهغوئ دانې دنورو کوټو څخه 144سلنه ډيرې وې.
ددويمې او دريمي کوټې غنم چي ازار او تکليف ورکول کيدئ دهغوئ لويوالی دلومړۍ کوټې په نسبت 35سلنه کوچنی وو،او حاصل يې هم 88سلنه ورڅخه کم وو.
دغه حکم عملي تفسير دبرکت دئ.
ښه نو هر کله چي يؤ مؤمن مسلمان کښت کوي قرآنکريم دزړه دتله تلاوت کوي او الله جل جلاله يادوې:دغه کړنه يې دکښت دبرکت او ډيرښت لامل کيږي،همداسي په نورو کړونو کي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ البَقَرَة : 261] مَّثَلُ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمۡوَٰلَهُمۡ فِى سَبِيلِ ٱللَّهِ كَمَثَلِ حَبَّةٍ أَنۢبَتَتۡ سَبۡعَ سَنَابِلَ فِى كُلِّ سُنۢبُلَةٍ مِّاْئَةُ حَبَّةٍۗ وَٱللَّهُ يُضَٰعِفُ لِمَن يَشَآءُۗ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ**

**کوم خلك چي خپل مالونه د الله په لار کښي لګوي، د هغو د لګښت مثال داسي دی، لکه چي يوه دانه وکرله شي او لـه هغې څخـه اوه وږي زرغونـه شي او پـه هر وږي کښي سل دانې وي. په همدې ډول کله چي د چا عمل ته د الله خوښه شي، زياتوالی پـه کښي راولي. الله (ج) هم پراخوونکی او هم د علم څښتن دی.**

***

**ښايي موږ په دې خبره تعجب وکړو چي نباتات قرآنکريم اوري او هغه ته ځواب ورکوي ولـي تعجب وکړو الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ الحَشر : 24]هُوَ ٱللَّهُ ٱلۡخَٰلِقُ ٱلۡبَارِئُ ٱلۡمُصَوِّرُۖ لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ )**

**الله هغـه ذات دی چـي د هستوني پـلان جـوړوونکی او د هغـه نافذوونکی او د هغـه سره سم صورت جوړوونکی دی. د هغه ډېر غوره نومونه دی. هر څه چي په اسمانونو او ځمکه کښي دي، د هغه په پاکی سره ستاينه کوي او هغه برلاسی او د حکمت څښتن دی.**

********

**دغرونو او نباتاتو ترمنځ کوم يو يې ژوند تـه نـژدي دئ؟ قرآنکريم پر پيغمبر صلی الله عليـه وسلم باندي نازل سوی دئ ترځو زموږ دژوند تکلاره سي مګر انسان چي قرآنکريم دهغه دنيکبختی لپاره پر رسول الله نازل سوی دئ دهغه څخـه پـه غفلت کـي دئ پـه داسـي حال کـي چي نباتات هغه ته ځواب ورکوي. الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ بنیٓ اسرآئیل/الإسرَاء : 44] تُسَبِّحُ لَهُ ٱلسَّمَٰوَٰتُ ٱلسَّبۡعُ وَٱلۡأَرۡضُ وَمَن فِيهِنَّۚ وَإِن مِّن شَىۡءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمۡدِهِۦ وَلَٰكِن لَّا تَفۡقَهُونَ تَسۡبِيحَهُمۡۗ إِنَّهُۥ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا)د هغه پـاکي خـو اوه اسمانونـه او ځمکـه او هغه ټول شيان بيانوي چي پـه اسمانونو او ځمکـه کښـي دي، هيڅ شـی داسـي نـه شته چـي د هغه لـه ستايني سره د هغه پاکي نه بيانوي؛ خو تاسي د هغو په پاکي بيانولو نـه پـوهېږئ. حقيقت دا دی چي هغه ډېر زغمونکی او ښښونکی دی.**

****************

**الله جل جلالـه بيا فرمايي:[سُوۡرَةُ الرَّحمٰن : 6] وَٱلنَّجۡمُ وَٱلشَّجَرُ يَسۡجُدَانِ)او ستوری او ونـه دواړه (ټول) سجده کوونکي دي؛[سُوۡرَةُ الرَّحمٰن : 13]فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نو (اې پېريانو او انسانانو)، تاسي به د خپل رب کوم کوم نعمتونه درواغ وګڼئ؟!**

**************

**ښه نو کله چي دنباتاتو کرنلاره دقرآنکريم سره په دې ډول وي، آيا داد عقل مندی کرنه ده چي انسان هغه مخلوق چي دمخلوقاتو غوره دئ او دقرآنکريم آره مخاطب دي چي سيده اودبرياليتوب لارې ته يې را بولي دقرآنکريم څخه غافله وي او مسلمانان دې ددې ايات شريف مصداق سي چي فرمايي:[سُوْرَةُ الفُرقان : 30]وَقَالَ الرَّسُولُ يٰرَبِّ إِنَّ قَوْمِى اتَّخَذُوا هٰذَا الْقُرْءَانَ مَهْجُورًا)او پېغمبر به ووايي: "اې زما ربه! زما قوم دغه قُرآن پرېښی ؤ."**



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ددوسمندرونوپه منځ کي ديوال،خند چي په بشپړډول دهغوئ ديؤبل څخه جلاکوونکی دئ.

په قرآنکريم کي دوه سپيڅلي اياتونه په دي اړه شتون لري:لومړی يې په سورت رحمن اودويم يې په سورت فرقان کي دئ. په لومړي ايات کي خدای جل جلاله فرمايي:سُوۡرَةُ الرَّحۡمٰن : 19]مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ ) دوه سمندرونه يې خوشي کړل چي سره يو ځای شي؛ [سُوۡرَةُ الرَّحۡمٰن : 20]بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ ) بيا هم د هغو تر منځ يوه پرده حائله ده چي هغوی ترېنه تېری نکوي.[سُوۡرَةُ الرَّحۡمٰن : 21]فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ) نو (اې پيريانو او انسانانو) تاسي به د خپل رب کوم کوم نعمتونه درواغ وګڼئ؟!

*********

پوهان ددي خنډ،ديوال په اړه په تعجب کي لويدلي چي چيري شتون لري:آيا داخنډونه دسره سمندر او دهند دآقيانوس په منځ کي دي يا دتور او مديترانه سمندر په منځ کي؛او که يا دجبل الطارق،او مديترنه،اطلس اقيانوس په منځ کي دا جلاکوونکي ديوالونه،خنډونه چيري دي؟

[سُوۡرَةُ الرَّحۡمٰن : *٢١*19]مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ )دوه سمندرونه يې خوشي کړل چي سره يو ځای شي؛بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ)بيا هم د هغو تر منځ يوه پرده حائله ده چي هغوی ترېنه تېری نکوي.(فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ )نو (اې پيريانو او انسانانو) تاسي به د خپل رب کوم کوم نعمتونه درواغ وګڼئ؟!

*********

يؤشی چي ډېر جالب دئ هغه دادئ چي دهرسمندرخانته يو ډول تريوالي،غلظت،رنګه اومعلومه دتودوخي درجه لري او ددې سره چي سمندرونه ديؤبل سره موښتي دي دهغوئ په ځانګړونو کي توپير نه راځي. که يؤځوک په الوتکه کي دجبل الطارق پرتنګي يا پرباب المندب اويا دبسفر پرسر الوتنه وکړي:وبه ويني چي يؤسمندر دبل سمندر سره توپير لري.
دسمندر پوهانو دا موندلي ده که دسره سمندر داوبو زرات په باب المندب کي دغه ديوال ته ورسيږي بيرته به دسره سمندر لورته حرکت وکړي. ښه نو دهمند دسمندر اوبه به سره سمندر ته نه ننوزي او دسره سمندر اوبه به په همدي ډول دهمند دسمندر داوبوسره نه ګډيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



[سُوۡرَةُ الرَّحمٰن : 20](بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخٌ لَّا يَبۡغِيَان )بيا هم د هغو تر منځ يوه پرده حائله ده چي هغوی ترېنه تېری نکوي.

****

هريو ددوئ څخه په مالومه اندازه غلظت،تودوخه اوترپوالی لري چي ډېرښت او کمښت نه پکښي راځي.دمديترانه سمندر دتور سمندر او اطلس سمندر سره هم دغه رکم دئ.[سُوۡرَةُ الرَّحمٰن : 19](مَرَجَ الۡبَحۡرَيۡنِ يَلۡتَقِيَانِ )دوه سمندرونه يې خوشي کړل چي سره يو ځای شي؛ [سُوۡرَةُ الرَّحمٰن : 20]بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخٌ لَّا يَبۡغِيَانِ)بيا هم د هغو تر منځ يوه پرده حائله ده چي هغوی ترېنه تېری نکوي.[سُوۡرَةُ الرَّحمٰن : 21]فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ )نو (اې پيريانو او انسانانو) تاسي به د خپل رب کوم کوم نعمتونه درواغ وګڼئ؟!

*****

دغه خنډ داسي خنډ نه دئ لکه يو ديوال بلکي دايو نرم شی دئ چي په اوبوکي ګډ دئ دويم ايات چي په قرآنکريم په دې اړه راغلی هغه دادئ،الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ الفُرقَان : 53](وَهُوَ الَّذِى مَرَجَ الۡبَحۡرَيۡنِ هٰذَا عَذۡبٌ فُرَاتٌ وَهٰذَا مِلۡحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخًا وَحِجۡرًا مَّحۡجُورًا) او دا هماغه ذات دی چي دوه سمندرونه يې سره يو ځای کړي دي. يو خوږ او خوندور، بل تريخ او تريو. او د دواړو په منځ کښي يوه پرده حائله ده، يو خنډ دی چي هغوی يې له ګډېدلو څخه ساتلي، منع کړي دي.

*************

ښه نو دخوږو او تروو اوبو په منځ کي يو منعه کوونکی شتون لري،دبيلګي په ډول:دام ريکا ديوه سيند څخه په يوه ثانيه کي 300زره متره مکعبه خوږې اوبه اطلس سمندر ته بهيږي او 80 کيلومتره په سمندر کي مخته ځي، دا خوږې اوبه دتروو اوبو په منځ کي لاره وهي مګر ديوبل سره نه ګډيږي ولي چي:[سُوۡرَةُ الرَّحمٰن : 20]بَيۡنَهُمَا بَرۡزَخٌ لَّا يَبۡغِيَانِ )
بيا هم د هغو تر منځ يوه پرده حائله ده چي هغوی ترېنه تېری نکوي.

*******

همدارنګه ډېر دخوږو اوبو کبان تروو اوبو ته نه داخليږي او په همدې ډول دتروو اوبو کبان خوږو اوبو ته نه ننوزي ولې چي همدا خنډ ددوئ د داخليدو مخه نيسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ الفُرقان : 53] وَهُوَ الَّذِى مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَّحْجُورًا )

او دا هماغه ذات دى چي دوه سمندرونه يې سره يو ځاى کړي دي. يو خوږ او خوندور، بل تريخ او تريو. او د دواړو په منځ کښي يوه پرده حائله ده، يو خنډ دى چي هغوى يې له ګډېدلو څخه ساتلي، منع کړي دي.

*****

دا دالله جل جلاله دلويو نښو څخه يؤه نښه ده چي دسمندرونو اوبه ديؤبل سره نه ګډېږي.

آيا يؤڅوک کواى سي چي په يؤه لوښي کي خوږې او تروي اوبه توئ کړې بيله دې چي سره ګډې سي ،آيا ورسته درګډولو به يې ديؤبل څخه بيلي کړې او آيا کولى سي دهمدغه لوښي څخه يؤازي خوږې اوبه وڅښي.[سُوۡرَةُ الـرَّحمٰن :۲۱* 19] مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ ) دوه سمندرونه يې خوشي کړل چي سره يو ځاى شي؛ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ ) بيا هم د هغو تر منځ يوه پرده حائله ده چي هغوى ترېنه تېرى نکوي. فَبِأَىِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ) نو (اې پيريانو او انسانانو) تاسي به د خپل رب کوم کوم نعمتونه درواغ وګڼئ؟!

********

کله چي پوهان خپل ددې کشف څخه ډېر خوشحاله وه وي مونـدل چي په قرآنکريم کي دې خبرې ته اشاره سوې ده ،په تعجب کي سول. هغوئ دا هم کشف کړل چي ددوو سمندرونو په منځ کي دخوږو اوتروو اوبو ترمنځ دوه منعه کوونکي شتون لري:يؤ خنډ ددې خنډونو څخه ددوسمندرونو اوبه ديؤبل سره دګډيدلو څخه ساتي مګردويم خنډ داسي دئ چي ديؤه سمندر کبان نه پرېږدي چي بل سمندر ته ننوزي او دا ددې لامل کيږي چي هرسمندر خپل دتريوالي دغلظت ميزان او خپلي خاصي ځانګړني وساتي او هغه دبل سمندر سره دګاونډيتوب په سبب دلاسه ورنه کړې.

دغه دويم خنډ ددوو سمندرونو ترمنځ ثابت نه دئ او دبادونو او نورو خوځښتونو په سبب ديؤځاى څخه بل ځاى ته حرکت کوي. قرآنکريم دغه دويم کشف ته هم اشاره کړي ده،قرآنکريم لومړي منعه کوونکي ته برزخ او دويم منعه کوونکي ته حِجر نوم ياد کړى دئ.والله اعلم،الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ الفُرقان : 53]وَهُوَ الَّذِى مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ هٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَّحْجُورًا)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او دا هماغه ذات دی چي دوه سمندرونه يې سره يو ځای کړي دي. يو خوږ او خوندور، بل تريخ او تريو. او د دواړو په منځ کښي يوه پرده حائله ده، يو خنډ دی چي هغوی يې له ګډېدلو څخه ساتلي، منع کړي دي.**

*********

**دسمندرونو ددې دوو خنډونو په اړه ځېړني رواني دي.**

**ښه نو هرڅه چي الله جل جلاله پيداکړي دي دېرهيرانوونکي دي او په هغوئ کي سترپندونه،نصحتونه اوپريکړنده دلايل شتون لري. والله اعلم**



(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنباتاتو جذبيدنه دلمر لورته

نباتات دلمر لورته جذبيږي کـه چيرنباتات پـه يؤداسي کوټه کي چي کړکۍ ولري کښيږدو :دنبات څانګې او ښاخونه به دهغه کلکين لورته مايل سي ځکه دلمروړانګې دهغه څخه کوټې ته دننه کيږي. هيرانوونکي به دا وي چي دنبات پاڼې بـه داسي ترتيب سي چي ټولو تـه رڼا دلمروړانګې ورسيږي.

ډېر داسي لږ پيښيږي چي پاڼې دي سره وپيچل سي خو بيا بـه هم پاڼې دلمر لورتـه ځاى ونيسي؛په نباتاتو کي دا ځانګړنه ريښتني ده.[سُوۡرَةُ النَّمل : 63] (أَءِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِۚ ) ايا لـه الله سره کوم بل خداى هم (د دغه کار کوونکی) شته؟ -

*************

يؤه پوه نبات راوړى اوهغه يې په کومه لؤله کي سرچپه کښيښوئ ورسته درڅه مودې يې وليدل چي ريښې يې لاندي لورتـه او پاڼې يې لوړلورتـه تللي دي،پاڼې ريښې دلندبل اوپاڼې دلمر او هوا لورته کشيږي.چا نبات داسي پيداکړى؟ چا نبات داسي پيداکړى چي يؤه برخـه يې دلمر او بله برخه يې دمځکي لورته رکشيږي؟

[سُوۡرَةُ النَّمل : 63](أَءِلَٰهٌ مَّعَ اللَّهِۚ ) ايا لـه الله سره کوم بل خداى هم (د دغه کار کوونکی) شته؟

*****

يؤبل ديادولو وړتکى دادئ چي دځينو نباتاتو ريښې داوبو دموندلو لپاره در30مترو پوري رسيږي که چيرې اوبه دخاورې په يؤه لوري کي وي ريښه هم هغه لوري ته کشيږي کـه څه هم اوبه دمځکې په ډېره لاندي برخه کي وي.

ساقه چي تل لوړ لورتـه وده کوي کـه چير دلمررڼا دبل لورڅخـه وځليږي ساقه بـه هم هغه لورته وده وکړي.دلته انسان ته سوال پيداکيږي چي آيا ماده عقل لري؟

دريښو کشيدل داوبو لورتـه دپاڼو اوساقو وده دهسک لورتـه داالله جل جلالـه دلويي دنښو نښانو څخه دي. يؤبله پيښه چي ډېره هيرانوونکي ده هغه داده :ښـه نو کلـه چي نبات تږى سي منطقي خوداوه چي لومړى يې باېد دريښو اوبه مصرف کړى کارولي واى،مګر داسي نـه ده لومړى دپاڼو اوبه مصرفيږي بياد څانګو بيا دتنې او ورسته دريښې اوبه مصرفيږي.

کله چي نبات ته اوبه ونه رسيږي ورستۍ اوبه چي نبات يې کاروي هغه دريښې اوبه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که يؤ دهقان دنبات اوبول هيروي او باران هم نـه وي نبـات هغه اوبـه لـومړی مصرفوي چې دهغوئ پـه کـارول ورتـه چنداني زيـان نـه رسيږي،ورستی اوبـه چې نبـات يې کـاروي هغه د ريښو اوبه دي که چيرې نبات لومړی دريښو اوبه مصرفوالی په هغه لومړيو کي به نبات وچ او لمنځه به تللای. ښه نو په دې کي څه حکمت دئ الله جل جلاله فرمايي:

[سُوۡرَةُ يُونس : 101](قُلِ انظُرُوا مَاذَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالۡأَرۡضِ ۚ وَمَا تُغۡنِى الۡءَايٰتُ وَالنُّذُرُ عَن قَوۡمٍ لَّا يُؤۡمِنُـونَ ) دوی تـه ووايـه: "پـه اسمانونو او ځمکـه کښـي چـي څـه دي، هغه پـه غړېدلو سترګو وګورئ!"- او کوم خلك چي لـه سره ايمـان راوړل نـه غواړي، د هغو لپاره نښانې او اخطارونه مدافع او ګټور کېدای نه شي.

***************

بيله شکه هرڅه چي دمځکي پرمخ شتون لري دالله جل جلالـه پرلويوالي،حکمت،علم،رحمت، اوفضل دلالت کوي.والله اعلم



(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنبات دنده داوبو ساتل دي

دځینو نباتاتو دنده په هغو دښتو او وچو سیمو کي چي اوبه شتون نه لري داوبه ذخیره کول،ساتل دي.

هرمسافر په یوه وچه بي اوبو دښته کي درهرڅه لومړی اوبو ته اړتیا لري:په همدي خاطر دځینو بي اوبو سیمو ونې په خپله تنه کي در 3زره لیترو اوبو پوري ساتي. انسانان او حیونات کولی سي خپله تنده او داوبو اړتیا ددې ونو دښاخونو او څانګو په پري کول چي رنې اوپاکي اوبه به پکښي ساتل سوي وي پوره کړي. ښه نو داونې الله جل جلاله په وچو او بي اوبو دښتو کي دانسانانو دتندې دلیري کولو لپاره پیداکړي دي.

داونې په خپلو تنو کي داوبو دذخیره کولو ساتلو لپاره داوبو دساتلو نسجونه لري او هغوئ کي دانسان داړتیا اوګټې اخیستو وړاوبه ساتي.دغه نسجونه چي دسپنج په ډول دي دونو په ښاخونو اوڅانګو په منځ کي ځای لري. ددې ونو داوبو دساتلو اندازه په وچو موسمونو کي درزره لیترو ته رسیږي دا ونې دالله جل جلاله دلوري دانسانانو دګټې اخیتنې لپاره پیداسوي دي. ښه نو هغه وخت دانسانانو تباهي اوبربادي پیل سول چي انسانانو دځنګلونو دونو په پري کولو داوبو په ککړولو،چاپیریال ته دزیان رسوونکو غازونو په ازادولو پیل وکړ او دا چاره ددې لامل سول اوسي به چي ډول ډول ناروغی او طبعي پیښې رامنځته سولي اوپه راتلونکي وخت کي به لاډیرې سي.

دچاپیریال ساتلو سکالو ډیراړین سکالو دئ،الله جل جلاله فرمایي: [سُوۡرَةُ البَقَرَة : 205]
وَإِذَا تَوَلَّىٰ سَعَىٰ فِى الْأَرْضِ لِيُفْسِدَ فِيهَا وَيُهْلِكَ الْحَرْثَ وَالنَّسْلَ ۗ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ الْفَسَادَ )او کله چي هغه ته قدرت په لاس ورځي (یا کله چي بېرته وګرځي)، نو په ځمکه کښي د هغه ټولي هلي ځلي ددې لپاره وي چي فساد خپور کړي، کښتونه لوټ کړي او انساني ځوځات له منځه یوسي. په داسي حال کښي چي الله (هغه ذات چي هغه به شاهد نیوه) هیڅکله فساد نه خوښوي.

****************

(c) ketabton.com: The Digital Library





## دزرغونې(شنې)پاڼې کارخونه

**بيله شکه موږ ټولو په پسرلي کي دطبعت ښکلا ليدلي ده،داسي چي وابښه راشنه کيږي ونې پاڼې،څانګي غوټۍ او ګلونه کوي ټولې مځکې زرغونې جامې اغوستي وي اوټول نباتات راټوکيدلي وي. آيا دالله جل جلاله دلويي نښو ته مو ددې ښکلا په ليدو ژورآند کړی دئ،آيا دې لاندې آيات کي چي ددې طبعي ښکلا ټوکيدلو ته پکښي اشاره سوي پام مو کړی: [سُوۡرَةُ الأنعَام : 99](وَهُوَ الَّذِىَ أَنزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَأَخْرَجْنَا بِهِۦ نَبَاتَ كُلِّ شَىۡءٍ فَأَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا وَمِنَ النَّخْلِ مِن طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وَجَنَّٰتٍ مِّنْ أَعْنَابٍ وَالزَّيْتُونَ وَالرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا وَغَيْرَ مُتَشَٰبِهٍ ۗ انظُرُوٓا إِلَىٰ ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثْمَرَ وَيَنْعِهِۦٓ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكُمْ لَءَايَٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هماغه ذات دی چي له اسمانه يې اوبه ورولي، بيا موږ د هغو په وسيله هر راز نباتات راوټوکول، بيا مو ورڅخه شنه ښې‌رازه کښتونه او ونې پيدا کړل، بيا مو ورڅخه لاندې باندې سپړې دانې راويستلي، او د کجورو(خُرما) له ځانګو څخه مو د مېوو وږي شنګلي پيدا کړل چي له ډېر بار نيولو څخه ښکته زانګي؛ او دانګورو، ښونو (زيتنو) او انارو باغونه مو جوړ کړل، چي د هغو مېوې يو بل ته ځېرمه ورته هم دي، او بيا د هري يوې خصوصيات بېلا بېل هم دي. دا ونې چي کله مېوه نيسي، نو په هغو کښې د مېوې راوړلو او بيا يې د پخېدو ځرنګوالي ته لږ ځير شئ. په دې شيانو کښې د هغو کسانو لپاره نښانې دي، چي ايمان راوړي.

*********

دبټو او وښو راټوکيدل دبوټو بدليدل په ونو دمځکي زرغونه جامه اوغستل دا ټول دالله جل جلاله دعظمت دنښو څخه دي الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ عَبَسَ : 24-32]فَلْيَنظُرِ الْإِنسٰنُ إِلٰى طَعَامِهِۦٓ ) بيا دي انسان خپلو خوړو ته وګوري. أَنَّا صَبَبْنَا الْمَآءَ صَبًّا ) موږ ښې اوبه راتوی کړي دي؛ (ثُمَّ شَقَقْنَا الْأَرْضَ شَقًّا ) بيا ځمکه مو په عجيبه شان شلولې (څيرلې) ده؛

فَأَنۢبَتْنَا فِيهَا حَبًّا) بيا په هغې کي مو غلې، دانې را زرغونې کړي دي، وَعِنَبًا وَقَضْبًا )او انګور او سابه، وَزَيْتُونًا وَنَخْلًا ) او ښوون (زيتون)، او کجوري (خُرما)،(وَحَدَآئِقَ غُلْبًا ) او ګڼ باغونه،(وَفٰكِهَةً وَأَبًّا) او ډول ډول مېوې او شينلي (واښه)؛(مَّتٰعًا لَّكُمْ وَلِأَنْعٰمِكُمْ ) د ژوند د وسايلو په توګه، ستاسي او ستاسي د څارويو لپاره.

*******

څوک چي دطبيعت ښکلاويني په همدې ښکلا کي ګرځي اوکتنه يې کوي دطبيعت دا ښکلا يې مغزو ته خوښې وربخښي مګر دالله جل جلاله شکر نه ادا کوي او دا ښکلا ګاني دالله جل جلاله دعظمت نښې نه بولې دا سي يو انسان دئ چي دقرآنکريم څخه غافله دئ دغه مبارک ايات دانسان پام خپل ځان ته اړوي: [سُوْرَةُ يٰسٓ : 80](الَّذِى جَعَلَ لَكُم مِّنَ الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ نَارًا فَإِذَآ أَنتُم مِّنْهُ تُوقِدُونَ ) هماغه ذات چي ستاسي لپاره يې له شنې سمسورې ونې څخه اور پيدا کړ او تاسي د دې څخه خپل نغري بلوئ؛**** ********کيدای سي يوڅوک وپوښتي ونې چي وچې سي اور اخلي الله جل جلاله دلته ولې داسي فرمايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهانو مالومه کړي که کلورفيل دزرغون والي حجره(ژونکي)لمرته مخامخ سي په هره دقيقه کي 20عضوي ترکيبونه جوړوي،نبات داوبو اوځيني معدني موادو په مرسته ځان تغذيه کوي، نبات چي ډېر ګاز دهوا څخه اخلي هغه دکاربن ډای اوکسيډ غازدئ(Co2)چي دنبات په جوړښت کي ونډه لري،دنبات جوړښت،دهغه بدنه دانسان دليد خلاف دخاورو څخه نه ده بلکي ديوې لويي چټکې فابريکي څخه ده چي الله جل جلاله دزرغوني پاڼي په منځ کي جوړه کړي ده.که چيري دنبات پاڼې نه وای:نبات به شتون نه درلودی.

که چيري نبات په تاريکۍ کي يا دلمر دوړانګو څخه نبات ليري کړو وده نه کوي . دغه هسکي لوي درختې او دهغوئ پنډې تنې چي څو ټنه وزن لري دهغې فابريکي توليد دي چي په کوچنيو زرغونو پاڼو کي شتون لري. ښه نو ولي الله جل جلاله دلته فرمايي: سُوْرَةُ يٰسٓ : 80](الَّذِى جَعَلَ لَكُم مِّنَ الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ نَارًا فَإِذَآ أَنتُم مِّنْهُ تُوقِدُونَ )

هماغه ذات چي ستاسي لپاره يې له شنې سمسوري ونې څخه اور پيدا کړ او تاسي د دې څخه خپل نغري بلوئ؛

********* ****

دلته دې ته اشاره سوي ده که چيري الله جل جلاله په نبات،ونه کي دغه بې شمېره کارخونې نه وای پيداکړي ونو به هيڅ دباندنی شتون نه درلودای. ښه نو کله چي انسان دطبيعت ښکلاويني بايد دالله جل جلاله په اياتونو کي ژور آند وکړي او ورڅخه غافله نه سي الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ يُوسُف : 105](وَكَأَيِّن مِّنْ ءَايَةٍ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ يَمُرُّونَ عَلَيْهَا وَهُمْ عَنْهَا مُعْرِضُونَ) په اسمانونو او ځمکه کښې ځومره نښاني دي چي پر هغو دوی تېرېږي او يوه ذره پاملرنه ورته نه کوي.*****بيا الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ عَبَسَ : 24](فَلْيَنظُرِ الْإِنسٰنُ إِلٰى طَعَامِهِۦٓ )بيا دي انسان خپلو خوړو ته وګوري.

****************

انسان په ژمي کي ونې دوچولرګيو په ښه ويني مګر په پسرلي کي دغه ونې ځوانيږي،غوټۍ کوي ګولونه کوي اوپاڼې کوي دا ټوله کارونه څوک کوي؟

هرکله چي موږ په دښت کي يوازي رازرغون سوی نبات وليدئ ورڅخه وپوښتئ:چا ته را وټکولي او زرغون يې کړي،چا تاته دراشين کيدلو توانايي درکړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بیله شکه الله جل جلاله دهرشی پیداکوونکی دئ الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ الأنعَام : 99]**
وَهُوَ الَّذِىٓ أَنزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَأَخۡرَجۡنَا بِهِۦ نَبَاتَ كُلِّ شَىۡءٍ فَأَخۡرَجۡنَا مِنۡهُ خَضِرًا نُّخۡرِجُ مِنۡهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا وَمِنَ النَّخۡلِ مِن طَلۡعِهَا قِنۡوَانٌ دَانِيَةٌ وَجَنَّٰتٍ مِّنۡ أَعۡنَابٍ وَالزَّيۡتُونَ وَالرُّمَّانَ مُشۡتَبِهًا وَغَيۡرَ مُتَشَٰبِهٍۗ انظُرُوٓاْ إِلَىٰ ثَمَرِهِۦٓ إِذَآ أَثۡمَرَ وَيَنۡعِهِۦٓۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكُمۡ لَأٓيَٰتٍ لِّقَوۡمٍ يُؤۡمِنُونَ )او هماغه ذات دی چي له اسمانه يې اوبه ورولي، بيا موږ د هغو په وسيله هر راز نباتات راوټوکول، بيا مو ورڅخه شنه ښۍرازه کښتونه او ونې پيدا کړل، بيا مو ورڅخه لاندي باندي سپړې دانې راويستلي، او د کجورو(خُرما) له ځانگو څخه مو د مېوو وږي شنګلي پيدا کړل چي له ډېر بار نيولو څخه ښکته زانگي؛ او دانګورو، ښونو (زيتنو) او انارو باغونه مو جوړ کړل، چي د هغو مېوې يو بل ته ځېرمه ورته هم دي، او بيا د هري يوې خصوصيات بېلا بېل هم دي. دا ونې چي کله مېوه نيسي، نو په هغو کښي د مېوې راوړلو او بيا يې د پخېدو ځرنګوالي ته لږ خير شئ. په دې شيانو کښي د هغو کسانو لپاره نښاني دي، چي ايمان راوړي.************************



(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنباتاتو تخمونه اودهغوئ ډولونه

خداى جل جلاله دنباتاتو دژوند بنسټ پر تخمونو جوړ کړى دئ. دنباتو ډېربنت،تکثر پرتخمونو تړلى دئ. تخمونه يؤه لويه نړى لري،که موږ دهغو دځانګړنو او نورو اړوند سکلوګانو څخه خبرسو په هيرت کي به ولويږو .

دتخمونو اندازې ډېر توپيرونه سره لري :دهندي جوز تخم دومره کوچنى دئ چي په هرګرام کي يې 70000دانې شتون لري،دغه تخم دګرد په ډول دئ. هغه ځانګړنه چي دټولو تخمونو ترمنځ ګډه ده هغه ژوند دئ،که غواړئ په دې اړه په ډېرڅه وپوهيږئ:دلوبيا يا چڼو دانې پر لندومالوچو کښيږدئ وبه ګورئ چي هغه څنګه وده او لويوالى کوي او په ريښو اوڅانګو بدليږي،همدغه دلوبيا دانه درهغو دنبات دغذا لپاره بس ده ترڅو نبات دمځکي څخه ځان تغذيه کوي.

ځيني تخمونه وزرونه لري!هو وزرونه لري،هوا ته پورته کيږي او سلګونه کيلومتره لار وهي ترڅو ديؤه هيواد بل يا ديؤې سيمې څخه بلې سيمې ته ورسيږي او په طبيعي ډول په لنده مځکه کي راشنه سي.

ښه نو دغه تخمونه ځکه وزرونه لري چي ديؤې سيمې څخه پروازوکړي اوبله سيمه زرغونه کړې. ځيني تخمونه پشمونه لري ترڅو نيژدي سيمو ته پري وليږدول سي لکه ځيني ګلونه.ځيني نور تخمونه کروړ،سخت پوستکى لري ترڅو اوبه ورڅخه تيري نه سي او دسيلابونو اوسيندونو په مرسته ديؤې سيمې څخه بلې سيمې ته ليږدول کيږي.

ځيني نور تخمونه بيا اغزي لري ترڅو دحيوانتو پر بدن وموښلي او دهغوئ سره بلې سيمې ته وليږدول سي. ځيني نور تخمونه سرښناکه ماده لري دمرغانو پر پښو مښلي او ديؤې سيمې څخه بلې ته ليږدول کيږي.

ځيني نور تخمونه بيا سخت،کروړ پوښونه لري او دطبيعي پيښو په مرسته يې پوښونه ماتيږي او راشنه کيږي. دځينو نباتاتو ريښې په مځکې در 17مترو ننوزي او دځينو نباتاتوريښې په مځکه کي در30مترو رسيږي ترڅولندبل يا اوبوته ورسيږي او ځان موږ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سُوْرَةُ لقمَان : 11](هَٰذَا خَلْقُ اللَّهِ فَأَرُونِى مَاذَا خَلَقَ الَّذِينَ مِن دُونِهِۦ ۚ بَلِ الظَّٰلِمُونَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ
) دا خو د الله پيدا كول دي، اوس ما ته را وښاياست، له هغه پرته دغو نورو څه پيدا كړيدي؟
- اصلي خبره دا ده چي دغه ظالمان په څرګنده ګمراهۍ کښي غور ځېدلي دي.

********

ښه نو ځيني تخمونه وزرونه لري؛ځيني پشمونه ځيني اغزي ځيني كروړ پوستونه ځيني سخت پوښونه ځيني سرښناكه ماده لري ترڅو دمرغانو پر پښو ومښلي او ديؤې سيمې څخه بلې ته وليږدول سي. داټول دالله جل جلاله دعظمت ،لويي او حكمت ښكارندوي دي!!!



(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنباتاتو زغونوالی

**ويل کيږي چي دانسان په لاس جوړه سوي يؤفابريکه هم دومره پرمختللې نه ده لکه هغه فابريکه چي دشنې پاڼې په دننه کي شتون لري!**

**دپاڼې په حجرو(ژونکو)کي يؤه ماده شتون لري چي هغه ته کلورفيل،شنه ماده وايي،هرکله چي دغه ماده دلمرورانگو ته مخامخ سي دهغې ماليکولونه دتودوخې پياوړو واحدونو ته اوړې اوهغه اوبه چي دپاڼې په دننه کي شتون لري تجزيه کوي او هايدروجن H او اوکسيجن Oورڅخه لاسته راوړي. ښه نو که موږ غواړو په خپلو هغو وسايلو چي دراوسه يې په لاس کي لرو اوبه تجزيه کړو او اوکسيجن او هايدروجن ورڅخه په لاس راوړ موږ 2500cدرجې تودوخې ته اړتيا پيداکوو.**

**انسانان،نباتات،او حيوانات په پرلپسي ډول اوکسيجن ته اړتيا لري اوتنفس کوي يې،څنگه په هوا کي دنورو غازونو سره داوکسيجن نسبت ثابت پاتي کيږي؟**

**ددې لپاره چي په هوا کي دغازونو اندازه ثابته پاته سي:دمځکې پرمخ نباتات 100بيليونه ټنه دکاربن ډای اوکسيډ گاز او25بيليونه ټنه هايدروجن په غذايي موادو او 100بيليونه ټنه اوکسيجن بدلوي همدارنگه دهغې انرژۍ مجموعه چي نباتات يې دفتوسنتز په عمليه کي کاروي دانسانانو ديؤه کال دمصرف سوي انرژۍ لس برابره ده. ديؤې منځنۍ ونې پاڼې په هرساعت کي يؤ کيلو گرام غذايي مواد توليدوي،دغه غذايي مواد په شپه کي په خوږه بدليږي ترڅو ونه دهغې څخه گټه واخلي او يا هم په ونه کي دنشايسته په بڼه ذخيره کيږي .**

**الله جل جلاله فرمايي: [سُوْرَةُ يٰسٓ : 80](الَّذِى جَعَلَ لَكُم مِّنَ الشَّجَرِ الْأَخْضَرِ نَارًا فَإِذَآ أَنتُم مِّنْهُ تُوقِدُونَ) هماغه ذات چي ستاسي لپاره يې له شنې سمسوري ونې څخه اور پيدا کړ او تاسي د دې څخه خپل نغري بلوئ؛**

*****************

**د( الْأَخْضَرِ )کلمه وه زرغونوالي ته اشاره کوي ولې چي په پاڼه کي يؤ ډېره پياوړې فا بريکه شتون لري چي ډېر ارزښتمن کارسرته رسوي چي انسان دهغه دسرته رسول توناييي نه لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تخمونه او دهغوئ دخوا دسختو شرايطو زغمل

دخدای دعظمت دنښو نښانو څخه يوه يې داده چې پر داسې يوځمکه چې پرهغې په کلونو باران نه وي سوی هغې ته اوبه نه وي رسيدلي پرهغې واښه،ګلونه اوبوټي را زرغونيږي،دکار دهيرت وړدئ.

دلته انسان ته يو سوال پيداکيږي:پردغه ځمکه چې دا اووه او يا لس کلونه باران نه وو اوريدلی دا تخمونه دکومه سول چې واښه،بوټي او ګلونه تري راشنه سول؟

داسوال په پوره ډول پرځای دئ دا کوم چا دا تخمونه نه دي پاشلي څنګه دا وچه ځمکه زرغونه سول؟

ښه نو چا داتخمونه پاشلي دي ددې سوال ځواب دادئ:پوهيږو چې سختي ډيري هم درطبيعي پيښو لاندې راځي،سختي طبيعي پيښي عبارت دي:دباد،باران،زلزلو،ګرمی اويخنی څخه داپيښي کروړي ډيري درخپلي اغيزې لاندي راولي اوهغوئ په خاورو بدلوي.

داپيښي پرغرونو اوسيندونو هم خپله اغيزه لري،آيا داپيښي پرهغو تخمونو چې الله جل جلاله په خاورو کي پټ کړي اغيزه نه کوي؟ پوهان وايي تخمونه داسي پيداسوي دي چې حتی سختي طبيعي پيښي هم پر هغو کومه اغيزه نه کوي. کله چې هغوئ په ځمکه کي پټ سي او موږ هغوئ نه وينو کلونه پرهغوئ بادونه،ګرمی او يخنی تيريږي مګر داد تخمونه چې ځانته پيښي زغمونکی او ځانګړی پوښ لري خپل په ځان کي کوچنی ساقې؛ځانګې؛ريښې او غذايي مواد ساتي،ورسته درڅوکلونو باران اوريږي او دهمدې تخمونو څخه ښکلي ګلونه،بوټي او واښه راشنه کيږي. ښه نو دغه تولنه ښکلا په دې تولنه موده کي چيري وو،خدای جل جلاله دهغوپيښو څخه چې هرڅه لمنځه وړي دوئ ساتلي وه. يوه بله هيرانوونکي بيلګه دتخمونو دساتل کيدو داده: الله جل جلاله دانسان په معده کي پياوړي او ښه اغيزه کوونکي تېزاب (کلردريک اسيد) پيدا کړي دي،که موږ سخته غوښه هم وخورو دمعدې داتېزاب: دهغوئ کوچني فعالعه ماليکولونه پيسين به دغه سخته غوښه تجزيه کړي.

په دې باره کي هم تجربی سرته رسيدلي دي،دبيلګې په ډول:پوهانو دغوښې يوټوټه په يو فلزي توپ کي چې کوچنی سوری يې درلودئ واچول،دا کوچنی توپ يې په يوه حيوان وخوړئ دڅه وخت ورسته يې ياد ژوی مړ اودهغه دمعدې څخه يې ياد توپ را وويستئ،وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ليدل چي په هغه توپ کي غوښې شتون نه درلودئ ځکه دتوپ درکوچني سوري هغه ته تېزب ورغلي وه او غوښه يې تجزيه کړي وه.ښه نو آيا هضم يو ميخانيکي عمليه ده که کيمياوي؟ په حقيقت کي هضم دادواړې عمليې په برکي نېسي:کله چي خواړه په ميخانيکي ډول هضم نه سي کيمياوي مواد هغه په مايع بدلوي.

هر سخت خواړه چي انسان خوري دمعدې دتېزابونو او انزايمونو په مرسته په مايع بدليږي او دجذب وړګرځي،ددې ټولو سربيره ځيني داني او تخمونه چي انسان دميوسره خوري دانسان دبدن څخه بيله تجزيه کيدلو اوبيله کوم بدلونه وزي،او دمعدې ميخانيکي او کيمياوي عمليې پرهغوئ کومه اغيزه نه سي کولی!

دا دالله جل جلاله حکم او حکمت دئ ولي چي هغه جل جلاله ددې تخمونو دساتني دپاره يوداسي پوست او ساتونکی ځای پرځای کړی دئ چي هغه يې دهرې ميخانيکي او کيمياوي اغيزي څخه پري ساتلی دئ. مه هيروئ چي څيرونکو دمصر په اهرمونو کي داسي غنم لاسته راوړل چي هغوئ شپږزره کاله مخکي ذخيره سوي وه،څيرونکو همدغه غنم وکرل اوهغوئ راشنه سول. ولي چي ځيني تخمونه الله جل جلاله دسختو شرائيطو لاندې خوندي ساتي. دغه کوچنيو ژونديو موجوداتو ته په شپږ زره کاله کي کوم زيان نه وليدلی اوخپلې ځانګړني يې ساتلي وي په همدي خاطر الله جل جلاله فرمايي:

[سُوْرَةُ لقمَان : 11](هَٰذَا خَلْقُ اللَّهِ فَأَرُونِى مَاذَا خَلَقَ الَّذِينَ مِن دُونِهِۦ ۚ بَلِ الظَّٰلِمُونَ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ) دا خو د الله پيدا کول دي، اوس ما ته را وښاياست، له هغه پرته دغو نورو څه پيدا کړيدي؟ - اصلي خبره دا ده چي دغه ظالمان په څرګنده ګمراهی کښي غور ځېدلي دي.

*********



(c) ketabton.com: The Digital Library

# حیوانات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دمور زړه دژونديو موجوداتو په منځ کي

دالله جل جلاله دعظمت دنښو نښانو څخه يؤه هغه يې دمور زړه دئ:زموږ موخه دمور فزيکي زړه چي دوه دهليزه،دوه بطنه.لري نه دئ بلکي زموږ موخه دمور مينه داولاد سره يا دهغې معنوي زړه دئ.

پوهان وايي:پياوړي انګيزه او اړيکه دانسان په وجود مورنۍ مينه او اړيکه ده بلکي دټولو ژونديو موجوداتو په منځ کي مورنۍ مينه او اړيکه دټولو څخه پياوړي ده .

دمورنۍ مينې،شفقت او مهربانۍ دلايل نه يوازي په انسانانو کي بلکي په ټولو ژونديو موجوداتو کي بې شمېره دي.

دعبدالله بن مسعود (ض)څخه رواويت سوئ دئ چي رسول الله صلی الله عليه وسلم يؤځای ودريدئ يؤ صحابي دونو لورته ورغلئ او دهغه ځای څخه يې ُحمْره په نامه ديؤه مرغه هګۍ دځان سره راوړي،دې مرغه دپيغمبر صلی الله عليه وسلم پرسر په راګرځيدلو پيل وکړ پيغمبر صلی الله عليه وسلم وپوښتل چا ستاسو څخه دي مرغه ته ازار ورکړی دئ؟

هغه سړي وويل:ماددې يؤه هګۍ را اخيستې ده،رسوالله وويل:هغه وروړه.

**************

سره غالبوزه،غومبسه دبوټو او ګلون، شيره راټولوي اوپه يؤ مستطيل شکله لرګي کي داشيره او د ګلونو خوړې توټې ذخيره کوي او لرګی ورڅخه ډکوي،بيا هګۍ اچوې او دغه کندو په خاورو پوښې ورسته مري،ع ورسته ديادي غالبوزي هګۍ په کوچنيو غومبسو بدليږي او همدلته ديؤه کال خواړه موندې. الله جل جلاله فرمايي: [سُوْرَةُ طٰه : 50](قَالَ رَبُّنَا الَّذِىٓ أَعْطٰى كُلَّ شَىْءٍ خَلْقَهٗ ثُمَّ هَدٰى)

موسی (ع) ځواب ورکړ: "زموږ رب هغه ذات دی چي هر شي ته يې د هغه خپل جوړښت ورکړ، بيا يې ورته لار وښودله."

******************

يؤبل ډول غومبسه په مځکه کي تونل کيندې،کله چي هغه چينجی موندي هغه چيچې او دزهرو په مرسته يې بې هوښه کوي مګر هغه نه وژني،ورسته هغه دکيندل سوي تونل لورته کشوي،هګۍ اچوې دتونل لاره بندوي او د خپلو چيچيانو لپاره تازه خواړه پرځای پريږدي چي داوړدې مودې لپاره هغوئ ددغو خوړو څخه تغذيه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني ښځينه مرغان خپلو چيچيانوته در1300ځله ډېر خواړه ورکوي. ښځينه اوښه دخپل جونګي دلاسه ورکولو په وخت کي ژاړي،همدا ډول سپې هم دخپلو کوتريانو دلاس ورکولو په غم کي ژاړي،که يؤه آسپه خپل کورنګی دلاسه ورکړي يؤ وحشت ناکه شئ‌شنی کوي او څوک نه پريږدي چي هغه ته ورنژدي سي،دخوړو دخورک او اوبو دڅښلو څخه پرهيز کوي. دالله جـل جلالــه دلويي،حکمــت او مهربــانی دډېــرو نښــو نښــانوڅخه يـؤه يــې دمــور مينه،ترحم،شفقت دئ چي نـه يؤازي پـه انسانانو کـي بلکـي پـه ټولـو ژونـديو موجوداتـو کـي شتون لري. والله اعلم

------------------------------ ------------------------------

# اوښ

کله چي انسان اوښ ته آند وکړې وبه ويني چي يؤ جالب ژوی دئ او دبدن جوړښت يې هيرانوونکی دئ. اوښ په وچو او بياباني سيمو کي دليږد راليږد يؤه ښه وسيله ده. په نړۍ کي در15ميليونه ډېر اوښان شتون لري چي شمېر يې نور هم دډېريدلو په حال کي دئ.

داوښ بدن داسي جوړښت لري چي داوبو اوهوا دسختو شرايطو سره ژر توافق کوي.

داوښ سترګي ددوو ځيرمو لرونکي دي چي داوښ سره مرسته کوي چي شيان لـوی ووينـي او دريګونو او دښتو دګرد او غبار څخه يې سترګي خوندي وساتي، دشيانو دلوی ليدلو لکبلـه اوښ يؤ ماشوم يا کوچني ژوي ته په آسانی تسليميږي. الله جل جلالـه فرمايي.[سُوۡرَةُ يٰسٓ : 72](وَذَلَّلۡنٰهَا لَهُمۡ فَمِنۡهَا رَكُوبُهُمۡ وَمِنۡهَا يَأۡكُلُونَ ) موږ هغه پداسي شان دوی تـه ښکېل (تـابع) کړيدي چي پر ځينو باندی دوی سپريږی، د ځينو غوښه خوري،

*************

اوښ کولی سي خپل پزه او غوږونه بند کړي ترڅو دوړې او ګرد ورتـه زيـان ونـه رسوي او تک ته په سخت باد کي دوام ورکړي. داوښ شونډان سخت او نـاوړي يـې دسختو شيانو لکـه اغزو دتجزيي لپاره بسنه کوي.[سُوۡرَةُ الغَاشِيَة : 17](أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ) نو ايا دوی اوښ ته نه ګوري چي څنګه پيدا کړ شوی دی؛

*****

اوښ دڅښلو لپاره لږو اوبو تـه اړتيا لري،ددې سربيره چي اوښ دلمبيدلو دفلزي حمام په

(c) ketabton.com: The Digital Library



اندازه اوبه څښلی سي،مګر اوښ کولی سي لسګونه ورځې بيله اوبو ژوند وکړي:هغه داسي چي دسختي اړتيا په وخت کي اوښ داړتيا وړ اوبه دخپل بدن دنسجونو څخه اخلي چي په پايله کي يې دخپل بدن يؤ پر څلورمه برخه وزن دلاسه ورکوي بيله دي چي دياد وزن په دلاسه ورکولو سره دتګ په وخت کي ناتونه سي. اوښ په خپلو بوکونو کي دخپل بدن يؤ پر پنځمه برخه غوړ ذخيره کوي ولې که چيري خواړه په لاس رانه وړي خپله اړتيا دخپلو بوکونو څخه پوره کوي. الله جل جلاله فرمايي: [سُوْرَةُ الغَاشِيَة : 17](أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ) نو ايا دوی اوښ ته نه ګوري چي څنګه پيدا کړ شوی دی؛

***************

داوښ منځنی عمر در40کاله ډېر دئ، داوښ سپرتيا او کنټرول هوسا دي خو هغه وخت کله چي دهغه سره په مهربانۍ چلند وسي.

داوښ دبدن جوړښت دانسانو دعبرت اخيستلو لپاره غوره دئ،راسئ چي دې ايات شريف ته ژور آندوکړو.[سُوْرَةُ الغَاشِيَة : 17](أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى الْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ )

نو ايا دوی اوښ ته نه ګوري چي څنګه پيدا کړ شوی دی؛

*****



(c) ketabton.com: The Digital Library



# دغوا شيدې

دغوا شيدې چي موږ يې په بيلا بيلو لارو لکه: دچايو،مستو،پنير،شلومبو په ډول کاروو: بشپړه خواړه دي.

دغوا دشيدو 87څخه د91 سلنه اوبه جوړې همدا ډول دغوا په شيدو کې خوړه،پروټينونه،معدني موادکلسيم،فسفر،A.B.C.Dويټامينونه شتون لري مګر جالبه داده چي شيدې دژول سوو نباتاتو او وينو دمنځه په خالص ډول دغوا دغولانځي څخه ترلاسه کيږي. نوي څيړنو مالومه کړي ده چي غوا، دشيدو توليدونکي غدې لري،دغه غدوات پر نور کوچنيو ځانګو ويشل سوي چي ريښې ورته وايي،ريښې ديؤې غشاء په واسطه پوښل سوي چي په خوا کي يې کوچني رګونه دي ددې غشاء حجرې دکوچنيو رګونو څخه دشيدو دتوليد اړين مواد اخلي او دشيدو توليدونکو غدو ته يې ليږي ورسته درهغه دغو غولانځو ته شيدې ځي او خالصي شيدې په لاسه راځي.

دراوسه لا دا نه ده مالومه چي هغه حجري چي دکوچنيو رګونو دويني څخه دشيدو توليدونکي مواد اخلي په شيدويې بدلوي په کوم ميکانيزم کارکوي.

پوهان وايي دشيدو توليدونکو حجرو په خواکي کوچنيو رګونو کي د300څخه در400ليټرو ويني تيريدلو ته اړتيا ده ترڅو هغوئ يؤ ليټر شيدې توليد کړې؛ياني يؤ ليټرشيدې د300څخه در400ليټرو ويني څخه ترلاسه کيږي. په رښتيا چي دغوا دبدن يؤه لويه فابريکه ده الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ النّحل : 66](وَإِنَّ لَكُمْ فِى ٱلْأَنْعَٰمِ لَعِبْرَةً ۖ نُّسْقِيكُم مِّمَّا فِى بُطُونِهِۦ مِنۢ بَيْنِ فَرْثٍ وَدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشَّٰرِبِينَ)

او ستاسي لپاره په څارويو کښي هم يو درس (عبرت) شته، د هغو له ګيډې د خوشيو او ويني تر منځ موږ يو شی په تاسو څيښو، يعنې خالص شيدې، چي د څښونکو لپاره ډيري په خوند تيرېدونکي دي.

*****

ښه نو موږ تر اوسه ددې حجرو دکار په حقيقت نه يوو خبر چي څنګه دغه ژونکي دکوچنيو رګونو دويني څخه اوبه،ويټامينونه،قندونه،معدني مواد،پروټينونه،اوغوړي اخلي او دهغوئ دترکيب څخه شيدې جوړوې،يؤه غوا هره ورځ 30کيلو ګرامه شيدې کوي اوهرکيلوګرام

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيدې هغه وخت ترلاسه کيږي چي دشيدو توليدونکو حجرو په خواکي په کوچنيو رګونو کي دري سوه ليټره وينه تيره سي.

الله جل جلاله په لاندي ايات شريف کي دخپل عظمت دنښو نښانو څخه يؤې ته اشاره کړي اوفرمايي:[سُوۡرَةُ النّحل : 66](وَإِنَّ لَكُمۡ فِى ٱلۡأَنۡعَٰمِ لَعِبۡرَةًۖ نُّسۡقِيكُم مِّمَّا فِى بُطُونِهِۦ مِنۢ بَيۡنِ فَرۡثٍ وَدَمٍ لَّبَنًا خَالِصًا سَآئِغًا لِّلشَّٰرِبِينَ)

او ستاسي لپاره په څارويو کښي هم يو درس (عبرت) شته، د هغو له ګېډي د خوشيو او ويني تر منځ موږ يو شی په تاسو څيښو، يعني خالص شيدې، چي د څښونکو لپاره ډيري په خوند تيرېدونکي دي.

*****

څوک دا حکم صادروي او دا چاره په داسي منظم ډول ترتيبوي؟ څوک دغه حجروته لارښوونه کوي چي:پتاشم،فسفر،کلسيم،ويټامينونه،غازونه،قندوته،غوړي دويني څخه واخلئ اوهغه ترکيب کړئ؟ څنګه دغه مواد په سپينو خالصو شيدو بدليږي چي په هغوئ کي دويني هيڅ اثر نه وي؟ هغه معجزې چي په هسک،مځکه،حيواناتو،نباتاتو کي دي ټولې دالله جل جلاله دلويي او حکمت دنښو نښانو څخه دي.

داد الله جل جلاله دلويي نښه ده کوم نباتات چي غواګاني خوري هغه الله جل جلاله انسانانو ته په خالصو شيدو بدلوې. آياتاسو کولی سئ دغه نباتات په شيدو بدل کړئ؟ بيله شکه شيدې دانسانانو لپاره ښه او بشپړه غذا ده او دا دالله جل جلاله دنعمتونو څخه يؤ نعمت دئ الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ يسٓ : 72](وَذَلَّلۡنَٰهَا لَهُمۡ فَمِنۡهَا رَكُوبُهُمۡ وَمِنۡهَا يَأۡكُلُونَ ) موږ هغه پداسي شان دوی ته ښکېل (تابع) کړيدي چی پر ځينو باندی دوی سپريږی، د ځينو غوښه خوري،

**************

خدای جل جلاله حيونات زموږ په اختيارکي راکړي داسي چي يو کوچنی؛ماشوم يؤه غوا دځرولو لپاره بيايي او هغه ته کوم زيان نه رسوي،که غوا ليونی سي هغه لس کسه هم نه سي نيولی. ښه نو غوا او نور ژوي دانسانانو دهوسايني،ګټي اخيستلو لپاره پيداسوي او ځيني يې ورته رام سوي دي .

آيا دابه ښه نه وي چي تل دالله جل جلاله دنعمتونو شکر اداکړو او دهغه جل جلاله بندګي په ښه ډول سره وکړو او تل يې يادونه وکړو

(c) ketabton.com: The Digital Library





* * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * * *



(c) ketabton.com: The Digital Library



# زرافه

**الله جل جلاله فرمايي: [سُوْرَةُ النَّمل : 88](وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ۚ صُنْعَ اللهِ الَّذِيَ أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ ۚ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ) نن ته غرونه وينې او ګومان کوې چي ښه کلك ښخ شويدي. خو په هغه وخت کښي به دا د وريځو په څېر الوتونکي وي، دا به د الله د قدرت نښانه وي چي هر شی يې په حکمت سره بر قرار کړيدی. هغه ښه خبر دی چي تاسي څه کوئ.**

*********

**زرافه دلوړ قد لرونکی ژوی دئ،دزرافي اوږدوالی درشپږو مترو ډېرېږي. زرافه هوښيار او تېزه منډي وهونکی حيوان دئ،خدای جل جلاله زرافي ته دوې سترګې ورکړي چي ديُو برج په څير دسر په پورتنۍ برخه کي يې ځای لري،زافه دخپلو سترګو په مرسته 360درجې خپل شاوخوا ليدلی سي همدارنګه دزرافې وزن دريڅوه ټن ډېر او دمنډې وهلو په وخت کي چټکوالی په ساعت کي 60کيلومترو ته رسيږي.**

**دزافو غاړې دنورو حيواناتو څخه اوږدې دي چي اوږدوالی يې يونيم متر ته رسيږي،دزافي سر لوی دئ چي دغاړې او سر اوږدوالی يې دوه متره کيږي.**
**دزرافي سر دهيرانوونکي ځانګړني لرونکی دئ:کله چي زرافه وغواړې پر مځکه کوم څه وخورې دبدن څخه يې وينه په تېزۍ سره دسرلورته ځي چي دغاړې رګونه يې شين رنګ اختيار کړي، کله چي زرافه وغواړې سر دمځکې څخه پورته کړې نو طبعً چي دوينې ونور بدن ته په ژر تللو به دسر ګرځيدلو او بې هوښۍ سره مخ سي خو داسي نه کيږي ځکه الله جل جلاله زرافو ته يو ځانګړنه ورکړي ده چي پوهان يې په تعجب کي کړي دي.**

**ددې ژوي دسر رګونه جالبه ځانګړنه لري،دزرافي دسر رګونه دوالونو درلودونکي دي،کله چي زرافه سر دمځکي څخه پورته کړي دغه والونه ټول بند سي ترڅو وينه دزرافي دسر څخه ناڅاپي ونه وزي او زرافه دبې هوښې سره مخ نه سي،ورسته درڅه وخت دغه والونه لږ لږ خلاصيږي او دزرافي دسر څخه وينه دبدن نور غړو ته ځي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه نو کله چي زرافه سره کښته کوي ډېره وينه دزرافې سرته ځي او کله چي سر پورته کوي وينه په يؤه وار بيرته نورو غړو ته نه ځي بلکي ورو ورو دزرافې په سر کي موجود والونه پرانيستل کيږي او وينه نورو غړو ته پريږدي چي دا کار ددې لامل کيږي چي دزافي سر په يؤه وار ډېره وينه دلاسه ورنه کړي او زرافه دبي هوښۍ او سرګرځيدلو سره مخ نه سي.چا دا هيرانوونکی جوړښت دزرافې په سر کي جوړ کړی دئ؟ چا دا والونه دزرافي په سر کي ځای پرځای کړي دي؟ دا دحاکم،قادر ذات الله جل جلاله دلويي نښه ده ! الله جل جلاله دمځکې پر مخ دمځکې لاندې او لوړ موجودات په ښه شان پيدا کړي دي الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ المُلك : 3](الَّذِى خَلَقَ سَبۡعَ سَمٰوٰتٍ طِبَاقًا‌ؕ مَّا تَرٰى فِى خَلۡقِ الرَّحۡمٰنِ مِن تَفٰوُتٍ‌ؕ فَارۡجِعِ الۡبَصَرَ هَلۡ تَرٰى مِن فُطُورٍ ) هغه ذات چي لاندي باندي اوه اسمانونه يې پېدا کړل؛ (اې کتونکي) ته به د الرحمان په هستونه کښي هيڅ راز نااړوندي او توپير ونه مومي. بيا سترګي واړوه، وګوره، ايا کومه نيمګړتيا دي چيري تر سترګو کيږي؟!

****دزرافې زړه په هره دقيقه کي 55ليټره وينه دبدن بيلا بيلو برخو ته پمپوي. الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ يُونس : 101] قُلِ انظُرُوا مَاذَا فِى السَّمٰوٰتِ وَالۡأَرۡضِ‌ۚ وَمَا تُغۡنِى الۡءَايٰتُ وَالنُّذُرُ عَن قَوۡمٍ لَّا يُؤۡمِنُونَ) دوی ته ووايه: "په اسمانونو او ځمکه کښي چي څه دي، هغه په غږېدلو سترګو وګورئ!"- او کوم خلک چي له سره ايمان راوړل نه غواړي، د هغو لپاره نښاني او اخطارونه مدافع او ګټور کېدای نه شي.***ښه نو هرڅه چي موږ وينو،لمسو دالله جل جلاله دقدرت،عظمت،حکمت نښې نښانې په کښي شتون لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library



## دکانګرو په شان يؤ ژوی چې په دښتو کې ژوند کوي

دالله جل جلاله دجالبو او هيرانوونکو موجوداتو دډلې يؤ ژوی چې کانګرو ته ورته دئ او په وچو دښتو کې ژوند کوي.

دغه ژوی دکانګو په شان دوې لوړې پښې لري چې دکانګرو په شان پرې توپونه وهي،ياد ژوی دخپلې لکی په مرسته دالوتکې دلکی په شان په هواکې خپل لوري ته بدلون ورکوي.

دغه حيوان هم دنورو حيوناتو په شان هضمي او دويني ددوران سيستم لري مګر جالبه داده چې ياد ژوی په خپل ټول ژوند کې يؤ څاڅکی اوبه هم نه څښي،هو دغه ژوی اوبه نه څښي!

الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ الأنبيَاء : 30]أَوَلَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوٓا أَنَّ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنٰهُمَا ۖ وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَآءِ كُلَّ شَىْءٍ حَىٍّ ۖ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ )

ايا کافران په دې نه پوهيږي، چې دغه ټول اسمانونه او ځمکه يو له بله سره نښتي ول، بيا موږ دوی دواړه بېل کړل. او له اوبو نه مو هر ژوندی شی پيدا کړ. ايا هغوی (زموږ دغه خلاقيت) نه مني؟

******

اوبه دهر ژوندي موجود د ژوند لپاره اړين او يؤه اساسي برخه ده دبيلګې په ډول دانسان 70سلنه وزن اوبه جوړوي. ښه نو دغه ژوی دخپل ژوند په اوږدو کې اوبه نه څښي. ځينو ژوو پيژندونکو دغه ژوی اهلي کړ او په زرغونه سيمه کې يې دهغه پالنه کول،دوئ وغوښتل چې ياد ژوی اوبه وڅښي:خوبرياليي نه سول. ښه نو ددې ژوي دبدن اوبه دکومه پوره کيږي؟

څيړونو څرګنده کړل چې دا ژوي په خپل هضمي سيستم کې د اوکسيجن او هايدروجن دترکيب څخه اوبه جوړې. که موږ وغواړو اوبه جوړې کړو موږ پيچلو ماشينونو ته اړتيا پيدا کوو.

ښه نو ياد ژوی چې په وچه دښته کې ژوند کوي اوکسيجن دهوا څخه اخلي او داړتيا وړ هايدروجن دځينو وچودانو څخه چې ياد ژوی يې خوري پوره کوي او اوبه تري جوړوي.

په نړۍ کې هيرانوونکي موجودات شتون لري چې ليدونکي سترګې دهغوئ حقيقت ښه ليدلی سي.ژوي دحق نه منوونکو انسانو څخه غوره دي:ځکه هغوئ دخپل اختيار نه دي کوم مسؤليت نه دئ ورسپارل سوی او دعذاب لايقان نه ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ مخته په هر شي کي دالله جل جلاله دقدرت،حکمت اولويي نښانې دي:زموږ په بدن، خوړو،نباتاتو،حيواناتو،مرغانو،کبانو او هرهغه څه کي چي موږ يې لمس،احساس،او وينو زموږ لپاره دعرت اخيستلو او دالله جل جلاله دلويي ډېرې نښاني دي.

---

## دخوګ،خنځير دغوښې دحراموالي حکمت

يوه مقاله مي ولوستل چي ديوه پوه دکتاب لنډيز وو چي دسرکوزي په باره کي ليکلي وه.

داچي الله جل جلاله دخوګ غوښي خوړل حرام کړي په دي کي ډېر حکمتونه دي.

خنځير يو داسي ژوی دئ چي غوښې او نباتات خورې،دخوګ دغوښې خورک په ټولو دينونو کي حرام دئ.

دغه حيوان دبدو اخلاقو درلودونکی دئ.چټلي او بداخلاقي دخوګ دځانګړونو څخه دي.

دخوګ چټلي او دصحرا دمړو موږکان خوړل خوښيږي،دخوګ دخوښې وړ خواړه دمردارو لاښې دي. که خوګ يوداسي ځای ته بوتلل سي چي په يوه خوا کي يې چټلي هم شتون ولري خوګ به دچټلۍ خوا ته ورسي؛ځکه دچټلۍ خوښول دخوګ ځانګړنه ده.

انسانانو ته دخوګ دغوښې دخورک له کبله د کډو دانې دچينجي ناروغي،نس ناستي،ژړي،اميبي ډيزنټري،ناروغۍ ورپيښيږي، که څه هم دخوګ غوښه ديوه ساعت لپاره په اوبو کي وايشول سي يا درمنفي 29درجو پوري په يخچال کي کښيښودل سي . سبحان الله دخوګ په غوښه کي بيلا بيلې ناروغۍ او زيان رسوونکي چينجيان شتون لري،چي ديادې غوښې په ډېرو اېشولو او يا په ډېرو يخولو هم لمنځه نه ځي.

داچي الله جل جلاله دخوګ دغوښي خورک حرام کړی په دې کي ډېر حکمتونه دي چي ځينو ته يې اشاره کوو. خنځير چټلي او مرداري خوښوي،چټلي او دمردارو سوو حيوناتو غوښې خورې،خوبيا هم ځينو انسانانو دخوګ غوښې خپل خواړه ګڼلي او هغه خورې. په ځينو هيوادونو کي دخوګ غوښه خوړل کيږي چي دهغو هيوادو دوګړو 1پر 6برخه دمړينې علت هم دخوګ په غوښه کي دموجودو چينجيانو له کبله وي.

يوبله ديادولو وړخبره داده چي دخوګ غوښه لوړه درجه کلسترول لري،ځکه خو په هغو هيوادونو کي چي دخوګ غوښه خوري دزړه دحملې او درګونو دتنګيدلو دناروغۍ فيصدۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغو هيوادونو څخه چي دخوګ غوښه نه خورې 8برابره لوړه ده. دغه مطلب ددې لپاره وو چي مسلمان وګړي په دي وپوهيږي چي ولي الله جل جلاله دخوګ غوښه حرامه کړي ده. خداى جل جلاله چټلى حرامې او پاکى حلالى کړي دي. هغه څه چي نفس دهغه په مرسته دهوسايني او پاکى احساس کوي حلال او هغه څه چي دانسان عقل او بدن لمنځه وړي حرام کړل سوي دي. ښه نو موږ بايد وپوهيږو چي دالله جل جلاله دهرحکم لپاره همدا بسنه کوي چي هغه دالله جل جلاله دلوري څخه دئ.

---

## سپى او دهغه څخه رامنځته کيدونکي ناروغۍ

يو علمي څيرنـه مي ولوستل چي په پيل کي يې حديث شريف راوړل سوي وه چي په صحيحينو او نورو کتابونو کي روايت سوي دي. رسوالله صلى الله عليه وسلم فرمايي:منْ اتْخذ كلْبا الا كلب زرعٍ أو غنمٍ أو صيْدٍ ينقص مِنْ أجرهِ كلِ يومٍ قيراط(بخاري 3146)(مسليم1574)

دحديث شريف مفهوم:څوک چي بيله دکښت،پسونو دساتني او يادښکار دسپي څخه پرته بل سپى ساتي هره ورځ يو قيراط دهغه دعمل دثواب څخه کميږي:قيراط،يو پر څلوريشتمه برخه دثواب. ددغه څيرني ليکوال 36ناروغۍ يادې کړي وي چي دسپيو څخه انسانانو ته ليږدول کيږي. ددغو ناروغيو څخه دڅورني يوازنى لار داده چي سپي بايد بيله اړتيا ونه ساتل سي. ديادوني وړ ده چي دليوني سپي ناروغي(رابيس) چي مشهوره ناروغي ده دانسانانو دمړيني لامل کيږي،چي په يوه کال کي ديادې ناروغۍ لکبله يولک انسانان خپل ژوند دلاسه ورکوي.

کيداى سي تاسو وپوښتى:آيا نور ژوي په دې ناروغيو نه اخته کيږي؟

په ځواب کي بايد ووايوو:اخته کيږي خو نور حيوانات دسپي سره دمحاسيبې وړنه دي،دبيلګې په ډول دپيشي څخه انسان ته ددې ناروغۍ دليږد اندازه 7سلنه او دسپي څخه انسان ته ددې ناروغۍ دليږد اندازه 92سلنه ده. يوازې په فرانسه کي په 1976ميلادي کال کي 7ميليونو سپيو شتون درلودئ په داسي حال کي چي دفرانسي دنفوسو شمېر 52ميليونه وو.غربي هيوادونو کي سپيو ته داندازې څخه زيات ارزښت ورکول کيږي داسي چي هغوئ سپيو داولادونو څخه بې نيازه کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسلام په مبارک دين کي دساتني او ښکاري سپي څخه ماسيوا دنورو سپيو دساتلو اجازه نسته،ددې موخو پرته دسپيو ساتل ناروا دي؛ځکه رسوالله صلی الله عليه وسلم فرمايي:منْ اتْخـذ كلْبـا ِالا كلـب زرعٍ أو غـنمٍ أو صـيْدٍ يـنقص مِـنْ أجـرهٍ كـلِ يـومٍ قيراط(بخـاري 3146)(مسليم1574) دحديث شريف مفهوم:څوک چي بيله دکښت،پسونو دساتنې او يادښکار دسپي څخه پرته بل سپی ساتي هره ورځ يؤ قيراط دهغه دعمل دثواب څخه کميږي:قيراط،يؤ پر څلوريشتمه برخه دثواب.

---

## دسپي بويايي حس

خدای جل جلاله دحيوناتو په منځ کي عجيبه او هيرانوونکي ژوي پيداکړي دي چي هر يؤ يې هيرانوونکي ځانګړني لري.

سپي هيرانوونکی پياوړی دبويايي حس لري:چي دانسانانو دبويايي حس څخه يؤ ميليون ځله پياوړی دئ.

ښه نو كه يؤ ګرام نشيې توکي په يؤه کاغذ کي وپيچو،هغه په کوتيو کي بند کړو،کوټی بيا په کارتن کي کښيږدو او دياد کارتن سره سل نور کارتونونه يؤځای کښيږدو: وبه وينو چي يؤ روزل سوی سپی دسلو کارتنونو په منځ کي دنشيې توکو لرونکی کارتن په نښه او پيدا کوي.هغه ته پياوړی بويايي حس ورکول سوی دئ .

څيرونو په ډاګه کړي ده چي په نړی کي هر انسان ځانګړی بوی لري،هيڅ وخت دوه انسانان يؤ ډول بوی نه لري. ديؤ روزل سوي سپي لپاره دابسنه کوې چي ديؤه انسان دجامې يؤه ټوټه بوی کړې او هغه دسلګونو انسانانو په منځ کي پيداکړې.

دانسان بويايي حجري 5سانتي متره مربع اوږدوالی لري مګر دسپي بويايي حجري،ژونکي 50سانتي متره مربع اوږدوالی لري. دانسان په پزه کي 5ميليونه بويايي حجري شتون لري دسپي په پزه کي 50ميليونه بويايي حجري شتون لري. دسپي بويايي حس دانسان څخه يؤميليون برابره پياوړی دئ. څوک باور کولی سي چي ددې ژوي حافظه ميليونونه بوينه يادولی سي. كه يؤ سپي وروزل سي سپي دبوی په پيژندلو کي تيروتنه نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دبيلګي په ډول که موږ دوه لوښي چي 50ليتره اوبه په کښي شتون ولري يؤه ته يې يؤکاچوغه مالګه ور واچوو او هغه ښه پکښي حل کړو:سپی کولی سي دخپل پياوړي بويايي حس په مرسته دتروو اوبو لوښی دخوږو اوبو دلوښي څخه بيل کړې.

جالبه داده چي په ځينو هيوادونو کي دګاز دپيپ لين دسوريو دمالومولو لپاره دسپيو څخه کار اخلي،داسي چي سپی دګاز دپيپ په اوږدو بيايي او کوم ځای چي ياد پيپ سوري وي سپی هغه دګاز دپيپ لين مامورينو ته په نښه کوي.

ځينو نورو هېوادونو کي دمجرمينو،وسلو،نشيي توکو او مينونو دپيداکولو لپاره دسپيو څخه کار اخلي.

-----------------------------------------------------------------------------------------

## دويني اړيکه دميکروبونو سره

الله جل جلاله درواني ويني خوړل موږته حرام کړي دي. دغه امر دلاندي ايات شريف دعلمي اعجاز برخه ده: [سُوْرَةُ الأنعَام : 145](قُل لَّآ أَجِدُ فِى مَآ أُوحِىَ إِلَىَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٍ يَطْعَمُهُۥٓ إِلَّآ أَن يَكُونَ مَيْتَةً أَوْ دَمًا مَّسْفُوحًا أَوْ لَحْمَ خِنزِيرٍ فَإِنَّهُۥ رِجْسٌ أَوْ فِسْقًا أُهِلَّ لِغَيْرِ اللهِ بِهِۦۚ فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ )

[اې محمده (ص)!] دوی ته ووايه: کومه وحيي چي ما ته راغلې ده، په هغې کښي خو زه کوم داسي شی نه مومم چي پر کوم خوړونکي حرام وي؛ مګر دا چي هغه مرداره (خپله مړ شوی) وي يا توی شوې وينه وي، يا د خوګ غوښه وي چي هغه ناپاکه ده، يا فسق وي چي له الله پرته د بل چا په نوم حلال کړای شوی وي. نو څوك چي د اړتيا په حالت کښي (له دغو شيانو څخه کوم شی وخوري) پرته له دې څخه چي هغه د نافرمانۍ اراده ولري او پرته له دې څخه چي د اړتيا له اندازې څخه زياتی وکړي، نو په دې کښي شك نشته چي ستا رب له تېرېدني څخه کار اخيستونکی او رحم کوونکی دی.

******

روانه وينه دميکروبونو داوسيدوځای دئ مګر دانسانانو او ژوو په بدن کي داسي غړي شتون لري چي هغه وينه پاکوي:پښتورګي وينه دزهري موادو څخه پاکوي او هغه دفعه کوي.کله چي يؤ حيوان مړسي دهغه وينه دميکروبونو په خوندي ځای،داوسيدو ځای باندي بدليږي،په همدې خاطر ددې خبرې درکشف ورسته په ځينو غربي هيوادونو کي داسي قوانين

(c) ketabton.com: The Digital Library



جوړ او پلي سول چي دويني او مردارسوي حيوان دغوښي خوړل يې منعه کړي دي،مګر الله جل جلاله 1400کاله مخکي پر موږ درواني ويني او مردار سوي حيوان دغوښو خوړل حرام کړي وه. دقصابۍ هر چاړه په زرګونو ميکروبونو لړلي وي:کله چي چاړه دويني سره په اړيکه کي کيږي ميکروبونه ويني ته ننوزي او هلته تکثر کوي،په نيم ساعت کي دوه برابره کيږي ،ياني زره ميکروبه په دري ساعته کي ميليونونه ميکروبونه کيږي؛ځکه خو داسلام په مبارک دين کي دحيواناتو دذبحه کولو امرسوی دئ. دميکروبو دډېرښت،تکثر اوسنيو نظرياتو ته په پام موږ دې پايلي ته رسيږو چي په اسلامي لاره ذبحه کول څومره اړين دي.

الله جل جلاله فرمايي: [سُوْرَةُ فَاطِر : 14] إِن تَدْعُوهُمْ لَا يَسْمَعُوا دُعَاءَكُمْ وَلَوْ سَمِعُوا مَا اسْتَجَابُوا لَكُمْ ۖ وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يَكْفُرُونَ بِشِرْكِكُمْ ۚ وَلَا يُنَبِّئُكَ مِثْلُ خَبِيرٍ )که هغوی وبولئ، نو ستاسي دُعاوي نشي اورېدای او که يې واوري، نو تاسي ته يې ځه ځواب نشي درکولای. او د قيامت په ورځ به هغوی ستاسي د شرك څخه منكر شي. د حقيقت د حال څخه داسي كوم صحيح خبر تا ته د يو باخبره ذات څخه پرته بل څوك نشي دركولای.*****

عربو دجاهليت په زمانه کي:ويني په کلمو کي اچولي او هغه يې کبابولي،اوس هم په کفري هيوادونو کي ځيني خلک دا خوښوي چي غوښه دويني سره وخوري؛په همدې خاطر حيوانات نه ذبحه کوي بلکي هغه وژني او ټوټه کوي يې چي په پايله کي دژوي وينه دبدنه نه وزي او په غوښه کي پاته کيږي. ښه نو که موږ غواړ په ژوند دستونزو څخه خلاص،بريالي او خوشبخته سو دالله جل جلاله دحکمونو څخه بايد سرغړونه ونه کړو!دالله جل جلاله اوامر چي په قرآنکريم کي دي :په قرآن الکريم ځان پوه او په لارښوونو يې عمل وکړو.دقرآن الکريم لارښووني دانسان آزادي نه محدودوي بلکي دهغه دسلامتۍ زمانت کوي. که دبريښنا دمزو ديُو لځ ځای خوا کي يؤه دړه باندي ليکلي وي "دبريښنا مزي ته لاس وروړل دمرګ خطر لري"ايا دبريښنا مامورينو داليکنه ستاسو دآزادئ دمخنيوي لپاره دلته ليکلي ده. دغه داړه چي هلته راځړول سوي ستاسو دآزادۍ دلمنځه وړلو لپاره نه بلکي ستاسو دخونديتوب لپاره را ځړول سوي، مومن انسان بايد داسي وپوهيږي. الله جل جلاله زموږ دسلامتۍ لپاره پولي ټاکلي دي،دالله جل جلاله دلوري دټاکل سو حدودو څخه سرغړونه نه کول،زموږ دبريا ،نيکبختۍ اوسلامتۍ لامل کيږي، او برعکس دهغه حدودو څخه سرغړونه زموږ دناکامۍ،بربادۍ لامل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوينې حراموالی

**الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ الأنعَام : 145](قُل لَّآ أَجِدُ فِى مَآ أُوحِىَ إِلَىَّ مُحَرَّمًا عَلَىٰ طَاعِمٍ يَطۡعَمُهُ ۥۤ إِلَّآ أَن يَكُونَ مَيۡتَةً أَوۡ دَمًا مَّسۡفُوحًا أَوۡ لَحۡمَ خِنزِيرٍ فَإِنَّهُ ۥ رِجۡسٌ أَوۡ فِسۡقًا أُهِلَّ لِغَيۡرِ ٱللَّهِ بِهِۦ‌ۚ فَمَنِ ٱضۡطُرَّ غَيۡرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَإِنَّ رَبَّكَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ )**

**[اې محمده (ص)!] دوی ته ووايه: کومه وحيي چې ما ته راغلې ده، په هغې کښې خو زه کوم داسي شی نه مومم چې پر کوم خوړونکي حرام وي؛ مګر دا چې هغه مرداره (خپله مړ شوی) وي يا توی شوې وينه وي، يا د خوګ غوښه وي چې هغه ناپاکه ده، يا فسق وي چې له الله پرته د بل چا په نوم حلال کړای شوی وي. نو څوک چې د اړتيا په حالت کښې (له دغو شيانو څخه کوم شی وخوري) پرته له دې څخه چې هغه د نافرمانۍ اراده ولري او پرته له دې څخه چې د اړتيا له اندازې څخه زياتی وکړي، نو په دې کښې شک نشته چې ستا رب له تېرېدني څخه کار اخيستونکی او رحم کوونکی دی.**

******

**پوهان دوينې په اړه وايي:وينه دخپل ځان سره:زهري؛اضافي،او زيان رسوونکي ترکيبونه ليږدوي ولې چې يؤه ددندو څخه دوينې دزهري او اضافي موادو ليږد او دبدن دوتلو په پار دهغوئ سره مرسته ده. وينه کې يوريک اسيد شتون لري چې دپرتينونو دتجزيې څخه ورسته جوړيږي.همدارنګه وينه دکلمو څخه زهري مواد دبدلولو لپاره ايني،ځيګر ته ليږدوي. که چيري انسان وينه وڅښي يا وخوري دانسان په بدن کې ديوريک اسيد،اونورو زهري موادو اندازه ډېريږي چې په پايله کې يې انسان دمغزو په ناروغيو اخته، په کوما او مړينې يې پای ته رسيږي.**

**وينه دميکروبو،ويروسونو دتوليد،تکثر لپاره خوندي ځای دئ.وينه کې بيلا بيل ميکروبونه،ويروسونه ځای لرې اوکه چيري انسان وينه وخوري ياد ميکروبونه،ويروسونه دانسان بدن ته داخليږي،موږ نه سو کولی دوينې څخه دساليمو خوړو په ډول ګټه واخلو په همدي خاطر دهغه حيوان دغوښو خوړل چې وينه يې دبدن څخه نه وي وتلې يا په اسلامي طريقه نه وي ذبحه سوی ناروا دي،ځکه که وينه دحيوان دبدن څخه ونه وزي په غوښه کې پاته کيږي او وينه کې ميکروبونه،زهري مواد او حتی ويروسونه شتون لري چې خوړل يې دانسان لپاره ډېر زيان لري.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ بايد دهغه حيوان غوښه هيڅکله ونه خورو چي داسلامي شريعت سره سم نه وي حلال سوی. په اسلام کي دحيوان دغاړي شاه رګ پري کيږي نه ټول سر: ځکه دزړه اړيکه په بشپړ ډول دمغزو سره نه پري کيږي عصاب زړه ته امر کوي چي زه دويني دکمښت سره مخ يم وينه را واستوه زړه په پرلپسي ډول وينه مغز ته استوي ترڅو دحيوان دبدن ټوله وينه مغز ته دتلو په تکل دغاړي دشاه رګ څخه چي پري دئ دباندي ووزې.

ښه نو داسلامي شريعت حکم چي دپورته ايات شريف څخه سرچينه اخلي حکمت بايد مسلمان ته په پوره ډول څرګند وي.ښه نو که چيري موږ يوه کفري هيواد ته سفرکوو بايد دداسي يوه حيوان غوښه ونه خورو چي هغه داسلامي شريعت سرسم نه وي ذبحه سوی،داسلامي شريعت خلاف دمرادار سوي حيوان دغوښي خوړل حرام او روغتيا ته زيان رسوونکي دي.

---



(c) ketabton.com: The Digital Library



# آس

الله جل جلاله آس دانسانانو دهوساینې او سرلوړۍ لپاره دهغوئ په واک کي ورکړی دئ.
آس ډېري ځانګړني لري چي يؤه هغه يې داوريدو پياوړی حس دئ:دغه حيوان دبل آس دليدلو وړاندي دهغه دپښو ترپهاری اورې او خپل خاوند ته خبر ورکوي.آس دعمر په ډېريدلو سره د نسل دتوليد وړتيا دلاسه نه ورکوي. ياد حيوان پياوړی تنفسي سيستم لري چي دوه لوی سږي دهغه سره مرسته کوي چي ډېر اکسيجن تنفس کړي او په ډېرو ځغستلو ژر ستړی نه سي. آس کولی سي دځان سره ډېر بار وليږدوي داسي چي دخپل وزن يو پر څلورمه برخه بار وړلی سي،دبيلګې په ډول که دآس وزن 400کيلو ګرامه وي سل کيلو ګرامه وزن وړلی سي، همدا ډول کولی سي په اوږدو مزلونو کي بيله اوبو او خوړو مزل ته دوام ورکړي.
آس پياوړې حفظه لري،او په کومه سيمه کي چي اوسيږي دهغې سيمي لارې ښه ورمالوميږي،که دآس دخاوند څخه لاره ورکه سي آس کولی سي هغه درخپله کوره ورسوي. آس خپل خاوند دهغه دليدلو پرته پر ږغ ،بوئ او دسپريدلو پر طريق پيژني. آس دخپل خاوند دکنټرول حرکاتو ته ژر مثبت ځواب ورکوي. آس دهوښيارو او وفا لرونکو ژوو دډلې څخه دئ. په علمي څيړونو کي څرګنده سوي ده چي پر آس سپرتيا دزړه،اينې،پښتورګو او هضمي سيستم دناروغيو په مخنيوي کي ونډه لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library

کبان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوی کبان

يُودالله جل جلاله دنښو نښانو څخه چي دهغه پرلويي دلالت کوي په سمندرونو کي لوی کبان دي. يُو ډول ددې کبانو څخه چي نيلي رنګ لري شمير يې: 150زرو ته رسيږي،130ټنه وزن او 35متره اوږدوالی لري.

که ددغو کبانو وزن دهغوئ په شمېر کي ضرب کړو يُو لوی عدد لاسته راځي؛که چيري دغه عدد دمځکي پرمخ پر ټولو انسانانو وويشو هرانسان ته يې 6ميليونه او4کيلو ګرامه غوښه رسيږي. دغه کبان جالب جيږنې ژوند لري کله چي دمور په خيټه کي وي اوږدولی يې دريُوه سانتي متر نه ډېرېږي،د پيدايښت څخه څه موده ورسته يې اوږدوالی 7مترو او وزن يې 2ټنه ته ورسيږي.

دغه کبان مځکه دشمال څخه درجنوبه طی کوي،داستوا پر کرښه تيريږي دشمالي قطب څخه در جنوبې قطب پوري ځي. لکه څنګه چي پوهيږو په سمندرونو کي دتودوخې درجه توپير لري؛په همدي خاطر باد کبان دچربی يوه لايه لري چي پندوالی يې يُومتر ته رسيږي اوهغوئ دسړو او تودوخې څخه ساتي.

دغه کبان په يُوځل 4ټنه خواړه خوري او درځلورو ټنو په کمو خوړو نه مړيږي.

کله چي کوچنيو کبانو ته ګورو دلويو کبانو ټول غړي په هغوئ کي هم وينو مګر دلويو کبانو دغړو څخه کوچني. ښه نو لوی کبان دالله جل جلاله دعظمت دنښو نښانو څخه دي.

په ربښتيا چي هرڅه په سمندرونو کي دي ټول زموږ دګټي اخيستني لپاره پيداسوي دي,الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ الجَاثيَة : 13](وَسَخَّرَ لَكُم مَّا فِى السَّمٰوٰتِ وَمَا فِى الۡأَرۡضِ جَمِيعًا مِّنۡهُۚ إِنَّ فِى ذٰلِكَ لَءَايٰتٍ لِّقَوۡمٍ يَتَفَكَّرُونَ ) هغه د اسمانونو او ځمکي ټول شيان ستاسي لپاره مسخر کړل، هر څه له خپل لوري څخه؛ پدې کښي ستری نښانې د هغو خلکو لپاره دي چي غور او فکر کوونکي دي.****هرڅه چي الله جل جلاله پيداکړي دوې ګټې لري لومړی يې:عبرت،لاربښوونه اوپيژندنه دويمه يې دونيايي ګټه.[سُوۡرَةُ الواقِعَة : 73-74]نَحۡنُ جَعَلۡنٰهَا تَذۡكِرَةً وَمَتٰعًا لِّلۡمُقۡوِينَ )موږ دا (اور) د

(دوږخ) درپه زړه کولو وسيله او د اړو کسانو لپاره د ژوند متاع ګرځولې ده.(فَسَبِّحۡ بِاسۡمِ رَبِّكَ الۡعَظِيمِ )نو [اې پېغمبره (ص)!] د خپل عظيم رب نوم په پاکی سره ياد کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دهلامي کبان

يؤډول کبان شتون لري چي هلامي نوم لري. دغه کبان دايتاليا او فرنسي دساحلي سيمو داوسيدونکوسره ډېر وخت لپاره وجنګيدل او هغه ساحلونه يې په ويرونکو سيمو بدل کړل،داسي لکه دزهري مارانو څخه ډکي دښتي.

يؤ ګرځيدونکي چي دساحل څخه يې ليدنه کول وويل:دپښې دبجلکي سره مي ناڅاپه يؤ درد احساس کړ داسي درد لکه يؤڅوک چي مې پر بجلکي سور سيخ راونږسي،ورسته دريؤه پاو مې داسي احساس وکړ لکه چا چي مې سرسنجاق کړ ورسته درهغه بې هوښه سوم،درژغورني ورسته چي ډاکتر مي فشار کتلى وو نژدي وصفر ته وو.

ځيني پوهان وايي:په هغوسيمو کي چي دهلامي کبان شتون لري په هر متر مربع کي 25کبان دي،ددغو کبانو ډله چي اوږدوالى يې دوو مترو ته رسيږي په کښي زيات شمېر هلامي کبان شتون لري. کب پيژندونکي وايي:ددې کبانو د جنګ کولو:دانسانانو دچيچلو آره موخه نه ده مالومه،چي دوئ ولې په ساحلونو کي جنګيږي.

دهلامي کب داسترليايي ډول نيبښ دومره پياوړى دئ چي په څو دقيقو کي دانسان دمړيني لامل کيږي. دهلامي کبان سترګي او غوږونه نه لري،همدارنګه مغز هم نلري،دهغوئ بدن نازک،پوست دهوا او اوبو پر وړاندې پياوړى دئ. ديادو کبان دبدن 98سلنه اوبه جوړوي.

ياد کبان زهري دي او زهر يې انسان ته زيان رسوونکي دي. ډاکتران لارښوونه کوي چي ساحلونو کي بايد اوليه مرستي شتون ولري. همدا ډول دساحل ليدونکو،سيلانيانو ته لارښوونه کوي چي دځان سره بايد کورتيزول درمل ولري ځکه چي سيلانيان ديادو کبانو دحملو څخه خوندي نه دي. دراوسه پوري ژوند پيژندونکي او سمندر پيژندونکي پوهان ددې کبانو دجنګيدلو دعلت په پيداکولو نه دي بريالي سوي او ددي کار لپاره يې کوم ښکاره دليل نه دئ موندلى،خو اسلامي پوهان په دي باوردي چي ياد کبان په نبنه سوي نقشي،موخي باندي چي دالله جل جلاله هغوئ ته ښوولي ده حرکت کوي؛ځکه ياد کبان دهغو ساحلونو لورته راغلي يا ځي چي دانسانانو دفساد له کبله تباسوي دي.الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ الرُّوم : 41](ظَهَرَ الْفَسَادُ فِى الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِى النَّاسِ لِيُذِيقَهُم بَعْضَ الَّذِى عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په وچه او لمده کښې د خلکو (د لاسونو) په عملونو سره فساد ښکاره شويدی؛ نو (الله) په دوی باندې د هغو عملونو (د سزا) خوند څکي چې دوی کړي دي، ښايي چې دوی راوګرځي.**

*******بيا الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ الزُّمَر : 62]اللَّهُ خَٰلِقُ كُلِّ شَىۡءٍ‌ۖ وَهُوَ عَلَىٰ كُلِّ شَىۡءٍ وَكِيلٌ ) الله د هر شي هستوونکی دی او هماغه د هر شي ساتونکی دی.**

*********

**بيله اجازې دخدای جل جلاله دغه کبان حرکت نه سي کولی ،هيڅ عاقل انسان بيله موخې حرکت نه کوي!څنګه به ددې کبانو حرکت بيله موخې وي؟ الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ هُود : 56] إِنِّى تَوَكَّلۡتُ عَلَى ٱللَّهِ رَبِّى وَرَبِّكُم‌ۚ مَّا مِن دَآبَّةٍ إِلَّا هُوَ ءَاخِذُۢ بِنَاصِيَتِهَآ‌ۚ إِنَّ رَبِّى عَلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسۡتَقِيمٍ) زما توکل پر الله باندې دی چې زما رب هم دی او ستاسي رب هم. هيڅ ساکښ داسي نشته چې وچولې (د تندې وېښتان) يې د هغه (الله) په لاس کښې نه وي. بېشکه زما رب پر سمه لار دی.**

********

**بيا فرمايي: [سُوۡرَةُ الحَدِيد : 22](مَآ أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِى ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِىٓ أَنفُسِكُمۡ إِلَّا فِى كِتَٰبٍ مِّن قَبۡلِ أَن نَّبۡرَأَهَآ‌ۚ إِنَّ ذَٰلِكَ عَلَى ٱللَّهِ يَسِيرٌ ) هيڅ مصيبت داسي نشته چې په ځمکه کښې ستاسي پر خپل نفس نازل شي او موږ هغه له پيدا کولو څخه مخکې په يو کتاب کښې نه وی ليکلی، دغسي کول د الله لپاره ډېر اسانه کار دی.**

*******

**دغه کبان هم دالله جل جلاله لښکر دي؛ډېر لښکريان.الله جل جلاله فرمايي:**

**[سُوۡرَةُ المُدَّثِّر : 31](وَمَا جَعَلۡنَآ أَصۡحَٰبَ ٱلنَّارِ إِلَّا مَلَٰٓئِكَةً‌ۙ وَمَا جَعَلۡنَا عِدَّتَهُمۡ إِلَّا فِتۡنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ لِيَسۡتَيۡقِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ وَيَزۡدَادَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِيمَٰنًا‌ۙ وَلَا يَرۡتَابَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ‌ۙ وَلِيَقُولَ ٱلَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَٱلۡكَٰفِرُونَ مَاذَآ أَرَادَ ٱللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا‌ۚ كَذَٰلِكَ يُضِلُّ ٱللَّهُ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِى مَن يَشَآءُ‌ۚ وَمَا يَعۡلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ‌ۚ وَمَا هِىَ إِلَّا ذِكۡرَىٰ لِلۡبَشَرِ )موږ د دوږخ دغه خدمت ګاران پرښتې ګرځولي دي او د هغو شمېر مو د کافرانو لپاره ازموينه ګرځولې ده، تر څو چې د اهل کتابو باور راشي او د مؤمنانو ايمان زيات شي، همدارنګه اهل کتاب او مؤمنان په کوم شك کې پاتي نه شي. د زړه ناروغان او کافران دا وو ايي چې ښه نو، د الله د دې عجيبه خبرې څخه څه مطلب کېدای شي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**په دې ډول چي د الله چا ته خوښه شي ګمراه کوي يې او چا ته چي يې خوښه شي لاره ورښيي. او ستا د رب لښکري پخپله له هغه پرته بل څوک نه پيژني؛ او د دوږخ يادونه له دې پرته د کوم بل غرض لپاره نه ده شوې چي خلکو ته پند وي.**

*****

**دهلامي کبان چي ديونان،فرانسې او ايټاليا په ساحلونو کي جنګ کوي ياشتون لري او هغه ساحلونه يي داسي کړي لکه دوژونکو مارنو څخه ډکې ويرونکي دښتونه،په دي کي دالله جل جلاله حکمتونه دي.**

---

## دسمندر بريښنا،برق لرونکي کبان

**پوهان وايي:هيڅ شی داسي نسته چي په خپلو کارونو کي بريښنايي قوه توليد نه کړي.**

**دبيلګې په ډول دانسان زړه دولټ يؤ سلنه بريښنا توليدوي،دزړه بريښنايي ګراپ مالومونکي آله دEcg ماشين دزړه بريښنا يي جريان مالوموي ځکه خو دغې آلي ته Ecgدزړه بريښنايي ګراپ مالومونکي آله وايي.**

**هره عضله په خپل حرکت سره بريښنايي قوه توليدوي،دغه قوه داسي ده چي انسان کولی سي هغه وزغمي؛مګر هغه څه چي هيرانوونکي او خورا جالب دي هغه دادي چي:يؤډول کبان په سمندرونو کي شتون لري چي دهغوئ دلوري توليد سوې بريښنايي څپې 220ولټ دي. دغه کبان دسمندر په ژورو کي دبريښنايي جټکو په مرسته دځان ساتنه کوي او خپل دښمنان پري وژني. يؤبل ډول ددې کبانو داسي دئ چي دخپل داوړو اړخونو څخه داسي بريښنايي څپې توليدوي چي پياوړتيا يي 600ولټه ده.**

**ځيرونکو ياد کبان يؤه حوض ته راوړل چي ياد حوض دڅو څراغونو سره وصل وو،ددغو کبانو په هر وار بريښنا ازادولو سره شپږ څراغونه روښانه کيدل،په داسي حال کي چي هرڅراغ 100ولټه بريښنا ته اړتيا درلودل. دڅرغونو دغه روښانه کيدو څو ثانيې وخت دلود.**

**ياد کبان څنګه بريښنا توليدوي؟**

**ديادو کبانو دبدن در ځيرلو ورسته په ډاګه سول،چي دغه کبان په خپلو اړخونو کي شپږ غاښنو ته ورته جوړښتون لري چي سرو کي يې بريښنايي حجرې،ژونکي شتون لري،او دکيمياوي موادو په مرسته يې دکب په بدن کي بريښنايي قوه توليدوې.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوئ وموندل چي يؤ کب در400دېرې بريښنا توليدونکي ژونکي لري،چي دځنځير په شان ديؤبل سره مښتي دي او دمغزو دامر سره سم په يؤه وار دخپل دښمن لورته خپله انرژي خالي کوي. الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ حٰمٓ السجدة/فُصّلَت : 53]

سَنُرِيهِمۡ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلۡءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمۡ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمۡ أَنَّهُ ٱلۡحَقُّ ۗ أَوَلَمۡ يَكۡفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىۡءٍ شَهِيدٌ )

ډېر ژر به موږ دوی ته خپلي نښاني په افاقو (هيوادونو) کښي هم وښيو او د دوی پخپلو نفسونو کښي هم؛ تر دې پوري چي دوی ته دا خبره څرګنده شی چي دغه قُرآن په رښتيا سره پر حق دی. ايا دا خبره کافي نه ده چي ستا رب پر هر څه شاهد دی؟

****

ښه نو يؤډول کوچنی کب 220ولټه اوبل ډول کب 600ولټه بريښنايي جټکې توليدوي،دا دالله جل جلاله دلويی او حکمت دنښو څخه يؤه ده،په ريښتيا چي دالله جل جلاله ټول مخلوقات دهغه جل جلاله پر قدرت،عظمت او علم شاهدي وايي.

---

## دسلمون،سالمن کبان

دالله جل جلاله دعظمت دنښو نښانو څخه يوه يې دسلمون کبان دي.

دغوکبان په خپل هيرانونکي کار پوهان په تعجب کي کړي چي بيله قرآن کريم څخه دهغه تفسير نه کيږي. الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ طٰه : 50] قَالَ رَبُّنَا ٱلَّذِىٓ أَعۡطَىٰ كُلَّ شَىۡءٍ خَلۡقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ )

موسی (ع) ځواب ورکړ: "زموږ رب هغه ذات دی چي هر شي ته يې د هغه خپل جوړښت ورکړ، بيا يې ورته لار وښودله."

******

دغه کبان دامريکان دسيندونو په سرچينو کي زيږي،دهغه سيندونو دځروبو،ابشارونو څخه راکښته کيږي داطلس دسمندر پای ته ځي او ورسته دفرانسي ساحلونو ته مهاجرت کوي،ورسته درهغه بيرته راګرځي دخپل پيدايښت ځای ته راستنيږي.

دايؤ ګمان او فرضيه نه ده بلکې پر يادو کبانو کلونه کلونه څيړنې سوي،په ځينو سيندونو کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دځيرنې ځايونه جوړسوي:چې ددومياشتو په جريان کي يې د دوميليونو څخه ډېر دسلمون کبان شمېرلي دي چې بيرته دخپل پيدايښت ځاى ته راستنيدل.
څيرونکو پرهغوئ ځينې فلزي آلي چې پر هغو ديادو کبانو دکډوالى تاريخ ليکل سوى وو دهغوئ پر بدن نصب کړي ترڅو چې هغوئ بيرته راستانه سي دهغوئ دسفر وخت پرې مالوم وي. دهيرنتيا ځاى دادئ چې هغوئ څنګه داطلس سمندر څخه بيرته دخپل زيږيدني ځاى ته راګرځي. که موږ يو سمند پيژندونکى په کښتئ کي سپورکړو اوهغه ته ووايو دفرانسي دسواحلو څخه دامازون ځنګله سيندونو ته ولاړسه:ياد پوه او متفکر که هر څومره هم په سمندري سفرونو کي تخصص ولري او دهغه سره نقشه اوبل لارښوونکي آله نه وي :نه سي کولى ټاکل سوي ځاى ته ورسيږي.
مګر دغه کبان چې دسمندر په ژور کي تګ کوي خپل منزل ته ځان رسوي،که چيري هغوئ دري درجې هم دخپل لارې څخه چپ سي دشمالي امريکا څخه يې جنوبي امريکا ته لار بدليږي،ددې سربيره څنګه ياد کبان دفرانسي دساحلونو څخه دخپل پيدايښت ځاى ته ستنيږي،په داسي حال کي چې دانسانانو امکانات دکبانو په لاس کي نه دي.
ياد کبان کولى سي پرکومه لار چې تللي بيرته پرهغه لاره ولاړ سي چې حتا ځيني وخت دلوړو ځروبو څخه پورته کيږي،دهغوئ څخه دځروبو څخه دپورته تللو په وخت کي دقيق انځورونه اخيستل سوي دي چې هغوئ غوښتل بيرته خپل دزيږيدو ځاى ته ستانه سي.
ښه نو داکبان چا داسي پيداکړي؟چاهغوئ ته دلارې مالومولو وړتيا ورکړي؟الله جل جلاله فرمايي [سُوْرَةُ طٰه : 49]قَالَ فَمَن رَّبُّكُمَا يٰمُوسٰى)فرعون وويل: "ښه نو، بيا ستاسي دواړو رب څوك دى، اې موسى؟!"[سُوْرَةُ طٰه : 50] قَالَ رَبُّنَا الَّذِىٓ أَعْطٰى كُلَّ شَىْءٍ خَلْقَهُۥ ثُمَّ هَدٰى) موسى (ع) ځواب ورکړ: "زموږ رب هغه ذات دى چې هر شي ته يې د هغه خپل جوړښت ورکړ، بيا يې ورته لار وښودله."

*****

بيا الله جل جلاله فرمايي: [سُوْرَةُ الأعلىٰ : 1-3](سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى)[اې پېغمبره (ص)!] د خپل لوړ مرتبه رب د نوم په پاکي سره ستاينه وکړه؛(الَّذِى خَلَقَ فَسَوّٰى) هغه (رب) چې (ټول شيان يې) پيدا کړي، بيا يې انډول برابر کړى دى؛(وَالَّذِى قَدَّرَ فَهَدٰى )او هغه (رب) چې (خير او شر يې) اندازه کړل، بيا يې لاره وښودله؛*****

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دحيوانـاتو پـه چلنـد،کړنو او جوړښـت کـي ژور آنـد وکـړو هيرانـوونکي پيښـي بـه ووينو:دسلمون،سليمان دکب سربيره،سمندري ماران الوتونکي مرغان،حيوانات،نباتات چا دوئ پيداکړي دي؟

چا دوئ ته دژوند تګلارې ښوولي دي؟چا هغوئ تـه پـه شپه او ورځ کي دخپلو مخو دڅارلو وړتيا ورکړې؟

دا دالله جل جلاله مخلوقات دي چي په بشپړ ډول بې‌له کومي کمئ الله جل جلاله پيداکړي دي!



(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډاکتر کب

يو سمندر پيژندونکی دسمندر په اوبو کي په ځيرونو بوخت وو،چي يوه لوی کب ته يې پام سو چي دخپلې ډلې بيل او ديوه کوچني کب لورته يې حرکت وکړ.

دمعمول سره سم دي سمندري پوه فکر وکړ لوی کب دکوچني کب دخوړلو په نيت دهغه لورته حرکت وکړ،مګر دهغه پر خلاف يې وليدل چي لوی کب دکوچني کب خواته ودريدئ او کوچني کب دهغه دځينو خالونو په خوړلو پيل وکړ.

تقريباً ورسته درلسو کالونو يو هيرانوونکی حقيقت څرګند سو هغه داوو چي :دغه کوچني کبان دټولو کبانو درملنه کوونکي يا ډاکتران دي،او يو ناليکلي وعده،يا پريکړه دټولو کبانو په منځ کي سوي ده چي دغه ډول کوچني کبان بايد دنورو کبانو لخوا ښکار او ونه خوړل سي.په دي اړه ډيرې ځيرنې وسولې او دهغوئ په اړه ډير مالومات لاسته راوړل سول،چي ورسته پوهان لخوا يادو کبانو ته د درملنه کوونکو يا ډاکترانو کبانو نوم ورکول سو. الله جل جلاله ددې کب خواړه دنورو کبانو دزخمونو په چرکونه،نوونه ايښې دي. لوی کبان دخپلو زخمونو ددرملنې لپاره ديادو کبانو خواته درومي .

ځيني ويډيو ګانې چي دياد کب څخه سوي ډيرې هيرانوونکي دي يوکب ددې کوچني کب خواته راځي او خپله خوله ورته خلاصوي ترڅو دياد کب دزخم چرک وخوري،کوچنی کب دهغه خولې ته ننوزې په همدې وخت کي يو نسبتاً غټ کب دناروغ کب دښکار لپاره راځي،ناروغ کب درملنه کوونکي کب ديو ډول ږغ سره يوځای دخولې څخه غورځوي اوتښتي.دا څنګه وعده او قرارداد دئ چي دسمندر په ټولو برخو کي دهغه څخه پيروي کيږي.

دغه کبان چي الله جل جلاله پيداکړي دي يو ښه توږونکي آله لري چي پرځای کارکوي،ددې کب هضمي سيستم داسي دئ چي چرک اونوونه قبولوي او همدا مواد ددې کب خواړه دي،کله چي يو لوی کبان ديوبل سره ټکر يا جګړه کوي :زخمي کيږي؛دزخم،ټپ دالتهاب ،چرک څخه دخلاصون په پار دياد کوچني ډاکترکب خواته ځي او هغه يې درملنه کوي.

ځيني وخت ددې کب خوات ډير کبان ددرملنې لپاره راځي نو ديوبل سره شخړه نه کوي بلکي دمتمدينې ټولنې دوګړو په شان په نوبت کي دريږي،يو بل ته تکليف نه رسوي. کبان انتظار کوي ترڅو ددرملنې نوبت يې را ورسيږي؛ځيني وخت ديوه کب درملنه يوه دقيقه يا دهغه څخه ډير وخت نيسي او پرخپله لاره ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



[سُوْرَةُ لقمَان : 11]هٰذَا خَلْقُ اللهِ فَأَرُونِى مَاذَا خَلَقَ الَّذِينَ مِنْ دُونِهِۦ ۚ بَلِ الظّٰلِمُونَ فِى ضَلٰلٍ مُّبِينٍ

) دا خو د الله پيدا کول دي، اوس ما ته را وښاياست، له هغه پرته دغو نورو څه پيدا کړيدي؟

- اصلي خبره دا ده چي دغه ظالمان په ښکاره ګمراهۍ کښي غور ځېدلي دي.

******

میلیونونه کبان په سمندرونو کي ژوند کوي:چا هغوئ ته ور وښوول چي دا درملنه کوونکی کب باید ونه خوړل سي او زيان ورته ونه رسيږي ترڅو هغه خپل کار ته په ښه ډول دوام ورکړي ؟آيا هغوئ عقل لري؟الله جل جلاله فرمايي:

[سُوْرَةُ طٰه : 50](قَالَ رَبُّنَا الَّذِىٓ أَعْطٰى كُلَّ شَىْءٍ خَلْقَهُۥ ثُمَّ هَدٰى ) موسى (ع) ځواب ورکړ: "زموږ رب هغه ذات دی چي هر شي ته يې د هغه خپل جوړښت ورکړ، بيا يې ورته لار وښودله."



(c) ketabton.com: The Digital Library

الوتونکي مرغان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مرغان

يوځـای مـې ولوسـتل داسـي هـيڅ يـوه الوتکـه شـتون نـه لـري چـي دمرغـانو وکـارونو تـه ورسيږي،يا حتا هغه کارونو ته نژدي سي.

الوتونکي مرغان الله جل جلاله پيداکړي چي دهغه جل جلاله دعظمت نښه ده او دهغوئ داسي توصيف کوي:[سُوۡرَةُ المُلك : 19]

أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَافَّاتٍ وَيَقْبِضْنَ ۚ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا الرَّحْمَٰنُ ۚ إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ بَصِيرٌ

ايا دوی د خپل ځان د پاسه الوتونکي مرغان وزرونه غوړوونکي او ټولوونکي نـه وينـي؟ - د الرحمان څخه پرته بل هيڅوك نشته چي هغوی يې تم کړي وي، هماغه د هر څه ليدونکی دی.

*****

الوتونکي دنورو مخلوقاتو څخه ډېرې ښکلاوي لري،او ډېر زړه را کښوونکي دي.دنړۍ په هره برخه او موسم کې موندل کيږي:په قطبي سيموکي،دغرونو په هسکو څوکو،پـه سمندرو کي؛په تاريکو ځنګلونو کي؛پـه وچو دښتو او ګڼ ميشتو ښـارونو کـي .څيرونکو دراوسـه 9 زره ډوله مرغان پيژندلي دي.

خدای جل جلالـه مرغـانو تـه سپک وزن ورکړی ترڅـو دهغوئ لپاره الوتنـه آسانه وي.دهوا دليږد کوچني پيپونه،خاليګاوي دهغوئ دبدن په هره برخه کي شتون لـري ترڅـو وزن يـې کم او دالوتلو په وخت کـي يـې بدن سوړ،خنک کړې. خدای جل جلالـه دهغوئ هډوکي خـالي او ښکې سپکې پيداکړي دي،ترڅو په ښه ډول الوتنه وکولی سي.

مرغان ښه ليدل کولی سي چي دځينو دلېد وړتيا يې دانسـان دليد 8برابـره ده. ځينـي يـې خپل ښکار د2000مترو ليري څخه ويني،دهغوئ سترګي ددې توانايي لري چي ديؤې پوره دايرې په اندازه وګرځې پـه داسي حـال کي چي دانسـان سترګې يؤازي 180درجې سيمه بيلـه سر ګرځول ويني. دمرغانو سترګې دسره په دوارو خواو کي شتون لري چي کولی سي بيلـه سر ګرځول يؤه بشپړ دايره وويني. ځيني مرغان خپل ښکار ددوه کيلومتره لوړې څخه په ښـکاره ډول وينې. ځيني يې خپل هګۍ دونو پـه پـانو کـي درنظر لانـدي سـاتي، ځينـي نـور مرغـان بيا خپل ښکار داوبـو لانـدي وينـي او هغـه ښـکارکوي. دځينـو مرغـانو تيزوالـی پـه سـاعت کـي 130کيلـومتره او دځينـو سـرعت يـې بيـا دښـکار پـه وخـت کـي 350کيلـومترو تـه رسـيږي لکه:دښکاري باز.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځيني مرغان بيله دريدلو 6زره کيلومتره الوتنه کوي يا 86ساعته بيله دمې خپل وزرونه رپوي او په ياده موده کي دخوړو او اوبو څخه ګټه نه اخلي. ايا داسي الوتکه سته چي بيله تيلو او ډېرې انرژۍ دومره فاصله ووهي.[سُوْرَةُ المُلك : 19] أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَافَّاتٍ وَيَقْبِضْنَ ۚ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا الرَّحْمَٰنُ ۚ إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ بَصِيرٌ )

ايا دوى د خپل ځان د پاسه الوتونکي مرغان وزرونه غوړوونکي او ټولوونکي نه ويني؟ - د الرحمان څخه پرته بل هيڅوك نشته چي هغوی يې تم کړي وي، هماغه د هر څه ليدونکی دی.

:****

د ډېرې قوې؛پياوړتيا توليد،کلکې او سپکې پرزې ديؤې الوتکې دوه بنسټيز شرطونه دي چي هره الوتکه يې بايد ولري ترڅو الوتنه وکولی سي.

مرغان پيژندونکي وايي:دغه دوه شرطونه په مرغانو کي شتون لري،ياني ډېره قدرت،او سپک وزن دغه محرک قدرت مرغانو دسينې دپياوړو عضلو،پياوړی زړه چي قوي غورځيدا لري څخه لاسته راوړی. مرغان ددې توانايي لري چي په زيات سرعت د ډېروخت لپاره الوتنه وکړې.

دمرغانو تنفسي سيستم دعضلاتو دتوليد سوي تودوخې پروړاندې دمقابلې توان لري،دخوځنده وسايلو جوړونکي تل ديادو وسايلو دسيستمونو دسړولو يا يخولو لپاره دستونزو سره مخ وي؛که چيرې ديادو وسايلو ديخولو په سيټم کي لږ هم ستونزه وي،نور سيستمونه به ښه کار ونه سي کولی او کيدای سي اور واخلي.

الوتونکي در5زره کيلومترو ډېره الوتنه کوي او ډېره انرژي پر دغه لاره کاروي ددې سربيره خوله هم نه کوي.

هيرانوونکي ده دمرغانو زړه او عضلې څومره پياوړي دي چي ياد کار بيله ستونزې سرته رسوي. دمرغانو په بدن کي کوچني پيپونه شتون لري چي دسږو څخه پيل کيږي؛ديادو کوچنيو پيپونو دلاري هوا دمرغه دبدن ټولو برخو حتی دپښو خواو ته رسيږي ترڅو دالوتنې په وخت کي دمرغه عضلات خنک وساتې. دمرغانو تنفسي سيستم دهغوئ په ټول بدن کي برخې لري،کله چي مرغه هوا تنفس کوي دعضلاتو ټولو برخو ته يې رسيږي ترڅو هغوئ خنک،ساړه وساتې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يؤ مرغه چي طلايي الكردان نوميږي بيله دريدلو در5500كيلومترو ډېره الوتنه كوي،مگر ډېر لږ وزن دلاسه وركوي چي دهغه ټول وزن ته دلاسه وركړى وزن چندان شى نه وي.

[سُوْرَةُ الجَاثِيَة : 3]إِنَّ فِى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ لَءَايٰتٍ لِّلْمُؤْمِنِينَ) حقيقت دا دى چي په اسمانونو او ځمكه كښي بې شمېره نښاني د ايمان راوړونكو لپاره دي.

******

## سمندري ښكاري سپين مرغه چي شا يې خړه او سريې تور دئ (Tern)

ياد مرغه ديخنى څخه تېښتي :په همدې خاطر دشمالي آسيا او امريكا څخه جنوب لورته مهاجرت كوي،دياد كار دسرته رسولو لپاره په ژمي او دوبي موسمونو كي 9زره كيلومتره الوتنه،سفركوي.

ددې مرغه وزرونه داوبو ضد دي ياني نه لنديږي،كه چيري دياد مرغه وزرونو اوبه جذبولى:په اوبو كي دهر وار غوټې سره به يې وزرونه ډېر درنيدل او بيا به يې پرواز نه سواى كولى . مرغه پيژندونكي پوهان وايي:دټولو سمندري مرغانو وزرونه نه لنديږي؛په اوبو كي در غوټه كيدو ورسته يې پر وزرونو اوبه هيڅ اغيزه نه كوي،هغوئ دسمندري كبانو څخه ځانونه تغذيه كوي.

سپين سمندري مرغه ځيني ښكاري الوتونكي ځارې:كله چي هغوئ كب داوبو څخه پورته كړې او غوارې دځان سره يې وليږدوې سپين مرغه پرهغوئ حمله كوي،هغه بيريږي او كب ايله كوي،سپين مرغه مخكي له دي چي كب اوبو ته ورسيږي هغه نيسي.

ددې مرغانو يؤ بل ډول دشمالي منجمدې سيمې څخه جنوبي منجمدې سيمې ته كډوالي كوي،په ياد مهاجرت كي هغوئ 32زره كيلومتره لار وهي. كيداى سي سوال وكړئ:چي داڅنگه مالومه سول چي ياد مرغه دومره ډېره لار طى كوي؟

په ځواب كي بايد ووايو:څيرونكي پريادو مرغانو يؤه بريښنايي آله تړې چي هغه آلي كي دياد مرغه وهل سوي لار او اندزه يې مالوميږي ياني دمرغه دتگ،سرعت او طى سوي فاصلې ټول مالومات خوندي كوي. ځيني نور مرغان 4زره كيلومتره مزل كوي بيله دې چي استراحت وكړي يا كوم څه وخوري؛ځيني نور مرغان بيا 86ساعته پرلپسي سفركوي.

[سُوْرَةُ المُلك : 19]أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَٰفَّٰتٍ وَيَقْبِضْنَ ۚ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا الرَّحْمَٰنُ ۚ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَىْءٍۭ بَصِيرٌ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ايا دوی د خپل ځان د پاسه الوتونکي مرغان وزرونه غوړوونکي او ټولوونکي نـه وينـي؟ - د الرحمان څخه پرته بل هيڅوك نشته چي هغوی يې تم کړي وي، هماغه د هر څه ليدونکی دی.**

********

**بيالله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ النُّور : 41](أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُسَبِّحُ لَـهُ مَن فِى السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَالطَّيْرُ صَٰٓفَّٰتٍۖ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلَاتَهُ وَتَسْبِيحَهُۗ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ ) ايا تـه نـه وينـې! هغه ټول مغلوقات چي په اسمانونو او ځمکه کښي دي، او هغه الوتونکي چي په وزرونو غوړولو سره الوزي الله په پاکی سره ستايي؛ هر يو د خپل لمانځـه او ثنـا ستايني کړنلاره پيژنـي. او دوی ټول چي څه کوي، الله پرې پوهيږي. ****همدارنګه بيالله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ النّحل : 79] أَلَـمْ يَـرَوْا إِلَـى الطَّيْـرِ مُسَخَّرٰتٍ فِى جَوِّ السَّمَآءِ مَـا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا اللّٰهُۗ إِنَّ فِى ذٰلِكَ لَءَايٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ )ايا دغو خلکو کله الوتونکو ته نه دي کتلي چي په اسماني فضا کښي پـه څـه شان مسخر دي؟ دوی لـه الله څخه پرته چا ساتلي دي؟ - په دې کښي د هغو کسانو لپاره ډيري نښی نښانی شته چي ايمان راوړي.*******

**دغه دري اياتونـه چي پوره څرګند او محکم دليل دئ: موږ اړباسي چي دمرغانو دپيدايښت او ټولو مخلوقاتو په پيدايښت، خلقت کي ژور اندوکړو!!**



(c) ketabton.com: The Digital Library



# کوتري دتاريخ لومړۍ هوايي ليک ليږدونکي

نورالدين الشهيد چي کله دشام او مصر آمر وو هوايي پستي خدمات يې په کار واچول،ياني دکوترو په مرسته دليک استول. دپوهانو په وينا دليک وړونکو کوترو 500ډولونه شتون لري.کوترې ډېرې هوښياري او دلوړ پروازکولو وړتيا لري.کوترې داسي مرغان دي چي ژر اهلي کيږي.[سُوْرَةُ يٰسٓ : 72](وَذَلَّلْنٰهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوبُهُمْ وَمِنْهَا يَأْكُلُونَ ) موږ هغه پداسي شان دوی ته ښکېل (تابع) کړيدي چی پر ځينو باندی دوی سپريږی، د ځينو غوښه خوري،

***

چا دا مرغه رام؟چا دي مرغه ته دزيرکی پياوړی قدرت او دډېرې الوتنې وړتيا ورکړي؟چا دا مرغه دانسان چوپړکوونکی ګرځولی؟

ليک وړونکي کوترې بېله دمې زرکيلومتره لار وهي؛په هره دقيقه کي يو کيلومتر اويوه ساعت کي 60کيلومتره الوتنه کوي.ياد مرغه دکاله 9جوړې چيچيان روزي. کوترو په هواکي دليک په ليږدولو کي زموږ سره مرسته کول او دهغه وخت په مقياس يې ليک ترټولو ژر خپل موخې ته رسوئ.

په هر حال سلطان نورالدين الشهيد د دمشق او قاهرې ترمنځ دليک دليږلو لپاره دکوترو څخه ګټه اخيستل چي پر يادو کوترو دسلطان نوم حک سوی وو،نورالدين دمځکې په بيلا بيلو برخو کي د2000ليک وړونکو کوترو څخه کار اخيستئ. پوښتنه پيداکيږي:څنګه دغه مرغان ورته په نښه سوي ليرې منزلونه پيداکوي؟ څنګه کولی سي دغه ليري فاصلې ووهي؟ هغه حس چي کوتري ته لارښي څنګه کارکوي؟

ځيني پوهان وايي:پرمځکه داسي نښې شتون لري چي کوترې هغه په يادوي او دهغه نښو په مرسته خپل لار پيداکوي. دايوفرضيه ده چي نورو پوهانو رد کړي ده،داسي چي کوتره يې په تړلو سترګو دموخې لورته واستول هغه خپلې موخې ته ورسيدل. دويمه فرضيه:کوتره دلمرسره زاويه جوړوي چي دهغې په مرسته خپل منزل ته ځان رسوي. که ووايو چي کوتره دشپې هم مزل کوي دافرضيه هم رديږي. دريمه نظريه:ځېني پوهان باور لري چي دکوترې په مغزوکي يو رادار دئ چي دمځکې دمقناطيسي ميدان څخه په ګټې اخيستو خپله لارپيداکوي او خپلې تاکل سوې موخې ته رسيږي. په ورستيو وختون کي دانظريه تائيدسوي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الله جل جلالـه فرمـايي :[سُوۡرَةُ الأعلىٰ : 1-3](سَبِْحِ اسْمَ رَبِْكَ الْأَعْلَى ) [اې پېغمبـره (ص)!] د خپل لوړ مرتبـه رب د نـوم پـه پـاکي سره ستاينه وکړه؛ (الَّذِى خَلَقَ فَسَوّٰى ) هغـه (رب) چي (ټول شيان يې) پيدا کړي، بيا يې انډول برابر کړی دی؛ وَالَّذِى قَدَّرَ فَهَدٰى ) او هغـه (رب) چي (خير او شر يې) اندازه کړل، بيا يې لاره وښودله؛**

********

**پـاکي دي وي الله جل جلالـه لـره چـي هيرانـوونـکي مخلوقـات يـې پيداکړي؛هغوئ يـې پـه خپلـو کړنو مامور کړي او لارښوونـه يې ورتـه کړي**



(c) ketabton.com: The Digital Library



# دمرغانو کډوالي

**الله جل جلالـه فرمايي:[سُوۡرَةُ النَّمل : 79] فَتَوَكَّلۡ عَلَى اللهِ‌ؕ إِنَّكَ عَلَى الۡحَقِّ الۡمُبِينِ ) نـو [اې پېغمبره (ص)!] پر الله توکل ولره. په باوري ډول ته په ځرګند حق باندي يې.**

*******

**بيا الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ المُلك : 19]**

**أَوَلَمۡ يَرَوۡا إِلَى الطَّيۡرِ فَوۡقَهُمۡ صَٰٓفَّٰتٍ وَيَقۡبِضۡنَ ۚ مَا يُمۡسِكُهُنَّ إِلَّا الرَّحۡمَٰنُ ۚ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَيۡءٍ بَصِيرٌ )**

**ايا دوی د خپل ځان د پاسه الوتونکي مرغان وزرونه غوړوونکي او ټولوونکي نـه ويني؟ ـ د الرحمان څخه پرته بل هيڅوك نشته چي هغوی يې تم کړي وي، هماغه د هر څه ليدونکی دی.**

*********

**موږ ددې ايات شريف سره څنګه چلند کوو،آيا په دې ايات شريف کي پـه مځکـه او آسمانونو کي دتفکر انګيزه شتون نه لري؟آيا دا ايات شريف دالله جل جلاله پرعظمت،لويی دليل نه دئ؟ دکومه وخت چي انسانانو مرغان پيژندلي وينې چي ځيني دهغوئ څخه په يخ کي ورکيږي او په پسرلي کي بيرته راځي.**

**پوهـان وايي:هرکـال پـه لسـګونه زره مرغـان مهـاجرت کوي،پـه ځـانګړي ډول دشـمالي نيمې کرې څخه جنوبي نيمې‌کري تـه،مرغان دشمال څخـه جنـوب تـو دجنـوب څخـه شـمال تـه سفر کوي. دمرغانو ددې کډوالی پوره مالومات داوسنيو پرمختللو وسايلو په مرسته ځرګنـد سـوي دي.پر 13ميليونو مرغانو څيرنې سوي داسي چي کله ياد مرغان کوچني او په خپلو ځالو کي وه دهغوئ پـر پښو،لوری،سرعت او فاصلـه مـالومونـکي آلـه تـړل سـوي ترڅـو دشـمال څخـه درجنوبه دهغوئ سفر وڅارل سي،دا کار يؤه نړيوال څيرنيز مرکز کړی. داسي مرغـان شـتون لري چي 14زره کيلومتره لاروهې. يؤ بل ډول يې 16زره کيلومتره مسافرت کوي.**

**ترټـول ډېـره فاصلـه چـي دمرغـانو يـؤې ډلـې وهلـې وه 22زره کيلـومتره وه،يـانې دشـمالي منجمدڅخه دافريقا جنوب ته،په داسي حال کي چي دسفر په دوام کي ديادو مرغانو سرعت په ساعت کي د40او100کيلومترو په منځ کي وو. دښکاري باز سرعت دښکار پـه وخت کـي پـه ساعت کي 350کيلومترو تـه رسيږي.ځيني څيرنـې چـي دمرغانو پريؤه ډول سـوي ځرګنـدوې چي يادو مرغانو2500کيلومتره لار بيله دمې کولو په 20ساعته کي وهلې ده.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينې مرغان 1000متره ځيني 4200متره ځيني نوربيا 6000 زده متره او ځيني نور مرغان دهيماليا دغره پرسر دايوريسټ دڅوکي څخه لوړ 9000 متره کي الوتنه کوي په داسي حال کي چي دنړۍ پرمختللي الوتکه دولس زره متره لوړيږي. ښه نو بايد دمهاجرت کوونکو مرغانو په مغزو کي وخت ښوونکی يا جنتري وي چي هرکال پر مالوم وخت سفر پيلوي او پرټاکلي وخت بيرته راستنيږي. څوک هغوئ ته خبرورکوي چي دمهاجرت وخت را رسيدلی؟ پوهان وايي چي مرغان د اوږده مسافرت کولو عجبه توانايي لري،چي دمځکي پرمخ هيڅ بل ژوی دسفر داسي وړتيا نه لري. په دې کي دالله جل جلاله حکمتونه دي.

جالبه داده چي مرغان دسفرکولو لپاره تياری نيسي،مخکي له دې چي مهاجرت وکړي په خپل بدن کي چربي ذخيره کوي ترڅو دسفر په وخت کي ددې چربي څخه ګټه واخلي. ځيني پوهان وايي چي مرغان دخپل لارې دموندلو لپاره دطبيعي نښو،غرونو،سيندونو اوځنګلو څخه ګټه اخلي،دانظريه ځکه ناسمه ده ځکه مرغان دشپې هم مزل کوي.
ځيني نوربيا وايي چي مرغان دخپل پياوړي بويايي حس په مرسته لاره پيداکوي،ديادوني وړده چي دانظريه داوسنيو پرمختللو انځور اخيستونکو آلو په مرسته په ځينو مرغانو کي منل سوې ده. ځيني وايي چي مرغان دلمر په مرسته لاره پيداکوي؛مالومه سول چي مرغان دلمر په نشتون کي هم خپله لاره نه ورکوي.
په دې ورستيو کي وموندل سول چي دمرغانو په سر کي يؤ نسج شتون لري چي حجم يې درنيم ملي متر کم دئ او دداسي موادو څخه جوړ سوی چي دمځکې مقناطيس پرهغو اغيزه کوي،ددې کار دښه ځرګنديدا په پار څيرونکو داسي پيچلی سيم دمرغه پر بدن وتړی چي دهغه دمقناطيس لوري دمځکي دمقناطيس دلوري سره بدلون درلودئ؛په دې سره مرغه خپل تګ لوری بدل کړ او دهغه پر عکس يې سفر پيل کړ. داسوال لا همداسي پرځای پاته دئ چي ددې نسج حقيقت څه دئ چي دمرغه دسترګو او مخ په منځ کي ځای لري او دمځکي دمقناطيسي قوې څخه کاراخلي. دځينو په اند مرغان پر ستورو خپله لار مالوموي؛مګر پر کوموستورو او څه ډول؟ښه نو دوې نظريي پاته سولې:يؤه دستور اوبل دمځکي دمقناطيسي اغيزه دمرغانو په سر کي پرنصب نسج يا آلې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه نو که چيري مرغه دهمدې نسج په مرسته لارموندې او دمقناطيسي ميدان څخه يوه درجه خپل مسير ته بدلون ورکړې مالومه خبره ده چي زرګونه کيلومتره دخپل منزل څخه ليري کيږي. دغه راز همداسي راز پاته سو،دا دالله جل جلاله کلام دئ چي فرمايي:
[سُوۡرَةُ المُلك : 19] أَوَلَمۡ يَرَوۡا إِلَى الطَّيۡرِ فَوۡقَهُمۡ صَٰٓفَّٰتٍ وَيَقۡبِضۡنَ ۚ مَا يُمۡسِكُهُنَّ إِلَّا الرَّحۡمَٰنُ ۚ إِنَّهُۥ بِكُلِّ شَىۡءٍ بَصِيرٌ )
ايا دوی د خپل ځان د پاسه الوتونکي مرغان وزرونه غوړوونکي او ټولوونکي نه ويني؟ - د الرحمان څخه پرته بل هيڅوك نشته چي هغوی يې تم کړي وي، هماغه د هر څه ليدونکی دی.

*****

ښه نو دمرغانو دلارې دپيداکول ړرتيا چي دهرشی په مرسته وي،دالله جل جلاله لارښوونه ده چي هغوئ ته يې ورکړې . يؤشی چي دپام وړدئ هغه دادئ چي کوچني مرغان چي مخکي يې سفر هم نه وي کړی او کومه روزنه يې هم نه وي ليدلي څنګه دغه اوږده سفرونه په لومړي ځل کوي؟ چا دغه قدرت دغه کوچني مرغه ته ورکړی؟ الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ طٰه : 50] قَالَ رَبُّنَا الَّذِىٓ أَعۡطَىٰ كُلَّ شَىۡءٍ خَلۡقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ )
موسی (ع) ځواب ورکړ: "زموږ رب هغه ذات دی چي هر شي ته يې د هغه خپل جوړښت ورکړ، بيا يې ورته لار وښودله."

*****

دا جالبه ده چي يوه شي دهوايي سفرونو ليکې سيده نه دي:يؤه مسافر وړونکي الوتکه چي څوکيلومتره سفرکوي دخپل تګلورې دبدلون لپاره يې چلوونکی په يؤه کوچنی زاويه کي اړه کيږي چي دمځکي دترافيک،لارښود سره په پرلپسي اړيکه کي واوسي او دلارښووني سره سم سفر ته دوام ورکړې په داسي حال کي چي په الوتکه کي پرمختللي لار ښوونکي وسايل هم شتون لري. دالوتونکو دسفر ليکې هم سيده نه دي بلکي کږي وږي دي،مګر مرغان ددې سربيره هم دخپل مسير څخه نه اوړې:ولي چي الله جل جلاله دغه ليکې دهغوئ لپاره رسم کړي دي! که چيرې مرغان يؤه درجه هم دخپل مسير څخه واوړي هغه ځای څخه ډېر ليري کيږي کوم ځای چي ددوئ منزل دئ. يؤ مرغه په الوتکه کي وچول سو او پنځه زرکيلومتره ليري دخپل اوسيدو دځای څخه وي وړل سو:دلسو ورځو ورسته مرغه بيرته خپل داوسيدني ځای ته راستون سو،په همدې خاطر الله جل جلاله فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



[سُوۡرَةُ النّحل : 79] أَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ مُسَخَّرٰتٍ فِى جَوِّ السَّمَآءِ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا اللّٰهُ ۗ إِنَّ فِى ذٰلِكَ لَءَايٰتٍ لِّقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ )

ايا دغو خلكو كله الوتونكو ته نه دي كتلي چي په اسماني فضا كښي په څه شان مسخر دي؟ دوى له الله څخه پرته چا ساتلي دي؟ - په دې كښي د هغو كسانو لپاره ډيري نښى نښاني شته چي ايمان راوړي.

*****

په هوا كي دمرغانو سره څوک مرسته كوي چي هغوئ بيله كوم خطره زرګونه كيلومتره سفر كوي،په دې كي دمومنانو لپاره ډېرې نښاني دي. الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ الجَاثِيَة : 6] تِلْكَ ءَايٰتُ اللَّهِ نَتْلُوهَا عَلَيْكَ بِالْحَقِّ ۖ فَبِأَىِّ حَدِيثٍۭ بَعْدَ اللّٰهِ وَءَايٰتِهِۦ يُؤْمِنُونَ )

دا د الله نښاني دي چي موږ يې تا ته په حقه سمي لولو (بيانوو). بنه نو له الله او د هغه له ايتونو وروسته به بله څه خبره وي چي دوى به پرې ايمان راوړي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



## ټکانړک،ټکټکی مرغه(Wood Pecker)

دمرغانو ډلې یؤ هغه یې ټکټکی دئ:کیدای سي تاسویې نوم اوریدلی وي. که دیاد مرغه په جوړښت کي فکر وکړو داسي کروړي آلي اوداسي کلکوالی په کښي وینو چي دتصور څخه لوړ دئ.

دغه مرغه دپیاوړي او کلکي مښوکي درلودونکی دئ چي دفشار پر وړاندي دېرمقاومت لري.

ددې مرغه مشوکه دومره پیاوړي او کلکه ده چي دونو دسوري کوونکي برمې په شان کار کوي.

ددې مرغه مښوکه دپیاوړ تیا؛کلکوالي داړخه دعجیبو ترکیبونو څخه جوړه سوي ده.دیادمرغه دغاړې عضلات هم ډېر پیاوړي دي. هغه وارونه چي یادمرغه یې دونې دتنې دسوري کولو په پار پروني کوي؛دا اړینه ده چي دغاړې عضلات یې پیاوړي وي. یاد مرغه څنګه ونې سوری کوي؟

هغه دونې پرساقه،بدنه کښیني او پریؤه برخه یې په مښوکه وارونه کوي ترڅو هغه سوري سي او دونې دبدنې مغز ته لاره پیداسي او یاد مرغه هغه حشره یا چینجی وخوري چي دونې دبدني په مغز یا دننه کي شتون لري.

داچي یاد مرغه څنګه پوهیږي چي دونې دبدنې په همدغه ځای کي به حشره یا چینجی وي دا راز لانه دی سپړل سوی،پټ پاته دئ. دټکټکي سر هم باید کلک وي،همدارنګه باید یؤه سوري کوونکي آله ولري،اوږده ژبه باید ولري چي هغه سریښناکه ماده لرونکي وي ترڅو دونې دبدني څخه پري حشره راوباسي،همدارنګه باېد دپیاوړ ښو درلودونکی وي ترڅو دونې دسوري کولو په وخت کي پر هغو ځان ټینګ کړې او پیاوړي ضربې ونې ته ورکړې.

ټکټکی څلور نوکان لري چي دوه یې مخته او دوه یې دپښو دشا لورته دي چي دانبور په شان کارکوي او دونې پر پوست کلک ټینګیږي. الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ النَّمل : 88](وَتَرَى الْجِبَالَ تَحْسَبُهَا جَامِدَةً وَهِيَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ ۚ صُنْعَ اللَّهِ الَّذِىٓ أَتْقَنَ كُلَّ شَىۡءٍ ۚ إِنَّهُۥ خَبِيرٌۢ بِمَا تَفْعَلُونَ) نن ته غرونه وینې او ګومان کوې چي ښه کلك ښخ شویدي. خو په هغه وخت کښي به دا د وریځو په څېر الوتونکي وي، دا به د الله د قدرت نښانه وي چي هر شی یې په حکمت سره بر قرار کړیدی. هغه ښه خبر دی چي تاسي څه کوئ.

******

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دغه مرغه ديوې سورى كوونكي آلې يا دهغه څخه ډېر وسايل دونو دسوري كولو لپاره لري.**

**د وهلو په مقابل كي پياوړي پښې،كلكه مشوكه،كلك دغاړې عضلات،كروړ سر،اوږده ژبه چي مخ يې سريښناكه ماده لري. الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ طٰه : 50] قَالَ رَبُّنَا الَّذِىٓ اَعۡطٰى كُلَّ شَىۡءٍ خَلۡقَهٗ ثُمَّ هَدٰى)**

**موسى (ع) ځواب وركړ: "زموږ رب هغه ذات دى چي هر شي ته يې د هغه خپل جوړښت وركړ، بيا يې ورته لار وښودله."*****

**ښه نو وايو چي خداى جل جلاله تينګې او كروړې عضلې ياد مرغه ته وركړي او هغه يې ددې كار لپاره پيداكړى دئ ،چي د ونې بدنه سورى كړې او دهغه دمنځه ونې ته زيان رسوونكي حشره يا چينجى لمنځه يوسي.**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# حشرات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دشاتو مچۍ

دشاتو مچۍ او په هغوئ کي دالله جل جلاله دلويي نښې،دشاتو په مچيو کي دالله جل جلاله دلويوالي نښي شتون لري. الله جل جلاله فرمايي: [سُوْرَةُ النّحل : 68-69] (وَأَوْحٰى رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِى مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ)

او (گوره)! ستا رب د شاتو مچۍ ته دا وحيي وکړه چي په غرونو، ونو او پر څپرو خيژول شويو نوتو کي خپلي ځالي جوړي کړه؛

(ثُمَّ كُلِى مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ فَاسْلُكِى سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا ۚ يَخْرُجُ مِنْ بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوٰنُهُۥ فِيهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ۗ إِنَّ فِى ذٰلِكَ لَءَايَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ)

او د هر ډول مېوو شيره وخوره او د خپل رب په هوارو کړيو لارو الوزه. ددغه مچۍ له خيتي څخه په بېلابيلو رنګونو يو شربت را وځي، په هغه کښي د خلکو لپاره شفا ده. په يقيني ډول په دې کښي هم د هغو خلکو لپاره يوه نښانه ده چي غور او فکر کوي.

*****

دشاتو مچۍ يوازني حشرات دي چي دګلونو دشيرې څخه شات جوړي ددې سربيره ديادو شيرو څخه دشاتو دکندو موم او شاتو جوړولو لپاره کار اخلې. يؤبل لوی کار چي دشاتو مچۍ يې سرته رسوي هغه دګلونو مثمر کيدنه ده چي بيله دشاتو دمچيو به ډېر نبات بې ثمره نباتات وای . دشاتو مچۍ دهغو موجوداتو ډدلې څخه دي:چي کلک او دقيق ټولنيز نظام لري،انساني ټولنه نه سي کولی دهغوئ په شان محکم ټولنيز نظام جوړ کړې.

دشاتو مچۍ دزرو ګلونو څخه دډېر ګلو دشيرې څخه يؤڅاڅکی شات په لاس راوړي،ياني داچي يؤه مچۍ به زر ځله پر ګلونو کښيني تر څو يؤ څاڅکی عسل توليد کړې. ددې لپاره چي مچۍ سل ګرامه شات تيار کړې يؤ ميليون ګلونو ته اړتيا لري.

دشاتو دمچيو تېزوالی دالوتني په وخت کي در 65کيلومترو څخه ډېريږي چي ياد سرعت دموټر سرعت ته نژدي سرعت دئ،مګر دشاتو دلېږد په وخت کي يې سرعت 30کيلومترو ته راټيټيږي؛مه هيروئ هغه شات چي مچۍ يې دځان سرروړې دهغي دوزن يو پر دريمه برخه وزن جوړوي. ديؤې کيلو عسلو دجوړولو لپار مچۍ بايد 400زره کيلومتره الوتنه وکړې،دا دومره فاصله ده لکه دمځکي دشاوخوڅخه چي لس ځله را وګرځو. دشاتو دلېږد په وخت کي دشاتو مچۍ په شاتو کي کيمياوي بدلونونه راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دګلونو دډېرښت په وخت کي دشاتو مچۍ خپل راغونډ کړي شات بلې مچۍ ته دلېږ په وخت کي ورکوي ترڅو وخت وسپموي او ژر کارته را وګرځي؛مګر کله چي ګلونه کم وي شات خپله وړي او په کندوکي يې په مناسيب ځای کي ځای پرځای کوي.

ُجثه دشاتو دمچيو ملکه دنورو مچيو څخه غټه وي په پسرلي کي د2000څخه در3000هګۍ اچوې،جالبه داده چي ملکه دملکي چيچيانو هګۍ يوځای دنرو او ښځو مچيو هګۍ بيا په نورو ځايونو کي ږدي؛اچوې،ترڅو دهغوئ دجنس سره سم ځانګړي پاملرنه او خواړه ورته ورسيږي،ياني دشاتو دمچيو ملکه دخپلو چيچيانو دپيداښت څخه مخکي دهغوئ جنسيت دهغوئ په هګيو کي پيژني او دهر جنس هګۍ دهغو لپاره په ځانګړي سوي ځای کي اچوې،ياد کار دانسان لپاره ناشونی دئ؛که يوه ښځه ډاکتره وي بيله وسايلو دخپل خيټې دماشوم په جنسيت نه سي پوهيدای،مګر دمچيو ملکه دخپلو هګيو په جنسيت پوهيږي.

کارګري مچۍ دملکي ځانګړي خواړه تياروې. کله چي دمچيو په کندو کي ملکه مړه کيږي په کندو کي مچۍ په جوش او خروښ کي وي؛په دي وخت کي هغوئ انسانان نه چيچي بلکي نوي ملکه چيچي چي دملکي دځای نيولو په تلاښ کي وي؛ځکه چي وښيي دمخکنۍ ملکي په نسبت غيرت منه ده.دنرو مچيو دنده دملکي تخمي کيدنه،دښځو مچيو دنده کارکول،دملکي دنده دهګيو اچول دي. الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ النّحل : 68-69](وَأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِى مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ)

او (ګوره)! ستا رب د شاتو مچۍ ته دا وحيي وکړه چي په غرونو، ونو او پر څپرو خيژول شويو نوتو کي خپلي ځالي جوړي کړه؛

(ثُمَّ كُلِى مِنْ كُلِّ الثَّمَرَٰتِ فَاسْلُكِى سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا ۚ يَخْرُجُ مِنۢ بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَٰنُهُۥ فِيهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ۗ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ )

او د هر ډول مېوو شيره وخوره او د خپل رب په هوارو کړيو لارو الوزه. ددغه مچۍ له خيټي څخه په بېلابيلو رنګونو يو شربت را وځي، په هغه کښي د خلکو لپاره شفا ده. په يقيني ډول په دې کښي هم د هغو خلکو لپاره يوه نښانه ده چي غور او فکر کوي.

*****

الله جل جلاله دمچيو نظم داسي جوړ کړی چي هغوئ يوه اړينه دنده په پوره امانت داری سره سرته ورسوې.موږ نه سو کولی دمچيو په ټولنه کي خلل او فساد ومونډو ځکه دا دالله جل

(c) ketabton.com: The Digital Library



**جلاله دلوري هغوئ ته لاربښوونه سوي ترڅو خپل چاري په ښه ډول سرته ورسوي،دمچيو ټولنه يؤه متحده او پوره ټولنه ده،يؤه ملکه پرهغوئ واکمني کوي چي دهغې سره مچۍ او بله ملکه شخړه او کارونو کي يې لاس وهنه نه کوي.**

**دکندو ټول اوسيدونکي مچۍ دهغې مادې په مرسته چي ملکه يې ترشح کوي په کندوکي دهغې دشتون احساس کوي؛دکندو کارکوونکي دغه ماده دکندو ټولو غړو ته رسوي؛کله چي ملکه مري دکندو نظام خرابيږي او کارونه ورسته پاتي کيږي.**

**ښځينه مچۍ ډېر کارونه سرته رسوي،دهغوئ دندې دهغوئ دعمر او بدني پياوړتيا پر اساس پرهغوئ ويشل سوې دي،چي دخطر،اړتيا او سختۍ په وخت کي هم بايد ورسپارل سوي کارونه سرته ورسوي؛دبيلګې په ډول کوچنۍ مچۍ دي چي دملکې په خدمت کي کار کوې؛دهغې خوړه راوړې. ځيني نورې مچۍ دچيچيانو پالنه او هغوئ ته خواړه چمتو کوې.**

**نورې مچې شتون لري چي کندو ته اوبه راوړې؛ځيني نورې مچۍ دکندو ديخولو او ګرمولو دنده پر غاړه لري چي په ژمي کي کندو ګرم او په دوبي کي کندو خنک وساتي،ځيني نورې بيا دکندو دپاکولو دنده لري:چي دځانګړو موادو په واسطه دکندو ديوالونه نرم،پاک اوځليدونکي وساتې. ساتونکي مچۍ ددښمنانو څخه دکندو ساتنه کوي:هيڅ مچۍ درهغو کندو ته دننه نه پريږدي درهغو چي شيپر وانه وايي؛دزور زياتې په وخت کي هغه وژني،داړتيا په وخت کي شيپر هم بدليږي.**

**ځيني نورې مچۍ بيا د مومو څخه شپږ ضلعي جوړښتونه جوړوي،چي په منځ کي يې خورا دقيق شکل جوړ وي چي دېاد شکل دتقليد څخه لوی انجينيران عاجز دي.**

**موندوتکي مچې شتون لري چي دهغوئ دنده دګلونو دځای مالومول دي،کله چي هغوئ ګلونه موندي کندو ته راځي او داسي حرکات،رقص کوي چي دحرکاتو څخه يې نورو مچيو ته دګلونو دځای دليروالي او په هغوئ کي دخوږو دډېروالي او لږوالي اندازه مالوميږي.**

**ورسته در خبر را رسيدو ډېر کارګري مچي دګلونو ځای ته ځي چي دګلونو څخه عسل په لاس راوړې،ځيني وختونه دګلو ځايونه دکندو څخه لس کيلومترو پوري ليري وي؛دشاتو دترلاسه کولو ورسته مچۍ کندو ته په داسي ډول راځې چي در اوسه په دې اړه مالومات نسته. يوبل جالب ټکی دادئ چي دمچيو هيڅ يؤه ناروغي انسان ته دشاتو دخوړلو څخه نه ليږدول کيږي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشاتو مچې دوخت مالومول پياوړي وړتيا لري:هغوئ په دې پوهيږي چي څه وخت دګلو نو څخه شات په لاس راوړي او دکومو ګلونو څخه نو په مناسيب وخت دهغو ګلونو خواته ورځي اوشات ورڅخه لاسته راوړي. د درمليزو شاتو ارزښت دغذايي شاتو څخه ډېر او د درمليزو شات قيمت پري لوړدئ،ځکه په درمليزو ياني اصلي شاتو کي دانسان دروغتيا لپاره ګتې ثابتې سوې دي. الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ النّحل :69]

(ثُمَّ كُلِى مِنۡ كُلِّ الثَّمَرٰتِ فَاسۡلُكِى سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا ؕ يَخۡرُجُ مِنۡ بُطُوۡنِهَا شَرَابٌ مُّخۡتَلِفٌ اَلۡوَانُهٗ فِيۡهِ شِفَآءٌ لِّلنَّاسِ ؕ اِنَّ فِىۡ ذٰلِكَ لَاٰيَةً لِّقَوۡمٍ يَّتَفَكَّرُوۡنَ)

او د هر ډول مېوو شيره وخوره او د خپل رب په هوارو کړيو لارو الوزه. ددغه مچې له خيټي څخه په بېلابيلو رنګونو يو شربت را وځي، په هغه کښي د خلکو لپاره شفا ده. په يقيني ډول په دې کښي هم د هغو خلکو لپاره يوه نښانه ده چي غور او فکر کوي.

*****

په يوه پوهنتون کي ځلويښت کاله زده کوونکو ته دشاتو دمچيو په اړه زده کړه ورکول کيدل:کله چي يې پورته ليکل سوى ايات شريف ولوستئ دپوهنتون ښوونکي په تعجب کي سول ځکه په ياد ايات کي:دکلماتو نظم،ترتيب،او ښکلي اشارات دمچيو پيژندني دنوي نظرياتو سره يو شان دي. کله چي ياد ايات نه وو نازل سوى عسل يوازي يوه خوړه غذا خوړه وه،مګر اوس دشاتو په اړه پوره څيرني سوي او اصلي شات درمل پيژندل سوي دي،عسل هغه وخت يوه خوړه غذا وه مګر اوس يو پوره درملتونه دئ. پوهان وايي الله جل جلاله مځکې ته وحي کړي (سُوۡرَةُ الزّلزَلة : 5](بِاَنَّ رَبَّكَ اَوۡحٰى لَهَا ) ځکه چي ستا رب به هغې ته (د داسي کولو) امر کړى وي.

***

دالله جل جلاله وحي مځکې ته دادې چي هغې ته يې امر کړى چي ځانګړى کار سرته ورسوي؛هغه چي يې دشاتو مچيوته وحي کړي:دهغوئ هغه غريزه ده چي په هغوئ کي شتون لري،الله جل جلاله ځيني وخت يوه عادي انسان ته وحي کوي،چي الهام نوميږي:هغه رکم لکه دموسى عليه السلام مورته چي يې وحي کړې وي قصص 7

[سُوۡرَةُ القَصَص : 7] (وَاَوۡحَيۡنَاۤ اِلٰٓى اُمِّ مُوۡسٰٓى اَنۡ اَرۡضِعِيۡهِ ۚ فَاِذَا خِفۡتِ عَلَيۡهِ فَاَلۡقِيۡهِ فِى الۡيَمِّ وَلَا تَخَافِىۡ وَلَا تَحۡزَنِىۡ ۚ اِنَّا رَآدُّوۡهُ اِلَيۡكِ وَجَاعِلُوۡهُ مِنَ الۡمُرۡسَلِيۡنَ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ د موسی(ع) مور ته الهام وکړ چي: "ده ته تی ورکړه، بيا کله چي ستا سره د هغه د سر خطر وي، نو هغه په سيند کښې وغورځوه او هيڅ وېره او اندېښنه مه کوه. موږ به هغه همدا تا ته بيرته راولو او هغه به د پېغمبرانو په ټولی کي شامل کړو."

*****

ښه نو دشاتو مچيو ته الله جل جلاله ددې لپاره وحي کړي چي دشاتو مچی دانسان لپاره يوه ارزښتمن شی لري چي هغه شات دي. د(شِفا)کلمه ددوو موضوعو لپاره راغلي ده:دقرآنکريم په اړه او دشاتو په اړه. په شاتو کي دبدن روغتيا او په قرآنکريم کي دروح روغتيا ده،کوم ايات چي دقرآنکريم په اړه راغلي هغه دادي: [سُوۡرَةُ بنیَ اسرآئيل/الإسرَاء : 82](وَنُنَزِّلُ مِنَ الۡقُرۡءَانِ مَا هُوَ شِفَآءٌ وَرَحۡمَةٌ لِّلۡمُؤۡمِنِينَ ۙ وَلَا يَزِيدُ الظَّٰلِمِينَ إِلَّا خَسَارًا )
موږ ددغه قُرآن د نازلولو په لړ کښې هغه څه نازلوو چي د منونکو لپاره شفا او رحمت دی، خو د ظالمانو لپاره له زيان څخه پرته بل څه نه زياتوي.

****

همدارنګه په دي اړه دسورة ُفصِلتْ 44ايات او دسورة ُيونْس 57ايات شريف هم نازل سوی دي. يوبل ديادول ټکی دادې چي الله جل جلاله دشاتو مچيوته په مونث نوم سره خطاب کړی په داسي حال کي چي ميږيانوته يي په مذکرنوم خطاب کړی اوفرمايلي يي دي : [سُوۡرَةُ النَّمل : 18](حَتَّىٰٓ إِذَآ أَتَوۡا عَلَىٰ وَادِ النَّمۡلِ قَالَتۡ نَمۡلَةٌ يَٰٓأَيُّهَا النَّمۡلُ ادۡخُلُوا مَسَٰكِنَكُمۡ لَا يَحۡطِمَنَّكُمۡ سُلَيۡمَٰنُ وَجُنُودُهُۥ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ )
(يو ځل يې له هغو سره سفر کاوه) تر دې پوري چي کله دوی ټول د مېږيانو ناو (دښت) ته ورسېدل، نو يو مېږي وويل: "اې مېږيانو! پخپلو غارونو کښې ننوځئ، چيري داسي ونه شي چي سليمان (ع) او د هغه لښکري مو چيت کړي او هغوی به خبر هم نه وي.

****

ولی الله جل جلاله دشاتو مچيوته په مونث،ښځينه نوم او ميږيانو ته يې په مذکر،نارينه نوم سره خطاب کړی دئ؟ ځکه دميږيانو په ټولنه کي نارينه اوښځينه ميږيان دواړه شتون لري .دخبرو دستور داسي دئ:په کوم ځای کي چي نارينه اوښځينه دواړه شتون ولري:هغوئ دنارينه په ضمير،نومخري مخاطب کيږي او په کوم ځای کي چي يوازي ښځې شتون ولري هغوئ په مونث،ښځينه ضمير سره مخاطب کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**الله جل جلاله ځکه دشاتو مچيوته په ښځينه ضمير خطاب کړی ولې چې دشاتو توليدونکي،راټولونکي مچۍ دښځينه مچيو دجنسه څخه دي.**

**آيا داخبره درسوالله صلی الله عليه وسلم په وخت کي مالومه سوې وه چې دشاتو راټولوونکي مچۍ ښځينه دي؟**

**ښه نو په مځکه او آسمانونو کي دالله جل جلاله دوحدانيت،علم،قدرت،لويي؛رحمت بې شمېرې نښې نښاني شتون لري،چې موږ بايد په هغوئ کي ژور اندوکړو،والله اعلم.**



(c) ketabton.com: The Digital Library



# شات

**دعسلو مچۍ دخارق العاده تولنيز نظام پر بنسټ پيداسوي دي چي په هغوئ کي په لوړکچه نظم او لوړه کچه تخصص اوتلاښ شتون لري. دمچيو تولنيز ژوند دالله جل جلاله دعظمت دنښو څخه يوه نښه ده. زموږ دغه بحث دهغوئ پر محصلو عسلويا شاتو دئ. يو دقرآنکريم داياتونو څخه چي دقرآنکريم علمي اعجاز بېانوي لاندي ايات شريف دئ خداى جل جلاله په دي اي ايات کي شات روغتيا ورکوونکي يادوي [سُوۡرَةُ النّحل : 79] (أَلَمۡ يَرَوۡا إِلَى الطَّيۡرِ مُسَخَّرٰتٍ فِى جَوِّ السَّمَآءِ مَا يُمۡسِكُهُنَّ إِلَّا اللَّهُ ۗ إِنَّ فِى ذٰلِكَ لَءَايٰتٍ لِّقَوۡمٍ يُؤۡمِنُونَ )**

**ايا دغو خلکو کله الوتونکو ته نه دي کتلي چي په اسماني فضا کښي په څه شان مسخر دي؟ دوی له الله څخه پرته چا ساتلي دي؟ - په دې کښي د هغو کسانو لپاره ډيري نښی نښاني شته چي ايمان راوړي.**

*********

**دقرآنکريم دنزول مخکي عسل يوازي دخوږو خوږو په نوم پيژندل کيدل حتی اوکوم روغتيايي ارزښت يې نه درلودئ؛خو قرآنکريم دهغه روغتيايي ارزښت ته اشاره وکړل،مسلمانان عسل دروغتيا ورکوونکو خوږو په ډول کارول،په دي ورستيو کي دساينسي پرمختګونو سره شات هم تجزيه او تحليل سول، دهغوډېرې روغتيايي ګټې څرګندي سوي. پوهان وايي: دشاتو درماني ارزښت دهغوئ په ځينو فعاله انزيمونو کي دئ ،چي دتودوخې پروړاندي حساس دي. که چيري شات ديوې مياشتي لپاره در30درجې تودوخې لاندي کښيږدو او يا ديوه کال لپاره يې په شل درجې تودوخه کي وساتو دهغوئ ډېرې ګټې لمنځه ځي. شات بايد په طبيعي ډول وساتو،دتودوخې څخه يې خوندي کړو.**

**ددې لپاره چي انسان دشاتو اصلي روغتيايي ګټې ترلاسه کړي:بايد دشاتو دمچيو په مرسته دګلانو دشيرې څخه جوړ شات وکاروي نه هغه شات چي اصلي نه بلکي مصنوعي وي؛ياداسي شات چي دعسلو دمچيو دکندو خواته بوره او اوبه ځاى پرځاى سوي وي،ځکه قرآنکريم کي داصلي شاتو دروغتيايي ګټو يادونه سوي ده. پرشاتو ځيرني سوي اوپه ډاګه سوي دي چي شات دهضمي،عصبي،اينې يا ځيګر،حساسيتي،تنفسي؛دزړه اورګونو پرناروغيو مثبته اغيزه کوي. يادې ګټې يوازي په اصلي شاتو کي شتون لري نه په بدلو،مصنوعي شاتو کي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشاتو دګېډو دلاښه روښنيا په پار بايدووايو:دکلمو سخت التهاب الله جل جلاله دشاتو په واسطه ښه کوي. عسل دهډوکو دښه ودې لپاره ګټور دي،دمثاني او بولي لارو دعضلاتو لپاره ښه دي،دمعدې او کلمودزخمونو لپاره ګټور دي؛بې خوبي هم دشاتو دخوړلو سره ښه والى مومي. ډاکترانو دزخمونو دښه دژر درملنې لپاره پرهغوئ شات ږدي ځکه درعادي حالت دري برابره ژر جوړيږي.

ښه نو دا ښه ده چي دګرانو درملو پرځاى دشاتو څخه ګټه واخلو،په شاتو کي الله جل جلاله ډېرې ځانګړنې ايښې دي. پوهان وايي:شات 70درمليزي مادي لري انزايمونه،ګټورعنصرونه،ويټامينونه،او دولس ډوله قندونه چي هريو يې ځانګړي ګټې لري په شاتو کي شتون لري.

پرشاتو لاهم څېړنې رواني دي چي ځينې ځانګړنې يې پېژندل سوي او ځينې يې لا هم پټې پاتې دي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوريښمو چينجيان او وريښم

الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ الذّاريَات : 20]وَفِى الۡأَرۡضِ ءَايٰتٌ لِّلۡمُوقِنِينَ ) په ځمکه کښې د باور کوونکو لپاره (د الله (ج) د قدرت) ډيري نښاني دي؛

*****

پوهانو دوريښمو چينجي ته داوبدونکو دپاچا لقب ورکړی دئ. کله چي دوريښمو دچينجي دخولې اوبه په خلاصه هوا کي پاتيږي،وچيږي او د وريښمو تارونه ورڅخه جوړيږي. ددې چيني دخولې اوبه ديوې پروتيني مادې سره ګډيږي تر څو هغه يادې اوبه ځلاندې سي.

ياد چينجی کولی سي په يوه دقيقه کي شپږ تاره وريښم وه اوبدې چي دهر تار اوږدوالی يې 300متره وي. انسان دراوسه نه دئ توانيدلی دوريښمو دچينجي غونډي اوبدل وکړي،ځکه دوريښمو تارونه ډېر سپک او دفولادو څخه کلک دي. که موږ وکولی سو يوه ټوټه فولاد دوريښمو دتار دقطر په اندازه جوړ کړو:دوريښمو تار به دياد فولادي تار څخه ډېر کروړ،کلک وي ددې سربيره به ډېر سپک،ښکلی او ځليدونکی وي ځکه هغه دالله جل جلاله دلاربښووني په مرسته جوړسوی تار دئ. [سُوۡرَةُ النَّمل : 88] وَتَرَى الۡجِبَالَ تَحۡسَبُهَا جَامِدَةً وَهِىَ تَمُرُّ مَرَّ السَّحَابِ‌ۚ صُنۡعَ اللهِ الَّذِىٓ أَتۡقَنَ كُلَّ شَىۡءٍ‌ۚ إِنَّهُ خَبِيرٌۢ بِمَا تَفۡعَلُونَ )

نن ته غرونه ويني او ګومان کوې چي ښه کلك ښخ شويدي. خو په هغه وخت کښي به دا د وريځو په څېر الوتونکي وي، دا به د الله د قدرت نښانه وي چي هر شی يې په حکمت سره بر قرار کړيدی. هغه ښه خبر دی چي تاسي څه کوئ.

*****

دهمدې نعمت په مرسته دجامو جوړونکي کولی سي خپل محصولات دطلائي،نقرئي.. رنګ وريښمو څخه تيار کړې. دا د الله جل جلاله دعظمت،قدرت،رحمت او علم نښه ده الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ فَاطِر : 28](وَمِنَ النَّاسِ وَالدَّوَآبِّ وَالۡأَنۡعَٰمِ مُخۡتَلِفٌ أَلۡوَٰنُهُۥ كَذَٰلِكَ‌ۗ إِنَّمَا يَخۡشَى اللهَ مِنۡ عِبَادِهِ الۡعُلَمَٰٓؤُاْ‌ۗ إِنَّ اللهَ عَزِيزٌ غَفُورٌ )

او په همدې ډول د انسانانو، ځناورو او څارويو رنګونه هم مختلف دي. حقيقت دا دی چي د الله د بندګانو څخه يوازي عالمان د هغه څخه ويريږي. بېشکه الله برلاسی او ښبونکی دی.

******

(c) ketabton.com: The Digital Library



**بیـا الله جـل جلالـه فرمـایي : [سُوۡرَةُ آل عِمرَان : 190-191](إِنَّ فِى خَلۡقِ السَّمٰوٰتِ وَالۡأَرۡضِ وَاخۡتِلٰفِ الَّيۡلِ وَالنَّهَارِ لَءَايٰتٍ لِّأُولِى الۡأَلۡبٰبِ ) د اسمانونو او ځمکي پـه پیدایښت او د شپې او ورځي په تګ راتګ کښي د هغو پوهانو لپاره ډیري نښاني دي:**

*********

**[سُوۡرَةُ آل عِمرَان : 191](الَّذِينَ يَذۡكُرُونَ الله قِيٰمًا وَقُعُودًا وَعَلٰى جُنُوبِهِمۡ وَيَتَفَكَّرُونَ فِى خَلۡقِ السَّمٰوٰتِ وَالۡأَرۡضِ رَبَّنَا مَا خَلَقۡتَ هٰذَا بٰطِلًا سُبۡحٰنَكَ فَقِنَا عَذَابَ النَّارِ )**

**چي په ولاړي، ناستي او ملاستي، هر حالت کښي خدای یـادوي. او د اسمانونو او ځمکي پـه پیدایښت کښي غور او فکر کوي (هغوی په غیر ارادي توګه غږ کوي چي:) "آې زمـوږ ربـه! دا ټول شیان تا بابیزه او بې مقصده نـه دي پیدا کړي، تـه لـه دې څخـه پـاك یې چي عبث کـار وکړې؛ نو اې ربه! موږ د دوږخ له عذابه وژغوره؛**

*********

**ښه نو پر انسانانو لازمه ده چي په ناستې ولاړې او هر حال کي دالله جل جلالـه پـه مخلوقـاتو او دخپل ځان په جوړښت کي اند وکړې او دهغه جل جلاله حمد ووایي.**



(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړم اوهستوي چاودنه

يؤه مقاله مي لاسته راغله چي په هغه کي ليکلي وه:څوکالونه مخکي فرانسي د الجزيري په صحرا کي يؤه اټومي ازموينه وکړل.

هستوي چاودنه دسختو سوځيدو او فشار لرونکي ده چي دچاودني په ځاى کي هيڅ حيوان،نبات او انسان ژوندى نه پريږدي.د يادې چاودني يؤه لويه کنده جوړه کړل او يؤلويه لمبه يې دپراخې سيمې پر سر پورته سول.

دچاودني په ځاى کي څيرونکو يؤ ژوندى لړم وموندئ چي ټول يې په تعجب کي کړل.

ژوند پيژندونکو 25کاله پر لړم څيرني وکړلي:وي موندل چي لړم کولى سي دري پرلپسي کاله بيله خوړو او اوبو ژوند وکړې همدارنګه کولى سي دوې ورځې په اوبو کي خپله سا بنده وساتې ، هغوئ دا هم وموندل که لړم په منفي لس درجي تودوخه لرونکي يخچال کي وچول سي او ورسته داسي يؤې دښتي ته يوړل سي چي دتودخي درجه يې 60درجي وي لړم به دتودوخې ددې ناڅاپي بدلونو سره ځان عيار کړي.

همدارنګه که چيري لړم دوژونکو ميکروبو څخه په ډک لوښي کي وچول سي ميکروبه به هغه ته هيڅ زيان ونه سي رسواى،که چيري دانسان دزغم څخه لوړ دري سوه برابره راډيو اکتيف وړانګو لاندي کښيښودل سي لړم ته به يادې وړانګي کوم زيان ونه رسوي.

څيرونکو دلړم بدن چاک کړ:وي ليدل چي لړم وينه نه لري بلکې دهغه په بدن کي دويني پرځاى يؤه ژړ رنګه ماده شتون لري . دکوچني لړم دغه کروړ،سخت بدن موږ ته څه را ښيي ؟ دلړم په مقياس خپل ځان ته اند کوو،انسان ژر لمنځه ځي،انسان 37درجي تودوخه ښه زغماى سي مګر د40 درجي لوړ او صفر درجه تودوخه دانسان لپاره سخته ده.

خداى جل جلاله همداسي پريکره کړي ده چي انسان حساس وي،که خداى جل جلاله غوښتي واى انسان باندي به هم هيڅ شى اغيزه نه کولى اونه به ناروغه کيدلى مګر ناروغې يؤ کړکئ ده چي دانسان لپاره دهسک لورته پرانيستل کيږي. لړم چي يؤه کوچنئ حشره ده دهغه څخه پياوړى دئ چي هتا هستوي چاودنه پرهغه کومه اغيزه نه کوي روغ پاته سي او موږ دهغه څخه ضعيفه يؤو،دا په دې مانا چي ناروغيو کي دالله جل جلاله يوحکمت دئ. الله جل جلاله داکولى سواى چي زموږ بدن يې دومره پياوړى جوړ کړى واى چي هيڅ ناروغئ راباندي اغيزه نه کولى مګر داچي موږ ناروغه کيږو په دي کي خداى جل جلاله خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حکمتونه لري.چي ځيني وخت موږته څرګند سي او ځيني وخت ناڅرګند پاته سي،الله جل جلاله پردي قادر دئ چي انسان دهرډول ناروغۍ څخه وساتي مګر ناروغي دآسمان لورته يؤه کړکۍ ده،دا هرڅه دالله جل جلاله په اراده سره کيږي.**



# دملخانو ډلې يا لښکر

**الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ المدَّثِّر : 31](وَمَا جَعَلْنَآ أَصْحٰبَ النَّارِ إِلَّا مَلٰٓئِكَةً ۙ وَمَا جَعَلْنَا عِدَّتَهُمْ إِلَّا فِتْنَةً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا لِيَسْتَيْقِنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ وَيَزْدَادَ الَّذِينَ ءَامَنُوٓا إِيمٰنًا ۙ وَلَا يَرْتَابَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتٰبَ وَالْمُؤْمِنُونَ ۙ وَلِيَقُولَ الَّذِينَ فِى قُلُوبِهِم مَّرَضٌ وَالْكٰفِرُونَ مَاذَآ أَرَادَ اللَّهُ بِهٰذَا مَثَلًا ۚ كَذٰلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ مَنْ يَشَآءُ وَيَهْدِى مَنْ يَشَآءُ ۚ وَمَا يَعْلَمُ جُنُودَ رَبِّكَ إِلَّا هُوَ ۚ وَمَا هِىَ إِلَّا ذِكْرٰى لِلْبَشَرِ) موږ د دوږخ دغه خدمت ګاران پرښتې ګرځولي دي او د هغو شمېر مو د کافرانو لپاره ازموينه ګرځولې ده، تر څو چي د اهل کتابو باور راشي او د مؤمنانو ايمان زيات شي، همدارنګه اهل کتاب او مؤمنان په کوم شك کي پاتي نه شي. د زړه ناروغان او کافران دا**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ووايي چي ښه نو، د الله د دې عجيبه خبري څخه څه مطلب کېداى شي. په دې ډول چي د الله چا ته خوښه شي ګمراه کوي يې او چا ته چي يې خوښه شي لاره ورښيي. او ستا د رب لښکري پخپله له هغه پرته بل څوك نه پيژني؛ او د دوږخ يادونه له دې پرته د کوم بل غرض لپاره نه ده شوې چي خلکو ته پند وي.******

هيڅوک بيله الله جل جلاله دمخلونو دلښکر په اندازه نه دي خبر،په هغه څه چي موږ پوهيږو يا يې اورو هغه دادې چي دملخانو ډلې ديڅې سيمي څخه بلې سيمي ته ځي او دهغو سيمو اوسيدونکو ته زيان رسوي، کښتونه،بڼونه بربادوي او نباتات لمنځه وړي.

دا هم هغه ملخان دي چي انسانان يې کمزوري ګڼي مګر په حقيقت کي ډېر خطرناک او زيان رسوونکي دي. پوهان وايي :هغه خوړه چي ملخ يې په يوه ورځ کي خوري،دهغه ملخ دوزن سره برابر وي. ښه نو که دملخانو وزن 80زره ټنه وي ملخان په يوه ورځ کي 80زره ټنه خواړه خوري. کيداى سي چي دملخ نوم چي په عربي ژبه کي (جراد)دې هم دې ته اشاره کوي؛ځکه جراد د(جرْد)دريښې څخه اخيستل سوی چي مانايي کيندنه،زخمي،بي وښو مځکه ده ياني ملخان چي پرکوم کښت ورسي هغه لمنځه وړي؛ياني دنباتاتو پاڼي،ګلونه،ميوې زخمي او لمنځه وړي. ځيني وخت په هر کيلومتر مربع مځکه کي د20څخه در100ميليونو په شاوخوا کي ملخان شتون لري؛دځينو ملخانو دډلي يا لښکر اوږدوالی 400کيلومترو ته رسيږي،دملخانو په يوه لښکر کي در40ميليونو ډېر ملخان شتون لري.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# غوماشي

الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ البَقَرَة : 26] إِنَّ اللهَ لَا يَسْتَحْيِۦٓ أَن يَضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا ۚ فَأَمَّا الَّذِينَ ءَامَنُوا فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ۖ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَيَقُولُونَ مَاذَآ أَرَادَ اللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا ۘ يُضِلُّ بِهِۦ كَثِيرًا وَيَهْدِى بِهِۦ كَثِيرًا ۚ وَمَا يُضِلُّ بِهِۦٓ إِلَّا الْفَٰسِقِينَ)

هو، الله له دې څخه هيڅ کله شرم نه کوي چي د ماشي يا له دې څخه هم د کوم زيات حقير شي مثال راوړي. کوم خلك چي د حقي خبري منونکي دي، هغوی د دې مثال په ليدو پوهيږي چي دا حق دی، چي د هغو د رب له خوا راغلی دی. او څوك چي کافران دي، نو هغوی د دې مثال په اوريدو وايي: "په داسي مثال راوړلو سره د الله اراده څه ده؟" - په دې شان الله په همدې يوه خبره ډېر خلك په ګمراهی کښي اخته کوي او ډېرو ته سمه لار ښيي. او په ګمراهۍ کښي هغه کسان اخته کوي چي فاسقان دي.

*****

کله چي غوشه تاسو وچيچي او تاسو هغه وژنی داسي لکه هيڅ چي هم نه وي سوي،دا دغوماشي ارزښت دئ ستاسو پروړاندې. غوماشه يؤه عجبه حشره ده چي هيرانوونکي ځانګړني لري:دغوماشي په سر کي 100سترګې شتون لري. که چيرې دغوماشي سر په مايکروسکوپ کي غټ وښيو دهغي په سرکي به سل سترګې ووينو چي داسي ښکاري لکه دشاتو دمچيو کندو. دغوماشي په خوله کي 48غاښونه او په سينه کي يې دري زړونه شتون لري چي يؤ يې مرکزي زړه دی او په خوا کي يې دوه نور زړونه دي.

غوماشي درادار دداسي سيستم لرونکي دي چي اوسنی پرمختللي الوتکي يې په هغه کيفيت نه لري. دا رادار حرارت،تودوخه کشفوونکی دئ:داسي چي غوماشي شيان دهغوئ پر رنګ نه بلکي پر حرارت يې پيژني. که چيري په يؤه تاريکه خونه کي بيده وي غوماشه هلته دانسان څخه پرته نورشيان نه ويني ولې چي دانسان دبدن تودوخه دهغو شيانو څخه ډېره ده. دغه رادار دومره دقيق دئ چي ديؤې سانتي ګرېډ درجي زرمه برخه تودوخه درک کولی سي. غوماشه داسي سيستم لري چي وينه تجزيه او تحليلوي ځکه هروينه دهغوئ لپاره مناسبيه نه ده. که دوه ماشومان پريؤه کټ بيده سي:سهار به ووينئ چي يؤ غوماشو ډېر اوبل يې لږ چيچلی دئ. غوماشه بې حِسه کوونکي مواد هم لري:کله چي غوماشه موږ وچيچي موږ سمدستي دهغه خارښت،سوځت نه احساس کوو،مګر دڅه وخت ورسته چي غوماشه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تښتېدلې وي دچيچلو خاربښت يې احساس کړو،همدارنګه غوماشه دداسي سېستم لرونکي ده چي کلکه؛ټينګه وينه نرۍ کوي ترڅو دهغې دنري نېښ څخه په آسانۍ تېره سي.

غوماشه شپږ تيغه،نېښه لري:چي څلوريې په پوست ننوزې او يؤ مربع شکله زخم جوړوې ياد زخم دومره ژور وي چي دوينې کوچنيو رګونو ته رسيږي،پنځم او شپږم نېښ يې وينه ليږدوې. دغوماشې وزرونه په هره ثانيه کي ډېر ځلې رپيږي:په همدې خاطر دبز بز غږ توليدوې. الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ البَقَرَة : 26] إِنَّ اللهَ لَا يَسْتَحْيِۦٓ أَن يَضْرِبَ مَثَلًا مَّا بَعُوضَةً فَمَا فَوْقَهَا ۚ فَأَمَّا الَّذِينَ ءَامَنُوا فَيَعْلَمُونَ أَنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ ۖ وَأَمَّا الَّذِينَ كَفَرُوا فَيَقُولُونَ مَاذَآ أَرَادَ اللَّهُ بِهَٰذَا مَثَلًا ۘ يُضِلُّ بِهِۦ كَثِيرًا وَيَهْدِى بِهِۦ كَثِيرًا ۚ وَمَا يُضِلُّ بِهِۦٓ إِلَّا الْفَٰسِقِينَ )

هو، الله له دې څخه هيڅ کله شرم نه کوي چي د ماشي يا له دې څخه هم د کوم زيات حقير شي مثال راوړي. کوم خلك چي د حقي خبري منونکي دي، هغوی د دې مثال په ليدو پوهيږي چي دا حق دی، چي د هغو د رب له خوا راغلی دی. او څوك چي کافران دي، نو هغوی د دې مثال په اورېدو وايي: "په داسي مثال راوړلو سره د الله اراده څه ده؟" - په دې شان الله په همدې يوه خبره ډېر خلك په ګمراهی کښي اخته کوي او ډېرو ته سمه لار ښيي. او په ګمراهی کښي هغه کسان اخته کوي چي فاسقان دي.

*****

ابن قيم رحمه الله وايي:دغه ايات شريف دکافرانو ځواب دئ هغه چي پرقرآنکريم اعترضونه کوي. الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ المُلك : 3] الَّذِى خَلَقَ سَبْعَ سَمَٰوَٰتٍ طِبَاقًا ۖ مَّا تَرَىٰ فِى خَلْقِ الرَّحْمَٰنِ مِن تَفَٰوُتٍ ۖ فَارْجِعِ الْبَصَرَ هَلْ تَرَىٰ مِن فُطُورٍ ) هغه ذات چي لاندي باندي اوه اسمانونه يې پېدا کړل؛ (اې کتونکې) ته به د الرحمان په هستونه کښي هيڅ راز ناړوندي او توپير ونه مومې. بيا سترګي واړوه، وګوره، ايا کومه نيمګړتيا دي چيري تر سترګو کيږي؟!

**** بيا الله جل جلاله فرمايي:[سُوۡرَةُ طٰه : 50] قَالَ رَبُّنَا الَّذِىٓ أَعْطَىٰ كُلَّ شَىْءٍ خَلْقَهُۥ ثُمَّ هَدَىٰ) موسی (ع) ځواب ورکړ: "زموږ رب هغه ذات دی چي هر شي ته يې د هغه خپل جوړښت ورکړ، بيا يې ورته لار وښودله."****

کاېنات يؤ بشپړ خلقت دئ چي دوړو ويرو سونو يا دهغه څخه ډېرو کوچنيو موجوداتو څخه پيل او پر کهکشانونو،آسمان تولګو چي زموږ څخه ميلياردونه نوري کالونه ليري دي،زموږ په اند پای ته رسيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاينه دي وي الله جل جلاله لره چي ډېرې کوچنۍ زرې او لوی کهکشانونه يې په پوره نظم ،ترتيب او محکم ډول پيدا کړي دي



# دجولاګي يا غڼي ځاله

الله جل جلالـه فرمـايي: [سُوۡرَةُ العَنکبوت : 41] (مَثَلُ الَّذِينَ اتَّخَذُوا مِن دُونِ اللهِ أَوْلِيَآءَ كَمَثَلِ الْعَنكَبُوتِ اتَّخَذَتْ بَيْتًا ۖوَإِنَّ أَوْهَنَ الْبُيُوتِ لَبَيْتُ الْعَنكَبُوتِ ۖلَوْ كَانُوا يَعْلَمُونَ ) کومو کسانو چي له الله څخه پرته نور سرپرستان نيولي دي، د هغو مثال د غڼي په څېر دی چي خپل ځان تـه يو کور جوړوي. او له ټولو کورونو څخه ډېر کمزوری کور د غڼو کور وي. کاشکي دغو خلکو علم درلودلای.

****

دې ايات شريف ته په پام سره دجولاګي ځالـه ډېر ُسسته،ضـعيفه ده. پـه ځينـو تفسيرونو کـي ويل سوي چي دغڼي ځاله ضعيفه ده ولي چي دګرمی او يخنـی پرووړانـدې مقاومت نـه لـري او جولاګی دباد او باران څخه نه سي ساتلی. دقاهري دپوهنتون ىؤ حشره پيژنـدونکی وايي:پـه دې ايات شريف کي دقرآنکريم علمي اعجاز شتون لـري: (كَمَثَلِ الْعَنكَبُوتِ اتَّخَذَتْ بَيْتًا )يـانی داچي هغه جولاګيان چي ښځينه دي کورونـه جوړوي پـه همدي خـاطر دلتـه تانيثـه تـا راوړل سوي ده،والله اعلم (كَمَثَلِ الْعَنكَبُوتِ اتَّخَذَتْ بَيْتًا )ښځينه جولاګی هغه غڼي ده چي ياد کورونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځالې جوړوي او نارینه جولاګې دې ته تشویقوي چې یادې ځالې ته ننوزې،داسې چې دهغه پروړاندې تیر ایستونکي حرکتونه کوي،او خواږه غږونه دهغه غوږو ته رسوي ترڅو هغه خپلې جوړې سوې ځالې یا کورته دننه کړې،ورسته درالقاح درعمل هغه خورې؛بیا خپل چیچیان خورې؛حتی ځینې چیچیان نور چیچیان خورې.

ښه نو دغنې ځاله دِبنا دضعیفوالي سربیره په داخل کې،په ټولنیزو اړیکو او کورنې ترتیب او اړیکو کې هم ډېره ضعیفه ده او دوه ضعیفوالي په یوه ځای کې یوځای سوي دي.
دجولاګې ځاله دجولاګې څخه دغتو حشرو پر وړاندې مقاومت نه سي کولی همدا ډول دغنې په کورنې ژوند کې ډېرې ستونزې دي،کورنی ژوند یې ډېر کمزوری او ضعیف دئ. که دجولاګې دځالې تارونه کلک هم وي دیاد ایات شریف اشاره ثابته ده! والله اعلم



(c) ketabton.com: The Digital Library



# مچان

الله جل جلالـه فرمايي:[سُوْرَةُ الحَجّ : 73] (يَـٰٓأَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوا لَهُۥٓ ۚ إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللهِ لَنْ يَخْلُقُوا ذُبَابًا وَلَوِ اجْتَمَعُوا لَهُۥ ۖ وَإِن يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْـًٔا لَّا يَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُ ۚ ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ ) اې خلکو! يو مثال راوړل کيږي، پـه غور سره يې واورئ: تاسي چي کوم معبودان لـه خدايـه پرتـه بلـئ؛ کـه هغوی ټول پـه لاس يو کولـو د يـو مـچ پيدا کـول وغواړي، نو نه يې شي پيدا کولای. بلکی که مچ له هغو څخه کوم شی وتښتوي، نـو هغـه هم نشي ورڅخه راخلاصولای. هم مرسته غوښتونکي کمزوري او هم هغه هستی کمزوري دي، چي مرسته ورڅخه غوښتله کيږي.

*****

دمچ ازار،تکليف رسول وه انسانانو ته او هغه ناروغيو چي مچان يې دخپل ځان سره ليږدوي دوګړو پام خپل ځان ته اړولی دئ, مچ دالله جل جلالـه هيرانـوونـکی مخلـوق دئ. دغه چټلـه او کمزوري حشره په چټکی سره دنسل دپرېښت،تکثر کوي. کـه چيري يوځـای دمچـانو څخـه ډک وي پرهغه ځای حشره وژونکي دوا وپاشو او هلته يوازي يوه ښځينه مـچ پاتـه سي:دغه مـچ به دهم هغو زهرو سره مقاوم نسل مچان وزيږوي چي بيا به هغه زهر وربانـدي کومـه اغيزه نـه کوي،پـه همدې خـاطر دمچـانو وژونکو زهرو جوړونکو دمچـانو دوژنـي پروړانـدې ماتـه خوړلي ده،ياني داچي کوم داسي زهر نه سي جوړولی چي ټل مچان ووژنـي. ځکـه مچـان پـه خپلو دقيقو سيستمونو کي دزهرو ضد ماده جوړوي،چي دتکراري زهرو سره مبارزه کوي.

که چيري مچان ديخ له کبله مړه سي دمچانو داسي نسل به پيداسي چي ديخ پروړانـدې مقـاوم وي،ياني پر دويم نسل به يې يخ کومه بده اغيزه نه کوي.

که دمچ سترګه دميکروسکوپ په مرسته درخپلې اندازې سل ځله لويه ښکاره کړو وبـه وينـو چي دمچ سترګه دزرګونو عدسيو څخه جوړه سوې ده چي ديؤبل سره مبنتي دي او مچ ته يې دبشپړ ليد لار خلاصه کړې ده. مچ ته هر خوځښت په کرار،ورو يا سلوموشن کي مالوميږي.

مچ کولی سي داسي الوتنه وکړي چي پرمختللي الوتکي هغه سي الوتنه نه شي کولی.

مچ دخپل وزن په نسبت ډېر تېز ه الوتنه کوې او دا وړتيا لري چي په ناڅاپي ډول خپل مسير ته 90درجې بدلون ورکړې،دا هغه کړنه ده چي پرمختللي جنګي الوتکي يې توان نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دحديث شريف مفهوم:رسوالله فرمايي :هرکله چي ستاسو په خوړوکي مچ ولويدئ په خپل ځښاک کي يې پوره غوټه کړئ او ليري يې وغورځوئ ځکه دمچ په يؤه وزر کي ناروغي ده او په بل کي يې دوا. نوي ځيړنو دا حديث شريف په تجريبه ثابت کړی او دامالومه سوي چي دمچ په يؤه وزر کي ميکروبونه او په بل کي يې درمل،دهغه ميکروب ضد ماده شتون لري،چي علمي نوم يې باکتريوفاژدئ.**

**ښه نو هرکله چي ستاسو په خوړو کي مچ ولويدئ او غوښتل موهغه خواړه بې ځايه نه کړئ يا اسراف ونه کړئ مچ په پوره ډول په هغو خوړو کي غوټه کړئ؛ځکه دمچ په يوه وزر کي ميکروبونه او بل کي يې دميکروب ضد ماده شتون لري. الله جل جلاله فرمايي: الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ الحَجّ : 73] يَٰأَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوا لَهُۥٓ ۚ إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللهِ لَنْ يَخْلُقُوا ذُبَابًا وَلَوِ اجْتَمَعُوا لَهُۥ ۖ وَإِن يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْـًٔا لَّا يَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُ ۚ ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ ) اې خلکو! يو مثال راوړل کيږي، په غور سره يې واورئ: تاسي چي کوم معبودان له خدايه پرته بلئ؛ که هغوی ټول په لاس يو کولو د يو مچ پيدا کول وغواړي، نو نه يې شي پيدا کولای. بلکې که مچ له هغو څخه کوم شی وتښتوي، نو هغه هم نشي ورڅخه راخلاصولای. هم مرسته غوښتونکي کمزوري او هم هغه هستی کمزوري دي، چي مرسته ورڅخه غوښتله کيږي.**

*****

**ددې حشرې يوه دنده دنباتاتو او حيواناتو دټوټه سوو غړو لمنځه وړل او ديادو موادو څخه دچاپيريال پاکول دي. مچ دخپل ځان سره 500ميليونه ميکروبونه ليږدوي. ښه نو دمچ شتون په يؤه ځای کي ددې دليل دئ چي هغه ځای پاک نه دئ؛ياني داچي مچ موږ ته ښيي چي کوم ځای پاک او کوم ځای چټل دئ. مچ هغه حشره ده چي په تېزئ خپل ځای بدلوي؛که نن مچ ستاسو په کوټه کي وي سبا کيدای سي ستاسو څخه لس کيلومتره ليري تللی وي.**

**دغه حشره ډېر او ژر دنسل دتوليد وړتيا لري داسي چي هر لس ورځې ورسته نوی نسل دونيا ته راوړي. په مچ کي بل دهيرانتيا وړتکی دادئ چي دمچ عصبي سيستم دانسان عصبي سيستم ته ورته دئ. دمچ سترګي ډېرې پياوړي دي،شيان په ښه ډول او خوځښتونه په ورو ډول ويني،کله چي هغه ته خطر مخ سي سخت درد ورځي؛عصابني کيږي،دوې دقيقې ياد لري او ددرد احساس کوي؛په داسي حال کي چي دمچ دمغزو وزن يؤميليونيم برخه دګرام ده.مچان**

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسل زره ډولونو ځخه ډېر ډولونه لري چي ځیني یې ښکاري؛ځیني یې دګلونوشیره ټولوونکي؛ځیني نور یې بیا په خپل منځ کي دالوتني مانورې او مقابلې کوي. ښه نو ددومره علمي پرمختګونو سربیره هم دنړۍ انسانان نه سي کولی یوه مچ جوړ کړي؛خالق او علم الله جل جلاله فرمایي: الله جل جلاله فرمایي:[سُوْرَةُ الحَجّ : 73] يَأَيُّهَا النَّاسُ ضُرِبَ مَثَلٌ فَاسْتَمِعُوا لَهُ ۚ إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ مِنْ دُونِ اللهِ لَنْ يَخْلُقُوا ذُبَابًا وَلَوِ اجْتَمَعُوا لَهُ ۖ وَإِن يَسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْـًٔا لَّا يَسْتَنقِذُوهُ مِنْهُ ۚ ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوبُ ) اې خلکو! یو مثال راوړل کیږي، په غور سره یې واورئ: تاسي چي کوم معبودان له خدایه پرته بلئ؛ که هغوی ټول په لاس یو کولو د یو مچ پیدا کول وغواړي، نو نه یې شي پیدا کولای. بلکی که مچ له هغو ځخه کوم شی وتښتوي، نو هغه هم نشي ورځخه راخلاصولای. هم مرسته غوښتونکي کمزوري او هم هغه هستی کمزوري دي، چي مرسته ورځخه غوښتله کیږي.*****

رسول الله ځنګه دمچ دغه حقیقت وپیژندئ ؟ آیا پیغمبر صلی الله علیه وسلم ځیرنیز مرکز درلودئ؟یا په هغه وخت کي دتجزیي اوتحلیل مرکزونو شتون درلودئ؛آیا هغه وخت مایکروسکوپ شتون درلودئ؟ښه نو بیا ځنګه رسوالله فرمایي: لوړحدیث دا بیله الهي وحیو ناشونی کار او دکافرانو داعتراضونو ښه ځواب دئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# ميږيان

ميږيان:ټولنيز اوپرمختللي حشرات دي:چي په هرځای او وخت کي موندل کيږي. ميږيان داسي حشرات دي چي الله جل جلاله ډيرې ځانګړني ورکړي دي او د9زره ډولونو څخه ډير ډولونه لري. ځيني ميږيان په کلکو،کروړو کورونو کي اوسيږي او ځيني يې يوځای اوبل ځای اوسيږي. ځيني يې خپل خواړه په زيار او زحمت او ځيني يې په ظلم اوزور لاسته راوړي.

ميږيان داسي حشرې دي چي دټولنيز ژوند درلودونکي دې، که ديوبل څخه بيل سي مري که څه هم هغه ته ښه خواړه،ښه ځای او شرايط برابر سوي وي،دانسان په شان که يوه داسي ځای کي چي تياره وي؛ړغ او رڼوغ نه وي؛شپه او ورځ نه ورمالوميږي دلسو ورځو ورسته خپل توازون دلاسه ورکوي. ميږيان انسانانو ته دمرستې او ديوبل دلاس نيوي ښه درس ورکوي:کله چي يو وږی ميږی دموړ ميږي سرمخ سي:موړ ميږی دخپل خيټې دذخيره سوو خوړو څخه وږي ميږي ته خواړه ورکوي،ځکه دميږي هضمي سيستم داسي جوړ دئ چي دخپل خيټې خواړه دځانګړي پيپ دلارې ديوبل سره شريکوای سي. راسئ چي درسول الله صلى الله عليه وسلم په دي حديث شريف کي فکروکړ ليس المومن الذي يبيت شعبان وجاره جائع.) دحديث شريف مفهوم:مومن نه دئ هغه څوک چي موړ بيده سي په داسي حال کي چي ګاونډی يې وږی وي.

پوهانو دميږيانو دژوند اړخونه څيړلي چي انسان په تعجب کي کوي:ميږيان ديوبل سره مرسته کوي،کارونه په ترتيب او جديت سرته رسوي،ميږيان يوه لويه ملکه لري چي دنده يې دهګيو اچول او نورو ميږيانو ته دکارونو ويشل دي.

ملکه يې دميږيانو په ښارکي په يوه خوندي ځای کي اوسيږي،چي دخپل ښار دټولو ميږيانو سره په پرلپسي اړيکه کي وي. دښځينه ميږيانو دنده دکوچنيو ميږيانو پالنه او روزنه ده،ساتونکي ميږيان لوی سرونه لري داسي لکه خول چي يې پرسروي،دنده يې دښار او ملکې ساتنه ده،نور ميږيان سته چي دنده يې دښار پاکي ده،دهغوئ بله دنده دمړو ميږيانو دښاره ايستل او ښخول دي،ځيني نور ميږيان د دباندي څخه ښار ته خواړه راوړي همدارنګه ياد ميږيان د کښت کولو او دنورو حشراتو دپالني دنده هم پرغاړه لري،ميږيان دشاتو دتوليد لپاره نور حشرات دخپل ښارپه ځانګړو کوټو کي ساتي ترڅو دهغوئ دشاتو څخه ګټه واخلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ميږيان په خپل ژوند کي دقيق نظم لرونکي دي:يؤه ملکه لري چي پر هغوی امرکوي،کورونه لري چي داړتيا وړ کوټې په کښې شتون لري،ځيني ځانګړي خوني لري چي کړې وړې جوړي سوي،دهغو څخه دګودامونو يا دخوړکي مواد دساتني لپاره کاراخلي؛پر يادو خونو،ګودامونو ساتونکي ولاړوي او نوبت واره پري پيره کوي دميږيانو کور ديؤه ښار په شان دئ: چي بيلا بيل کورونه او کوټې لري،لارې لري چي هغه دمځکې دمخ سره وصل سوي دي. ميږيان دخپل اوسيدو په ځای کي دغټ سرو ميږيانو درنظر لاندي په پورنظم او قانوني ډول ژوند کوي. ميږيان کورونه،لارې،تونلونه،او دخوړو دساتني ګودامونه جوړوي،ښه نو ځيني ميږيان کښت کوي،ځيني حشرات ساتي او ځيني بيا دنورو قبيلو پروړاندي ديؤه منظم پوځ په شان جنګيږي. الله جل جلاله فرمايي:[سُوْرَةُ الأنعَام : 38]
(وَمَا مِن دَآبَّةٍ فِى الْأَرْضِ وَلَا طَٰئِرٍ يَطِيرُ بِجَنَاحَيْهِ إِلَّآ أُمَمٌ أَمْثَالُكُم ۚ مَّا فَرَّطْنَا فِى الْكِتَٰبِ مِن شَىْءٍ ۚ ثُمَّ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يُحْشَرُونَ)
په ځمکه کښې خوځېدونکي کوم ساکښ او په هوا کښې په وزرونو سره الوتونکي کوم مارغه ته وګورئ! دا ټول همدا ستاسي په څېر انواع او ډولونه دي. موږ د هغو د تقدير په ليکنه کښي څه نيمګړتيا نه ده پرېښې. بيا دا ټول د خپل رب لوري ته ورغونديږي.

****

ځيني داسي ميږيان سته چي خپل کورنه دمځکې پر سر دونو دپاڼو او ښاخونوڅخه جوړوي؛يادا چي په زړو ونو او لرګيو کي کورونه جوړوي داسي لکه انسانان چي غرونه توږي او کورونه په کښي جوړوي. که څه هم ميږيان دکار لپاره پياوړي غړي او وسايل نه لري مګر خپل کورونه په دقت او کروړ ډول جوړوي، دياد کار لپاره دخپلې خولې دغچي څخه کار اخلي،هغه شيان چي دوئ يې ژولی سي ژؤي يې ترڅو خميرې ته ورته مواد تري جوړ سي اوبيا هغه دخپلو کورنو دجوړولو لپاره وکاروي،کيدای سي پخوانيو مصريانو هم دخپلو کورونو او اهرامونو دجوړلو کي دميږيانو څخه تقليد کړی وي. کوچني ميږيان په ښار کي دننه پاتيږي د استادانو درڅارنې لاندي تېږي توږي او لارې جوړوي ،ترڅو هلته ښه روزنه ووينې اولوی سې. پوهان وايي:ميږيان دخپل تګ په وخت کي دلارې دمالومولو په پار يؤه کيمياوي ماده ترشح کوي ترڅو خپله لاره ورکه نه کړې،که تاسو ياده ماده پاکه کړئ ميږيان بيا دخپل کور لاره نه سي پيداکولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چي ميږيان دخورک کوم څه پيداکوي دهغه پرشاوخوا ځانګړی بوئ خپروي او لړ دهغه خورک څخه دخپل ځان سره وړي او نورو ميږيانو ته يې ښکاره کوي؛ترڅوهغوئ دهغه خورک په ډول خبر سي،څه وخت ورسته دهغو خوړو پر شاوخوا ډېر ميږيان راغونډېږي او خواړه ديوبل په مرسته دځان سره وړي. ميږيان دخپل حجم په نسبت ډېرې پياوړي عضلې لري،داسي لکه ديؤه مسلکي لوبغاړي عضلې.

ميږيان دخپل وزن دوه برا بره وزن په آسانی سره وړلی سي. څېرونکو داهم موندلي:کله چي يؤ ميږی مرې ځانګړی بوی خپل شاوخوا ته خپروې ترڅو نور ميږيان دهغه په مرګ خبر سي او مخکي لـه دې چي نور حشرات دهغه جسد دځان سر يو شي ملګري يې هغه ښخ کړې:يؤه څېرونکي ياده ماده پر يؤه ژوندي ميږي ومښل نور ملګري يې په چټکی سره راغلل اوهغه يې ژوندی ښخ کړ. ميږيان دهغو لړو حشرو دډلې څخه دي چي الله جل جلاله هغوئ ته دخوړو ذخيره کولو وړتيا ورکړي ده. ميږيان کولی سي حبوبات په خپلو کورونو کي چي ډېروخت مرطوب او ګرم وي په ښه ډول وساتي همدارنګه ميږيان غنم پر منځ نيمی کوي پوست يې تري ليري کوي ترڅو هغوی دبيا زرغونيدلو وړتيا دلاسه ورکړي.

يادا‌سي چي دغنمو او يا نورو نباتاتو تخمون څو اونۍ په مالومه اندازه تودوخه کي ساتي ترڅوهغوئ شنه سي:کله چي نبات شين سي ريښې او ساقه وکړې هغه تري پري کوي ترڅو دژمنيو خوړو په ډول تري کار واخلي،همداډول ديؤ ډول پتنګ يا کمپلۍ غايطه مواد پرځينو پاڼو اچوي ترڅو پرهغوئ يؤ ډول مرخيړي يا پوڅکۍ وده وکړې او دخوړو په ډول يې وکاروي؛ځيني نورميږيان دځينو حشراتو هګۍ وړې دهغو هګيو څخه در حشراتو را وتو ورسته دهګۍ پوستکي دباندي غورځوې،ياد حشرات درلويدو پوري ساتي بيايي يې دهغو نباتاتو پر پاڼو ږدي چي دهغو څخه شات په لاس راځي،ياد حشرات کولی سي په څو ساعتونو کي څو ځاځکي شيره جوړه او ميږيانو ته يې ورکړي،ميږيان ددغو حشراتو دساتني لپاره ځانګړي کوټې لري. الله جل جلاله فرمايي: [سُوۡرَةُ النَّمل : 18](حَتّٰىٓ إِذَآ أَتَوۡا عَلٰى وَادِ النَّمۡلِ قَالَتۡ نَمۡلَةٌ يٰٓأَيُّهَا النَّمۡلُ ادۡخُلُوا مَسٰكِنَكُمۡ لَا يَحۡطِمَنَّكُمۡ سُلَيۡمٰنُ وَجُنُودُهُ وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ) (يو ځل يې له هغو سره سفر کاوه) تر دې پوري چي کله دوی ټول د مېږيانو ناو (دښت) ته ورسېدل، نو يو مېږي وويل: "اې مېږيانو! پخپلو غارونو کښي ننوځئ، چيري داسي ونه شي چي سليمان (ع) او د هغه لښکري مو چيت کړي او هغوی به خبر هم نه وي.****

(c) ketabton.com: The Digital Library



په قرآنکريم کي دميږيانو خبرې کول ثابت سوي دي. آيا پوهانو دميږيانو خبري کول کشف کړي دي. هو! پوهان وايي دميږيانو په سر او خيټه،نس کي ځيني غدې شتون لري:يادي غودي دکيمياوي پيغامونو ليږد پر غاړه لري،داد ميږيانو ژبه ده او يوبل ته په همدې ژبه خبرې کوي.

دميږيانو په منځ کي بيلا بيلې تګلارې دخبرکولو لپاره شتون لري؛چي عبارت دي:ږغيزي ژبه،اشاروي ژبه،دليد ژبه،دحرکاتو ژبه،دبوی ژبه،هغه ژبه چي دميږيانو په منځ کي ډيره کاريږي هغه کيمياوي ژبه ده. ميږيان دبويايي حس په مرسته چي دهغوئ په ښکرونو کي ځای لري کيمياوي اشارې درک کوي.

خدای جل جلاله په لوړ ايات شريف کي دميږيانو ترمنځ دپيژندني او ټولنيزه روحيه څرګنده کړي ده. ميږيان دکوچني مغز او عصبي حجراتو لرونکي دي،چي دمالوماتو پروسيس او تحليل کولی سي. ميږيان يؤ سر،يوبدن،يؤه استوانه شکله لکی لري همدارنګه شپږ پښي لري چي دهغو په مرسته ګرندی تګ کوي.ځيني ميږيان دالوتلو لپاره وزرونه لري.

ميږيان پنځه سترګي لري چي دوې سترګي يې مرکبې او دسرپه دواړو خواو کي ځای پرځای سوي او دسلګونو عدسيويا ساده سترګو څخه ترکيب سوي چي ديؤې سترګې په شان کارکوي،درې نوري سترګي يې غيري مرکبي مثلثي شکل لرونکي دي او دمرکبو سترګو لوړ ځای لري، ديادوني وړده چي دنارينه ميږيانو سترګي دښځينه ميږيانو دسترګو څخه غټې دي.هر ميږی دوه دوربينته په شان ښکرونه لري چي دهغوئ په مرسته شيان حس کوي دانسان دلاسونو او ګوتو په شان. ميږيان دهوښيارو حشراتو ددلې څخه دي. ميږيان ځيني وړانګي چي انسان يې نه سي ليدای ويني لکه دماورأبنفش وړانګې.

ميږيان عجيبه هضمي سيستم لري چي په هغه کي خوله،مری،معده،او کلمی شامل دي.

ښځينه ميږيان خپلې هګی دلويو ميږيانو کورونو ته نژدي اچوې.

يادي هګی دساتونکو ميږيانو دخوا ساتل کيږي؛مناسيبه تودوخه دهګيو لپاره برابروي ترڅو دميږي چيچيان دکوچني چينجي په شان بيله پښو دهګی څخه راووزي ساتونکي دهغو پالنه کوي او هغوئ ته خواړه برابروي. دميږي چيچيان 7اونی خواړه خوري ورسته ترهغه يؤ وريښمين توپ دخپل ځان لپاره اوبدي په هغه کي بيديږي دڅو ورځو دتيريدو ورسته دخوبه راکښيني؛ياد توپ پرې کوي او دهغه څخه دباندي راوزي په دي کار کي پالونکي ميږيان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغوئ سره مرسته کوي. پالونکي ميږيان دکوچنيو ميږيانو سره په پاکۍ کي مرسته کوي درهغو چي دهغوئ پښې پيداکيږي. دميږيانو ددوو ښارونو ترمنځ کله کله جګړه کيږي:لښکر په منظمو صفونو کي درېږي؛په جنګ کي زخميان اومړي کيږي،مړي دښار څخه دباندي باسي او نيول سوي ميږيان دمريانو په شان په خپل ښار کي دخدمت لپاره ساتي. دميږيانو کارونه ډېر انسانانو ته ورته دي.ځيني وخت ميږيان دانسان لپاره هم خطر پيښوي؛دبيلګې په ډول دچت لرګي او دکتابونو پاڼې خوري.





(c) ketabton.com: The Digital Library



# په حشراتو کي حسي ښکرونه يا انتنونه

انسانانو دستور کتنځايونـه دستورو دغوځښت ليدلو او دهوا دحالاتو دمالومولو لپاره جوړ کړي دي. ځوک باور کولی سي چي په ژونديو موجوداتو کي حسي ښکرونه يا انتنونه شتون لري چي انسانان دهغوئ دسرته رسوونکو کارونو دسرته رسولو ځخه ناتونـه دي. حشراتو کي چي موږ يې بې ګټې او بې ارزښته بولو داسي آلي شتون لري:چي دانسانانو د دقيقترينو آلو،وسايلو سره يو ډول يا پر خپل ځای ورځخه پياوړي دي.پوهان وايي په ځينو حشراتو کي داسي حسي ښکرونه شتون لري چي په هغوئ کي کيمياوي پيداکوونکي ځای پرځای سوي دي چي دموادو بوی تشخيصوي او دحشراتو حرکت او پلټنه دهمدي مالوماتو پر اساس صورت نيسي؛ياني حشرات ددي کوچني رادار دمعلوماتو دتحليل ورسته خوځښت او پلټنه کوي.په ځينو حشراتو کي حسي ښکرونه شتون لري چي دميخانيکي حسوونکو لرونکي دي،ياد انتنونه غږونه او دباد حرکت احساسولو وړتيا لري،لکه ځيني مچان چي ياد کارکوي. ياد حس کوونکي دحرماتو ځخه اغيزمن کيږي. مګر کيمياوي حس کوونکي دکيمياوي ترکيبونو ځخه اغيزمن کيږي. يوبل ديادولو ټکی دادئ چي ځيني حشرات چي کوم ځای خوړه ولويږي ډېر ژر هلته راځي دا حشرات ځنګه دومره ژر خبريږي،دوئ ديادو سو حس کوونکو دمالوماتو ځخه کار اخلي. دغه خرمچان ځنګه يو چټل ځای ته ژر ځان رسوي؛ځکه چي دوئ دخپلو حس کوونکو ښکرونو يا انتنونو په مرسته ديادې مادې بوی چي په هوا کي خپور سوی احساس کړی.ځيني حشرات حرارت،تودوخه مالومونکي حسي ښکرونه لري؛دغه حس کوونکي په غوماشو کي هم شتون لري . دبيلګې په ډول که دو وګړي په يوه کوټه کي بيده وي اويو دهغوځخه تبه ولري؛دبدن تودوخه يې ډېره وي:غوماشي ددري متری ځخه هغه احساسوي ځکه غوماشو کي تودوخه مالومونکي انتنونه يا رادارونه شتون لري نوځکه به هغه وګړی چي تبه ولري ډېر وچيچې



(c) ketabton.com: The Digital Library



# دهوا او چاپیریال ککړتیا

**هغه څه چي انسانان یې نن په خپل ژوند کي سرته رسوي دهغوئ پر روغتیا ډېره منفي اغیزه لري. که څه هم دانسانانو په ژوند کي ډېر پرمختګونه سوي خو دبله اړخه یې دانسانانو ژوند تبا کړی دئ. ترڅو چي الوتکي ،موټرونه،لویي کارخوني او ماشینونه شتون ولري دچاپیریال ککړتیا به دکاربن ډای اوکسیډ غاز په واسطه دوام لري.دغه ګاز څه کوي؟ یاد غاز دویني هیمو ګلوبین ته ننوزې او دهغوئ سره ګډیږي.**

**یاد غاز دمایع سوځونکو وسایلو،الوتکو او ماشینونو په واسطه خپریږي دهیمو ګلوبین سره ګډیږي او دانسانانو په حجراتو کي داکسیجن دکمښت لامل کیږي،ځکه یادګاز داکسیجن په نسبت دویني دهموګلوبین سره 250 واري په پیاوړي ډول ګډیږي.**
**مګر ددې کمښت زیان څه شي دئ؟ کله چي حجري داکسیجن دکموالي سره مخ سي دزړه ضربان کمیږي،زړه او تنفسي سیسټم داکسیجن دپوره والي لپاره دډېر فشار لاندي راځي؛په پایله کي همدغه ډېر فشار دزړه او تنفسي سیسټم دبیلا بیلو ناروغیو لامل کیږي. که چیري یوڅوک د اتو ساعتونو لپاره په هغه هوا کي تنفس وکړې چي په هغې کي 1پر 1000000دکاربن ډای اوکسیډ غاز وي دنفستنګی احساس کوي.**

**که تاسو په ګڼ میشتي سیمه کي ژوندکوئ او هلته ماشینونه،موټرونه د8ساعتو لپاره کاربن ډای اوکسیډګاز هوا ته خپروي او تاسو 80پر1000000څخه کم دغه غاز تنفس کړئ داکسیجن دانتقال سرعت ستاسو په وینه کي لس سلنه کمیږي او وینه خپل بنسټیزه ځانګړنه دلاسه ورکوي؛په همدي خاطر دموټرونو او نورو کاربن غاز خپرونو وسایلو څخه په ډکو سیموکي وګړي دسردردئ؛لندو مسمومیتونو،دلیدضعیفوالی،تنفسي،زړه او نورداخلي ناروغیو اخته کیږي.**
**دیاد غاز په هوا کي ډېریدل یو دهغو عواملو څخه دی چي دبیلابیلو ناروغیو لامل کیږي.**
**الله جل جلاله هوا پاکه پیدا کړي مګر موږ هوا او چاپیریال ککړ کړل هم په خپلو وسایلو اوماشینونو او هم په فساد او خپلو اخلاقو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دچاپير يال ککړوالی دانسان دبدن دبيلا بيلو ناروغيو،زياتې تودوخي دسمندري څپو دراپورته کيدو ،اوشديدو اوربښتونو لامل کيږي.**

**دماشينونو او نوروسيلو لوړ.غونه هم دانسان روغتيا ته زيان رسوی او يوډول دچا پيريال ککړوالی دی.موږ بايد درخپل توانه چاپيريال ته دزيان رسوونکو غازونو دخپريد مخه ونيسو،ونې کښيږدو او شته ونو دغوڅولو څخه ډډه وکړو.**

**.....................................................................................................**

**پای ستاسو درنولوستونکو ددعا په هيله:ژباړن**



(c) ketabton.com: The Digital Library

# د ژباړن خپاره سوي کتابونه:

په (سمندرکي دملغرولټون) ويښونکي اوټولنيزي مقالې.

د (الماسو پنډ) دپښتو متلونودويلوځايون اوعلتونه يې.

(روڼ سيند )شعري ټولګه

(ژور اندونه)شعري ټولګه

په (کايناتو کي دقرآنکريم علمي معجزې)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**